# سپېڅلي رنځونه

## د خاد په زندانونو کې د شکنجې یادونه

نسیم رهرو

پښتو ترجمه : ر.ا.
آگست ۲۰۱۸

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : سپېڅلي رنځونه

د خاد په زندانونو کې د شکنجې یادونه

لیکوال : نسیم رهرو

سمونگر : ډاکټر حمید سیماب

د کتاب د پوښ طراح : وثیق الله واثق

لومړی چاپ : د ۱۳۹۴ لمریز کال پسرلی، هالند

د کتاب د پاڼو پسولنه او چاپ : «د شاهمامې خپرندویه ټولنه»

www.shahmama.com

ټوک شمیر: ۳۰۰ ټوکه

دویم چاپ : ۱۳۹۴ لمریز کال د زمري میاشت

# ډالۍ

هغوی ته چې د «اګسا»، «کام» او «خاد» او «واد» شکنجه ګرو
ددوی ځان او روح ولوټله،
هغوی ته چې د «خلق» او «پرچم» د وینې څښونکو رژیمونو په وحشتناکو سوړو کې کښـېنول شول
خو هسکې غاړې یې ټیټې نه شوې
هغوی ته چې په مینې ډک ګوګلونه ئـې تأریخ ته د تورمخو قاتلانو په لاس غلبیل شول،
د زندانیانو هغو کورنیو ته چې له خړ سهاره تر تیارهٔ ماښامه د روس د لاسپوڅې رژیم
د زندانونو د تړلو دروازو تر شا په هر دم شهیدی ولاړې وې
هغو ترهورو خویندو او بورو میندو ته چې اوښکې ئـې لا تر اوسه د دوی د زړونو د ټوټو
په ویر کې نـهٔ وچـېږي

# ددې کتاب د دويم چاپ په باب څو ټکي

ما ته د خوښۍ ځای دی چې د سپېڅلو رنځونو کتاب ددويم ځل لپاره چاپېږي. دا کتاب د لومړي ځل لپاره په درې سوه ټوکونو کې د هالند په شاهي هېواد کې د شاهمامې د خپرندويې ټولنې له پلوه خپور شو. د کتاب خپرېدل په دې شمېر ددې ټوکونو د کتاب مينه والو او لوستونکو ته زښت ډېر لږ وو. لوستونکو د خپلو برېښناليکونو او ټيلفونونو له لارې په پرله پسې ډول د کتاب غوښتنه کوله. موږ بله چاره نـهٔ درلوده مگر دا چې د سپېڅلو رنځونو کتاب په ډېر شمېر بيا چاپ شي. زما گرانو يارانو او دوستانو د خپلو تل په شان پېرزوينو په لورولو، د سپېڅلو رنځونو د کتاب د چاپ لپاره خپله مالي ونډه او مرسته ولوروله او زه له هر يوهٔ څخه د زړهٔ له تله مننديوی يم. ستاسو گرانو دوستانو له عالمانه لارښوونو، له مينې ډکو پيامونو، معنوي ملاتړ، سالمو گوت نيونو او تاودهٔ هرکلي څخه مننه کوم. د يادونې وړ بولم چې د سپېڅلو رنځونو د کتاب په دويم چاپ کې يو شمېر وارهٔ بدلونونه او سمونونه راغلي دي.

**په سپېڅلي مينې!**

**نسيم رهرو - ۲۰۱۵ ز کال آگست**

# لړ لیک

د «سپېڅلو رنځونو» په ژورو کې
د «شش درک» له خاده د څرخي پلۀ تر قتل ځای پورې
سپېڅلي رنځونه یا سپېڅلی مقاومت
د رونا پر لوړ لومړي گامونه
مرغۍ په لومه کې نښلي
د شش درک خاد
د صدارت کوټه قلفی
د صدارت شکنجه ځای
استخباراتي چل ول
د تورن غلام غوث لومه
یوازې یو انتخاب : مقاومت
څلورمه پرده
پینځمه پرده
د استنطاق وروستۍ ورځې
دریم پوړ
لومړی بلاک دریم پوړ ختیځه خوا
د «نامه ها» له لیکوال سره کتنه
د کډې ډهل
د تومتونو باران
د « اختصاصي انقلابي محکمې » مضحکه
د اعدام په انتظار کې
له دوستانو سره اوسېدل تر گلبڼ غوره وي
د «لیډرانو» کوټه
هغوی ئې ووژل او زه ددوی په مرگ کې مړ شوم
دوه بې کسه، دوه یوازې او دوه لالهانده
د «همتاسه» یارانو یو یاد
هغه د وینو دریاب له ځان سره یووړ
اووۀ میاشتې او یوولس ورځې

د جامو انبار ته ئـي اور واچاوهٔ

ما ایوبي صبر درلود

ته خو مات نه سوې، خو زه به دې اوس دړې وړې ..

ضمیمه

# د سپېـځلو رنځونو په ژورو کې

نصیر مهرین

ستاسو مخ ته د داسې یوهٔ آزاد او کړېدلي انسان له دردونو ډک خاطرات پراتـهٔ دي چې د خپل هېـواد او هېـوادوالو د سوکالۍ لپاره ئـې ګام اوچت کړی وو، هغه ئـې د تورو تبمو شا ته بندي کړ، وئـې ځوراوهٔ، شکنجه ئـې کړ او په اعدام ئـې محکوم کړ.

دی هماغه انسان دی چې په ځلونو ځلونو ئـې د ګولیو بارانونه، په وینو لړلي بسترونه او د څرخي پلـهٔ د مقتل نمجني خاورې ئـې په تن او وجود لمس کړي دي، پوښتنې ئـې ماتې شوي خو دنګه غاړه او د قامت ونه ئـې هېـڅکله نـهٔ ماته شوه او نـهٔ چا ته ټيټه. که د هغـهٔ د اعدام حکم وځنډول شو خو شکنجه ګرو هر شپه په خپل ویرونکي چل ول وکړاوهٔ، او ځوراوهٔ ئـې چې اعدام به دې کړو، هره شيبه او هره ګړی ئـې خپل اعدام ته په انتظار تيرې کړې.

دهٔ د خپل ژوندانـهٔ لس کاله د اسارت په همداسې یوهٔ ویروونکي او له شکنجو ډک چاپیریال کې تـېـر کړل.

«سپېــځلي رنځونه» د همدغو کړاونو په سپېنسیو اوبدل شوي او تاسو سره له همدغـهٔ منظره خبرې کوي. که میرغضبانو د «سپېـځلو رنځونو» د کتاب مؤلف شپه او ورځ تر پوښتنو ګرویږنو، د عقایدو د تفتیش تر تحقیق او جسمي شکنجې لاندې ونیو، یا ئـې د زندان په تنګو او تیارو کوټو او یا له نورو هم ځنځیرونو ملګرو سره په لویو قفسونو کې واچاوهٔ، په ترخو او سپکو خبرو او کړو وړو ئـې وکړاوهٔ خو دهٔ په سړه سینه او زغم سره له ټولو دغو ځورونو او کړاونو او د قربانیانو د حال له وصف څخه داسې یوه مانۍ جوړه کړه چې د بیا بیا کتنې او لیدنې ارزښت لري او ورڅخه ډېر څه زده کولای شو.

د سپېـځلو رنځونو د کتاب لیکوال د واقعیتونو د شرحې تر څنګ، په خپل شریف نیت سره زده کړې چې لـېـوال انسان له لاسه ونیسي او د انساني چلند او د انساني کرامت د فرهنګ د رعایت پر لور ئـې له ځان سره یوسي او په خپله لاره کې له استبداد او د خلکو له ځورولو څخه د کرکې تخم وکري. دی له همدغـهٔ اړخه لوستونکی د شکنجه ګر، د زندان او زندانبان د نړۍ ناپېـژندلو او لږ لیدل شویو اړخونو ته بیايي؛ لیکوال چې د سپېړنې او شننې توان لري نو یوازې د راوي او روایتګر په څـېـره کې نـهٔ راڅرګندېږي بلکه ورسره خپله شننه ددغو اړخونو په باب وړاندې کوي. لیکول د خپلې شننې په لړ کې د خپلې ګرانې سیاسي – فکري تګلارې اړخ له ځان سره لري. همدغه فکري تګلورې دی چې لوستونکي ته د زندان پـېـژندنې، د شکنجو او اعدامونو اړخونه لا روښانوي.

همدا دلیل دی چې لیکوال په دې اثر کې د لوستونکي مخ ته د خپلو سترګو د لیدلي حال بیا انځورول او د هغو د عواملو او د جرړو د موندلو او یا د علت د موندلو شرحه ړدي. او په همدې سره د خپل اسارت د عللو د مخکښو په ډله کې راځي او له همدغـهٔ ځایه خپل مقاومت ته دوام ورکوي.

ګران نسیم رهرو د همدې ځانګړتیاوو په لړلو سره له ډېرو هغو زندانیانو سره خپله کرښه په څرګنده بېلوي چې د خپل اسارت پر علتونو باندې سم خبر نـهٔ دي. کټ مټ لکه تر پوزې رسیدلی زنداني مسعود سعد چې هره ساه ئـې د غزنوي مستبد سلطان په زندانونو کې تېروله او په زاریو زاریو به ئـې شړل او د جوزف کافکا په شان به ئې ویل « ولی محبوس شوم، نـهٔ پوهېږم»، مسعود سعد په دې باور وو چې «بې علته او بې سببه نیول شوی یم» او د فرانتس کافکا د محاکمې د داستان د کتاب د اتل په شان په کرار نـهٔ کښېـني ځکه چې په خپلې محاکمې او توقیف کې ئـې هیڅ علت نـهٔ موندهٔ.

خو د سپېـڅلو رنځونو د کتاب لیکوال دی چې د جوزف کافکا او مسعود سعد او د بې شمېرو نورو بې ګناهو چیغې او ژړاوې ئـې شپه او ورځ د زندان په تیارو کوټو کې اورېدلي دي او د هغوی له اوښکو او نعرو له باران سره په زړهٔ سواندئ اوسېدلی دی. ددهٔ د شنني او تعلیل په هینداریـ کې دوی ټول د استبداد قربانیان ګڼي، هماغومره اوږد استبداد چې اوږد والی ئـې د استبداد د تأریخ په شان اوږد دی.

ګران رهرو خپل ځان ښه پېـژني، دی پوهېږي چې ددهٔ د زنداني کېـدلو علت نـهٔ یوازې په دې کې دی چې له ستم ګرې - ولس دښمني دستګاه سره یو ځای والی ددهٔ او د دهٔ د ملګرو په سیاسي، ملي او انساني تګلورې کې ځای نـهٔ درلود بلکه زموږ په زړه پاک رهرو په ویاړ او سرلوړی له هغو کاروانیانو سره یو ځای کېږي چې د ظلم پر وړاندې د مقاومت او انسان دوستئ په بڼ کې ئـې یو بل ته سره لاسونه ورکړي ول.

ددهٔ د سیاسي – ټولنیزې شنني ژور کېـدل ددې سبب شوي چې د زنداني او شکنجه ګر تر منځ د برلاسو ضوابطو د اړخونو د څېـړلو پر مهال «چې د یوهٔ لاسونه تړلي دي او بل ورته په وینې زېـښېونکي توګې ناست دی» ... په ځانګړې توګې د شکنجه ګر د کړو وړو په پېـژندني کې –او د شکنجه ګر د سیاسي - روان پېـژندني د بنسټ په هکله چې د انسان د سپکولو په برخه کې رامنځ ته کېږي لوستونکي ته تر ټولو لوړه شننه په لاس ورکوي.

له دې چې لیکوال د خپل اسارت پر مهال د ستمګر له چل ول، لطایف الحیل او مسلکي مکرونو سره مخامخ وو او پوهېږي چې دغه شکنجه ګر او انسان وژونکی بنسټ د شوروي سرتېرو د خونړی برچې تر سیوري لاندې ددهٔ په زړهٔ کې د پرتو رازونو سپړلو او تر لاسه کولو ته اړتیا لري چې ددهٔ او ددهٔ د یارانو مرګ پایله ګرځي، نو په کوټلي هوډ خپله ژبه تړي او خپله سینه او ګران ځان شکنجو او مرګ ته چمتو کوي.

د سپېـڅلو رنځونو محوري ټکی د لیکوال له ویاړه ډکه پرېکړه ده، دا داسې یوه پرېکړه ده چې د کړاو او درد په منلو سره شکنجه ګرې دستګاه ته د هغې سپکاوی بېـرته په لاس ورکوي. د همدغـهٔ دریځ پر بنسټ یعنې له مستنطق سره د نـهٔ خبرو کولو پرېکړه او د هغـهٔ پوښتنو ته وړ ځواب نـهٔ ورکول او د دښمن په اسارت کې ددهٔ کړهٔ وړهٔ ددې لامل ګرځي چې د همدومره کلونو په اوږدو کې آګاهانه ځان ناګاره اچوي او بالاخره بې خبرې خپل ځای نیسي.

موږ په دې اثر کې هغه کرښې وینو چې په راوي تیر سوی رنځ د هغه روح او بدن دواړه د رنځ په تارونو سره اوبي؛ دا د سترګو د لیدلي حال هغه بیان دی چې راوي په خپلو هډونو، پوست او روح لمس کړي دي. راوړي د استبدا په کړېو کې د

پاتې اسیرانو کړاونه موږ ته په ټول امانت سره وړاندې کوي. دلته د یادو شویو ځانګړتیاوو ځینې برخې ستاسو مخې ته ږدو :

## د شکنجې د اړخونو انځور

دا ډېره عامه خبره ده کله چې له شکنجې څخه یادونه کېږي نو ډېري وختونه د انسان ذهن ته د تحقیق پر مهال جسمي شکنجه ور په یاد شي حال دا چې شکنجه تل په خپل ځورونکي انځور کې څو اړخونه او بڼې لري.

د سپېڅلو رنځونو د لیکوال د قلم له څوکې د شکنجه ګر او د اسیر دښمني دستګاه د کړو وړو شرحه موږ ته د غیر جسمي شکنجو داسې بڼې په لاس راکوي چې بیا څېړنې او پېژندنې ته اړتیا لري. لیکوال د شکنجې په مرکز کې په حقه او څرګنده د وینې زبېښونکي دستګاه په چلند کې د انسان د سپکاوي انګیزو ته ګوري. د هغوی اړخونه په داسې بڼې را په رابربنډوي چې تله ئـې تر وحشیانه جسمي شکنجې لا درنده ده. لکه : د بد جسمي چاپیریال رامنځته کول، د ږیرې د خریلو او د نوکانو د نیولو اجازه نـهٔ ورکول، له تشناب څخه د استفادې لپاره ستونزې رامنځ ته کول، د اوږد مهال لپاره د خیرنو جامو اغوستل، د هاضمې د سیستم لپاره ځورونکې خوراک، په نس ناستې یا په اسهال مصاب شویو ناروغانو ته د خنډونو رامنځته کول.. چې دا ټول د شکنجې ابزار دي.

موږ په دې اثر کې د سیاسي باورمنو پر وړاندې د شکنجه ګرو مستنطقینو له پلوه د رواني تحقیر شرحه او له سپکو سپورو موهنو کلماتو پرله پسې کار اخیستل، په خبرو او کړو وړو کې شخ شلانده او له خشونت ډک رفتار وینو چې د زنداني د فکر او باور د ملا ستنه ر ماته کړې او هم د شکنجو نور ډولونه ویل شوي دي.

مؤلف په زندان کې د یو شمیر موانعو د مخنیوي لپاره ځانته چاره سنجوي، د بېلګې په توګه له دې چې مؤلف د نوکانو د نیولو اجازه نه درلودله او د نوکانو اوږدوالی ورته ځورونکي وو نو یوه ورځ یو تن زنداني « راته د نوکانو د سوهان کولو لاره چاره راوښودله. له هغـهٔ وروسته مې خپل اوږدهٔ نوکان د سمنټي دیوال پر مخ سولول.» او یا بل ځای کې وایي «د زندان د کارمندانو دا نـهٔ خوښېدل چې زنداني د آدم د اولادې په شان د انساني وقار او حیثیت څښتن واوسي. کله چې یوهٔ زنداني بل زنداني باندې خپله لوریینه لوروله نو ددوی زړونه پرق چاودېدل. لنډه دا چې : د زندان د ادارې کرغېړن سیاست د زنداني بې خاصیتول او سپکول ول ان تر دې بریده چې زنداني باید له ټولو انساني اوصافو او خصایلو سره پردی کړي»…. او کله چې مؤلف ددغو ځانګړتیاوو په ترڅ کې د نورو اړتیاوو له حق څخه د زنداني د بې برخې ګرځولو یادونه کوي نو د شکنجې عمومي څېره لا نوره هر اړخیزه کوي.

## د پخواني استبداد خبرې

کله چې د تأریخي پېښو یو څېړونکی یا آګاه لوستونکی د سیاسي فرهنګ له سوابقو او د شکنجې او د انساني سپکاوي له اعمالو خبر وي، نو د «سپېڅلو رنځونو» په بیلابیلو پاڼو کې تاسو کټ مټ د شپیتمې لمریزې لسیزې د هماغه کرکجن چلند

حضور  په رڼو سترګو وينئ. د هماغې څېرې حضور چې د ا. خ. ډ. ګ. حکومتګرو «په له منځه تللي شوروي باندې د تړلو ځانګړتيا» له ځانه څرګنده کړه. د هماغه استبداد څېره چې انځور ئـې تش په نامه «ديموکراتيک» را څرګندوي.

هغه لاسوندنه چې د تيرو څلو لسيزو په ترڅ کې د شنکجې د اعمالو او دودولو په هکله لاس ته راغلي او هر هغه څه چې د غير سياسي افرادو او سياسي مخالفيونو پر وړاندې د «خپ» د حکومت په لړ کې تر سره شول، دا څرګندوي چې د ا. خ. ډ. ګ. د خپل استبدادی ماهيت او په ويرونکو او شکنجه ګرو بنسټونو باندې د ډډې کولو له مخې نـهٔ يوازې دغـهٔ جفاکاره چلند ته دوام ورکړ بلکه د هغه لمنه لا نوره پراخوي او په لا نورې ويروونکي بڼې ورته مخه کوي.

له بلې خوا ، هماغسې چې موږ د خپل ولس د مبارزاتو په تأريخ کې ليدلي چې د ضعف د څرګندېدو مخنيوی په مقاومت بنودل شوی، راوي هم د ټينګ دريځ په نيولو سره، خپل هوډ ته په پريکنده پرېکړې ولاړ دی. راوي يو ځای وايي : « تل د سختيو پر وړاندې د مېـړانې او همت په وسلې درېدلی يم، له هيڅ شي څخه مې دومره وېره نـهٔ درلوده لکه چې د مېــړانې او د همت له ټيټوالي څخه بـېـرېدلم. له ځان سره مې وويل : لويه خدايه! هغه ورځ مه راښيي چې د جفا غيشی زما لوړ همت په نښه کړي.» ورپسې راوي د خپلو ګرانو دوستانو خبرې يادوي لکه د غياث خان کوهستاني خبره را اخلي او وايي : «زموږ له توقيفيدلو وروسته، لومړنی شی مې چې له خدايه وغوښت، ټينګوالی او استقامت وو. له ځان سره مې ويل، لويه خدايه! اوس چې اسير شوی يم نو تـهٔ ماته ټينګوالی او توان راکړې چې د تحقيقاتو پر مهال مې پښه ونـــهٔ رېږدي.»

کله چې ګران رهرو د شکنجه ګرو د چلمارو او اړتيا وړ زاريو او د هغوی له وندلو، کنځلو او  بد مخو خصايلو څخه يادونه کوي نو موږته مخکيني اسيران په ياد راوړي : " د هغوی «مستنطقينو» شخصيت له سپکو سپورو ويلو پرته نامکمله وو... د محبس آمرين هغه مهال ښـهٔ سړي سي چې په مرګ مړه سي."

کله چې شکنجه ګر مستنطق سيد اکرام په لاس او پښو تړلي اسير رهرو ته وايي : «تا ته په هر هغه څه چې ايمان لرې قسم درکوم چې له ما سره مرسته وکړه. ځيل مه کوه، يوازې يو څه ووايه چې ما ته د اوړو پزه شي» ...، نو ما ته بې وزلی مامور عبدالقيوم خان را په ياد شي چې په ۱۳۴۰ لمريز کال کې شکنجه ګرانو ورته په ځلونو همداسې خبرې کړې وې : هماغه «د اوړو پزه چې شکنجه ګران ئـې يادوي په همداسې نظام کې د دندې د ترسره کولو او د مقام د تر لاسه کولو معيار دی.»

کله چې د سپېـڅلو رنځونو په کتاب کې په ځلونو او زړهٔ سواندی د بې ګناهو زندانيانو د فقيرانه خوار ژوند له وضعيت څخه خبره کېـږي نو زما سترګو ته همداسې په زر هاوو زندانيان را په ياد شي. دلته موږ د موسی جان او نورو کسانو د ژوندانـهٔ حالت ګورو چې نـهٔ يوازې د «خاد» د جهنمي دستګاه د ستم او ظلم ښکاروندېي کوي بلکه شاهدي ورکوي چې د ۱۳۵۸ لمريز کال د مرغومي له مياشتې وروسته د خلقيانو د حکومت د جنايت کاريو په لړ کې ډېري زندانيان چې همداسې فقيرانه

خوار ژوند او حالت ئـي پر اوړو لـېرداوۀ لا تر دي دمه نـۀ ول خوشي وو. : «له موسی جان سره چي " د هزاره موسی په نامـۀ ئـي شهرت درلود" آشنا سوم. دی د هغو زندانیانو په ډله کي وو چي د ۱۳۵۸ لمریز کال د مرغومي له میاشتي وروسته هم د (عمومي عفوې) په ترڅ کي له زندانه نــۀ وو خوشي شوی. موسی زړۀ سواندی، صمیمي، زیار کښ او د مقاومت او مـېړاني سړی وو. هیڅ څوک ئـي پایوازئ ته نـۀ راتلل. دالانونه او تشنابونه به ئـي پاکول او په بدل کي به ئـي زندانیانو ورتـه په اونئ کي یو ځل ډېرې لږ افغانئ ورکولې.»

# بل اندي «دگر اندیش» ته د درناوي د فرهنگ رعایت

څرگنده ده چي استبدادی او دیکتاتوري نظامونه د یوۀ ځانگړي بنسټ یا ځانگړي شخص معرف وي. په هغه ټولنه کي چي بیلابیل افکار او نظریات وي نو د هغوی د ټکولو لمنه هم د لتاړگرو «سرکوبگرو» بنسټونو له پلوه هم پراخه وي، او کله چي د همداسي یوۀ نظام گوډاگیان، یو له بل سره د مخالفینو مخالف یا بل اندي اسارت ځایونو ته بیایي نو ددښمن په اسارت کي له یو بل سره د مخالفینو اوسیدل او خپل منځي چلند په خپله ځانته ورند یا مناسب چلند غواړي. د سپـېڅلو رنځونو لیکوال په آگاهانه ډول په خپل چلند کي له هغوی سره منطقی او دعقلاني چلند لاره غوره کړې او د دوی تر منځ د فکري بیتلون د کرښو له واقعیت څخه انکار هم نـۀ کوي. دی لیکي : « کله چي د یوۀ زنداني له نیکو اوصافو څخه یادونه کوم، موخه مي یوازې د زندان په چاپیریال کي د هغـۀ چلند دی. له زندانه دباندې د هغوی د اعمالو په باب قضاوت بیله موضوع ده. ښایي یو ئـي یزید وي او بل ئـي بایزید!».

د مؤلف د چار چلند او دریځ بنسټ تل مخالفینو ته د سیاسي فرهنگ د درناوي په چوکاټ کي دی. د همدې کتاب په بیلا بیلو پاڼو کي دوی ته نغوتې لري او څرگندوي چي دی خپلو مخالفینو ته څومره درناوی لري.

# د آزادئ ارمان

کله چي د زندان تراخـۀ خاطرات مؤلف له زندانه دباندې د خپل ژوندانـــۀ خپلواک بهیر ته بیایي نو د زندان په بند کي دا اسیر انسان، په آزادئ د ژوندون خپلي لوړې انساني هیلي انځوروي. دلته لیکوال دا ارمان او افسوس په داسي کلماتو بیانوي چي د سړي زړۀ ته په قفس کي د بندي محکوم کوکاري ور په زړۀ کوي او نه پوهـېږي چي گلونو کله غوټئ کوي، څکه : « زنداني د پسرلي او ژمي په تگ راتگ نـۀ خبرېږي " دا مهمه نـۀ ده چي د زنداني پوښتني ته دې ژمی راسي، د زنداني سړه او سوځنده نړئ په خپله د سارۀ ژمي وچه او سوځنده نړئ ده" د کال څلور فصله او ځای پر ځای پاتي کـېدل..» او یا « په یاد مي راځي چي د ځلاندې سپوږمـئ تر رڼا لاندې به مي، تر ناپایه پراخ آسمان لاندې چي زړونه به مو د دوستئ او رفاقت په اسطوره یي مینو ډک ول، اوړه په اوړه خوځـېدلو. زموږ په منځ کي د یوۀ بڅري په اندازې غش او د وینتـۀ په اندازې بي اعتمادي نـۀ وه. زړونه مو رانه او نیتونو مو تر هغه لا رانـۀ ول. له ځمکي او آسمانه پر موږ د مینې تاند رحمتي

باران وریدۀ او له سینو مو د وطن دوستۍ د مینې ځپاند سیندونه خوټېدل. د ختیځو کورونو له ځنګه، د بڼونو او ونو له منځه، له ویالو او د ېټیو له پولو، له کروندو او د باغونو له تنګیو به تېرېدلو.»...

# د کورنۍ یاد

هماغسې چې مؤلف د خپل اسارت په ټوله موده کې د شمیر اسیرانو له زیادښت، د خپلو پرګنو او یارانو له کړاونو ځورېدۀ، د نورو ټولو زندانیانو په شان دی هم د خپلې کورنۍ او د کورنۍ د غړو د برخلیک په باب کړېدلی دی. له هماغې لومړۍ شیبې څخه چې د لومړي ځل لپاره ددښمن منګولو ته لوېږي د اسارت د دَور تر وروستۍ شیبې پورې د خپلې کورنۍ مینه په زړۀ کې تانده ساتي. خو په غوږونو کې ئې د خپلې مور ملکوتي غږ انګازې خپروي چې ویل به ئې «له خپل زوی، نیسم څخه خبر نـۀ لرم»، دا د تیرغمالو ښکنځلمارو، سپکې سپورې قهرېدلې ژبې دي چې د انسان روح او تن دواړه سوځوي.

********

ګران نسیم رهرو د ډېرو کلونو لپاره کړاوونه وګالل، په خلونو ئې ولیدل چې ددۀ هېـواد وال او یاران ئـې یوړل او په ګولیو ئـې سوري سوري کړل. دۀ څه کولای سوای؟ دی په خپله وایي : «څه مې کولای سوای؟ زما ژوند په هغه برخلیک محکوم وو چې وینې څښونکي لیوۀ مې د زړۀ ټوټې راڅخه خوړلې او ما ورته هردم شهیدانه کتل.» او دی اوس موږ ددغـۀ ستر انسان غم لیک لولو چې له لیوۀ او د خپل زړۀ د ټوټو غمجنې خبرې کوي.

کلونه وړاندې مې د سپېـڅلو رنځونو غمجنه لړۍ لوستلې وه خو د بیا لوستنې تنده مې د کتابي بڼې چاپېـدلو ته پرېښوده. ما د له منځه تللي شوروي اتحاد د ګوډاګي رژیم په ګډون د استبدادي نظامونو په باب کتابونه او لنډې لیکنې لوستې دي خو د سپېـڅلو رنځونو کتاب مې نـۀ یوازې د ټولو کتابونو او د دوی د جفا کاریو د اړخونو د بربنډولو لپاره صادق ګواه وموند بلکه دغه غم لیک ددې تر څنګ چې د تیرغمالو پر کړو وړو باندې د صداقت شاهدي ورکوي زه ئـې د سیاسي زندانیانو او شکنجه ګرانو د سیاسي روح پېـژندنې په بهیر کې داسې اثر بولم چې مؤلف د همداسې نړۍ په پېـژندلو کې په رښتیا ډېر ژور تللی دی.

اوس د خوښۍ ځای دی چې د «سپېـڅلو رنځونو» کتاب د هېـوادوالو او مینه والو لاسونو ته په کور دننه او دباندې رسـېـدلی دی. د یادونې وړ بولم چې د همدغـۀ اثر په شان هر هغه بل اثر چې د زندان او شکنجې پر اړخونو راڅرخي او خپرېږي تل دا احساس راکوي چې : کاش نورو زندان لیدلو کړېدلو لیکوالانو داسې غمونه او کړاونه او دردونه نـۀ وای لیدلي. په بله وینا کاش وخت او زمان د انسان ځورونې لاسونه او بنسټونه نـۀ ول پیدا کړي. د خوښۍ ځای به لا هغه مهال وای چې د ړنګ شوي د ا.خ. ډ. ګ. غړي هم دا کتاب ولولي او ددې کتاب په هینداري کې خپلې ولس ځورونکي څـېـرې ووینې. ددوی بچیان دې دا کتاب ولولي او ورسره دې د نسیم رهرو دا بنسټیز پیام تر لاسه کړي چې د ژوندانـۀ په ډېرو سختو شیبو کې دغه ولس دا خبره درلودله ؛

بادی که در زمانه بسی شمع ها بکشت          هم بر چراغدان شما نیز بگذرد

هغه سیلۍ دې ستاسو پر مشال هم تیره شي چې د زمانې ډېر څراغونه ئـې ووژل

# له شش درکه د څرخي پلـۀ تر مقتل پورې

محمـد شاه فرهود

د «سپېـڅلو رنځونو» د کتاب هره کلمه د رنځونو له زيرمې سرچينه اخيستې ده. ددغـۀ په خولـۀ چوپ کتاب په هرې پاڼې او د هرې پاڼې په هرې کرښې کې د جلادانو د ساطور د غړونو ازانگې خپرې دي. ددې کتاب هره پاڼه له يوې خوا د نيول شويو، شکنجه شويو او اعداميانو له حماسي زجره خبرې کوي له بلې خوا د شهيدانو له قبرونو څخه په راوتولو گوتو د خلق د ډيموکرايتک گوند د جناياتو له مخې په وينو سره پرده ليرې کوي.

نسيم رهرو د ۱۳۶۰ لمريز کال د زمري په مياشت کې د روڼ اندی، د کودتايي رژيم د نـۀ منلو او د شوروي له نيواک سره د مخالفت په جرم د خاد د جلادو گوډاگيانو له پلوه په کابل کې د دۀ د کالـۀ له منځه ونيول شو، او د ششدرک او صدارت په خاد کې له شکنجو وروسته، د لا نور تحقيق او شکنجې لپاره د څرخي پلـۀ زندان ته وليږدول شو. نسيم رهرو لس کاله د لومړي بلاک او د څرخي پلـۀ د زندان په نورو بلاکونو کې په داسي حالت کې تـېر کړل چې ددغو لسو کلونو هره شـېبه ئـې اعدام ته په انتظار تـېره کړه او هره شـېبه دې ته سترگې په لار وو چې کله به پر دۀ د گوليو باران وشي. د «سپېـڅلو رنځونو» کتاب هغه قصې او روايات دي چې ليکوال په درد او د زړهاوو ډوله کړاو په گاللو ليکلي دي. که څه هم د زندان، شکنجې او اعدام په باب ليکل د خاطره ليکنې تر ټولو سخته او زجرناکه بڼه ده خو هغه زنداني چې وکولای شي په خپلې ټپي روح او کړېدلي ځان دغه خاطرات، دردونه او شننې په يوۀ متن واړوي په حقيقت کې د يوۀ ځانگړي دور د ادبي او تأريخي تشې لويه برخه ئـې د جنايت پـېژندنې د څـېړنې لپاره ډکه کړې وي.

د «سپېـڅلو رنځونو» روايات موږ ته دا ټکی را په ډاگه کوي چې د شوروي د کې جي بي تر خونړۍ لارښوونې لاندې د خاد دستگاه، سيستماتيک جنايات تر سره کړي دي. «سپېـڅـلي رنځونه» د زندانيانو، شکنجه گرو، اعداميانو او جلادانو په هکله کتاب دی، دا د هغـۀ محبوس په هکله کتاب دی چې د خاد او کې.جي.بي. په منگولو کې اسير شوی او د خپلواکۍ او د خپل ولس د پت د ساتنې لپاره د گوندي شکنجه گر او شوروي ساطور پر وړاندې درېدلی دی. ليکوال نـۀ يوازې د ځان او خپلو همدوسيه ملگرو په باب خبرې کوي بلکه په ټول صداقت و امانت د نورو زندانيانو، مجاهدينو او سياسي مخالفينو په هکله هم خبرې کوي. ليکوال ته دا مهمه نـۀ ده چې اعدامي د کوم تنظيم او سازمان دی. اعدامي که هر څوک وي او په هر حالت کې چې وي بيا هم اعدامي دی، ليکوال د اعدامي له وضعيته خبرې کوي او په هوډمن زړۀ او منصفې ژبې له ټولو هغو کسانو څخه په زغرده دفاع کوي چې د څرخي پلـۀ په تورتم او تيارو شپو کې ورباندې د گوليو باران ورېدلی دی.

موږ د هیرجنتیا په دور کې ژوند کوو. هغه جنایات چې زموږ د سترګو تر مخ پیښ شوي دي ورو ورو څه چې ان د موجود نسل له یادونو څخه وځي. شفاهي حافظه نـهٔ شي کېدای چې له یوهٔ نسله بل نسل ته ولـېږدول شي. د جنایاتو دوام او د سرکار له پلوه پر جنایتو خاورې اچول د جنایاتو د هیرولو او پر هغو د سترګو پټولو او هیرولو لړۍ لا نورو تته او تیارهٔ کړې ده. د حزبي او دولتي سازمان - ورکړل شویو جنایاتو په باب لیکني نـهٔ یوازې د هیرولو تشه ډکوي بلکه له بله اړخه کـېدای شي د آزادۍ او عدالت په لاره کې د سر او ځان بایللو مـېړنیو لپاره ددفاع تر ټولو ښه بڼه او وسیله وي. د سلهاوو چوپتیاوو او فراموشیو په منځ کې د اعدمي کوکارې او د زنداني چیغې هم همداسې چوپ پاتې دي. د خاد د ریاستونو ځمکتلونه، د پولیګون سوري او د څرخي پلـهٔ د زندان قفسونه د قربانیانو پر وراندې هیر شوي دي. ډېریو زندان لیدلو کسانو دومر زجر او ربړ لیدلی دی چې د زندان د اګسا، کام، خاد او واد د شکنجو خاطرات ئـې د ګوتو د څوکو له حافظې او یادونو وتلي دي. کله چې د خلق د ډیموکراتیک ګوند د جنایاتو پراخې او ناپایه لمنې ته ګورم نو راته څرګنده شي چې ددغـهٔ ګوند د څوارلس کلنې واکمنۍ د جنایاتو لړۍ د زرهاوو زندانیانو د خاطراتو لیکلو ته اړتیا لري، له بده مرغه چې د زندان مستند، خاطراتي او شننکونکي ادبیات ډېر لږ په سند او لیکلو راوړل شوي دي. که دا ټول راټول شي او ولیکل شي نو په سلهاوو کتابونه او زرهاوو خبرې به ورڅخه جوړې شي؛ په خواشینۍ چې دداسې خاطراتو د لیکلو پر ستوني د ناګارۍ پېښه اینبودل شوې ده. هغه متنونه چې له ۱۳۵۷ تر ۱۳۷۱لمریز پورې د شکنجو او اعدامونو په باب لیکل شوي دي په خواشینۍ چې ډېر لږ، کم ځاني او کم حجمه دي. ددې هـېواد په زرهاوو انسانانو له کودتا او د شوروي له تیرې سره د مخالفت په دلیل شکنجه او اعدام شوي دي خو د زندانیانو ډېر لږ شمیر په دې توانـېدلي دي چې خپل خاطرات راتلونکو نسلونو ته د قضاوت لپاره مستند کړي. د «سپـېلو رنځونو» کتاب یو له همدغو کتابونو څخه دی چې د زړهٔ په وینو لیکل شوی دی او د کتاب هره کرښه ئـې د هـېرجنتیا او فراموشۍ پر ضد دربږي.

د اعدام او شکنجې په هکله لیکل کوم آسان کار نـهٔ دی. ما په خپله د صدارت او څرخي پلـهٔ په قتلځي کې شکنجه او ځور لیدلی دی او پوهـېږم چې د خاد د شکنجې او سپکاوي په هکله ددې کتاب لیکوال د هرې کرښې په لیکلو یو ځل بیا شکنجه شوی دی، د شکنجه ګر ، جلاد او ګولي مار په باب د هرې جملې په لیکلو لیکوال یو ځل بیا د شکنجې خوني او د اعدامونو ډګر ته تللی دی... ما هم د صدارت د نظارت خاني خوند څکلی دی او پوهـېږم چې په زر هاوو پاڼې په کار دي چې ددغـهٔ خونړي ځای او چاپیریال محتوی او فضا توضیح کړي.

زه په خپله هم د لومړي بلاک په ختیځ وینګ کې کوټه قلفي وم او له ډېرو شکنجو وروسته تر ډېرې مودې پورې خپل اعدام ته سترګې په لاره وم او د څرخي پلـهٔ د لومړي بلاک د اعدامیانو او د جنایتکارانو د مستۍ د حال شرحه د مثنوي اویا منه کاغذ غواړي. د څرخي د پلـهٔ د زندان د لومړي بلاک قوماندان شمس الدین پنجشیری، د سیاسي چارو او د استخباراتو عمومي مسؤول عبدالرزاق عریف، د څرخي پلـهٔ د زندان عمومي قوماندان عطا محمد، د اعدام د چارو د ډلې مسؤول حنیف شاه.... هغه نومونه دي چې د څرخي پلـهٔ د زندان ټول جنایات ددوی د ګوندي اداري تر سیوري لاندې تر سره کـېدل. په خواشنیۍ چې موږ زندانیان لا تر اوسه په دې نـهٔ یو توانیدلي چې د ټولو هغو کسانو چې د صدارت، د خاد په ریاستونو، په انقلابي اختصاصي محکمې، په اختصاصي څارنوالي او د څرخي پلـهٔ په زندان کې ئـې د سیستماتیک جنایات مدیریت کړي دي معرفي کړو. ددې اړینه اړتیا لیدل کـېږي چې جانیان او شکنجه ګران معرفي شي ترڅو د مؤرخینو، څـېړونکو او

عدالت پالو لپاره لاسوندونه راټول شي. د «سپېڅلو رنځونو» په کتاب کې د جنايتکارانو معرفي حسي او عيني ده او دا د ليکوال له مخامخ اړيکي څخه سرچينه اخلي.

د سپېڅلو رنځونو په کتاب کې معرفي شوي کسان کټ مټ هماغسي معرفي شوي چې په ربښتوني ژوند کې دي. ددې کتاب يوه منصفانه ځانګړتيا دا ده چې دوست او دښمن دواړه د هغوی په ربښتينو اوصافو سره له تعصب او رخي سخي پرته په ښې معرفي کېږي... که د صدارت د تحقيق د عمومي رياست نامتو جاسوس غلام غوث «د خاد د تحقيق د عمومي رياست جنرال غني لاسپوڅی ګوډاګی» د حقايقو پر بنسټ معرفي کېږي نو نادر علي پويا چې په صدارت او څرخي پلـۀ کې د مقاومت له عجايبو څخه عجيبه انسان دی په ربښتوني ټينګ انځور معرفي کـېږي. ليکوال د اعدامي او زنداني په توصيف او ستاينه کې مبالغه نـۀ کوي او همدا شان د شکنجه ګر او جلاد په باب هم اغراق نـۀ کوي. د شکنجه ګر او د زندان ساتونکي د ليک لوست او د سواد د کچې روايت په هماغه ډول دی چې په ربښتيا ئـې لري، ليکوال د زنداني له مقاومته کومه افسانه او اسطوره نــۀ جوړوي او هغه څـۀ وايي چې په سترګو ئــې ليدلي او لمس کړي ئـې دي. ليونی او خوله خلاصی په ښکلو ځانګړو ادبياتو بيانوي او د شاعر او آګاه مبارز معرفي د هغوی د ژست او ادا پر بنسټ کوي.

کله چې د پنځو زرو شهيدانو ليست په هالند کې خپور شو نو په لنډې مودې کې ئـې ټوله نړۍ د يوۀ بمب په شان ولړزوله. د اګسا، کام او خاد جانيان د خپل ړنګ شوي ګوند تر شرميدلي برستني لاندې د آشويتس د پاتې شونو په شان له شرمه وشنيـدل. کاغذي لاسوندونه په دې شهادت ورکوي چې کودتاچيانو په زنداني کولو او اعدامولو داسي ناتار او غميزه رامنځته کړه چې مثال ئـې د نړۍ په معاصر تأريخ کې لږ لـيدل شوی دی. د پينځو زور قربانيانو ليست له يوۀ مخه دا ټکی څرګندوي چې ګوندي جنايتکارانو پر هيڅ چا رحم نـۀ دی کړی، د سماوارچي له شاګرده نيولې د کوڅو تر ليونيانو، د پوهنتون له استاده نيولې د ملي بس تر موټر وانه، له بزګره نيولې تر ځمکوال، د فابريکې له څښتنه نيولې تر بي وزلي دستفروش، له محصل او زده کوونکي نيولې د مستري تر شاګرده، له ښوونکي او مأمور نيولې تر مزدور کاره، له سوداګر نيولې تر علامه او مختصص، او پوهاند او پوه ئـې ټول له يوې مخې له توپير پرته نيولې، شکنجه کړي او اعدام کړي دي.

کله چې په دې وروستيو کلونو کې د «سپېڅلو رنځونو» ځيني برخې د انترنت له لارې خپرې شوې شکنجه ګرانو او ګوندي جلادانو د انترنت د پاڼو پر مخ په تورو نقابونو، په مستعارو نومونو په هماغه جلادي خاصيت په خپلو له خندا ډکو مضحکو دعوا جلبيو خپله د انکار ژبه څرګنده کړه، ټولو له يوې مخې پر نيونو او زنداني کولو، شکنجو او اعدامونو د تائيد پر ځای انکار وکړ او تر نن پورې تائـيد ته غاړه نــۀ ږدي. د ليست له خپرېدلو وروسته پرچميانو او خاديستانو دا سندرې پيل کړې چې دا ليست د «خلقيانو» د اګسا او د کام د جناياتو بيلګه ده... خو دوی نـۀ پوهېږي چې نور ليستونه لا پر لاره دي چې د خاد او واد جنايات به رابربنډ کړي.

څو کاله مخکې کله چې ما د څرخي پلـۀ او صدارت د زندانو په باب خپل خاطرات، د دولسو کلونو د سترګو ليدلی حال او شنني په دوه وو ټوکونو کې د «ګوندي جناياتو» په عنوان وليکل نو شکنجه ګرانو به ويل تاسو داسي لاسوندونه وړاندې کړئ چې ګني که موږ څوک شکنجه کړي او يا مو څوک وژلي وي. دوی ادعا کوله چې دا زموږ سياسي مخالفين دي چې پر موږ تورونه لګوي. دوی په ټولي بې رحمۍ خپله په وينو لژنده خولـۀ او لمنه په سپين سترګۍ پټوله او لا تر اوسه ئـې

پټوي. د «سپېڅلو رنځونو» کتاب هم د اعدامیانو له قصو ډک دی، هغه اعدامیان چې اکثریت ئـې د لیکوال له څنګه پولیګون ته د اعدام لپاره لـېږدول شوي دي.

«سپېـڅلي رنځونه» په زندان کې نـۀ دي لیکل شوي بلکه د زندان خاطرات دي، هغه خاطرات چې د ششدرک، صدارت او څرخي پلـۀ له زندانه په زر هاوو کیلومتره لیرې په آزاده چاپیریال کې له سانسور پرته د هالند په یمګان کې لیکل شوي دي.

شپږ دېرش کاله کـېږي چې جګړه او استبداد دواړه زموږ په هـېـواد کې انسانان قرباني کوي او جنایات یو په بل پسې تکرارېږي. په داسي یوۀ چاپیریال کې چې خرمهره د سلیمان د ګوتمی پر غمي حکومت چلوي او د زندانیانو او اعدامیانو نومونه له خاطرو تللي دي نو د یو شمیر زندانیانو او اعدامیانو معرفي او د یو شمیر شکنجه ګرو او ګوندي جنایتکارانو د جنایاتو توضیح په خپله له هیرجنتیا سره مبارز ده. «سپېـڅلي رنځونه» د زر هاوو نوم ورکو اعدامیانو لپاره د نوم ورکي سرتیري «سپاهي ګمنام» څلی دی.

**هالند**

**۲۰۱۴ ز کال دسمبر**

# سپېـځلی رنځ یا سپېـځلی مقاومت

کریم پیکار پامیر

د «استاد نسیم رهرو» په پیاوړي قلم او رانه خوندور نثر د «سپېـڅلو رنځونو» د لیکل شوې لړۍ یوه برخه مې چې د همدغو کړاوونو خاوند دی د لومړي ځل لپاره د «گفتمان دیموکراسي» په ویبپاڼه کې ولوستله.

که رښتیا ووایم نو په هماغه لومړۍ شېبه کې مې ددغـهٔ گران زندان لیدلي او د افغانستان د کړېدلي او ځورېدلي مبارز لیکوال د لیکلو بڼه ډېره خوښه شوه او د ټولو هغو دردونو او رنځونو ځاځکی ځاځکی مې چې دهٔ گاللي ول وځښـل او د زړهٔ په تل کې مې احساس کړل.

کله چې د خلق د ډیموکراتیک گوند د رژیم د زندانوالو له لاسه د رامنځته شویو تعذیبونو او شکنجو د لا نورو کړاونو او دردونو اورونه د کړېدلي استاد د سوځېـدلي سیني له منځه گام پر گام د «گفتمان دیموکراسي» د ویبسایت د پاڼې پر مخ ووړېدل او د بدن هر رگ او سترگو مې ددهٔ لیکنې هر ټکی لوست، نو نـهٔ یوازې د پېـړۍ ددغـهٔ ناورین لیک لیکل او لوستل را ته ډېر پر ځای، ډېر اړین او اغېـزمن وگڼل سول بلکه افسوس مې راغی چې دداسې یوهٔ ناورین لیک عبرتناکې جملې او کلمې چې په عین حال کې زموږ د ټاټوبي د معاصر تأریخ د یوې حساسې برخې د حق او باطل پر وړاندې انځور دي ولې په یوې ټولگې کې سره راټول نـهٔ شي او زموږ د نن ورځې دردېدلي نسل او راتلونکو نسلونو ته ډالی نـهٔ شي. یوه ورځ مې له استاد سره د ټیلفوني مرکې پر مهال دا خبره وریاده کړ ه. څو کاله او میاشتې تـېـرې شوې او دا دی اوس د خوښـی ځای دی چې د هېـواد د خپلواکی د لارې د مبارز او زندان لیدلي استاد د «سپېـڅلو رنځونو» ښکلې ټولگه راټوله شوې او د چاپ په گاڼې پسولل شوې ده.

زه چې د کړېدلو انسانانو په منځ کې یو کړېدلی او له دردونو سره آشنا ددې هېـواد بچی یم او د خپل ولس د سوکالۍ او آزادۍ د لوټل شوي کاروان یو کاروانی یم او ددغـهٔ ناورین لیک هره کرښه مې ټکی ټکی مې د زړهٔ په وینو په ځیر لوستلی، په ډاډ ویلی شم چې دا کړیکه نـهٔ یوازې د هېـواد د یوهٔ مبارز له دردېدلي او ټوکیدلي زړهٔ راپورته شوې کړیکه ده چې د لوستونکي د زړهٔ پر بام کښـېـني، بلکه لوستونکي ته د «افغانستان د خلق د ډیموکراتیک گوند» اصلي ماهیت، د روس د ښکـېلاک او زبـېښاک تگلورۍ، زموږ د ولس د خپلواکۍ پالنې حساسیتونه او پاڅونونه، له سیاسي مخالفانو سره د رژیم چلند بڼه، د رژیم بې رحمی، شکنجې او بالاخره د کودتاچیانو د سیاسي تفکر، بڼه او تگلاره مخې ته ږدي. ددې تر څنگ دغه ټولگه په حقیت کې زموږ په وینو کې د لژند هېـواد د تیرو څو لسیزو د تأریخ یوه برخه ده چې زموږ مخې ته ایښودل کېـږي.

پوهېږم چې استاد رهرو زموږ د عصر د بې ساري ناتار په ګاللو سره خپله روحي او جسمي بشپړتيا له لاسه ورکړې خو له دې سره سره ددغـهٔ دراندهٔ ارزښتناک او ځانګړي متن له مخې داسې ښکاري چې د استاد د حافظې غوټی لا هم تاندې دي او دا په خپله دليکوال له قلم سره مرسته کوي؛ که نـهٔ يوهٔ ځپل شوي، ناتار ليدلي او ناتوانه زنداني ته چې د دردونو دراندهٔ پېټي په اوږو وړي ناشونې ښکاري چې ان د بندي کېدلو له لومړۍ ورځې نيولې بيا د تحقيق او تعذيب تر سختو پړاوونو، د زندان چاپېرېال او په تورو کوټو کې د بندي تابـهٔ د شپو ورځور تر تيرولو پورې د ډېرو کسانو نومونه او مشخصات او له هغوی سره چار چلند او نور په حافظې کې وساتي. ما چې «له څو د ګوتو په شمار رسالو پرته» د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د واکمنۍ پر مهال د زرهاوو زندانيانو په باب د خاطراتو او کتبي آثارو د خپرېدلو تشه جداً احساس کړې ده ددغـهٔ قيمتي اثر خپرېدل نـهٔ يوازينی لوی غنيمت ګڼم بلکه پر خپل هر ګران هېـواد وال غږ کوم چې ددغـهٔ اثر لوستنه دې نــهٔ هيروي. د استاد عمر دې اوږد او قلم ئـې لا پياوړی وي!

کريم پيکار پامير – کاناډا

۲۰۱۴ز کال ډسمبر

# د روڼا پر لور لومړي گامونه

د زېږېدو او خاپوړو ټاټوبی مې د انچو سیمه ده چې هغه مهال د جبل السراج د ولسوالۍ یوه برخه او یوه وروسته پاتې او د بې وزلو وګړو سیمه وه. دې سیمې ان تر څو کالو مخکې نـهٔ سړک درلود، نـهٔ موټر، نـهٔ کوم کلینیک، نـهٔ کوم روغتون او نـهٔ هم کوم بازار. په ټوله انچو کې یوازې یو کلیوالي ښوونځی وو او لیک لوست او سواد لا د سیمې د خلکو په منځ کې لاره نـهٔ وه موندلې. ښـهٔ مې په یاد دي چې په هغو وختونو کې نـهٔ یوازې زه په لوڅو پښو ښوونځي ته تللم بلکه ډېریو نورو زده کوونکو هم بوټان نـهٔ درلودل. هیڅ داسې ورځ به نـهٔ وه چې پښه مې په کومې ډبرې ونـهٔ لګـېږي او ټپي نـهٔ شي، او یا دې کوم اغزی په کې لاړ نـهٔ شي. لمر به ددوبي په موسم کې ځمکه او ډبرې دواړه د سرې سوځندې تبې په شان د اور یوه بټۍ ګرځوله. کله به چې زما پښې د لارو سرو سکروټو تیږو وسوځولې نو د لارې پر سر ویالې کې به مې پښې ننه ایستلې او بیرته به په خپله لار وخوځـېدم.

لوړو ټولګیو ته په تللو سره کرار کرار پښه مې د کورنۍ او کلي له وړوکي چاپیریال څخه د یوهٔ پراخ، لا رنګین او خوځښت او ګڼه ګوڼي ډک چاپیریال پر لور خلاصه شوه. د لومړني ښوونځي له بشپړولو وروسته د جبل السراج منځني ښوونځي ته لاړم. د ښوونځي په نهم ټولګي کې وم چې د ښوونځي د خانتما، ځانځاني او مستبد آمر پر ضد لاریون وشو. ذهن ته مې د لومړي ځل لپاره د روڼ اندی، آزادی، انقلاب، دیموکراسي، ارتجاع، ځمکوال، دیکتاتور، عدالت .... اصطلاحاتو پرته له دې چې په ژورو معنی ګانو ئـې پوه شم لاره موندله. د پروان والي په خپله زموږ د شکایاتو د اورېدلو لپاره زموږ ښوونځي ته راغی او د سترګو په رپ کې ئـې د ښوونځي آمر تبدیل کړ. د ښوونځي د آمر تبدیلیدل موږ ځوانانو ته دا پیام راکړ چې مبارزه او مقاومت دواړه د زړونو یوالی او بریا له ځان سره بدرګه لري.

د لاریون یو مخکښ سمبالچاری ملنګ عمار وو خو هغه مهال ئـې لا پر ځان د «عمار» تخلص نـهٔ وو ایښی. ملنګ په دې لاریون کې په ولولو ډکه وینا وکړه او پر ما ئـې ژوره اغیزه وکړه. ملنګ یو زړور ځوان وو چې د خپلې زړورتیا، اخلاق او ښـېګڼو له کبله ما ته سرمشق او نمونه وو. ډېر راباندې ګران وو. یوه ورځ د ښوونځي په انګړ کې زما څنګ ته راغی او د یو شمیر سیاسي مسائـلو په هکله ئـې راسره خبرې وکړې. زموږ ددوستۍ او اندیوالۍ تومنه همدلته غوټه شوه. د ملنګ تر څنګ، عبدالحی، کاکاګل، صفدر، یونس، شکور، حمید خان او نور د هغـهٔ مهال د لاریونونو نامتو څـېرې وې.

د جبل السراج منځني ښوونځي، لیسې ته ارتقأ وکړه. د لیسې په لسم ټولګي کې وم چې د لیسې یو شمیر آزاد فکره او روڼ اندي ښوونکي لکه اروابناد استاد رزاق خان «د اروابناد استاد عبدالبصیر ورور»، استاد قادر خان او استاد خان آقا خان او

نور په دې لټه کې ول چې د زده کوونکو اذهان له تیارو څخه د روښنايي پر مخ راوکاږي. دوی د ښوونځي زده کوونکي د سیاسي کتابونو لوستلو ته رابلل. په یاد مې راځي چې زما یوې مقالې د ارواښاد استاد رزاق خان پام ځانته راواړاوهٔ چې تر مقالې لاندې ئـې راته دا جمله ولیکله : «احساسات دې د ستاینې وړ دي. باید مطالعه ولرې.»

د نوموړو روڼ اندو خبرې ماته د یوې سپرغۍ په شان او زما ذهن ورته د سون وچ بوټی. له هر یوهٔ دغو روڼ اندو څخه مې ډېر شیان زده کړل. د هغوی توصیه راته د ټولنیزو او داستاني کتابونه لوستنګ وو. هغوی زه ددې پوهې کچې ته ورسولم چې د ځور ځپنې یا ستم و د ټولنیزو – اقتصادي نابرابريو پر وړاندې سرټیټوالی او هغوی ته تسلیمـېدل د اسکېرېدلتوب «زبوني» او بې ننګی نښه ده. هغوی ما ته دا پوهه هم راکړه چې د فقر، قناعت، چوپتیا، بار وړلو او بې تفاوتی له نړۍ پرته یوه بله نړۍ هم شته یعني د تیرغمالی «بیداد»، نابرابری پر وړاندې د مبارزې، د زور ویلو پر ضد د مقاومت او د بدلون او پرمختګ نړۍ هم شته. استادانو به موږ ته ویل چې یوازې هغه بهترینان چې قربانی ته چمتو وي د مبارزې او مقاومت او بدلون د رامنځته کولو پر لور ګام ایښودلی شي. زه چې ددغـهٔ ټاټوبې د محرومانو د بچیانو په منځ کې یو بچی وم دغو خبرو زما ذهن کې د اور بلندې لمبې خپرولې او دې خبرې ته ئـې لا هوډمنولم چې د عدالت او سوکالی په لاره کې د ځان او د خپل ولس د برخلیک یو لاروی «رهرو» واوسم. له همدغـهٔ ځایه ول چې د زورځپنې او د زور ځپنې له پلویانو سره مې ضدیت پیل شو. پرېکنده هوډ مې وکړ چې د ټولنې د محرومو او بې وزلو پاړکو «طبقاتو» په ګټې د ټولنیزو بې عدالتیو او د ټولنې د ظالمانه اړیکو د بدلون په لارې کې مبارزه وکړم.

۱۳۴۹ لمریز کال وو چې د جبل السراج د لیسې له دولسم ټولګي څخه فارغ او د پروان په دارالمعلمینو کې شامل سوم. هغه مهال هر لور ته د «ژوندی دې وي، مړ دې وي» شعارونه په غوږونو کېـدل. ددغو خوځښتونو مخکښان، محصلین او د ښوونځیو زده کوونکي ول او هغه وخت د پروان دارالمعلمین د سیاست او تکر «پرخاش» مرکز وو. بیلابیلو سیاسي ډلو ټپلو چې په بیلابیلو فکري مواضعو او سازمانو اړیکو پورې ئـې تړاو درلود فعالیت کاوهٔ. د دارالمعلمینو د لیلې چاپیریال هم په سیاسي مباحثو، ایدئـولوژیکي جنګ جګړو او جدل ډک وو. د پروان په دارالمعلمینو کې زما ټولګیوال حمید خان د مصحلینو د خوځښت په سر لارو کې شمـېرل کېـدهٔ. حمید خان یو زړه ور، پیاوړی، په انرژۍ سمبال او خوږ ژبی انسان وو چې په لاریونونو کې به ئـې په شور او ږوږ ویناوې کولې. نوموړی له ملنګ عمار او بیا د ملنګ عمار له لارې له عبدالمجید کلکاني سره په اړیکه کې وو. ملنګ هغه مهال مخفي ژوند کاوهٔ نو له همدې کبله ول چې حمید زه په تشکیلاتي کړۍ کې سمبال کړم.

د لاریونونو ویناوال او نطاقان له شور او ږوږ ډک ځوانان ول چې ځانونه ئـې د ټولنې د محرومو او بې وزلو پاړکو «طبقاتو» پلویان بلل. هغوی د ټولنې له لوړو پاړکو او هغو څخه خپل مخالفت نـهٔ پټاوهٔ چې د فقیرانو د ژوند د مړۍ په لوټلو به ئـې ژوند کاوهٔ. د «شعلـهٔ جاوید» او نورو سیاسي ډلو «په ځانګړې توګه د خلق او پرچم» د غړو او پلویانو تر منځ ځانګړې کرښې ایستل شوې وې. څرګنده ده چې دغه تقابل یوازې د ویناوو د بهیر په لړ کې راڅرګندېدهٔ او تر دې دمه د انتاګونیسم تر بریده نـهٔ ول رسـېدلي.

ما له هغې ډلې سره اړیکه درلوده چې د نورو سیاسي ډلو په منځ کې د «گروه پس منظر» په نامـهٔ پـېژندل کـېده. دغې ډلې یوه جزوه هم خپره کړې وه چې د هغـهٔ مهال د سیاسیونو په منځ کې ئـې د «پس منظر تأریخي» په نامـهٔ شهرت موندلی وو. ددې جزوې اصلي نوم [پس منظر «جریان شعله، رشد و دور نمای آن»] وو. د جزوې لومړنی عنوان «پس منظر تأریخی» وو. نو له همدې کبله وو چې دا جزوه ئـې د «پس منظر» په نامـهٔ ونوموله.

د «پس منظر» رساله په څو برخو ویشل شوې وه چې یوه برخه ئـې «وجود ستم ملي د جامعـهٔ افغانستان» وو. په نوموړې رساله کې د «شعله» پر سیاسي «جریان» کلکې نیوکې شوې وې او د یوهٔ مخفي او وگړنیز سازمان پر شتون باندې ټینگار شوی وو. رسالې پر داسې یوهٔ سازمان ټینگار کاوهٔ چې د سړکونو د مخونو لاریونونه دې خپله لاره د پرگنو په منځ او کلیوالي سیمو ته وغځوي.

دغو کسانو د «پس منظر» له ډلې سره همکاري درلوده : انجنیر عثمان، مضطرب باختري «اسحق نگارگر»، عین علي بنیاد «چې لږ وروسته ئـې خپله ډله پرېښودله»، عبدالمجید کلکاني[1]، انجنیر میرویس، استاد عزیز الله، ملنگ، انجنیر سرور، استاد ولي جان لاهو، بابه صاحب طوفان، آقاجان کوهستاني، حسین طغیان او نور.

تر هغـهٔ ځایه چې زما په یاد راځي زموږ ډلې د کیوبا د انقلاب او د کیوبا لارې ته لېـوالتیا درلودله. له دې وروسته ول چې اروابناد عبدالجمید کلکاني د مطالعې او څـېړنې په ترڅ کې خپلو افکارو ته وده ورکړه او خپل نړۍ لید ئـې په دې باب لا مثمر کړ. مجید له خپلو څو تنو یارانو سره د افغانستان بـېلابـېلو سیمو ته د سروې او له پرگنو سره د اړیکو په موخه یو اوږد سفر وکړ. د دغو څـېړنو پایلو شهید مجید دغـهٔ باور ته ورساوهٔ چې د کیوبا لاره او د هېـواد په اوسنیو شرایطو کې د بلوا د بنسټونو رامنځته کول عملاً نـهٔ شي تر سره کـېدای.

۱۳۵۱ لمریز کال وو چې د پروان له دارالمعلمینو څخه فارغ شوم. په هماغه لومړۍ ورځ مې چې خپل «کاري معرفي خط» د لیسې اداري ته یووړ، سترگې مې په استاد عبدالبصیر ولگـېدلې. د هغـهٔ په لیدلو مې د زړهٔ نړۍ روښانه شوه. له دې څو ورځې مخکې د سید خیلو لیسې یو لاریون کړی وو. د لاریون مشري د لیسې دوه وو تنو آزادي پالو استادانو شهید استاد عبدالرازق او بابه صاحب طوفان[2] په غاړه درلوده. ددغـهٔ لاریون په کړس کې طوفان د ښوونکې له دندې طرد مسلک شو او زما نازولی یار عبدالرزاق خان په جزایي ډول بلې لیرې سیمې ته تبدیل شو. دوه یا درې میاشتې لا نـهٔ وې تیرې شوې چې د لیسې د ادارې او د زده کوونکو په نظر کې د رژیم د مخالف یوهٔ ښوونکې په توگه وپـېژندل شوم خو زما د تشکیلاتي اړیکو په باب څوک نـهٔ پوهـېدل. زما او د بهرنگې ترڅنگ اروابناد استاد شیر احمد او اروابناد باشي محمد هم په دې لیسې کې ښوونکې ول.

---

[1] - تر هغـهٔ ځایه چې زه پوهـېږم، عبدالمجید کلکاني د شعلـهٔ جاوید له بهیر سره مخامخ همکاري نـهٔ درلوده. له شعلـهٔ جاوید سره د هـغـهٔ آشنایي په شعلـهٔ جاوید پورې د تړلو کسانو له پلوه شوې وه. کله چې اروابناد انجنیر عثمان او مضطرب باختري او نورو د شعلـهٔ جاوید له بهیر سره پریکون وکړ، مجید کلکاني هغه مهال مخفي ژوند درلود او د «پس منظر» له ډلې سره ئـې خپله همکاري په پټه اعلان کړه.

[2] - وروسته له هغې چې بابه صاحب طوفان د ښوونکي له دندې طرد مسلک شو نو د انقلابي مبارزې له تگلارې سره ئـې هم له یوې مخې خدای په اماني وکړه

په تشکيلاتي کړيو کې مې سياسي او د ښووني «آموزشي» چارې پرمخ بيولې. همدلته ول چې فلسفي، اقتصادي او سياسي مفاهيمو مې ذهن کې ځای وموند. د کړی مشر مو د مخفي کاريو، او د تشکلاتي اړيکو په پټ ساتلو باندې ټينګار کاوۀ.

د پروان د ولايت د سيد خيلو په ليسې کې مې د خدمت دويم کال وو چې د ليسې د ادارې د صبر کاسه ډکه شوه. اداري زه د پروان ولايت د معارف مديريت ته معرفي کړم. تر پوښتنو ګروېږنو لاندې ونيول شوم. په ما تور لګول شوی وو چې ګنې غوارم د تير کال د لاريونونو لړۍ بيا له سره ونيسم. په دې توګه د پروان د معارف مديريت د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ د مياشتې په ۲۶ نيټې «د محمد داؤود د کودتا په ورځ» زما د بيا مقررۍ مکتوب په جزايي ډول د غوربند د سياه ګرد ليسې ته صادر کړ. څلور کاله مې په دې ليسې تير کړل. هره پنجشبه به د کور خوا ته راتلم چې په تشکيلاتي غونډو کې ګډون وکړم.

د سردار محمد داؤود د کودتا له بريا سره سم د ټولو علني لاريونونو، د جرايدو د چاپ، اعتصاباتو او سوله ناکو غونډو او د صنفي اتحاديو د تشکيلولو ټغر ټول شو. د کودتا په هماغه پيل کې نظامي حالت اعلان شو خو د نظامي حالت له الغا سره سره هم د خپلسريو او استبداد لمنه ټوله نـۀ شوه. روڼ اندو او هغوی چې د ظاهر شاه د دوران له آرامو شرايطو او ډيموکراسۍ سره عادت شوي ول نـۀ شوای کولای په پخوانی بڼه کار وکړي. د يو شمير سياسي ډلو د غړو په منځ کې يو ډول تشنت، زړۀ سوړ والی او کرختي رامنځته شوه. له بلې خوا د محمد داؤود کودتا د کيڼ اړخو انقلابي روڼ اندو يوه لويه برخه راوېښه کړه او زموږ ډله ئـې ولړزوله. موږ د مخفی کاری لړۍ ته لا شدت ورکړ او خپل خوځښت مو لا ګړندی کړ.

د عبدالمجيد کلکاني د ډلې او د اروابناد ډاکټر فيض احمد تر مشرۍ لاندې د «ګروه انقلابي خلق هاى افغانستان» د ډلې تر منځ تماس او اړيکه (چې وروسته د رهايي د سازمان په نامـۀ و نومول شوه)، د دواړو ډلو تر منځ د همکاری يوه ځلانده پاڼه ګڼل کـېږي[3]. د دواړو ډلو نـږدې والي د دوه اړخيزو تجربو د زده کړو لپاره لاره پرانيستله. تجارب له يو بل سره تبادله شول او په ډېريو اړخونو کې پرمختګونه وشول. انقلابي ډلې لا مخکې د «طرد اپورنيسم در راه انقلاب سرخ به پيش» د جزوې په خپرولو د شعلـۀ جاويد له بهير سره پريکون کړی وو. تشکيلاتي ادغام لا نـۀ وو بشپړ شوی چې په ۱۳۵۷ ل کال کې په خواشينی د يو شمير اختلافاتو له کبله بيلتون رامنځته سو.

۱۳۵۶ل کال وو چې د سياه ګرد له ليسې څخه تبديل او د سيدخيلو په يوۀ لومړني ښوونځي کې مې دنده پيل کړه. د ښوونځي آمر زما نيږدې ملګری اروابناد استاد حبيب الله وو چې دواړه په يوې تشکيلاتي کړۍ کې سره تنظيم وو. ددغو کلونو په لړ کې مې کتابونه ولوستل او ډېره هڅه مې وکړه چې خپله د معلوماتو کچه لوړه بوزم. بايد ووايم چې زما نور ياران په دې برخه کې تر ما مخکې او لا زيار ګالي ول.

---

[3] - د شهيد مجيد او شهيد فيض تر منځ لومړنی ليدنه کتنه په ۱۳۵۳لمريز کال کې وشوه او د همکاريو او رسمي اړيکو لړۍ په ۱۳۵۴ل کې رامنځته شوه.

د ۱۳۵۷ل کال د غوايي د مياشتې خونړۍ کودتا هر څه ګډوډ، نسکور او بدل کړل. ددغـۀ قيامت وحشت له هغـۀ قيامته لږ نــۀ وو چې ملايان، خلک ورڅخه ويروي. ددۀ قيامت او هغـۀ قيامت تر منځ توپير دا وو چې د اسرافيل د سور پر ځای، د شمال ساړه باد زموږ ځمکې، کورونه، شتمنۍ او هستۍ ټول له يوې مخې پوپنا کړل.

د افغانستان ډيموکراتيک خلق ګوند چې مطلقه ځواک ئـې په لاس کې وو د خپلو مخالفانو او روڼ اندو ويروونکې چاپ او تصفيه پيل کړه. د وينو ويالې ئــې وبهولې او زموږ د زرهاوو هـېـوادوالو سرونه ئــې تر خاورو لاندې کړل.

د ۱۳۵۸ل کال د وري د مياشتې لومړۍ نيټه وه چې مخفي ژوند ته مې مخه کړه. مخفي ژوند مې له يو شمير يارانو او هملارو سره په کليو او بانډو کې تير کړ او د ملي انقلابي مقاومت د سمبال او تدارک لپاره مې تر خپلې وسعې کوښښ وکړ. د ژوندانه دا برخه له يو شمير خوږو او ترخو خاطره سره ملګرې ده چې شرحه او ويل ئـې ددې ليکنې له حوصلې وتلې خبره ده. په همداسې يوې اوضاع او چاپيريال کې د کودتايي رژيم کېڼ اړخو مخالفو ډلو د انقلابي سازمانونو د منځته راوړلو، سمبال او تدارک لپاره کار پيل کړ. څو يو له بله بېل سازمانونه جوړ شول او هر يوۀ د خپل توان او امکان تر بريده د کودتا د رژيم پر ضد مبارزه پيل کړه. زموږ ډله هم له څو نورو ډلو سره د تماس او اړيکو لپاره لاس په کار شوه. ددغو غونډو پايله د «سازمان آزاديبخش مردم افغانستان» (ساما) په نامـۀ د سازمان ځليدل او رامنځته کـېـدل ول. ساما د ۱۳۵۸ل کال ددوبي په پيل کې د متشکله ډلو د يولسو تنو استازو د ګډونوالو د کنفرانس په لړ کې د کابل په ښار کې رامنځته شوه[4]. کنفرانس، عبدالمجيد کلکاني ددغــۀ سازمان د مشر په توګه غوره کړ.

ساما لا نوې رامنځته شوې چې پرله پسې ضربات ورباندې راغلل. د ساما د بنسټ ايښودونکې کنفراس ډيرې غړي د «اګسا» د سازمان ښکار شول. مجيد سره له څو تنو نورو يارانو سره د ساما د مشرتابـۀ او اداري دراندۀ پيټي پر اوږو وړل. کله چې تيريګرو روسي ځواکونو هـېـواد ونيو نو له آزادۍ او هـېـواد څخه دفاع، ملي او انقلابي مسـئـله تر ټولو لومړنـی، اصلي او تر ټولو جدي کار وو چې د ساما د چارو سرليک وګرځيد. ساما د يوۀ سياسي – نظامي سازمان په توګه د هـېـواد په بـېـلابـېـلو برخو کې روسي ضد وسلوالې ډلې سمبال کړې. ددې ترڅنګ د ټولو پرګنو او نورو سياسي ډلو د پيوستون او اوډن لپاره ئـې د ملي متحدې جبهې بنسټ کېښـېښود. د ۱۳۵۸ ل کال د سلواغې د مياشتې اتمه نيټه وه چې عبدالجميد کلکانی د کابل په ښار کې د حکومت منګولو ته ولوېد. د ساما سازمان د حسين کوټ د لوا د وسلو او مهماتو په مصادره کولو سره خپله تسليحاتي اړتيا تر يوې مودې پورې پوره کړه. دغو برياليو عملياتو د ساما اعتبار او حيثيت د خلکو په منځ کې لوړ کړ. د ۱۳۵۹ل کال د غبرګولي په مياشت کې د ساما لومړنـی کنګره جوړه شوه. د برنامـې او قانون ليک د تصويب تر څنګ د مشرتابـۀ نوې ډله وټاکل سوه. د «ندای آزادي» په نامــۀ لومړنی ګڼه د ۱۳۵۹ل کال د لړم په مياشت کې چې د ۱۹۸۰ز کال د نوامبر له مياشتې سره سمون خوري د ساما د نشراتي ارګان په توګه خپره شوه.

---

[4] ـ ددغـۀ کنفرانس د جوړېدلو نيټه مې په ياد نــۀ ده خو دومره پـۀ ياد لرم چې د اروابښاد ملنګ عمار له شهادته څو ورځې تيرې شوې وې. د کابل د چنداول ۱۳۵۸ل «د چنګابښ ددويمې» له پاڅونه دوه ورځې وروسته ول چې اروابښاد استاد عزيزالله پغماني چې د ساما د مؤسس کنفرانس يو ګډونوال وو زما ليدلو ته راغی او خپلې خبرې ئــې داسې پيل کړې : «راغلی يم چې يو ښــۀ خبر درکړم او د يوۀ بد خبر تفصيل له تاسو واورم «موخه ئـې د ملنګ عمار د مرګ خبر وو». ښـۀ خبر دا دی چې د (سازمانِ آزاديبخش مردم افغانستان) «ساما» بنسټ کـېښـېښودل شو. افسوس چې ملګری ملنګ ژوندی نــۀ دی چې دا خبر ئــې په خپلو غوږونو اورېدلای وای..»....

همدلته د یادوني وړ بولم چي زموږ سازمان د مجبوریت له مخې د یوې تېل شوې او په بشپړه توګه د یوې نابرابرې جګړې پر وړاندې د جګړې ډګر ته ننوت. دښمن له هره اړخه زموږ په پرتلې برلاس درلود. ساما داسې یوې وړوکې مرغی ته ورته وه چي لا تر دې دمه ئـي بڼکې او وزرونه نه ول غوړېدلي. له بلې خوا سخت دریځو اسلامي ډلو هم د ساما زغم ونـهٔ کړ. اسلامي بنسټپالو په خپل ټول ځواک او قدرت د ساما پر سیمو او سنګرونو یرغل وکړ. په حقیقت کې زموږ سازمان د دوه وو وحشي او وینې ځښونکو دښمنانو د متقاطع اور په منځ کې راګیر پاتې شو. هره ورځ زموږ د تلفاتو شمیر ډېرېدهٔ او دغو قربانیو د ساما نفس لنډاوهٔ.

د ساما مشرتابـهٔ د سازمان د تشکیلاتو د کمیټې لپاره زما د غړیتوب وړاندیز وکړ. ما دغه وړاندېز د سر په سترګو ومانـهٔ. د تشکیلاتو کمیټې د کار یو شمیرې نورې چارې هم تر لاس لاندې ونیولې لکه : د وصفي پاڼو جوړول، د سازمان د اصلي غړو تثبیت، د کابل او شاو خوا سمیو د تشکیلاتو ویش په زونونو، د تشکیلاتو د کمیټې یوهٔ غړي ته د هر زون «همدا شان د ولایتونو او جبهاتو تشکیلات» سپارل. د تشکیلاتو د کمیټې مسؤولیت ورځ تر بلې لا ډېرېدهٔ. ددغـې برنامه د پلې کـېدلو په لاره کې مو لومړني ګامونه لا نــهٔ ول پورته کړي چې له بل مصیبت سره مخامخ شولو. د نیول نیولو او سرټکولو بې شماره څپې راوپارېدلې چې د هغوی شرح او بیان بنایي په یوهٔ پرېږ کتاب کې ځای شي.

# مرغۍ په لومه کې نښلي

زسختي گذر کردن آسان بود

دلِ تاجداران هراسان بود

فردوسی



د ساما د تشکیلاتو د کمیټې نوبتي غونډې ته لا پینځه ورځې پاتې وې چې زموږ د سازمان پر ماغزو کاري ضربه ولگېدله. د ۱۳۶۰ ل کال د زمري د میاشتې پینځمه نیټه وه چې د سیاسي دفتر غړی پویا «انجنیر نادر علي دهاتي» ، د تشکیلاتو د کمیټې مسؤول انجنیر میرویس، د سیاسي دفتر غړی او د نظامي کمیټې مسؤول او انجنیر محمد علي، د سیاسي دفتر غړی او د نشراتو د چارو مسؤول د «خدمات اطلاعات دولتي» «خاد» یعنې د روس د لاسپوڅي رژیم د پولیسو منگولو ته ولوېدل. وروسته د تشکیلاتو د کمیټې د یوه غړي هارون «ډاکټر صدیق جویا» د نیول کېدلو خبر مو تر غوږ شو. له دې چې د تشکیلاتو د کمیټې غونډې زما په کور کې جوړېدلې، یارانو وړاندېز وکړ چې سازماني لاسوندونه او نور هر هغه شی چې شک رامنځته کوي باید له خپل کالـهٔ څخه وباسم. د دغـهٔ دستور پر بنسټ لاسوندونه او نور شیان مې راټول او ځای پر ځای کړل. شواهدو په ډاگه کول چې دښمن د پرمختگ په حال کې دی او خطر زموږ د یوهٔ گام په واټن کې موږ ته په نـېږدې کـېدو دی. خو له دې سره سره مو ددې بلا د دفعې لپاره کومه بله لاره او چاره په لاس کې نـهٔ درلوده. سامایانو خپل ژوند د تقدیر لاسونو ته سپارلی وو.

پرېکړه وشوه چې د تشکیلاتو د کمیټې غړي دې د مرکزي کمیټې له پاتې غړو او د ساما یو شمیر سیاسي او پوځي کدرونه دې یوه فوق العاده غونډه جوړه کړي. د زمري د میاشتې نهمه نیټه وه چې زه او د تشکیلاتو د کمیټې غړی انجنیر امین پر بایسکل د نوموړې غونډې ځای ته چې د کابل په خیرخانه مینې کې وه ورسېدلو. یاران ټوله شپه ویښ پاتې شول. بیلابیل بحثونه وشول، ځینې پرېکړې ونیول شوې او یو شمیر اجراأتي قرارونه صادر شول. یوه پریکړه دا وه چې زه دې تر هر څه

دمخه د خپل کالـهٔ پته بدله کړم. غونډه پای ته ورسېدله او ځان مي د میرویس میدان بازار ته ورساوهٔ. خړ سهار وو، د سباوون لمر لا نـهٔ وو ختلی. هټۍ والو یو یو کرار کرا خپلې هټۍ ګاني پرانیستلې. له دې چې د کمکي اختر لومړۍ ورځ وه، نو د ماشومانو لپاره مي کلچې او خواږهٔ وپېرودل، او مخکې له دې چې خپل کور ته لاړ شم له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې د همدې سیمې په شا و خوا کې یوهٔ کور ته چې څو ورځې وړاندې مې په کرایه نیولی وو او په هغـهٔ کې زما خوارهٔ همسنګره ملګري شاه محمد له خپلې کورنی سره ژوند کاوهٔ لاړ سم او خبر ئې ونیسم. د «قلعـهٔ واحد» د کوڅې په اوږدو کې په لاره وخوځېدم. د شاه محمد کورنی چې په دغـهٔ کالـهٔ کې دېره وه خپل ټول هست و بود له لاسه ورکړي ول. د کورنی ځوان زوی ئـې «خلقیانو» او پلار ئـې «مجاهدو ورونو» وژلی وو. ټول مال او منال ئـې لوټ شوي ول چې له صداقت او اخلاص پرته ئـې بل هیڅ شی نـهٔ درلودل. لمر کرار کرار د غرونو له شا سر پورته کاوهٔ چې د کالـهٔ د ورهٔ شا ته ودرېدم او دروازه مې وټکوله. د ښاغلي شاه محمد مور د انګړ وَر پرانیست او دننه کور ته ئـې وبللم. کلچې او خوارهٔ مې ورته ورکړل او ورته مې وویل چې ټول دوه برخې کړه یوه برخه ئـې ځانته او بله برخه ئـې زما میرمن او بچیانو ته بیله کړه. د سهار چای مو د یوهٔ دستر خوان تر شا له شاه محمد او کورنی سره ئـې وڅښـهٔ. خپل جیبونه مې ښـهٔ په ځیر ولټول او خپل ټول یاداشتونه مې شاه محمد ته ورکړل. د خدای په امانی پر مهال شاه محمد غوښتل له ما سره په یوه لار راسي. موږ دواړه په پلې ډول په لاره وخوځېدلو. د پټیو له منځه تیر شولو. د لارې په اوږدو کې زموږ خبرې د سازمان د مشرتابـهٔ د نیول کیدو پر شا و خوا راتاوېدې. زه د کابل په أنچې باغبانانو کې په یوهٔ کرایي کور کې اوسیدلم. ددغـهٔ کالـهٔ ختیځه برخه له یوې کرنیزې ځمکې سره نښتي وه. ډیري وختونه به کالـهٔ ته د همدې کرنیزې سیمې له لارې راتللم. د همدې لارې په اوږدو کې مې له لیرې کولای شوای د «ګواښ یا خطر او امن نښه» له لیرې وګورم. دا ځل هم د همدغو کرنیزو ځمکو له لارې راغلو. د «امنیت د نښې» په لیدلو زموږ زړهٔ ډاډه شو چې کور کې خیریت دی[5]. پرېکړه مو وکړه چې لومړی به زه کالـهٔ ته لاړ شم. د کوڅې ګڼه ګونه او د ماشومانو خوښی د اختر د مراسمو د لمانځلو نښه بلل کـېدله. د کالـهٔ له ورهٔ لیرې یو سړی ولاړ وو. ذهن ته مې شک لاره وموندله، خو ددغـهٔ سړي شتون د اختر په لومړۍ ورځ یوه عادي خبره وه. د دروازې زنګ مې وواهـهٔ. یوهٔ نا آشنا سړي وَر راته پرانیست. دلته پوه شوم چې کار له کاره تیر دی. په لومه کې راګیر شوی وم. په سړې سینې مې ځواب ورکړ: «د برقي کور دلته دی؟» دا سړی زړهٔ نا زړهٔ وو چې یو ناڅاپه یو آمرانه غږ د انګړ له منځه راغی: «دننه ئـې راوله!» کله چې زما د مور سترګې پر ما ولګېدلې چیغه ئې کړه : «وه زویه! خاورې مې پر سر توی شوې. کاشکې نـهٔ وای راغلای.».... خادیستان پوه شول چې غیشی ئـې بې ځایه نـهٔ دی لګـېدلی. په تلوار او وارخطایي ئـې سمنټي کاغذي کڅوړه راڅخه واخیسته او زما ټول ځان ئـې تلاشي کړ. د خاد یوه لس یا دولس کسیزه عملیاتي ډله چې زما د نیولو مأموریت ئـې درلود د پټې «صفي» پر مخ زما پر شا و خوا راتاو شوه. هغوی دوه شپې او ورځې زما په کالـهٔ کې کمین نیولی وو او زما کورنی ئـې یرغمل نیولې وه. زښت ډېر انتظار او بې خوبۍ هغوی ستړي کړي ول. زما ټول پام د شاه محمـد خوا ته وو. له ځان سره مې وویل : زه خو ددوی په لومې کې ولوېدلم، او هغه نه باید زما په برخلیک کې ګرفتاره سي. همدا وو چې په لوړ غږ مې وویل : «اې بې وجدانانو! تاسو په کوم حق زما پر کالـهٔ راننوتي یاست؟ آیا تاسو ناموس نـهٔ لرئ؟».. د انګړ دیوال چنداني لوړ نـهٔ وو. ګاونډیانو او پلې تـېرېدونکو خلکو زما غږ اورېدهٔ. خادیستانو زما خوله په خپلو لاسونو وتړله. دوی غوښتل زما د چیغو مخه ونیسي. ځکه هر ډول جنجال او غالمغال

[5]- زما ګراني میرمن خوبان د امن نښه لیرې کړې وه خو خادیستانو هغه بیرته پر خپل ځای ایښې وه.

کمین افشأ کاوۀ، دا هغه څــۀ ول چې ما غوښتل[6]. په دې شیبه کې د انګړ دروازه نیمه خلاصه شوه. شاه محمد خپل سر انګړ ته را دننه کړ چې وګوري څه پېښه ده. هغــۀ په حیرانتیا راته رنې رنې وکتل. ښایي غوښتل ئــې کوم کار وکړي. شاه محمد د یوې حساسې شیبې په منګولو کې ګیر پاتې وو. د پرېکړې لپاره ئــې ډېر وخت نــۀ درلود. برخلیک شاه محمد په ویښتــۀ پورې تړلی وو. هر څه زمان مشخص کول. بیرېدم چې شاه محمد به دغه په لاس ورغلې شیبه له لاسه ورکړي او په لومه کې به ولوېږي. زړۀ مې درزېدۀ. نېږدې وو چې بې سده سم. عملیاتي ډله په ما باندې اخته وه. شاه محمد په هماغه شیبه کې پرېکړه وکړه او مخکې له دې چې خادیستان لاس په کار شي د یوۀ پیاوړي ټوپ په وهلو په تیښته سو. څو تنو خادیستانو ورپسې منډه کړه. د وسلو پرله پسې ډزو فضا ولړزوله او زما د زړۀ درزهار ئــې ډېر کړ. څو دقیقې وروسته خادیستان توپک په لاس په سوځېدلو نفسونو او تش لاس بیرته راغلل. د خادیستانو د ډلې مشر وپوښتل چې څه مو وکړل. هغوی وویل «بې شرفه وتښتــېد». د آرامۍ سا مې وکښله او د بدن رګ رګ مې په کرار شو. د شاه محمد له تیښتې دومره خوښ شوم چې که زه په خپله هم ژغورل شوی وای دومره به نــۀ وای خوښ. شاه محمد د یوې معجزې په شان د ګولیو د باران له منځه سالم تښتــېدلی وو. ګولیو د هغه د جامو څو ځایه سوري کړي ول خو دۀ ته ئــې تاوان نــۀ وو اړولی[7].

.
خادیستانو د کلاشنیکوف بندونه را وایستل چې زما لاسونه ورباندې وتړي. غرور مې اجازه رانــۀ کړه چې په آسانۍ ورته تسلیم سم. په سرغړونې مې وویل :« اجازه نــۀ درکوم چې زما د مور او میرمنې تر مخ مې لاسونه وتړئ. کله مو چې له کالــۀ دباندې وایستلم، ځای پر ځای راباندې ګولۍ وورویٔ.» د خاد د ډلې مشر وویل : «کمین افشأ شو. نور پاتې کــېدل ګټه نــۀ لري.» له انګړ څخه ئــې دباندې وایستلم. وهل ټکول ئــې پیل کړل. زما پر سر او مخ ئــې د سوکانو او لغتو باران جوړ کړ. د توپک په ټوپک لــېچونو « قنداقونو» ئــې وهلم. زموږ له خاورو دوړو ډکه کوڅه د پینځو سوو مترو په اوږدوالې له کرېږ سرګ سره ښتله. همدومره لار ئــې په کش کولو کش کولو بوتلم. د کوڅې پر مخ زما د وینو سره کرښه اوږده پاتې وه. د خاد عملیاتي ډلې د احتیاط په پار  له ټکسي موټرانو کار اخیستی وو. په موټر کې دننه دوه تنه خادیستان زما یوې او بلې خوا ته کــښــېناستل. کله چې موټر خوځــېدۀ نو زما سپین سرې مور ځان د موټر مخې ته پر مخې پر ځمکه واچاوۀ او جیغې او کوکارې ئــې پیل کړې او ویل ئــې «لومړی پر ما تیر کړئ بیا مې زوی له ځان سره بوزئ.» خادیستانو زما سپین سرې مور ته سپکې سپورې پیل کړې او ورته ئــې ویل « وه سپۍ! ولې دې خپل زوی د سړي په شان لوی نــۀ کړ؟ لکه چې شیدې دې حلالې نــۀ وې؟» ...

[6] - د خاد یو خطرناکه تاکتیک کمین نیول په هغو کورنو کې وو چې د مخالفانو تګ راتګ په کې کېدۀ. خادیستان به په کالــۀ کې کښــېناستل او هر هغه څوک چې راتلل نیول به ئــې. نعیم ازهر، انیس آزاد، پویا او میرویس د خاد د کمین قربانیان شول. زړور ورور انجنیر محمد علي راته د څرخي پلــۀ په زندان کې وویل : «زما پر کالــۀ باندې د خادیستانو له برید وروسته، زه د امن د ښنې د لیرې کولو په فکر کې شوم. ویره مې له دې وه چې نور ملګري مو د امن د نښې په لیدلو زموږ کالــۀ ته راشي او د خاد منګولو ته به ولویږي. په خپل ټول توان سره مې ټوپ وواهــۀ او د امن نښه مې لیرې کړه. خادیستانو تر سوکانو او لغتو لاندې ونیولم او زما د ټوپ وهلو د علت پوښتنه ئــې وکړه. ورته مې وویل چې غوښتل مې وتښتم.» پویا او میرویس پرته له دې چې د خطر نښې ته پام وکړي په ډاډه زړۀ کالــۀ ته راننوتل.
کام او اګسا هم همدغه تکتیک کاراوۀ. د ۱۳۵۸ل کال د چنګاښ په میاشت کې استاد عزیز الله پغماني او فقیر کلکاني د اګسا د کمین ښکار شول.
[7] - شاه محمد په خپلې تیښتې نــۀ یوازې خپل ځان بلکه نور ئــې هم د هلاکت له لومې وژغورل. نوموړي پرته له ځنډه زما د نیول کېدلو خبر د سازمان غړو ته ورساوۀ. که هغــۀ دا خبر نــۀ وای رسولای، نور کسان هم زما کالــۀ ته راتلل او د ښمن په تله کې پرېوتل.

موټر وخوځېد. خادیستانو په ګواښونو او ټینګارونو له ما غوښتل چې ژر تر ژره د سازمان د غړو د کورونو پتې ورته په لاس ورکړم. د «فن مبارزه با پولیس سیاسی» کتاب کې مې لوستي ول چې پولیس د نیول کـېدلو په هماغو لومړیو وختونو کې ډېر فشار راوړي، دا ځکه چې تر ضربې لاندې د راغلي سازمان غړي یا تښتي یا خپله پته بدلوي. د خادیستانو هیله له ما بې ځایه وه، دا ځکه چې ما د مبارزې په ښوونځي کې دا زده کړي ول چې :

درد شلاق دو روز است، سپس        شرف ماست که می ماند و بس

د متروکي درد به دوې ورځې وي تیر به شي خو یوازې زموږ شرف او ویاړ پاته کیږي بس

د توپک لیچ، سوکانو او لغتو پرله پسې ضرباتو زما مخ او سر ټپي کړی وو. له سره تر پښو پورې مې وینې بهېـدلې. زما وینه زما په بوټانو کې راټوله شوې وه. سترګې مې تورې تورې کـېدلې. نور په لاره نــهٔ شوام تلای. پریشانی او وسواس دواړه د تالندې په شان زما پر ذهن راپربوتلې. پوهــېـدلم چې سخته کړلیچنه لاره مې په مخ کې پرته ده. خو یو شی راته څرګند ول چې په هیڅ بیه به د خیانت تور داغ پر خپل تندي پرېـنـږدم.

# د شش درک خاد

زه ئــي د خاد مرکز د کابل د شش درک سيمې ته راوستلم. يوۀ وېرووونکي دالان ته ننوتلو چې يو خوا ئــي په کرکجن ډبرين ديوال او بله خوا ئــي د تحقيق «شکنجې» له کوټو سره موښتله. په همدغــۀ دالان کې ئــي د ډبرين ديوال مخې ته په يوه پښه ودرولم. د خاديستانو تګ راتګ، مصنوعي منځ تشو ژستونو او ميکزونو د سرې زړۀ په کانګو اخيستــۀ. هر يو ئــي چې زما مخې ته تيرېدۀ په بې ادبانه کتلو، لغازو او سپکو سپورو او ښکنځلو به ئـي ښکنځلم او کلکه څپېړه به ئــي راکوله. دلته ټولو او هر يوۀ بشپړ اختيار درلود چې له متهمانو څخه پوښتنې ګروېږنې وکړي، سپکې سپورې ورته ووايي، لغازې ووايي، ښکنځل وکړي او شکنجه ئـي کړي. څه نا څه نيم ساعت وروسته ئــي يوې کوټې ته بوتلم. يو تن خاديست په خپلو ګډو وډو خبرو ځمکه او آسمانونه په پړيو تړل. د «حقيقت انقلاب برګشت ناپذير ثور»، «شخصيت والای رفيق کارمل او رفيق نجيب»، «نادرستي راه اشرار» او نور لکچرونه راکړل. راڅخه ئــي وغوښتل چې داوطلبانه ورسره همکاري وکړم. هغــۀ به ويل :« ښايي ته ما ونــۀ پــېژنې. هغه مهال چې ما په خپلې سيمې کې مخفي مبارزه کوله، د کچالو ټوکرۍ مې پر سر وه، کلي په کلي ګرځــېــدلم اوله پرګنو سره مې ليدۀ کاتــۀ کول، هغه مهال ته په خوب بيدۀ وې.» او کله به ئــي ويل : «وګوره! د جلاد امين او ملګري ببرک کارمل تر منځ څومره غټ توپير دی! د ملګري نجيب شخصيت د اسدالله امين له شخصيت سره پرتله کړه!». ددۀ خبرو ما ته کوم په زړۀ پورې پيام نــۀ درلود. په يوۀ غوږ مې ننوتلې له بل غوږه مې وتلې. خان آقا يو تن خاديست وو چې د خپل کلي د استوګنې په سيمې مې ورسره پــېژندګلوي درلوده، دی راته راغی. ګومان مې نــۀ کاوۀ چې خان آقا دې د خاد غړی وي. څرګنده وه چې زما له زنداني کــېــدلو ډېر خوښ ښکارېدۀ. مخکې له سلام او کلامه ئــي پر مخ باندې د يوې ټينګې څــپــيړې په وهلو راته ښه راغلاست وويل او په لوړو چيغو او سپکو سپورو په ويلو ئــي د شکنجې کوټې ته بوتلم. زما د لاس ګوتې ئــي د بريښنا «برق» په مزيو پورې وتړلې. بدن ته د بريښنا د بهير ننوتل داسې څه نــۀ دي چې څوک ئــي توضيح کړای شي. د شکنجې درد دومره ډېر دی چې په هيڅ ډول کلماتو د بيان وړ نــۀ دی. مستقيمه تجربه غواړي. داسې مې حس کاوۀ چې ګنې کولمې او نور هر هغه څه چې په ګــېــډه او سينه کې لرم را څخه د خولې له لارې وځي. دغــۀ ځوانکي چې په پوښتنو او ګروېږنو کې يوازې او يوازې له قين او فانې سره بلد وو، په زور وهلو کوښښ کاوۀ له ما اعتراف واخلي. زما له ځورېدلو او کړېدلو ئــي خوند اخيست. په حقيقت کې زما د شکنجې «وياړ» زما همدغه وطنوال آشنا ته ورکړل شوی وو. ددوی پوښتې او ګروېږنې په دغــۀ ټکي راڅرخېدلې چې خپلې سازمانې اړيکې ورته ووايم. ما ته يوازينی لاره چې پاتې وه له هر چا سره د سازماني اړيکو له لرلو انکار وو. ددوی ټينګار او زما انکار زما د سر تر پايه «تحقيق» او «محکمې» بنسټيزه کرښه او اصلي موضوع وه.

شپه راغله. په يوۀ روښانه کوټه کې ئــي داسې پر څوکۍ کښــېنولم، مخ مې د کوټې د ننوتنګ د دروازې پر لور وو. د دروازې پر مخ د سترګې په اندازه يو سوری ليدل کــېــدۀ. له دغــۀ سوري څخه يوازې سترګې ښکاره کــېــدلې چې يو په بل پسې په سوري کې را څرګندېدلې. د خاد د کارمندانو د خبرو پُس پُس مې تر غوږونو کــېــدۀ خو په خبرو ئــي نــۀ پوهــېدم

چې څه وايي. دغه کار نـېږدې يو ساعت دوام وکړ. ګومان مې کاوهٔ چې هغه شمير خاديستان چې څيره ئـې چاته نـهٔ وه افشا شوې غوښتل په خپلو سترګو زما نيول کـېدل وګوري او خوند ورڅخه واخلي. په حقيقت کې زه نندارې ته کښېـنولی سوی وم.

په سبا ئـې د خاد يو غړی راغی او خپلو هم مسلکانو ته ئـې ويل :« دی خو زما استاد دی. ډېر ښه سړی دی.» نوموړي خپله دا خبره لا پای ته نـهٔ وه رسولې چې څو لغتې ئـې راته ډالۍ کړې او وئـې ډبولم. د «شاګردئ د خولې» څو نورې ښکنځلې ئـې هم راته وکړې.

د تورې ورځې ځای تورتم او ترګمې شپې ونيو. خاديستان په خوړلو، څښلو او خنداوو بوخت ول. زه په تپې خونړې ځان د ديوال تر څنګ ولاړ وم. پښې مې لوڅې وې او لاسونه مې پورته نيولي ول کټ مټ لکه مصلوب چې د صليب پر مخ ئـې ميخ کړی اوسم. خوارځواکي او ستړې ځان مې آرامی او استراحت ته اړتيا درلودله. زړګې مې د يوې آرامې شيبې هوس کاوهٔ، خو دغه کراراي مې ان په خوب کې هم نـهٔ شوای ليدای، ځکه چې ان خوب ئـې راڅخه غلا کړی وو.

د شپې له نيمايي څخه يو څه وخت تير شوی وو. زه په پرسـېدلو پښو د خاد د لومړي رياست په ويروونکي دالان کې چې د «شش درک د خاد» په نامـهٔ مشهور وو، درېدلی وم. پهره دار د يوې شيبې لپاره خپلې نيغې سترګې له ما نـهٔ ليرې کولې. کله مې په ديوال ډډه لګوله او کله به د بې سدئ او ضعف له کبله پر ځمکه ولوېدلم. پهره دار به اړ ايستلم چې بيرته په پښو ودرېږم. په دې لړ کې يو مستنطق د زړهٔ سواندئ په ژست راته مخ راواړاوهٔ او وئـې پوښتل :« د کوم ځای ئـې؟» ومې ويل پروان. وئـې ويل : «وای! زما د ميرمنې قومې ئـې راوستی دی.» دغـهٔ مستنطق پيکداره خولی پر سر او د کميسـهٔ لستونې ئـې لنډ ول. پړسـېدلي بازو ګان ئـې د هندي فلمونو د دريمې درجې بدمعاشانو ته ورته ول نـهٔ کوم سياسي مستنطق ته. زه ئـې يوې کوټې ته بوتلم او د کښېـنستلو اجازه ئـې راکړه. ځان ئـې راته د بلخ له ولايته معرفي کړ. هغه پـېرزوينې او لطف چې ګڼې دهٔ د پروان د ولايت په حق کې کړې ول راياد کړل او د خپلې ميرمنې د قوميانو له مـېـړانې، زړورتيا او ميلمه پالنې څخه ئـې زښته پريمانه ستاينې پيل کړې. له خدايه مې غوښتل چې ددهٔ ددغو سندرو ترنګ تر ډېره وخته دوام وکړي تر څو نور هم د کښېـناستلو له نعمته برخمن شم. «په خواشينی» چې ددهٔ هغو غوښتنو او پوښتنو سره مې موافقت نـهٔ شوای کولای چې د ساما له اسرارو او مقدساتو څخه ګڼل کـېدل. مستنطق چې پوه شو دا لوړ الوتانده مرغی داسې لومې او دانې ته اسير کـېدلی نـهٔ شي نو يو سلو اتيا درجې ئـې تغيير روکړ. دا هغه څـهٔ ول چې ما ئـې انتظار درلود. د يوهٔ ليونې مست اوښ په شان له ځايه پاڅـېـد او هر بد او سپکې او سپورې ئـې چې زده ول له خپلې خولې راوايستل او باد ئـې کړل. يو دروند اوسپنين خط کښ ئـې راپورته کړ او د «خپلې ميرمنې د قومې» پر هډوکو ئـې تر هغو ووهل چې ميز او څوکۍ دواړه په سرو وينو رنګ شول. بله ورځ څابښت مهال وو چې بل مداري په جَنتر او مَـنتر راغی. له هماغـهٔ زاړهٔ زنګ وهلي سُرنا ئـې هر او پف پيل کړل چې ملګرو ئـې ويلي ول لکه «انقلاب برګشت ناپذير ثور»، «مرحلـهٔ نوين و تکاملي» او «دست آورد های که حزب و دولت در قلع و قمع اشرار به دست آورده اند». بيا ئـې وويل :« زه غريب سړی يم، ته هم غريب سړی ئـې. زه د کاپيسا د ولايت يم. يوازې زموږ او ستاسو تر منځ يو سيند دی. تاسو پوه، زړه ور خلک ياست، تل رښتيا واياست. ستاسو ستونزه په دې کې ده چې له تاسو څخه لاره ورکه شوې ده. که له ما سره ژمنه وکړې چې له خپلې لارې راګرځې او له موږ سره يو ځای کـېـږې، زه دې ضمانت کوم چې خلاص شې.».... دهٔ په ذهن کې ځانته ډرامه جوړه

کړي وه خو په ډېرې خامۍ ئـې اجراء کړه. بیرته ئـې په دالان کې ودرولم او په خپله لار لاړ. له نیم ساعت وروسته بیرته راغی. یوه پاڼه کاغذ ئـې په لاس کې وو. په زړهٔ سواندئ ئـې راته وخندل او وئـې ویل : «دا دی ستا د خلاصون او خوشې کـېدلو استعلام.» له لاسه ئـې ونیولم او د دروازې پر لور ئـې بوتلم. استعلام ئـې د دروازې د مخې سرتیري ته ورښکاره کړ او وئـې ویل :« دی خلاصیږي». د انګړ په منځ کې ودرېدلو. د دوبي تاودهٔ لمر د چمن سبزې او ګلان مړاوي کړي ول. خپلو څلورو شا و خواوو ته مې وکتل. د لوړو دیوالونو او اغزنو سیمانو په منګولو کې راګیر پاتې وم. د موټرانو د هارونو غږونه مې تر غوږو کـېدل. د دیوال هغه بله خوا د «ژوندي پاتې کـېدلو لپاره» د «آزادو خلکو» شور ماشور او دې خواته آزادئ او خپلواکۍ ته د تږیو انسانانو چیغې او دردوونکې نارې سورې اورېدل کـېدلې. د آزادی او اسارت تر منځ واټن یوازې یو دیوال وو.

خادیست ډېرې کښته او پورته خبرې وکړې او زرګونه سوګندونه او «شرافت» ئـې وسیله کړل. نور ما ددې توان نـهٔ درلود چې په پښو ودرېږم او نـهٔ مې ددهٔ خبر ته حوصله درلوده چې غوږونه مې ددهٔ نصیحتونه واوري. کله چې پوه شو چې غیشی ئـې بې ځایه لګـېـږي د وحشي او مست بیړ په شان ئـې رمباړې کړې چې : « څه خر تیزنه! تا فکر کړی چې رښتیا وایم؟ ته چیرته او خلاصون چیرته.» .....

بیرته ئـې هماغـهٔ دالان ته راوستلم. راته ئې وویل :«همدلته ودرېږه!». په خپله دفتر ته ننوت. دروازه ئـې ښه نـهٔ وه ټینګه کړې. ددهٔ غږ مې واورېد چې ویل ئـې :« مدیر صاحب! دا مور (....)... ډېر زرنګ دی.»

اوس نو باید د خپل ځیل او لجبازیو تاوان ورکړم. د شکنجې کوټې ته ئـې بوتلم. څلور تنه خادیستان راپورې راتاو شول. د فوټبال د ګیند «توپ» په شان شوی وم. یوهٔ پاس ورکاوهٔ او بل ګیند شوټ کاوهٔ. د درد له شدته مې نالښت کاوهٔ. هغوی خندل او مستې ئـې کوله. زما نیم ژوانده جسم ئـې دالان ته وغورځاوهٔ.

د استنطاق څلورمه ورځ چې د بزکشي په شان وه یو کتاب ئـې راوښود چې پوښ ئـې د تلپاتې مـېړني عبدالمجید کلکاني په انځور پسولل شوی وو. مستنطق راڅخه وپوښتل : «دا کتاب دې کله لیدلی دی؟» ورته مې وویل : نه. وئـې ویل :« ولې دروغ وایې؟ سامایان خو دروغ نـهٔ وایي!»

د شهید عبدالمجید کلکاني ځانګړې لیکپانه «ویژه نامه» چې د چاپ کار ئـې بشپړ شوی وو، مخکې له دې چې د مینه والو لاس ته ورسـېـږي د خاد لاس ته ولوېدله او هغه ئـې مصادره کړې وه. د مجید د انځور لیدلو مې سترګې روښانه کړې او زما روحیه ئـې لا پیاوړې کړه. په زړهٔ کې مې دا هیله درلوده چې کاشکې دا کتاب راته یو ساعت پرېږدي چې وئـې لولم[8].

[8] ـ د شهید عبدالمجید کلکاني ددغـهٔ کتاب د چاپ چارې بشپړې شوې وې. په پام کې ول چې د هماغې ورځې په سبا ئـې له نشراتي مرکز څخه دباندې ولـېږدول شي چې خادیستانو پر مرکز باندې برید وکړ. پویا او میرویس هم د همدغـهٔ کتاب د لیدلو لپاره نشراتي مرکز «د محـمد علي کور ته» تللي ول چې د خاد په کمین کې ونښتل.

د شش درک د خاد رئــیس جلال رزمنده وو او د پروان او کاپیسا د ولایتونو ډیري خادیستان ئــي په دغــهٔ ریاست کي ځای پر ځای کړي ول. نوموړی له څو تنو نورو خادیستانو سره په دالان کي تــېــرېدهٔ. زه په دالان کي ولاړ وم. کله چي ما ته رانيږدي شول د لنډ وخت لپاره ودرېدل. جلال یوه کلمه خبره هم ونــهٔ کړه. یوازي یو پوزخند ئــي وکړ او په خپله لار لاړ.

شپه وه. په دالان کي درېدلی وم. سترګي مي پر بشیر ولګېدلي. هغه ئــي نوی نیولی وو. د هغــهٔ د وهلو ټکولو او تحقیق وار لا نــهٔ وو رســېدلی. بشیر د سیدخیلو د لیسي د چا خبره د مستو هلکانو له زده کوونکو څخه وو. یوازي همدومره وخت راته په لاس راغی چي ورته ووایم «مقاومت وکړه او هیڅ شی ونــهٔ وایي.» کله چي له زندانه خلاص شوم زه ئــي میلمه کړم. د خپلو خبرو په ترڅ کي ئــي وویل : «هماغه خبره دې چي راته وکړه د تحقیق تر پایه ئــي زما په غوږونو کي ازانګي کولی.» په بله شپه ئــي تورن پُردل راووړ. له ساما سره د هغــهٔ له اړیکو خبر نــهٔ وم. هغه ئــي زښت ډېر شکنجه کړ او دهٔ مقاومت کاوهٔ. د یو بل په حالت غمجن وو.

د زندان اتمه شپه راباندي راغله. له دباندي څخه د ډزو پرله پسي غږونه اورېدل کـېـدل. خادیستانو په وارخطایي په دالان کي یو شمیر تورن کسان د هغي ودانۍ پر لور بیول چي د اصلي ودانۍ په نيږدي واټن کي وه. زه ئــي ځمکتل «زیر زمینی» ته بوتلم. د ځمکتل تنګي کوټي په انسانانو باندي ډکي وې. زما هیله وه چي ګڼي یوه سترګه خوب به وکړم ترڅو لږ ځواک او توان تر لاسه کړم. همدا چي د کوټي د غولي پر مخ وغځېدم د درد له شدته مي خوب ونــهٔ شو کولای. له ګاونډۍ ګوټي څخه یو حزین غږ مي غوږ ته راغی. یوهٔ تنکي اسکیرلي ځوانکي د زړهٔ له سوزه دا کوکاره له ستوني را ایستله :

یا مولا دلم تنگ آمده     شیشــهٔ دلم زیر سنگ آمده
لویه خدایه زړهٔ مي په تنګ شوی – د زړهٔ هینداره مي تر کاڼي لاندې راغلي

دا سندره مي په ځلونو اورېدلي وه خو دا ځل دومره اغیزناکه وه چي هډونه ئــي راته سوځول. اوس هم د همدسي سندرې په اورېدلو د هماغي غمجني صحني د خاطرې یاد مي په ذهن کي ژوندی کـېـږي او تودې تړمي اوښکي مي په سترګو کي راتاو شي.

له درد او ویرې ډکه خښمناکه شپه پرته له دې چي بانــهٔ پر بڼو کښېـږدم پای ته ورسېـده. بې خوبی، درد او تبې مي هډونه راسوځول. د کوټي وَر پرانیستل شو. پهره دار وویل : «د تشناب وار دی.» ورته مي وویل : «د تبې په سوځنده اور کي سوځم.» پهره دار لنډ سکوت وکړ. نــهٔ پوهېږم چي په ذهن کي ئــي څه تیر شول چي په یو ناڅاپه ئــي وویل : «لاس دې راکړه». زما لاس ئــي په خپل لاس کي ونیو او وئــي ویل : «وېی، لاسونه دې د اور په شان سره او تاودهٔ دي.» فکر مي کاوهٔ چي راسره مرسته به وکړي. څه بې خونده او بې ګټې هیله! نوی له تشنابه راوتلی وم چي بیا ئــي د هماغــهٔ لعنتي دالان خوا ته بوتلم.

لومړی ریاست «د شش درک خاد» د تحقیق د اداري په پرتلي کټ مټ یوهٔ مسلخ ته ورته وو. سرې ټښتونو معطلي نــهٔ درلودله. ددغــهٔ ریاست کارمندان شپه او ورځ د انسانانو په ښکار پسي ځغستل. کله کله به مي له ځان سره ویل، آفرین

ددوى حوصلي ته! ددي اداري کارمندانو نــهٔ شپه پــېژندله نــهٔ ورځ. منډې رامنډې وې، نيول نيول، راوړل راوړل، وهل ټکول و وکړه و مــهٔ کړه وو! ښکنځل، تيرى، د انسان د بدن حساسو ځايونو ته لاس اچول، برق ورکول، د سوک او کاراتي تمرين او .... چې په کلماتو کې دهغــهٔ چاپيريال انځورول زما له وسعي پوره نــهٔ ده. لنډه دا چې : ډېر وحشتناک چاپيريال وو. د متهمينو چيغې او کوکارې، ساندې، د اسيرانو ناڵښت او زارى، د شکنجه ګر قهر، ځاځ و پرغز، ستړې ستومانه خوارځواکه څيرې، په سرو وينو سرونه او مخونه. يو به د کوما حالت ته ورســېد او بل به په پښو د درېدلو توان نــهٔ درلود. د شکنجه شويو کسانو ستړې ستومانه او بې وسه سترګې.... دا ټول هغه غمجنې او ويروونکې صحنې وې چې د چا خبره د کاڼي زړهٔ ئــې ويلي کاوهٔ. ما خو يوازې ددې ودانۍ لومړنى پوړ ليدهٔ چې څه په کې تيرېږي. نــهٔ پوهــېږم چې په پورتني پوړ کې به څه وحشت او ترهه روانه وه. د نورو شپو په شان يوه شپه، نيمه شپه وه او په دالان کې درېدلى وم، خاديستانو له پورتني پوړ څخه يو جسد راکښته کړ او دباندې ئــې يووړ. په لومړي رياست کې د شکنجو ډولونه او په منځ کې ئې برق ورکول يوه عادي خو ضروري خبره وه. کله به چې شکنجه ډېرېدله او شدت ئــې نيوهٔ، متهم به نور تاب نــهٔ درلود او زړهٔ ئــې درېدهٔ. د لومړي رياست هغه کارمندان او فعالين چې ما وليدل، احساساتي، ناآګاه، بې تجربه، لچک، لومپن صفته او خام خلک ول. ډېري وختونه به ئــې له زور او تاو تريخوالي کار اخيست نــهٔ دا چې د استنطاق مسلکي لاره او منطق وکاروي. ښکنځل او د سپکو سپورو ويل تر ټولو هغــهٔ لږ شيان ول چې دوى «د رحم - ژ » په نامــهٔ په ژبه چمتو درلودل.

دغه اتــهٔ ورځې مې چې د شش درک د خاد په لومړي رياست کې تيرې کړې څه نه ول چې ما ونــهٔ ليدل او کوم دردونه نــهٔ ول چې ما ونــهٔ زغمل. دومره ښنکځل، سپکې سپورې، وعظ، مکيز، مقدساتو باندې تيرى، مصنوعي سوګندونه او نيرنګونه او چلونه نــهٔ ول چې ما و نــهٔ ليدل ، لنډه دا چې دومره مې وليدل چې زما تر اووم پښته نور بس ده. راځئ دلته تاسو يوه خاطره ووايم :

د روزګار پــېښې هم عجيبه وي، «په سوله ناک ډول د واک له سپارلو او ليږد څخه» («[9]داسې سوله ناک» چې خونړۍ پــېښې ئــې تر شا درلودې)، ناڅاپه مې ګذر د «خاد په لومړي رياست» وشو. زه هغه ورځې يادوم چې مسلمه امت « ملي تالان» اعلان کړى وو. په زړونو او سترګو وړې لوټماران د ميرېو او ملخو په شان د کابل ښار د بې وسې او بې چاره وو خلکو په ځان، مال او ناموس توى شوي ول. هر چا به تر خپلې وسعې يو شى «ولجه» کول او د «برخې اخيستنې / وند اخيستلو» بازار تود وو. عامه شتمنى په غنيمت وړل کــېدلې...د جهاديانو د واکمنۍ ورځې دومره ګډې وډې او بې نظمې وې چې هر څوک هر چيرې او هر دفتر ته په خپل سر ننوتلاى شو. زه هم هماغــهٔ دالان ته لاړم چې اووه شپې او اتــهٔ ورځې شکنجې مې په کې وليدلې. له ډېرين ديواله لا تر اوسه د وينو بوى راتــهٔ. بې اختياره ژړا راغله، ددغــهٔ جنايت قربانيانو ته د درناوي له څرګندلو پرته مې بله چاره نــهٔ درلودله. تعظيم دې وي هغو په وينو لړلو ککرو ته چې ددغو ډېرو له برکته لا تر اوسه هسکه غاړه پاتې دي. د هغو تللو سپــېځلو په ياد مې پر ډېرين ديوال لاس کش کړ چې د بورو ميندو سترګې ئــې لا تر اوسه د خپلو زامنو بيرته راتګ ته لار څاري. کوټو ته لاړم. د شکنجې وسايل، د مستنطقينو ميز او څوکۍ، ددوسيو پاڼې هرې خوا ته تيتې پرتې وې او په ګنګو ژبو ئــې د هغــهٔ له شرمه ډک دوران حالت بياناوهٔ چې د همدومره قساوت، او بې رحمۍ په بدل کې ئــې يوه ذره نيکي له ځانه پرېنــښودله. ځمکتل ته لاړم. د «يا مولا» د سندرې غمجنې انګازې مې له

---

[9] - دلته زما موخه د ١٣٧١ ل کال د غوايي د مياشتې په اتمې د مجاهدينو له بريا وروسته ځواک ليږد ته ده

نمجن ځمکتل څخه تر غوړونو شوې خو هغه نامراده تنکی ځوانکی مي پيدا نــهٔ کړ چې «زړهٔ ئــې په تنګ راغلی وو».
ښايي د هغـهٔ نامراده ځوان د زړهٔ ښـيـښه د څرخي پلـهٔ يا د «هزارهٔ بغل» په کوم غوچوړي کي پرته وي چي د پيښو د کاڼي له رنځ څخه ئــې خلاصون موندلی وو. د تل ويښو يونيفورم لرونکو ساتونکو پر ځای اوس يو بې يونيفورمه پهره دار ناست وو. دا پهره دار دومره په غرور او کړه غاړه ناست وو ته به وايې چي د نړۍ قباله ددهٔ په نامــهٔ سجل شوې ده.

که نکټايي والا «انقلابي» له «تأريخه دا زده نــهٔ کړل چې «نــهٔ قارون ته ګنج پاتې شو او نــهٔ سليمان ته تخت» نو «د برلين دديوالونو فاتحينو» هم له فردوسي زده نــهٔ کړل چې ويلي ئــې دي :

جهان یادگار است و ما رفتنی       به گیتی نماندَ به جُز مردمی

جهان يو ياد ګار دی او موږ تلونکی
په نړۍ کي له انسان پالني پرته بل څه نــهٔ پاتي کـېږي

د اتمي ورځي په پای کي ول چي يوهٔ مسؤول مقام ماته ګوته ونيوله او خپل اړوند کارمند ئــې پوه کړ چي زما نوم دې هم په ليست کي وليکي. څو تنو خاديستانو په موټر کي بل ځای ته وليږدولم. د لارې په اوږدو کي د خاد يو تن توپکوال ما ته نصيحت پيل کړ او وئــې ويل : «د څــهٔ لپاره د انقلاب د بهير مخي ته ډبرې اچوئ؟ که همکاري نــهٔ کوئ، نو خنډ هم مــهٔ جوړېږئ. تاسو به وويـنئ چي موږ به سوسيالسم جوړ کړو!».

د ځان له ټپونو مي ويني راتللې. زما د سر ويښتان ئــې لکه غنم په لاس لـــو کړي ول. څيرې مي بيخي بدلون کړی وو. په سختی مي کولای شوای په پښو ودرېږم. په همداسي يوهٔ حالت کي ئــې يوې کوټې ته بوتلم. د زمري د مياشتي تودوخه لکه د سرهٔ تنارهٔ په شان وه. د پښو د غځولو ځای نــهٔ وو. کوټه د انسانانو په ګڼې ګوڼې چاوېدله. د نورو زندانيانو حال او ورځي هم چندان ښــهٔ والی نــهٔ درلود. د سا ايستلو لپاره د کوټې هوا کافي نــهٔ وه. نيږدې وو چي له ستوني زيندي شو، خو له دې سره سره په دې راضي وم چي ددومره عذاب او ځور له زغملو وروسته، لږ تر لږه يوه کوټه خو راته پيدا شوې ده. د کوټې نورو زندانيانو په زړهٔ سواندی راته کتل. له هغوی مي وپوښتل دا کوم ځای دی؟ ويې ويل :« د صدارت نظارتخانه». بيا مي وپوښتل :«دلته تحقيق نــهٔ کوئ؟» ټولو زما پر بې خبرۍ وخندل. کله مي چي ورېدل چي اصلي تحقيق خو دلته دی، نو پوه شوم چي لا ډېره اوږده لاره مي تر مخ پرته ده. پهره دار په وارخطايي د کوټې دروازه خلاصه کړه. له خبرو کولو پرته ئــې د سر اشاره وکړه. د کوټې نور بنديان ددې اشارې په معنی پوهــېدل. ومې پوښتل «خيريت دی؟» د کوټې يوهٔ بندي وويل :« د تشناب وار مو دی.»

په سرو وينو لژندې جامې مي په ځان پورې نښتي وې، کټ مټ لکه د قصاب «پيش بند»؛ جامې مې د خيرو، وينو، خولو او بـَولو يو ترکيب جوړ کړی وو. د کوټې يوهٔ بندي راسره مرسته وکړه چي جامې مي له ځانه وباسم. بل زړهٔ سواندي بندي خپل روی پاک راکړ چي لنګ ووهم. له کوټې دباندې ووتلو. ددغې حويلۍ ټولې کوټې په زندانيانو ډکې وې. د انګړ په يوهٔ ګوټ کي دوه يا درې تشنابونه د ځان مينځلو او د حاجت د رفع کولو لپاره جوړ شوي ول. د انګړ په منځ کي يو وړوکی اوب

ډنډ «وړوکی حوض» هم وو چې په اوبو ډک وو. پهره دار به په ځلونو ځلونو امرونه کول چې ژر شئ. ما په ژوند کې تر دې دمه پورې د حاجت د رفع کولو جیره بندي نــهٔ وه لیدلې. یوهٔ مهربانه ځوان بندي زما کمیس او پرتوگ په اوبو کې ومینځل او ویې نښتیځل. بیرته خپلې کوټې ته راغلو. څو دقیقې وروسته، یو سړی چې د سرتیرو جامې ئــې په ځان کې وې زموږ کوټې ته راغی. د کوټې بندیانو په خوښۍ غږ کړ چې «هغه دی! کانتین راغی». سرتیری د ښــهٔ چلند خاوند او مؤدب ښکارېدهٔ. زما د کوټې بندیانو ورته انجنیر صاحب ویل. سرتیري خپل دسترخوان وغوړاوهٔ او بندیانو ورڅخه سگرټ، نسوار او د تشناب کاغذ و پیرودل. ویل کېدل چې نوموړی انجنیر د کانتین مسؤول دی. بیا مې دا کانتین تر پایه و نــهٔ لید.

تر دې دمه مې له جامو څخه اوبــهٔ څڅــېــدلې چې مؤظف نفر زما نوم ولوست او امر ئـــې وکړ چې بل ځای ته د لـېږد لپاره چمتو سم. په همدغو لمدو جامو کې د صدارت «د خاد د تحقیق د چارو د ریاست» کوټه قلفیو[10] ته وسپارل شوم.

---

[10] ـ له دې د «کوټه قلفي» کلمه زموږ خلکو ته یو آشنا مفهوم دی نو غوره بولم چې د هغـهٔ د اصلي لیکنیزې بڼې «کوټه ققلي» پر ځای هماغه «کوټه قلفي» ولیکم.

# د صدارت کوټه قلفۍ

د ۱۳۹۳ ل کال د زمري د مياشتي لسمه نيټه زما د هغې ورځې له دري ديرشمې کليزې سره سمون خوري چې دري ديرش کاله وړاندې مې پښه په ځنځيرونو تړل شوې وه. هغه مهال د روزگار طوفان زما د ژوندانــهٔ د ونې دېرش پاڼې له ځان سره وړې وې. په هاغه ورځ چې ددومره رنځونو او کړاونو او مظلوميت له گاللو وروسته د يوهٔ آزاد شوي زنداني په توگه د ځرخي پلــهٔ د زندان عمومي دروازې کې ودرېدم او د بلاکونو لوړو دنگو ديوالونو او اوسپنينو پنجرو ته مې وکتل، څلوېښت شوی کلن وم. له هغې وروځې دري دېرش کاله وروسته نن د تيرو وختونو خاطرات او د نازولو يارانو ياد چې « مينه ئــې د لامکان تر لوړو دنگو ورسوله» يو ځل بيا هماغه ځای ته، يعنی د څرخي پلــهٔ د ويروونکي زندان دروازو ته بوتلم. باور مې نــهٔ راتــهٔ چې لس کاله مې ددغو مرگ زيږوونکو ديوالونو په منځ کې نفس ايستلی وي. « روسي ښکيلاک» زما د ژوندانــهٔ تر ټولو ښــهٔ لس کلونه خاوري ايرې کړي ول. هغه مهال چې د صدارت د کوټه قفليو په سرو وينو لژندو ديوالونه او د څرخي پلــهٔ د محبس فولادي پنجرې زما تر ځان راتاو شوې وې، نو له دروازو، ديوالونو، تالو «قفلونو»، اوسپنو، ډبرو او سمنټو څخه مې کرکه کوله. هره ورځ له سهاره تر ماښامه مې يوازې د يوهٔ شي هيله کوله : له زندانه خلاصون. گومان مې کاوهٔ چې له زندانه په وتلو به نور آزاد اوسم. هر هغه څوک به چې د خلاصون په هيلې له ما څخه جلا کېدهٔ نو هغه به مې په دې دعا بدرگه کاوهٔ :

«سفرت به خير! اما

تو و دوستي، خدا را

چو از اين کوير وحشت

به سلامتي گذشتي،

به شگوفه ها، به باران برسان سلام مارا[11]»

«سفر دې په خير، تا ته په دوستی سوگند، د خدای په پار کله چې د وحشت له دې شاړې څخه په خير تير شوې نو غوټيو او باران ته زما وايه سلامونه!»

له اوره دباندې ما غوندې يوهٔ پتنگ ته کله چې د هـېــواد د اوضاع روان حالت ته گورم نو فکر کوم چې د شش درک د خاد هماغه ډېرين ديوالونه – چې هره ورځ مې سر وباندې ټکول کـېـدهٔ - يا د صدارت هغه تياري، نمجنې او تنگې کوټه قلفې او د څرخي پلــهٔ د زندان اوسپينې او ټينگې کوټه قلفې او پنجرې ښايي د لوېـديځې نړۍ د امن د «طلايي زندان تر ميلونو» لا هوسا، آسوده، شرافتمندانه او راحت ول. په هغه مهال کومه لاره چې ما نيولې وه د کوم تصادف او يا د بې خبرۍ له مخې نــهٔ وه. د خپل کار له عاقبت او پايلو خبر وم. دا باتې او پټاقې نــهٔ دي که ادعا وکړم چې ددښمن سپکې سپورې او ان فشارونه ئـې زما د غرور لامل کـېـدل او خوند مې ورڅخه اخيست. خو اوس ددغې «آزادی» له شکنجې څخه د يوې ذرې

---

[11]- د شفيع کدکني يو شعر

يا ځاځکي په اندازې ويارې او يا خوند نــهٔ شم موندلای. ښايي زما دا خبره له عقل او واقعيت سره سمون ونـــهٔ لري، خو دلته زه د احساس او عواطفو په ژبې خبرې کوم.

د هغــهٔ ځای ښــهٔ والی په دې کې وو چې د زړهٔ ور او ډارن، هــېــواد پلور او هــېــواد پال، شکنجه گر او شکنجه کــېــدونکي، د جلاد او قرباني، د ظالم او مظلوم، د نوکر او خپلواک، د خائــين او اتل .... تر منځ ځرگنده کرښه معلومه وه. لږ تر لږه به له زندانه دباندې ويل کــېــدل : «نران د ځرخي پلــهٔ په زندان کې بنديان دي.» اوس خو په دغــهٔ لعنتي انډوخر کې هر څه گډوډ شوي دي، نــهٔ د «غير په علاقه» کې کراري او آرامي سته او نــهٔ د «ځمکي پرمخ جنت کې». تر ټولو دردناکه خو ئـــې لا دا چې دلته «ډيوې/ شمعې» پرته له دې چې کوم «بزم» روښانه کړي په ورځ کې سوځي. په دوه وو بيلابيلو وختونو کې ددغو دواړو ځايونو تر منځ يوازينې توپير دا دی چې هلته «سپــېــڅلی رنځ» وو او دلته «سپک» عذاب او ځور دی.

له همدې کبله ده چې د «دو سوی ميله ها[12]» د کتاب ليکوال کله چې د ځرخي پلــهٔ له زندانه «آزاد» يږي نو همدومره دومره پراخه نړۍ ورته «توره تنگه تيارهٔ» ښکاري او غواړي «بيرته زندان ته لاړ شي» او د «فولادي» ميلونو تر شا کښــېــني. ځمکه او آسمان ورته دوزخ ښکاري او له تکراري اعدامونو څخه بيزاره دی. دغه درد آشنا اديب بشپړ حق لري چې له زندانه دباندې له زهرجنو نيښونو څخه ناالښت وکړي او د «آزادی» له سوځنده دوزخ څخه بيرته د زندان جهنم ته د پناه موندلو هيله وکړي.

12 - «دو سوی ميله ها» د صبور الله سياه سنگ ليکنه

# د صدارت شکنجه ځای

د ۱۳۶۰ ل کال د زمري د میاشتې د اولسمې نېټې ماښام وو چې د صدارت له نظارت خانې ئــې دباندې وایستلم. چا را ته ونــهٔ ویل چې چیرته مې بیایي. ځارځپلی، خوار و زهیر و ناروغه وم، هیڅ شی مې زړهٔ ته نـهٔ کــېدل چې وئــې خورم. ځان مې رېږدېدهٔ. د ناتوانی او ضعف احساس مې په ځان کې خپور وو. پښو مې دمه نـهٔ درلوده او له ټوټه ټوټه ځان څخه مې شیمه تښتــېدلې وه. د شش درک د خاد په لومړي ریاست کې د اتـو شپو- ورځو بې خوبیو او وحشیانه شکنجو نور د ځان توان او طاقت راڅخه لوټلی وو، د شش درک د خاد د نوم په اورېدلو مې پر ځان ویښته نیغ درېدل. ټولو هغو کسانو چې د شش درک د خاد شکنجې لیدلې دي زما ددې ادعا شاهدان دي.

زما ساتونکی چې بدورگی، بیړا، لچر او بې مروته سړی وو همدا چیغې وهلې چې «ژر شئ! لکه چې په ملاگانو باندې بلا وهلې یاست چې «آهسته برو/ ورو ورو» روان یاست؟ په غرونو کې خو لکه د غرڅو په شان ځغلیدلې!»

په هر گوټ کې پهره داران ولاړ ول. ددې ځای ددغـو قدیمي او رنگ بابیلو ودانیو په هر دیوال او هر گوټ باندې یو ډول ویروونکې چوپتیا واک چلاوهٔ. نــهٔ پوهېــږم ولې په داسې یوهٔ حالت کې مې لا هم زړهٔ غوښتل دغـهٔ لعنتي ځای ته په لېـوالو سترگو وگورم. له دیواله تر پرچاله، له قفله تر ځنځیره، د تنکیو ځوانانو له چیغو د زړو انسانو تر نالښت او له زنداني نیولې بیا د زندان تر ساتونکو پورې ټول ښـهٔ وگورم. ښایي دا د انسان تلوسناک حس وي چې ان غواړي د خپل قاتل سترگو ته وگوري او د هغې چړې د ژئ پرېکندوالی او تیز والی د خیال په مانۍ وآزمویي چې ددهٔ غاړه وربانــدې پرېکوي. اوس چې دغه یادونه لیکم د څرخي پلــهٔ په زندان کې د حبیب مظلومه څیره راته په یاد راشي. حبیب هغه څوک وو چې نورو زندانیانو به د انجنیر حبیب په نامــهٔ یاداوهٔ، دی د پروان ولایت د گلبهار له سیمې څخه وو او څو کاله ئــې په روسیې کې زده کړې کړې وې. د زده کړو له بشپړولو وروسته خپله د سربازئ دوره ئــې له روسي مشاورینو سره د غزني په فرقې کې تیروله چې «اشرارو» ته د روسانو د جنگي پلان د افشأ په تور زندان ته ولوید. حبیب محکوم په اعدام وو. خپل اعدام ته ئــې شپې ورځې سبا کولې. هر کله به ئــې چې زړهٔ په تنگ شو نو ما به ورته تسل ورکړ «خدای لوی او مهربانه دی، نـهٔ دې اعدامويږ» او داسې نورې خبرې. هغـهٔ به راته د ساړه اسویلي په کښلو وویل: «استاد جانه! والله که پر خپل مرگ ری او سپوڼ ووهم، یوازې دومره هیله لرم چې ژوندی پاتې سم او ووینم ددغــهٔ داستان پای به څنگه کــېږي.!» ډېره موده شوې چې له حبیب سره اړیکه نــهٔ لرم خو پوهېږم چې شکر ژوندی دی. عمر دې اوږد وي!

د صدارت نظارت خانې ته نیږدې دوه سوه متره لیرې یوهٔ بل، څه ناڅه وړوکې، انگړ ته ئــې بوتلم. دغه انگړ له درې واړه خواوو څخه یوې دوه پوړیزه ودانۍ، چې څنگ پر څنگ کوټې ئــې درلودلې په غیر کې نیولی وو. د انگړ په منځ کې یوه زمان وهلې ونه په خپلو مړژواندو ځوړندو ښاخونو او نیمه لوڅ ځان د اسیرانو په شان چې پښې ئــې د ځمکې ځنځیرونو او سر ئــې د هوا په زولنو کې بند وو، ولاړه وه. د ونې پر ناورین ځپلو ښاخونو باندې د شپې له تورتم او تیارې بیزاره د

مرغيو يو خيل راټول شوی وو او داسي کوکارې او شور ئــې جوړ کړی وو ته به وايې چې د کوم نوي شهيد د وير پر ټغر ساندې وهي!

ددغــهٔ زندان د لومړي بلاک دروازې انګړ ته راوتلې وې. د هرې دروازې د زنګ وهلي ځنځير په غاړه کې يو يو درونډ قفل ځوړند وو. د دوازو قهرجن، ځک او غملړلې کيلي والا يوه شيبه آرام نــهٔ درلود او نــهٔ آرام پاتې کېــدهٔ، دهٔ به په خپلو شميرلو ګامونو په غـُم غـُم تګ راتګ کاوهٔ. دوه تنه روسي سرتيري په خپلو ويرونکو ځيرو او برېسو مخونو زما مخ ته ودرېدل. د هغوی په شنو سترګو کې د خښم او وينو ځپاندو سيندونو غړ غړې وهلې. په داسي حال کې چې د اوږو له سرونو ځخه ئــې اتوماتيک ټوپک راکښته کول، په خپلو منځونو کې ئــې يو بل ته څه وويل. ګومان مي کاوهٔ چې دوی ما ته سترګه په لارې ول. له تاسو ئــې څه پټه کړم، يو ډول ويرې ونيولم. دا مي لومړی ځل وو چې «انترناسيوناليست» سرتيري مي له دومره نيږدې واټن ځخه وليدل. له ځان سره مي وويل سړيه لکه چې ټغر دې نور په ټوليدو سو! که د زندان پهره دار د کوټې دروازه نــهٔ وای خلاصه کړې دغــهٔ وسواس نــهٔ خوشې کولم.

په کوټه کې درې تنه ناست ول. هيڅ يوهٔ راته ښـهٔ راغلاست ونــهٔ ويل، چا راځخه ونــهٔ پوښتل چې ولې دې له جامو ځخه اوبــهٔ ځاځي، زه ئــې د صدارت له نظارت خاني ځخه په لمدو جامو کې را ايستلی وم. هغه شيبه مي ددوی چلند خوښ نــهٔ سو. ښايي زما دغه هيله يوه بې ځايه هيله وه.

د کوټې دروازه راپسي وتړل سوه. يو له دغو دريو تنو ځخه چې نيږدې ديرش کلن ښکارېدهٔ منځ مهالي ونه، غټ سر او په غوښنو موږ ځان ئــې درلود. د دارالمجانين د ليونيو په شان ئــې راته اشاره وکړه چې د کوټه قلفيو په قاموس کې ئــې د سلام معنی درلوده. کله چې زما خوا ته ئــې کتل ګومان مي کاوهٔ چې له کوم شي ځخه تښل او واهمه لري. دوه تنه نور : يو ئــې د شلو کالو په منګ ځوان او بل ئــې تنکی اولس کلن ځوان ښکارېدهٔ، لنډه پوښتنه او ګړوېږنه ئــې راسره وکړه.

په ياد مي نـهٔ دي چې – له دغې لنډمهالي آشنايي وروسته – په هغه شپه زموږ په منځ کې کومې خبرې اترې وسوې. د ديرش کلن په منګ سړي وويل چې صابر نومېږي او د پنجشير له سيمي ځخه دی چې په خيرخانــه کې ئــې نانوايي درلوده او د ګلبدين د حزب اسلامي له ګوند سره د اړيکي په تور راوستل شوی دی. د شل کلن په منګ ځوان ځان شاه محمد معرفي کړ او وئــې ويل چې د شاه دوشمشيرې د ليسي زده کوونکی او د کابل د ګلباغ د سيمي دی. د اولس کلن په منګ تنکي ځوان نوم مي په ياد نــهٔ دی. شديده سر دردي مي درلوده. بې خوبی مي د ژوند تومنه راځخه اخيستله. اصلاً د قصو او پوښتنو ګړوېږنو زور مي په زړهٔ کې نــهٔ وو پاتې. خپله کورتی مي تر پښو لاندې واچوله او ځپلی مي تر سر لاندې د بالښت په شان کښېـښودلې او سر مي کښېـښود او خوب يووړم.

سپېـده دم يا خړ سهار وو چې صابر له خوبه راپاځولم او وئــې ويل :« جګ سه چې د لمانځــهٔ وخت دی.» دوه تنه نور ځوانان د يو بل تر ځنګ په خوب تللي ول. منتظر پاتې سوو چې زموږ د کوټې وار ورسيږي. دروازه پرانيستل شوه. تشناب د کوټه قلفيو تر پوړيو يا زينو لاندې وو. د تشناب له وړوکي کړکی ځخه مي دباندې وکتل. له دغــهٔ ځايه د صدارت د

محوطې غټې ونې په سترګو کېدلې او د موټرانو د هارن غږونه راتلل. د څلوېښتو مترو په واټن ليرې په پانو ډکې د يوې ببرې څانګورې ونې تر سيورې لاندې د تينس «پينګ پانګ» ميز ايښودل سوی وو. وروسته پوه سوم چې يوازې روسانو حق درلود چې دلته لوبه وکړي. د لومړي ځل لپاره مې د تيښتې تلوسه زړهٔ ته ولوېده. حاجت مې رفع کړ او اودس مې وکړ. کله چې کوټې ته راغلم هاغه دوه ځوانان لا تر اوسه په درانده‌ٔ خوب بيده‌ٔ ول. د لمانځـهٔ او دعا له بشپړولو وروسته صابر نانوای په ډېر احتياط دغو ځوانانو ته په اشارې راته وويل چې : «وطنداره پام کوه دا دوه تنه په پوست پاک نــهٔ دي. ځان له دوی څخه ساته چې سرې لتې / ټوکران دي». ددغو دوه وو تنو د شاه محمــد او دده‌ٔ د همدوسيه ملګري سور ټوکر والی هم ما ته کرار کرار راڅرګنـدېده‌ٔ. هغوی د افغانستان د اسلامي ګوند په تور راوستل سوي ول خو په خلاصه خوله او جهر ئــې ددغــهٔ ګوند مشر ګلبدين ته ښکنځل کول. له خبرو څخه ئــې ښکارېدل چې د تنظيمي اړيکو تر څنګ له يو بل سره سيمه ييزې اړيکي هم لري. کله چې ما ددغو همدوسيه ملګرو غير معمولي شوخی او مستی ليدلې نو زړهٔ ته به مې دا بلوسنه يا غصه راولوېده چې يا للعجب «سړيه! زه د فکرونو په کوم سمندر کې او ته چيرې!؟». زه په څه فکر اخته يم او دوی په څه بوخت دي. دوه له يو بله جلا نړۍ او دوه له يو بله بيل احساس! د ساما د برخليک او راتلونکي په هکله مې زړه ناکراره وو. پوهېدلم چې همدا اوس مې د زړهٔ ټوټې ملګري او ياران د شکنجو تر متروکو لاندې کړول کـېـږي. ګران هـېـواد مې د نيواک ګرو په شوبلو او توپونو لتاړ او پايمال وو... او لنډه دا چې د خپل رهبر د ياد او خاطرې په پار مې مقاومت کاوهٔ او دوی پر خپل رهبر باندې د ښکنځلو او لعنونو باران ورَوي.

صابر يو په خولــهٔ چوپ، ګوټناستی، کم زړهٔ خو شريف انسان وو. خپل ډېري وختونه به ئــې د لاهو چرتونو په نړۍ کې تېرول. کله به چې د کوټې زړهٔ تنګوالي زړهٔ ورتنګ کړ نو په لوړ غږ به ئې په خپلې پنجشيری لهجې د پنجشيرې طرز سندرې ويلې : «محکم نــهٔ کني رخنـهٔ ديوالکِ باغت ... ديوالکِ باغت....» صابر له ما سره ډېر پاتې نــهٔ سو او د څرخي پلــهٔ زندان ته ولــېـږدول سو. له هغــهٔ څخه مننندوی يم چې د څرخي پلــهٔ په زندان کې ئــې زما ملګرو ته زما د نيول کـېـدلو خبر رسولی وو. که ژوندی وي خدای دې وپنځوي.!

څو وخته وروسته ئــې شاه محـمـد او همدوسيه هم د څرخي پلــهٔ زندان ته ولــېـږدول. دغه بيلتون په رښتيا چې زما د خوښۍ لامل وګرځيد. په هماغه ورځ يا په سبا ئــې دوه تنه نور ئــې زما کوټې ته راوستل. که رښتيا ووايم په ياد مې نــهٔ دي چې زه ئــې د هغوی کوټې ته بوتلم يا هغوی ئــې زما کوټې ته راوستل. ددوی له منځه يو تن وويل چې انجنير – ډګروال دی. ويل ئــې ويل چې د کندهار دی او اوسنی استوګنځای ئــې د کابل «شهرِ کهنه يا زوړ ښار» دی. ادعا ئــې کوله چې د کابل په ښار کې د يوې ساختماني پروژې آمر دی. دويم تن ويل چې د کابل دی او وئــې ويل چې د «حرکت انقلاب اسلامي» غړی دی. په کوم خارجي دفتر کې ئــې آشپزي کوله او د کابل د بره کيو وو. له دې چې د پلار نوم ئــې خاکي شاه وو، نو ډګروال به ورته «بچــهٔ خاکي شاه» ويل. خپل نوم ئــې هم په همدغـهٔ وزن يو نوم وو چې په ياد مې نــهٔ دی. ډېري وختونه به دغو دوه وو تنو له يو بل سره قصې کولې. د خوړو له پخولو نيولې د هغو تر خونده، د کالــهٔ له فيشنه نيولې بيا د ځوانۍ د ورځو تر داستانونو پورې.....

ډګروال د ځوانی یا کاکه ګی باتې ویشتلي او د پېژندل شویو ځوانمردانو یادونه ئــي په نیکی کوله. ډېر ژر پوه سوم چې دوی باتې ولي او درواغ وايي، خو په دې نــهٔ پوهــېــدم چې دا ټولي مصنوعي خبرې ددوی ناولی عادت وو او یا هم ښايي کوم بل ناولی ککړ هدف ئــي درلود. کله چې ډېر وروسته د څرخي پلــهٔ زندان ته ولــېږدول سوم، یو شمیر کسانو ویل چې ډګروال د خاد په ګټه جاسوسي کوله. نوموړي د مشهورو کسانو نومونه یادول او ادعا ئــي کوله چې له هغوی سره پیژندګلوي او دوستي لري. ددغو کسانو په منځ کې ډګروال مدعي وو چې له ارواښاد عبدالمجید کلکاني سره ئــي پیژندګلوي او دوستي لرله. هر کله به چې ډګروال د مجید نوم یاداوهٔ نو لاسونه به ئــي پورته کړل چې د هغــهٔ په حق کې د خیر دعا وکړي. د مجید له شخصیت او ژوندانــهٔ څخه به ئــي داسي داستانونه جوړ کړل چې واقعیت ئــي نــهٔ درلود. د هغــهٔ ستر انسان نبني لکه ونه، څیره، اخلاق او کړهٔ وړهٔ، دوستان، سیاسي باورونه، د هغــهٔ د ژوند تأریخچه او ..... به ئــي نا درسته ویل. ما هیڅ کار نــهٔ شو کولای مګر دا چې د ډګروال په نادرستو ادعاوو او ټولو تورنو باندې په چوپتیا وخاندم.

# بې رتبې ډګروال

څو ورځي وروسته ډګروال او د خاکي شاه زوی دواړه زما له کوټي څخه ولــېږدول شول او په دې غملړې کوټي کي یوازې پاتي سوم. لږ وخت وروسته یوه ورځ ځانښت مهال وو چې د کوټي دروازه خلاصه سوه. یو په تن په ځان هـَدَوَر سړی چې د افسرئ جامي ئــي په ځان کې وې کوټې ته راننوت. فکر مي وکړ چې د صدارت له مؤظفینو څخه کوم څوک دی. پهره دار د کوټي دروازه وتړله. زه ئــي په دې کار حیران سوم. افسر د کوټي په یوهٔ ګوټ کي کښــېناست. اوږو ته مي نظر وکړ چې په پوځي رتبې ئــي پوم شم. د اوږو پر سرونو ئــي د پوځي رتبې کومه نښه نــهٔ وه. خولی ئــي هم پر سر نــهٔ وه. ذهن ته مي شک پیدا سو. علت مي له دهٔ څخه وپوښتل. نوموړي یو تریخ اسویلي وایست او وئــي ویل :« زه حاجي .... د دفاع د وزارت د تشکیلاتو د ریاست برحاله ډګروال او د لوګر یم. همدا نن ئــي د کار له دفتره دلته راوستلم.»

کله چې پوه شوم دی هم زنداني دی، د ستړي مه سئ لاس مي ورکړ. حاجي ډګروال یو بې زړهٔ سړی وو. د وهلو ټکولو او سپکو سپورو ویلو بیم ئــي پر ذهن باندې فشار راووړ. ورته مي وویل : «حاجي صاحب! دلته چې راغلي نو زړهٔ دې سمندر که.» نیم ساعت لا تیر شوی نــهٔ وو چې ډګروال تشناب تللو ته اړتیا پیدا کړه. په کراره مي ورته وویل :« حاجي صاحب! دا د زندانیانو کوټه ده. دوی له ټاکلي وخته پرته چا ته د تشناب تللو اجازه نــهٔ ورکوي. کولای سئ د کوټي په ګوټ کي خپل ضرورت رفع کړئ.» ډګروال د حاشا په کولو نــهٔ منله او وئــي ویل :« دا امکان نــهٔ لري. زه حاجي یم، مسلمان یم او صاحب منصب یم. ستاسو مخې ته دغه له شرمه ډک کار نــهٔ سم کولی.» حاجي لاړ او دروازه ئــي تر سوکانو لاندې ونیوله. د دروازې تر شا پهره دار په قهرېدلي غږ چیغه کړه «څه خبره ده؟» ډګروال د خپل حال شرحه ورکړه. پهره دار په لا قهرېدلي غږ ځواب ورکړ. حاجي بیرته راغی پر خپل ځای کښــېناست. څو دقیقې وروسته بیا له ځایه پورته سو او دروازه ئــي کلکه ووهله او په زاریو ئــي وویل : «ګوره، زه دوه ساعته مخکي برحاله ډګروال وم. د خدای کور ته په زیارت تللی یم. تشناب تللو ته شدیده اړتیا لرم.».... پهره دار چې له نرمي ژبې، عذر او زاریو سره پردی وو په ځواب کي ورته وویل : «هر څوک چې ئــي او هر څه چې ئــي، زما ئــي په څه؟ د تشناب تللو ضرورت لرې، په پطلانــهٔ کي دې خوشي که.»

ډګروال په نومیدئ له دروازې لیرې سو او ما ته ئــې وکتل. د ډګروال د سترګو کاتــهٔ راته زما د وړاندیز درناوی وو. بیا مې ورته خپل وړاندیز تکرار کړ. ډګروال د کوټې په ګوټ کې کښــېــناست او د زر ها وو درد او خپګان په ګاللو سره ئــې خپل حاجت رفع کړ. د خپلې اړتیا له رفع کولو وروسته ئــې د ډېر شرم په پار زما سترګو ته نــهٔ کتل. ددې لپاره چې تسل مې ورته ورکړی وي ورته وویل :«حاجي صاحب! په زندانونو کې دداسې پېښو پېښېدل یوه عادي خبره ده. په لومړیو ورځو کې داسې اعمال سړي ته شرم ښکاري، خو ورو ورو د سړي شرم ګی الوزي.»

حاجي ډګروال د نسوار وهلو عادت درلود. خادیستانو د هغه د نسوارو ډبلی ورځخه اخیستی وو. دی له همدې بابته ځورېدهٔ. خپل آرام او کرار ئــې له لاسه ورکړی وو. د صدارت د تحقیقو د ریاست مستنطقینو به پر تورنو کسانو باندې د لا نور دباو یا فشار راوړلو په پار یو شمیر تورن د سګرټو، نسوارو او درملو له لرلو بې برخې کول. دا د شکنجې یو بل ډول وو. ډېرېو زندانیانو به د نسوارو پر ځای د سګرټو فلټر په خولــهٔ کې اچاوهٔ یا د نسوارو پوسه «تفاله» «هغه نسوار چې یو ځل اچول شوي ول» به ئــې واچوله او بیا به ئــې کارول. هغو ناروغانو چې درملو ته دایمي اړتیا درلوده، د درملو د نــهٔ رسېدلو له کبله او هم د درد په لا زغملو به ئــې ناروغیو ښېــړنتوب «وخامت» وکړ. اروابناد انجنیر زمری صدیق «چې په هکله به ئــې وروسته خبرې وکړم» د څرخي پـلــهٔ په زندان کې راته وویل : « زه د میګرن (نیم سرئ) ناروغي لرم. د میګرن ګولۍ مې په جیب کې وې. ټولې ئــې راڅخه مصادره کړې. مرګ ته نـېږدې سوی وم. ددې شکنجې درد د جسمي شکنجې تر درده څو ځله ډېر وو.»

# د شکنجه ګر زړهٔ سوی

څو ورځې وروسته ئــې له کوټې دباندې وایستلم. له انګړ دباندې ووتلو. د نظارتخانې مخامخ یوه وړوکې کوټه وه چې یو صاحب منصب «پسته پوه سوم چې د صدارت د کوټه قلفیو سیاسي معاون دئ» له یوهٔ ډاکټر او نرس سره ناست وو. داسې ښکارېدل چې ما ته سترګې په لاره ول. صاحب منصب زما د مکمله شهرت پوښتنه وکړه. نرس ته دستور ورکړ سو چې کالي مې راڅخه وباسي. افسر ډاکټر ته مخه کړه او وئــې ویل : «ښــهٔ ئــې معاینه کړه چې ما ته کوم مسؤولیت پیښ نـهٔ سي.» هغـهٔ سړي چې سپینه چپنه درلوده له ما څخه یو شمیر پوښتنې وکړې. زما د ځان ټپونه ئــې ولیدل او د لاس ګوته ئــې زما پر دوه وو ماتو شویو پوښتیو «قبرغو» باندې کښېښودله.... خپل مشاهدات ئــې په استعلام کې ثبت کړل او استعلام ئــې افسر ته وسپارهٔ. بیا ئــې ما ته مخه کړه او وئــې ویل : «درمل به دې د سترتیرې په لاس درولیږم.»

د هماغې ورځې په ماسپښین پهره دار درمل راوړل. څو ورځې تیرې سوې. درملو تر یوې کچې راسره مرسته وکړه. د ځان ټپونه مې لږ څـهٔ ښــهٔ سول او له لاسه وتلی ځان – ځواک مې بیرته تر لاسه کړ. د تحقیق د ریاست خوراک بد نــهٔ وو. د میوې استحقاق مو هم درلود. په کوټې کې دننه مې د قدم وهلو تمرین کاوهٔ.

ښايي څوک تصور وکړي چې ګڼې دا پرستاري او پاملرنه د زړهٔ سوي او ترحم له مخې وه. نه، هيڅکله نه! دغه « پالنه او غمخوري» له دې کبله ول چې ما د شکنجې او زور آزمويلو بل پړاو ته چمتو کاندي، ځکه زه په داسې يوهٔ حالت کې وم چې د زياتې شکنجې او تحقيق توان مې نور نـهٔ درلود او دا امکان وو چې د لا نور فشار په راوړلو سره تر شکنجې لاندې مړ سم، او زما مړينه دوی ته تر دې دمه پاسره نـهٔ وه. البته دا د کې جي بي کار بنه وه چې د تحقيقو رياست په ځانګړو او استثنايي مواردو کې کاروله، په دې معنی چې له يوې دورې فشار او ټپي کولو وروسته دويم پړاو (توطـئـه جوړول، پالنه، درملنه، تسل او د څو ورځو د «استراحت ډالی» پيل کـېدل تر څو د تحقيق د بل پړاو لپاره بيا انرژي) تر لاسه سي. دويم پړاو د تحقيق د پړاو ډېر خطرناک او چاړ شوی يا ظريفانه پړاو شمـېرل کـېـدهٔ.

نـېږدې دوې اونۍ همداسې تـېرې سوې. په دې موده کې څوک راپسې رانغلل. پوهـېدم چې دا لنډ مهالی «اور بند» دی. له دې کبله زما ټول فکر ددويم پړاو پـېـلـېدلو ته څک وو. له بده د بد ترو شرايطو لپاره مې تياری نيوهٔ. د هر ډول احتمالي پوښتنې لپاره مې مخکې له مخکې ځوابونه جوړول ترڅو د اړتيا پر مهال غلی پاتې نـهٔ سم.

د تحقيق رياست داسې ځای نـهٔ وو چې څوک دې سربېرن ونيسي او يا دې ګومان وکړي چې د شوخی ځای وو. د تحقيق د رياست کار ازمويلو روسي سلاکارانو ددغـهٔ رياست هره برخه اداره کوله. د تحقيقو د رياست کورني مستنطقين هم د شش درک تر خاد ښـهٔ پاخـهٔ او کار آزمويلي خلک ول. د کار نظم او دسپلين لا منظمه بڼه درلوده. له همدې کبله ول چې خپله ټوله پاملرنه مې د آګاهانه مقاومت په لاره کې د مرګ تر پولې متمرکزوله.

که ما «درملنې او استراحت» ته اړتيا درلودله، خاد هم دغه اړتيا درک کوله. په حقيقت کې دغه بيا ـ توان موندنه د دواړو په ګټه وه، يوازينی توپير ئـې متضادې انګيزې او اهداف ول. له يوې خوا به زه له دوی سره د بيا مخامخ کـېدلو لپاره انرژي زيرمه کړم، او له بلې خوا به خاد زما په سينه کې د اسرارو د پټې صندوقچې پرانيستلو ته لاره ومومي.

يوه شپه چې ډګروال په قصو تود راغلی وو، زموږ د کوټې دروازه خلاصه سوه. پهره دار زما نوم ولوست او له کوټې ئـې دباندې وايستلم. څو ګامه وړاندې يو په ځيرې ښکلی ځوان د برېښنا تر پيکه څراغ لاندې ولاړ وو. يو بل ته مو سلام ور نـهٔ کړ. ځوان وويل :« په ما پسې راځه!». له کړ. ليچنو لارو تير سوو، په پای کې د ودانۍ ددويم پوړ دالان ته ورسـېدو. دغـهٔ پوړ تقريباً د درې مترو په دوه نيم مترو په مساحت کوټې درلودلې. په کوټه کې دننه يو ميز، دوه څوکۍ او يوه الماری ليدل کـېـدله. ځوان راته د کښـېـناستلو اجازه راکړه. په داسې حال کې چې ددوسيې کاغذې پاڼې ئـې لوستلې تر سترګو لاندې ئـې ماته په غلچکو سترګو کتل. دا زما د تحقيق د رياست له لومړني مستنطق سره ليدنه وه.

تر دې دمه ئـې د دوسيې د پاڼو لوستل لا نـهٔ خلاص کړي چې پوښتنې پيل شوې:

- څـهٔ کاره وې؟
- ښوونکی وم
- چيرته ښوونکی وې؟
- د پروان ولايت اړوند د غوربند د سياه ګرد په ليسې کې

- په سیاه ګرد کې څوک پیژنې؟
- ملک بې سواد، ملا عبدالله، معین کبیر او ....
- له حزبیانو څوک پیژنې؟
- پرچمیان دروښییم یا خلقیان؟
- پرچمیان

ناڅاپه مې په ذهن کې د اور بڅري په شان خبره تیره سوه. زما سترګو ته ئــې په ځیر ځیر وکتل. د هغــهٔ غږ، لهجه او څیره مې په یاد راوړه.

- له پرچمیانو څخه یاسین پـېـژنم
- ما پیژنې؟
- هو
- څوک یم؟
- د یاسین خان ورور

ځوان له ځایه پورته سو او لاس ئــې راکړ. ورور ئــې یاسین یو ګوتلکی او د غوربند د سیاه ګرد د سیمې نامتو پرچمی وو. د سیمې خلکو دغه ورونه د «سید الله د زامنو» په نامــهٔ یادول. دغه ورونه میلمه پال، باسواد او د ښــهٔ چلند خاوندان ول. ما او د ښوونځي څو نورو ښوونکو ددوی ډوډۍ «نان و نمک» خوړلې وه. ما په خپله له یاسین سره ډېرې خبرې نــهٔ وې کړې، خو ددهٔ اکثریت ورونه زما زده کوونکې ول. دا غوایي د کودتا اورګډې اله ګوله وه چې د ژوندانــهٔ ټول معادلات ئــې په بل مخ اړولي ول او هیڅ داسې کورنی نــهٔ وه چې د «انقلاب ظفرنمون» د سوځنده اور په سرو لمبو کې په یو ډول نــهٔ یو ډول نــهٔ وي کباب سوي.

مستنطق د یوې شیبې لپاره غلی سو او بیا ئــې په یو ډول خواشینی وویل :«استاده! ته خو ښه سړی وې، یو زړهٔ سواندې ښوونکی .... تــهٔ او دا خبرې؟ اصلاً زما باور نــهٔ رازي.» په کرارۍ او آرامۍ مې ځواب ورکړ: « ما خو کوم بد کار نــهٔ دی کړی. نــهٔ پوهېږم دا خلک ولی دونې سرزوري او شله دي. زه یو ساده انسان یم. حتماً کومه تیروتنه یا اشتباه به سوې وي.» هغه راته وویل :« ښه په هر صورت، راځه نن شپه به له دغو خبرو تیر سو او د پخوا وختونو یادونه به تازه کړو.»

د شپې تر ناوختو پورې مو قصې وکړې. ددهٔ د همدوره زده کوونکو، له ښوونکو او ښوونځي او ددهٔ د ورونو په هکله مې پوښتنې وکړې. ددهٔ د ورور جمشید په هکله مې وپوښل. یو سوړ اسویلی ئــې وویست او وئــې ویل :« حفیظ الله امین وواژهٔ.»

د خبرو په پای کې ئــې وویل : «زه درسره مرسته نــهٔ سم کولای. خپل لومړني تحقیقات دې سم پر مخ بیولي دي، همداسې پر مخ ځه.» د کوټې تر دروازې پورې راسره راغی او بیا مو له یو بل سره خدای په اماني وکړه. تر درې یا څلورو ورځو پورې ئــې خبر رانغی. څلورمه یا پینځمه شپه وه چې بیا تحقیق ته وغوښتل سوم. دا ځل ئــې د هغــهٔ پر ځای بل څوک ګومارلی وو. له نوي مستنطق سره په لومړني شیبې کې پوه شوم چې دا سړی بدورګی، له عقدې ډک او بدخولی سړی دی.

حدس مي وواهـهٔ چې لومړنی مستنطق د يو شمير ملاحظاتو له مخې شا تګ کړی دی، ځکه پوهـېـدهٔ چې د دهٔ د مأموريت په چوکاټ کې له ښکنځلو او شکنجې پرته، درناوی او مهربانی ځای نـهٔ لري.

نوی مستنطق سيد اکرام نومېـدهٔ، په لومړيو کې ئـې د وعظ او نصيحت لاره راته ونيوله او وئـې هڅولم چې رښتيا ووايم. وروسته ئـې باتو او لاپو شاپو ته مخه کړه. زه ئـې له داسي شکنجو ووېرولم چې ددهٔ په خبره ان په خوب کې به مي نـهٔ وي ليدلي. په پای کې ئـې وويل : «نن شپه درته څـهٔ نـهٔ وايم، لاړ سه ښـهٔ دې چرت ګی ووهه، اوس هم لا سري وخت دی. په خبرو خو به راځې، که نن نـهٔ يې سبا، خو که هر څوني ژر ئـې ووايې ستا په ګټه ده. بايد خپل صداقت راښکاره کړې.» په بله شپه چې مستنطق سيد اکرام بيا د تحقيق لپاره وغوښتلم، لومړنۍ خبره ئـې دا وه چې : «څـهٔ فيصله دې کړې؟» ورته مي وويل : « تـهٔ د څه شي په باره کې خبرې کوې؟» سرې يو دم وپرسيد او په خپلو چيغو کې وويل : « زه له اوله پوهـېـدم چې تـهٔ بې وجدانه سر سپارلی ئـې.» له کوټې دباندې ووت او سرتيري ته ئـې چې په دالان کې ولاړ وو امر وکړ چې «رايې وله». زه پوه نـهٔ سوم چې منظور ئـې څوک وو. لس دقيقې وروسته، د تحقيق د کوټې دروازه خلاصه سوه. نيرې اتـهٔ ويشت يا دېرش کلن ځوان به وو چې د نظارت خانې زيږ چکې کالي ئـې په ځان کې ول، او ګېوډ او بنچر «ژوليده» ويښتان ئـې ول، په ځوړندو شونډو کوټې ته راغی او د دروازې مخ ته ودرېدهٔ. مستنطق ماته مخ راواړاوهٔ او وئـې ويل : (جګ سه کنه! خپل ملګري ته دې لاس ورکړه. دباندې خو مو ښـهٔ يو بل سره مچول، اوس دې څنګه سترګې ښکته ځړولي دي.» سرسري مي ورته وکتل. ومي پـېـژاندهٔ، د ساما يو تن غړی وو. مستنطق راڅخه وپوښتل : «دا سړی پـېـژنې؟» ومي ويل : «نه» ځوان هلک په ټيټ سر څـهٔ وويل او يو شمير افشأ ګرې ګانې ئـې وکړې. پوه سوم چې ځوان د شکنجې تاب نـهٔ دی راوړی او تر فشار او دباو لاندې مات سوی دی. ماته مهمه دا وه چې که ددغـهٔ ځوان خبرې مي منلې وای زما سازمان، ياران او همسنګران مي چې له هغوی سره مي د ميراني او وفا ژمنه درلوده، ضربه ليدله. له همدې کبله مي د ټولو عواقبو په پام کې نيولو سره په خپلې نټې يا انکار پښه ټينګه کړه او ومي ويل چې نـهٔ ئې پيژنم او نـهٔ پوهـېـږم چې دی د څـهٔ شي په هکله خبرې کوي. سيد اکرام وويل : « څه فکر کوې چې دا نفر به څوک وي؟» له معطلۍ پرته مي ورته وويل چې مستنطق دی. داسي ښکاريدهٔ چې زما حاضر جوابي د مستنطق خوښه سوې وي. په کړس کړس ئـې وخندل. د خپلې خندا په جوش کې ووو چې يو ناڅاپه ئـې څيره بدله سوه، داسي څيره ئـې غوره کړه چې له خپلې خندا پښيمانه سوی وو. د درندو کونجيانو «کلي ګانو» يوه ګېډۍ ئـې چې د ميز پر مخ پرته وه راپورته کړه او په ټول زور ئـې زما پر سر راوويشتله. له خولې څخه ئې د ښکنځلو باران پيل شو. «وه بې شرفه، خيرنه، وه مرداره! لکه چې تا پر موږ خپل ځان غوندی د .... خيال کړی دی. دا .... ستاسو خاينانو کار دی. موږ په دروغ ويلو او چلونو روږدي نـهٔ يو، زه يو شرافتمنده حزبي يم، نـهٔ لکه تا غوندې ......»

پوهېدلم چې د ښکنځلو باران او د سپکو سپورو ويل د مستنطق د زړه اور نـهٔ سړوي. «خاکي شاه» مداري ته بله لاره نـهٔ وه پاتې مګر دا چې خپل «ډولک او ډمپک» ټول او خپله اصلي څيره راښکاره کړي. پای دا شو چې «شرافتمندانه» چل ول خپل ځای بزکشي ته خوشې کړ. د مست غوايي په شان له ځايه پورته او لک ودرېد. سوکان او لغتې ئـې راباندې د باران په شان وورَولي، تر هغو چې نور دی هم خپله له حاله ولوېد او ستړی سو او نور د لاس پورته کولو توان ورته پاتې نـهٔ وو.

په سا وهلو وهلو پر خپلې ځوکۍ کښېناست. غوښتل مې د غولي له مخې پورته سم، سر مې تاو سو او بيرته پر ځمکه ولګېدم. شکنجه ګر د ملنډو په زهر خندا کې وويل : «جګ سه که نـۀ پهلوانه! ټول زور دې همدومره وو؟»

داسې راته ښکاره سوه چې ګنې زما غرور ئـې په غيشې ويشتى وي او له خپل حالت او د حريف له لغازو مې خجالت ايستلى وي. ماته له پانتې پيلات سره د عيسې مسيح د رواني جګړې د جګړې ډګر په ياد راغى : «او د خداى په دربار کې، د کائـيناتو خالق ته دعا کوم چې ماته توان او ځواک راکړي چې خپل نصيب او قسمت په لوړ سر وزغمم او د مرګ شکنجه دې ما د حيواني رمباړو او نورو له شرمه ډکو اعمالو تر بريده نـۀ ټيټوي او نـۀ خواروي.[13]»

سرتيرى زما تر اوږو لاندې راننوت او د زندان د کوټې تر دروازې پورې ئـې ورسولم. پهره دار شيبه په شيبه راتـۀ او د دروازې د سوري له لارې ئـې د کوټې دننه ځارله. سر مې تاو سو. د درد په لمبو کې سوځـېدلم. زما پر بدن باندې د سوکانو او لغتو ډيرې ضربات زما پر ملا، سر او غاړې راغلې ول. کانګې او د زړۀ بدوالى راته پيدا سو. زما وړوکى بدن د ځمکې پر مخ پروت وو، خو ساما او زما ولس ته زما د سوګند او وفا بيرغ په هسکه غاړه په غرور رپانده وو.

استوارم چون درختی پا به جای
پیچک بی خانمانی را بگوی
بی ثمر با دست و پای من مپیچ
شاملو

---

[13] - دا نقل قول مې کلونه وړاندې يو چيرې ليکلى وو په خواشينى چې ددغه يادداشت مأخذ مې نـۀ وو اخيستى.

# استخباراتي مانورونه

خانـهٔ خود به اهریمن منمای
پرسش دیو را جواب نبود
«کور دې شیطان ته مـهٔ ورښییه – ددیو پوښتني ته ځواب نــهٔ وي»
(پروین اعتصامی)

د ۱۳۶۰ ل کال د تلې میاشت وه. زما له نیول کېدلو نـېږدې دوې میاشتې تـېرې سوې وې. د ځان ټپونو مې پـَتـرَکي «الچق» نیولي ول. د خاد د تحقیق د ریاست د شکنجه ګرو زور آمویلو دوی ته ددوی د زړهٔ د خوښې پایله په لاس نــهٔ وه ورکړې. د شکنجه ګرو له حرکاتو او ځیرو خښم او غضب دارې وهلې او په غاښ چیچنه ئــې خپل غاښونه د قهر له لاسه غاښ پر غاښ سولول. په پای کې سید اکرام زما ددوسیې اصلي مسؤول خپل له باده پرسیدلی زړهٔ په دې «مؤدبانه» جملې دباندې وایست. «د سپي زویه زه به درسره کار ولرم! تا خپل ځان د څــهٔ خیال کړی دی؟ څلورم آسمانه! پوهیږې که نه! که سم وې کوړ به دې کړم او کوږ وې سم به دې کړم، که کیڼ وې راسته به دې کړم او که راسته وې کیڼ به دې کړم! زما دې په خپل شرف قسم وي چې که مې ستا زړهٔ له ژونده تور نـهٔ کړ نو خپل نوم به وګرځوم...» ...( «......» پورته سو د کاروان مخه ئــې ونیوله.»)

که څــهٔ هم د خاد د شکنجه ګرو سپکو سپوره ماته کومه نوې خبره نــهٔ وه، خو دوني پوهـېدم چې دښمن په دومره سادګۍ راڅخه لاس نــهٔ اخلي. دښمن هغه مجنون وو چې لیلا ئــې زما له خولې د اقرار ایستل ول. ټولو او هر ډول حالاتو ته مې روحي تیاری نیوهٔ.

سید اکرام یو بشپړ جلاد او میرغضب وو خو ظاهراً ئــې د مستنطق جامې په ځان کړې وې. یوه ورځ ئــې د تحقیق له کوټې دباندې وایستلم او د دالان په آخر سر کې ئــې راته د درېدلو امر وکړ. په زهرجنې قهرژلې ژبې ئــې وویل :« مخ دې دیوال ته واړَوه.» او په خپله بل دفتر ته لاړ. د دالان د تحقیق له کوټو څخه د متهمانو د نالښت، زګیرویو او بوغارو نارې تر غوږو کېدلې. ددغو چیغو او زګیرویو د اورېدلو درد، د شکنجې تر درد ډېر وو خو د «شلمې پـېړۍ د جلاد» په ډېرین زړهٔ کې ئـې د بڅرکې په اندازې اغیز نــهٔ درلود، او دا ځکه چې «ددوی په مذهب کې نالښت او زګیروی» یوه روح بخښونکې موسیقي وه[14].

مستنطق نـېږدې پینځلس دقیقې وروسته له دفتره دباندې راووت. له چا سره ئــې زما ددوسیې په هکله خبرې کولې. ددهٔ له «دستور» څخه په سرغړوني مې مخ واړاوهٔ او دوی ته مې وکتل. روسي «مشاور» له خپل «چوکره» سره په دالان کې

---

[14]- علي دشتي د «ایام محبس» کتاب

ولاړ وو. «مشاور[15]» په ماتې ګوتې «فارسي» ورته اړيني لاربښووني ورکولې. هماغومره چې د سلاکار ونه او قد تر وطني مستنطق لوړه وه هماغومره ئې واک او صلاحيت هم لوړ وو. وطني ګوډاګي او مزدور لکه څارځپلي او ذليلي ګيدړې خپل خارجي «مشاور» ته لکۍ ښوروله او د «تواريش، تواريش товарищ» په ويلو ګرد چاپيره ترې تاويدهٔ. زما سرغړونه د «کور دننه زمري او له کالهٔ دباندې ګيدړ» خوښه نهٔ سوه. په سورېدلي او ترهېدلي مخ ئې رامنډه کړه او هر څه سپکې سپورې او ښکنځل ئې چې په خولې راتلل په درځنونو راوويشتل او په هوا کې ئې باد کړل. بيا ئې هم زړهٔ سوړ نهٔ سو او ښه کلکه څپېړه ئې پر مخ راکړه. څيره ئې د خندا وړ او ډېره مضحکه ښکارېدله، کټ مټ لکه چينګ داړی ګيدړ. د لاس دوې ګوتې ئې زما پر دواړو سترګو کښېښودلې او د فشار په راوړلو ئې په لوړو چيغو وويل : «ما تا بې شرف ته نهٔ ول ويلي چې مخ دې له ديوالهٔ وا نهٔړوې؟ سترګې به دې دروباسم!»

پوهېدم چې خبره بل چيرې ده. هغه د عوامو متل چې وايي « بام څڅېدهٔ خو دالان ئې لګـټ کاوهٔ». د افسوس خبره خو دا ده چې په دغهٔ حال کې ما ته دا خبره زما په ګټه او واک نهٔ وه چې ورته ووايم : «غيرتي صاحبه! کله چې ژرنده ګړی سوې نو له خپل مزد څخه ولې شرمېږې؟ آدم او ټول عالـَم پوهېږي د مزي تار دې د روسي بادار په لاس کې دی!»

د مستنطق څپيړو ډېر درد درلود خو تر هغو دردناکه «ملګري/تواريش مشاور» ته ددهٔ بوټ پاکي وه. ما ليدل چې سپک او وړوکی ګوډاګی د خپل مغرور ارباب دساتير وينبته په وينبته پلي کوي او د ګيدړې په شان ورته لکۍ ښوروي. دې خبرې زما ځان او هډونه سوځول چې دوی ولی خپل، او د ملت برخليک د پرديو په لاس کې ورکړی او ولې دې وحشي نيواک ګر د «مشاور» په نامهٔ زموږ د ولس د ژوند په باب تصميم ونيسي؟

د متهمينو د تحقيق بهير د «وطني مستنطقينو» په لاس پر مخ بيول کېدهٔ، خو دا مستنطقين مجبوره ول چې د خپل کار راپور شيبه په شيبه روسي مشاور ته وسپاري او دستور ورڅخه واخلي. همدا شان د کار په پای کې په هره دوسيه کې د مشاور نظر بنسټيز شرط ګڼل کېدهٔ[16].

د تحقيق د رياست ژرنده به شپه او ورځ چالانه وه او د بني ادم هډونه به ئې ماتول. کله به ئې نيمه شپه کې تورن تحقيق ته بوت. د زنداني له سترو ستومانو سترګو څخه د تحقيق او شکنجې ويرې آرامه خوب تښتاوهٔ.

---

[15] - د امپرياليستي روس په لاس د افغانستان د نيواک پر مهال، د رژيم له پلوه د هېواد اصلي حاکمانو يعنی روسانو ته د «سلا کار – مشاور» اصطلاح يوازې يوه غولونه او فريب وو. روسانو په ټولو ادارو او ددولت په ټولو ارکانو کې د پرېکړې واک او صلاحيت درلود

[16]- د څرخي پلهٔ پهٔ زندان کې څو تنو زندانيانو ادعا کوله چې روسي مشاورين مستقيماً د هغوی په تحقيق او شکنجو کې ښکيل ول. ددې ترڅنګ، يو شمير هغه خاديستان چې بيا زندان ته لوېدلي ول دوی هم د تحقيق په بهير کې د روسي مشاورينو له کليدي ونډې څخه نهٔ منکرېدل. د څرخي پلهٔ د زندان پهٔ دويم بلاک کې يو سړی بندي وو چې تخلص ئې «اشرفي» وو، هغه ويل چې دی په خپله يو وخت د خاد مستنطق وو خو زندان کې «بې آزاره موسيچې غوندې وو» چې اوس د کوم دليل پر بنسټ زندان ته لويدلی وو. دهٔ ادعا کوله چې د ارواښاد نادر علي دهاتي په استنطاق کې ئې لاس درلود، دهٔ يوه ورځ راته وويل : «موږ څهٔ کاره يو؟ اصلي صلاحيت خو د روسي مشاورينو په لاس کې دی. هغوی يعنی روسان د تحقيق بهير څاري او وروستنې پريکړه او تصميم د هغوی په لاس کې دی!»

د تحقیق له دفتر څخه د کوټه قلفی پر لور بیول کــېـدم. ښه توده ورځ وه، لمر ځلــېدهٔ او د لمر ژوند بخښونکي تودخي په سیوري کي زما د خوړل شوي بدن هډونه په سخاوت بامل «نوازشول». په زړهٔ کي مي دا هیله کوله چي کاشکي دغه لاره لږ څه اوږده وای! له کږ لـېـچني لاري تیر شولو. له ودانیو دباندي د تنګي لاري په دواړو خواوو کي ازغن مزي غزول شوي ول. د خاد مستنطق تر خپلي کوټي پوري ورسولم. پهره دار ته ئــي امر وکړ چي د بلي کوټي دروازه خلاصه کړي. زړهٔ کي  مي ویل چي خدایه خیر کړي. بلي کوټي ته تبدیلي؟ دا ولي؟ پهره دار چي په خپل کار کي استاد وو، د سترګو په رپ کي کونجی په تاله کي تاو کړه او د کوټي یو پله یي دروازه ئــي خلاصه کړه، دروازه په غمجن نالښت سره خلاصه سوه. پهره دار په فشار او قهر کوټي ته دننه ټیله وهلم. وروسته له دي چي سترګي مي د تیارې کوټي له تررمی سره بلدې سوې ومي لیدل چي لیرې دوه تنه نور هم دي کوټي کي ناست دي. دروازه وتړل سوه، او د مستنطق او پهره دار د ګامونو غږ کرار کرار لیرې کېدهٔ. په دغو دوه وو تنو کي یو ئــي چاغ وو، پړسیدلي ګېډه، منځمهالي ونه او سوربخون مخ ئــي درلود. خپلي تنګي او کم نورې سترګي ئــي راته نیغي کړې. دویم سړي غنم رنګه پوستکی، پراخي سترګي درلودې او خوشحاله وو، پر شونډو ئــي موسکا روانه وه او غلی ناست وو.

هغه چي تل ئــي موسکا پر شونډو وه د ځان په معرفي کولو کي بیره درلوه، ځان معرفي کړ : «نوم مي ...... د ...... غړی یم.» چاغ سړي وویل :«زما نوم غلام غوث .....دی» دهٔ لا خبره نــهٔ وه خلاصه کړې چي ځوان هلک ئــي په خبرو کي ورننوت او وئــي ویل :« زموږ دا ورور په اصل کي د ساما غړی دی، خو د حرکت انقلاب اسلامي د غړیتوب په تور راوړل شوی دی.»

غلام غوث ماته وار راکړ چي ځان ورو‌پیژنم. خپل نوم مي ووایــهٔ. غلام غوث پوښتنه وکړه :« د کومي ډلي په ارتباط ئــي راوړی ئــي؟» ومي ویل :« په دي ئــي خبر نــهٔ یم.» څو شیبي غلی سو او بیا ئــي په دوام وویل : «د تحقیق په لړ کي ئــي څــهٔ پوښتني درڅخه وکړې؟» ومي ویل : « رنګارنګ خبرې. مثلاً وئــي ویل د طب په پوهنځي کي څوک پېـژني؟ همدا شان د تنظیمونو رهبرانو ته ئــي سپکي سپوري وویل.» وئــي ویل : «عجیبه ده!» ځوان چي لنډي خبرې ئــي نــهٔ خوښــېدې ماته په خطاب کي وویل : «دلته هیڅ څوک پردي نــهٔ دي، ټول خپل دي. اعتماد ولره.»

څو ورځي تیرې سوې. له اړتیا پرته به مي خبرې نــهٔ کولي. ټول حرکات او سکنات مي چي کول او هره خبره به مي چي کوله د یوهٔ غیر سیاسي او یوهٔ عادي ښوونکي له صلاحیته پورته نــهٔ وه. خو دا دوه تنه به تل په قصو او خنداوو بوخت ول. غلام غوث چي ځان د هرات د فرقي تورن «افسر» او د هغــهٔ ولایت اوسیدونکي معرفي کاوهٔ، د سلواغي د میاشتي پــهٔ څلورویشتي نیټي د هرات د میړنیو پرګنو د پاڅون او د هغــهٔ وخت د پیښو او د پاڅون د په حقه توب په باب داستانونه درلودل. د سامایانو له کارنامو څخه به ئــي تعریفونه کول. د هراتي مجاهدینو او نامتو هراتي سامایانو نومونه به ئــي یادول. د پاڅون د په لاري اچولو په باب د خپلي ونډي او خدماتو په هکله به ئــي قصي کولي....

ما به پــهٔ نا لیوالتیا ددهٔ خبرو ته غوږ نیوهٔ. داسي مي ورته له ځانه څرګندول چي ګڼي زه له دغو پیښو ناخبره یم او د مجاهدینو او د ساما د غړو د نومونو اورېدل راته تازه خبره ده. کله به ئــي د مطروحه موضوعاتو په باب زما نظر غوښت

او ما به ځان په ناګاری بلې خوا ته تیر کړ. غلام غوث چې آرام او د سړې سینې سړی وو، یوازې زما عکس العمل ته کتل او له ځانه ئــې کوم عکس العمل نــهٔ ښکاره کاوهٔ.

ځوان د چپې سازمانونو د یوهٔ سازمان غړی وو له تورن سره ئې د بیلابیلو موضوعاتو په باب خبرې اترې کولې. د خپلو دوسیو او د تحقیق د بهیر په هکله به ئــې سره خبرې کولې. کله کله به ئــې خبرې مینې او د مین کیدلو د داستانونو خوا ته لاړلې. تورن غلام غوث چې ځان ددولت او د روسانو په لاس د افغانستان د نیواک مخالف ښکاره کاوهٔ، نو د اتلو شهیدانو په یاد به ئــې سرې اوښکې تویولې.

نــهٔ پوهېږم چا ویلي چې «خبرې د بنې آدم شخوند وهل دي». له همدې کبله ددغو دواړو خبرې اترې مې د زړهٔ تارونه خوړل. پــهٔ ځانګړې توګه ددوی د خبرو اترو او قصو هغه برخې چې زما د ژوندانــهٔ ګرد چاپیره څرخیدلې. ما چې په ټول ژوند کې د خپلو نومیالیو یارانو له تودو ساګانو «نــفــَسونو» څخه ژوند اخیستی وو د خپلو ملګرو د نومونو په اورېدلو به د ګل په شان غوړېدلم، خو اوس چې له سهاره تر ماښامه د خپلو ګرانو یارانو د کارنامو داستانونه اورم مجبور یم چې د بُت په شان چوپه خولــهٔ کښــېـنم، عکس العمل ونــهٔ ښییم او ان د اړتیا پر مهال تصنعي خندا وکړم او هنرمندانه اداګانې هم له ځانه ښکاره کړم.

دا یوهٔ انسان ته ډېره سخته ده چې په همداسي یوهٔ چاپیریال کې ځان له هغو خبرو او مباحثو لیرې وساتي چې دی ورسره لیوالتیا، پیوند او فکري مواضع لري، خو اوس د استنطاق د دوران د حکم له اصولو او موازینو سره برابر باید خپلو ټولو د زړهٔ له تله منل شویو لیوالتیاوو ته شا واړوم.

«تورن» په خپل پینځه وخته لمانځــهٔ کې ښــهٔ ټینګ وو. په هر لمانځــهٔ کې به د لمونځ له اداء کولو وروسته تر ډېره د مصلی پرمخ ناست وو، قرآن به ئــې لوست او د خدای دربار ته به زاریو وو. هرکله به چې له تحقیق څخه بیرته راغی نو د خادیستانو له زشت او زاړهٔ شډل چلند څخه به ئــې دوني سرټکونه کوله چې زما زړهٔ به وربانډې وسوځــېـد. هغه به ویل : ډېر سخت عذاب ئــې ایستلی دی، محکوم په اعدام دی او خپل مرګ ته شپې ورځې سبا کوي.

زموږ کوټې فرش نــهٔ درلود. خپله کورټی به مې کت کړه او تر پښو لاندې به مې اچوله او څپلی به مې تر سر لاندې کښــېـښودلې او بیدیدم به. دا ښه ده چې د ځوانی طاقت، حوصله او د ایمان ځواک انسان ته په سختو حالاتو کې مرسته کوي، که نــهٔ ددوني عذاب ګالل او زغمل له امکانه لیرې خبره ده.

ما ته دقیق حساب په یاد نــهٔ دی چې څومره موده مې په همداسي یوهٔ وضعیت کې تیره کړه. ښایي د لسو ورځو په شاو خوا کې. یو زړهٔ تنګی غمجن ماښام وو. زښت ډېر ناکراره وم. په یوهٔ نامعلومه علت مې زړهٔ غم اخیستی وو. په همداسي یوهٔ حالت کې د کوټه قلفیو ډلګی مشر قادر، زموږ کوټې ته راغی. له مخ او ټولې څیرې څخه ئــې د خښم او غضب باران داړې وهلې. قادر طبیعتاً یو بد ورګی سړی وو، زړهٔ ئــې له کاڼي جوړ وو. له خولې ئــې هیڅکله نرمه او پسته خبره نــهٔ راوتله. ان د زندانیانو د زاریو پر وړاندې به ئــې له زور زیاتي او خښم کار اخیست. کله چې زموږ کوټې ته راغی، لومړی ئــې

ځلورو خواوو ته وکتل داسي لکه چي کوم شی ئــي ورک کړي وي. یوه شیبه غلی ودرید او بیا ئــي وویل : «نسیمه! خپل ځان، تګ ته چمتو که.» د ډلګي مشر ځواړخیزي او ګونګي خبري مي زړهٔ لا نور هم ناکراره کړ.

کوښښ مي وکړ چي خپله روحیه له لاسه ور نــهٔ کړم. له خپل ځایه پورته سوم. له کوټي دباندې، تشنابونو ته نیږدې، په تن او هډونو پیاوړی سړی چي ملکي دریشي ئــي په ځان وه درېدلی وو. د هغــهٔ په لیدلو مي د زړهٔ درزهار لا ډیر سو. له ځان سره مي وویل نوره مي خبره خلاصه ده. ډلګی مشر ورته نیږدې شو. خپلو منځو کي ئــي څه وویل. قادر د لاس په اشارې وپوهولم چي په دغــهٔ سړي پسي لاړ سم. کله چي د پوړیو «زینو» خواته نیږدې شو، زړهٔ مي لړ څه تسل سو. دا لومړی ځل وو چي له کوټه قلفیو پورته، برنـي پوړ باندې مي پښه ایښودله. قادر د بلې کوټې دروازه خلاصه کړه، له مړونده ئــي ونیولم او کوټې ته دننه ئــي ټیل وهلم او دروازه ئــي راپسي وتړله.

کوټې ته چي ننوتلم وینم چي یو شل یا پینځه ویشت کلن ځوان د لمانځــهٔ پر مصلی ناست دی. ځوان دنګه ونه، اوږدهٔ ویښتان، ښایسته سترګي او سپین پوستکی درلود. په لومړي سر کي ئــي داسي بي اعتنایي وکړه ته به وای چي زه ئــي نــهٔ یم لیدلی. د کوټې په یوهٔ ګوټ یوازې کښېناستم. ځوان خپل لاسونه ان له خپل سره پورته دعا ته جګ کړل او له خدای څخه ئــي د بخښني دعا وغوښته. کله چي له دعا خلاص سو، ښــهٔ تود ښــهٔ راغلاست ئــي راسره وکړ. خپل نوم ئــي راته ووایــهٔ، د خپل تحصیل او اوستوګني سیمي..... په باب ئــي مالومات راکړل. ورپسي ئــي زما د شخصي او سوابقو مالوماتو په باب پوښتني ګروېږني پیل کړې. کله چي ئــي زما د اتهام په هکله پوښتنه وکړه نو په ځواب کي مي ورته وویل : «والله وروره څه درته ووایم، که رښتیا خبره غواړې، هیڅ نــهٔ پوهېږم.»

د شپې تر وختو پورې کښېناستلو او له هر لورې مو خبرې اترې ګز او پل کړې. که څه هم وخت سوکه سوکه تیریدهٔ خو دریدل ئــي نــهٔ لرل. ما له دغــهٔ ځوان سره دوه اونی تیرې کړې، دهٔ ویل چي پوره اویا ورځي ئــي دلته تیرې شوې دي. کله مي چي د اویا ورځو خبره ددهٔ له خولې واورېده ځان مي ورېږدېد او له ځان سره مي وویل : « که دلته په یوازې سر تک و تنها په دې وړوکي کوټې کي اویا ورځي تیرې کړم نو ایرې به مي باد یوسي! خبر نــهٔ وم چي نیږدې اووهٔ میاشتي به له بده په بدترو شرایطو کي لا تیرې کړم.

دوې اونې مو د هر څه په هکله خبرې وکړې او له یو بله مو واورېدې. د مجلس اصلي ښځنتن او د مجلس سینګارونکی همدا ځوان وو. انقلابي شعرونه به ئــي ویل، کله کله به ئــي له جهاد او د خپلو فعالیتونو تعریفونه کول.... او..... او..... یوه ورځ ئــي د خپلې ناکامي میني په باب وویل. دلته پوه شوم چي د ځوان دغه خبرې خوښېږي، د میني او مین کیدلو مصنوعي داستانونه مي ورته وویل. زما موخه له دغــهٔ کاره دا وه چي خپل ځان ددهٔ د پوښتنو ګرویږنو له ضرباتو خلاص کړم.

زما د کوټې ملګري د میني او مین کــېدلو د قصو تر ځنګ د خپل نیول کیدلو ترخه خاطر راته داسي وویله : «سرګروپ مو را ته خبر راکړ چي د ډېرو سختو عملیاتو لپاره ځان چمتو کړم. لومړی مي ولامبل او بیا مي پاکي جامي واغوستې. سترګي مي رانجــهٔ کړې. مور مي د نغري تر ځنګ په ډوډۍ پخولو اخته وه. لمر لا ناست نــهٔ وو. له موره مي وپوښتل : څه دې پاخــهٔ کړي؟ وئــي ویل : سر او پښې. ومي ویل : وږی یم، ډوډۍ تیاره که چي ځم. مور مي وویل : ولې دوني عجله لرې؟

صبر وکه چي نرمه سي. ومي ويل : ناوخته کېږي. له ديګي لږ را وباسه چي وئـــي خورم. له ديګي ئـــي راته لږ را وايسته. تر دې دمه غوښه نـــۀ وه نرمه سوې خو زښته ډېره خوندوره وه. په ښه اشتها مي وخوړله. ومي ويل : موري يو لږ نوره هم. په ژوند کي مي داسي خوندوره ډوډۍ نه وه خوړلي. او دا زما د مور د لاس وروستی پخلی وو چي په بيړه او خوند مي وخوړ. يوازې څو ساعته وروسته ونيول سوم....»

د زندانبان د کار ښه داسي وه چي زنداني يا متهم به ئـــي تر ډېرې مودې لپاره په يوې کوټې کي نـــۀ پرېښود. په وروستيو ورځو کي زموږ اړيکي تودې شوې وې او قصو مو شخصي ښه غوره کړې وه، خو له دوه وو اونيو وروسته ئـــي هغه ځوان زما له کوټې وايست او زه يوازې پاتې شوم. د ژوندانـــۀ تصادفات ول چي د څو ورځو لپاره د څرخي پلـــۀ د زندان په دريم بلاک کي سره يو ځای شوو. هغه چي يو غولول شوی ځوان او په اعدام محکوم شوی وو، يوازې څو ورځي د اعدام له تطبيقه مخکي ئـــي په داسي حال کي چي مخ ئـــي له شرمه سور اوښتی وو له ما بخښنه وغوښتله او اعتراف ئـــي وکړ چي :« ما د خاد له طرفه وظيفه درلوده چي ستا له خولې خبرې واخلم. ما ته ئـــي وعده راکړې وه چي که له دغـــۀ نفره دې خبرې واخيستلې، له اعدامه بچ کيږې، خو قسم خورم چي ستا په باب مي د بڅرکي په اندازې کومه خبره نـــۀ ده کړې.»

تجريدي کوټې هم ښـــۀ والی درلود او هم بدوالی. ښـــۀ والی ئـــي په دې کي وو چي زه پوهـــېدم او د خپل زړۀ تنګوالي مي. نـــۀ کوم خبر غل «خبر چين» وو چي ما په څلورو سترګو وڅاري او ان زما د ښورېدو راپور ورکړي. بدي ئـــي دا وه چي کله ناکله دوني زړۀ تنګوالی راته پيدا کېدۀ چي ان د همدغو جاسوسانو شتون ته اړمن کيدم! د زنداني نړۍ، د زنداني روح، د زنداني تن، سرګذشت او د زنداني غمونه خاص وې. ښايي تر ټولو ښـــۀ او پياوړي متخصصين ونـــۀ شي کولی ددې نښرغاندې «پديدې» ژور تل ته د لار موندلو امکان ومومي.

د يوازيتوب دوه يا درې ورځي مي تيرې شوې وې چي په سختې ناروغۍ واوښتم. د ګېډې درد بې طاقته کړم. هر څوني مي چي دروازه وټکوله څوک مي پوښتني رانغلل. نور کار له کاره تير وو... ښايي زما د حال د شرحي ددې برخي اعتراف لوستونکي ته شرمناک ښکاره سي، يا ئـــي غير ضروري وګڼي او يا هم ور پورې وخاندي. خو زړۀ مو ټول اوسه هر هغه څوک چي د څرخي پلـــۀ د زندان يا د صدارت د کوټه قلفيو «ميلمستيا» ته تللی وي پوهـــېږي چي دداسي حالت پيښيدل يوه معمولي خبره ده. په يوه شپه او ورځ کي به ئـــي دوه يا درې ځلي د تشناب وار ورکاوۀ، د روغتيا ساتني يا د حفظ الصحي د لږ تر لږه امکان ته لاسرسی.... او....او... نـــۀ پوهيږم له همدغـــۀ اړخه يا له نورو اړخونو ورته په کتلو ووايم او آيا دا زه يم چي د «شرم له مخي» داسي شيان بايد ونـــۀ ليکم او يا هغه کسان دې وشرميږي چي دغسي دستورونه ئـــي ورکول: «زندانيان تر هغې اندازې تر فشار لاندې راولئ چي که په ملا کاړۀ نـــۀ سول، نو هرو مرو دې مات سي. دوی د انقلاب دښمنان دي، او له دوی سره انساني چلند له انقلاب سره خيانت شميرل کـــېږي.»

هو! ټولو زندانيانو ته د حاجت د رفع کولو په مقصد، تشناب يو لوی غم وو. زنداني به د تړلې دروازې تر شا لغتکي وهلې خو پهره دار به ورته ويل : «سرېه! دا خو د شاه قل هوټل نه دی چي هر وخت دې زړۀ وغواړي راسي او لاړ سي.» که زنداني په بيا بيا اوځلونو ځلونو خپله دا تقاضا تکراروله، د هغـــۀ د ټولو عذر او زاريو نتيجه به دا وه چي پهره دار ورته

ووايي : «هی خاينه، وطن فروشه! په پرتاګــۀ کي دې خوشي که!» همدا وه چي په لسها وو د شرف او عزت خاوند انسانانو به په پلاستيکي کڅوړو کي خپل ضرورت رفع کاوۀ او له بده ئــي بدتره دا چي کله نا کله به خبره ان «رسوايي» ته ورسيده! باور لرم ټول هغه کسان چي په همداسې غیر انساني شرايطو کي اسيران ول – زما په شان به خپل جسمي او روحي سلامت نور په خوب کي هم ونــۀ ګوري[17]! د جلادانو اخطارونه مي لا تر اوسه په ياد دي چي ويل به ئــي : «اول خو زموږ له منګولو ژوندی نــۀ وځې، که لاړ هم سي، نو روغ ځان به دې په نصيب کي هم نــۀ وي.»

ماښام چي کله د تشناب وار راغی، نو په لومړی شيبه کي مي جامي پرېوللي او بيا مي واغوستلي. د حاجت د رفع کولو لپاره مي نور وخت نــۀ درلود. ما بايد خپل ټول کارونه په څلورو يا پينځو دقيقو کي خلاص کړي وای. کله چي د کوټه قلفيو د دلګي مشر قادر پام سو چي جامي مي لمدې کړې دي، د سپکو، سپورو او ښکنځلو تر څنګ ئــي د څپيړو باران هم راکړ. هر څومره مي ورته دليل او منطق وړاندې کړ ددۀ له کاڼي جوړ زړۀ کي ئــي اثر ونــۀ کړ.

کله چي بيرته کوټي ته راغلم کالي مي له ځانه وايستل او د کوټي د غولي پر مخ مي واچول چي وچ سي. له دې چي بدل پوښي جامي مي نــۀ درلودې مجبوره وم په يوۀ لنډ نيکر کي لوڅ لپړ د کوټي په يوۀ ګوټ کي کښېنم. نيمه شپه راغله پر ما باندې سخته سره لړې تبه، د هډوکو درد او ځان – ريږد را باندې راغی. د کوي «تبخال» يوه پرېړه کړې مي پر شونډو ناسته وه، خو هيڅ چا زما مرستي ته راونــۀ دانګل. يوۀ سرتيري چي د تندرکي «شقيقي» ويښتان ئــي سپين اوښتي ول د زندان کوټو ته ئــي د ډوډی رسولو دنده پرغاړه وه. ګومان کوم د عسکرۍ دويمه دوره (احتياط) ئــي تيروله. هغۀ زما خوار، زار و زهير حالت وليد او په خواشينی ئــي خپل سر وښوراوۀ. ښايي دا ئــي له زړۀ سواندی وو خو بې اعتمادی او بدګومانی مي تر دې حده مغزو کي ځای نيولی وو چي فکر مي کاوۀ دا سرتيری په همدې زړۀ سواندی کي کوم ککړ او پليد نيت په خپل سر کي لري.

د صدارت په کوټه قلفيو کي غذايي کيفيت بد نــۀ وو، له همدې کبله د تحقيق د رياست خاديستانو به تل په لغازو ويل : «داسي ډوډۍ چي موږ درکوو، آيا تاسو په خپل ټول ژوند کي خوړلي ده؟» يوه ورځ همدغــۀ په عمر پاخــۀ سرتيري راته چای راووړ. چای ئــي پــۀ پلاستيکي ګيلاس کي واچاوۀ. کله چي بيرته د ګيلاس د اخيستلو لپاره راغی ويني چي ما لا تر اوسه چای نــۀ دی څښلی. په تعجب ئــي وپوښتل : « ولي دې چای نــۀ څښلی؟» يو ناڅاپه پــۀ ناخبرۍ مي له خولي ووتل «چای چي له شيرنی سره نــۀ وي نــۀ مي دی خوښ.» سرتيري خپل د عسکري جمپر جيب ته لاس کړ او يو دانه چاکليټ ئــي راوايست او رائــي کړ. مننه مي ورڅخه وکړه. سرتيری لاړ. څو ثانيي لا نــۀ وې تيرې شوې چي بيا کوټي ته راغی، دروازه ئــي وتړله ځان ئــي رانيږدې کړ او په خوږې کابلی لهجي ئــي راته وويل :« آغاجان !فکر نکنی که مه ازجملهٔ ای

---

[17] - د سپوسخي يا مثاني له درده چي زه اوس کړېږم د زندان يو له نارغيو څخه دی چي ډېر مي ځوروي. معايناتو په ډاګه کړې چي سپوسخي مي خپل د انبساط او انقباض خاصيت له لاسه ورکړی دی. زما معالج ډاکټر ددغي ناروغی اصلي لامل د زندان سخت شرايط او تشناب ته د نـۀ لاسرسي له امله بللی دی.

وطنفروشاستم .مه از خود استم». ما ورته څه ونـــهٔ ویل. سرتیری له کوټې ووت. کله چې د تش ګیلاس د بیرته اخیستلو لپاره راغی، په زړهٔ سواندئ ئـــې راته وکتل او سر ئـــې د همدردئ په علامت وښوراوهٔ.[18]

کوټه قلفی ئـــې ژر ژر تلاشي کولې. کله به خادیستان او سرتیري په نیمو شپو د زندان کوټو ته راغلل او د زندانیانو هر څه چې ول تیت او ګډوډ کړل. د تلاشی په لړ کې د پهره دارانو او د خاد د کارمندانو چلند خورا شډل او سخت وو. د کاغذ، قلم، د ږیرې د خرپلو د تیغ، د مخ د هینداري او د ناخن ګیر لرل منع شمیرل کـېدل. ان د پرتاګـهٔ د پرتوګاښ پر ځای باید لاشتک کارول شوی وای. هر ځل چې متهمانو د وچې ډوډئ له مغزو څخه د تسبیحو یا شطرنج داني جوړولې، نو خادیستانو ټول له ځان سره یوړل. زموږ د کوټې دروازه تل تړلې وه. د کوټې په ډېرې پورتنی برخې کې یوازې یوه وړوکې کړکئ وه چې له هغې لارې به لږ هوا کوټې ته ننوتله. د کوټو نظافت وحشتناک وو. د سپږو، وړږو او کټملو «خسکو» رمې به د متهمانو پر ځانونو نښتې وې او وینې ئـــې ور زبـېښلې. تر ټولو سخته ئـــې د بریښنا تلل ول. دغه مهال به موږ په ربښتوني قبر کې رغړیدلو. د نیما یوشیچ په خبره « جهنمی با ګور آمیخته، یا ګوری ویرانه در جهنم». ښه ده چې د دوبې د تودوخې له ځوره څه ونـــهٔ وایم.

---

[18] ـ زما د زندان په وروستیو کلونو کې چې د رژیم او ددستګاه او ادارو زوال ټولو ته څرګند شوی وو، د څرخي پلـــهٔ د زندان څو تنو پهره دارانو راسره همکاري پیل کړه. دوی به راته د زندان رازونه افشأ کول او له هغې څخه یوه هم په اصطلاح د زندان ساتونکو «انسان دوستانه» پالیسي وه. که ددغو سرتیرو همکاري راسره نـــهٔ وای نو نن به ددغو یادښتونو لیکل راته ناشوني وای. په یاد مې راځي چې د لومړي پوړ پهره دار کله به چې د جمعې په شپو په رخصتي وت، نو په پټه راته راغی او وئـــې ویل : «څه شي درته راوړم؟» ومې ویل : «کتابچه او قلم» وئـــې ویل : «اوو بابا! ما فکر کاوهٔ کوم ماشیندار دې په کار دی.» همدا شان، فواد یو بل سرتیري زما یادابښتونه له زندانه دباندې ایستل.

# د تورن غلام غوث لومه

پـهٔ یاد مي نـهٔ راځي چي له څو ورځو وروسته ئـي یو ځل بیا د تورن غلام غوث کوټې ته بوتلم. (ډېر وروسته خبر سوم چي د همدغو ورځو په لړ کي ئـي انجنیر نادر علي پویا هم د غلام غوث کوټې ته بیولی وو). دا ځل تورن یوازې وو. کله چي زما د روغتیا بد حالت ئـي ولید نو یو نمجن ټوکر ئـي زما پر تندي او سیني باندې کښېښود. زما لاسونه او پښې ئـي وموښلې او زما پالنه ئـي وکړه. د خپلې کمپلې نیمایي زما تر پښو لاندې او بله نیمایي زما پر سر واچوله. څو څو ځله ئـي دروازه وټکوله او پهره دار ته ئـي وویل چي زما د کوټې ملګری زښت ډېر ناروغه دی، په شپو شپو خوب نـهٔ لري.... د تورن د پرله پسي شکایتونو له کبله ول چي زه ئـي ډاکټر ته بوتلم او درمل ئـي راکړل.

ناروغي مي یو څـهٔ ښه سوه. ښه وه چي په دې مودې کي د تحقیق له فشاره بیغمه وم. وروسته له دې چي د تورن کوټې ته ولیږدول شوم مستنطق بیا ونـهٔ غوښتلم، خو د غلام غوث خبرو او داستانونو پای نـهٔ درلود.

یوه ورځ په کوټه کي دننه مي ګام واهـهٔ، ومې لیدل چي د دروازې په شا څه شی لیکل شوي دی. وړاندې لاړم. د خود کار په قلم دا شعر لیکل شوی وو :

زخونِ خویش خطی می کشم بسوی شفق

چه خوب عاشق این سرخی سرانجامم

نوید فتح شبستان دهم به راهروان

سرودِ رزمِ پیام آوران شود نامم

عقاب زخمی ام می توانی ام کشتن

مگر محال بود لحظه ای کنی رامم

تویی که پشت تو می لرزد از تصورِ مرگ

منم که زندگی دیگرست اعدامم

کله چي سترګې مي په دغه شعر ولګېدلې ومې لیدل چي د تورن سترګې ماته نیغي دي. بله لاره نـهٔ وه مګر دا چي ووایم : «اوه، دلته چا څه شی لیکلي دي.» غلام غوث د سترګو په رپ کي راغی او ژر ئـي وپوښتل : «چیرته؟ کومه ده؟ ته ئـي راوښییه؟» د زړهٔ ټکان مي په ډېرېدو سو. د نومیالي مبارز ارواښاد داؤود سرمد دا شعر ټولو سامایانو پیژندهٔ او وربانديې ګران وو. د «زخون خویش» شعر د ساما د ملي سرود په شان د هر سامایي مبارز پر ژبه روان وو او سینه په سینه یو بل ته لیږدېدهٔ. دا هماغه شعر وو چي د ساما د بنسټ ایښودونکی عبدالمجید کلکاني د شهادت د لومړي تلین په مناسبت زموږ د سازمان له پلوه د یوې اعلامیې په ترڅ کي خپور شوی وو.

یو ډول عجیبه لرزه مي په ټول رنځور ځان رانونتله. نیږدې وو سد مي له سره ووځي، داسې مي ګومان کاوۀ چې د ارواحو په نړۍ کې ګرځم. نیږدې وو له خولې مي چیغه ووځي. نــۀ پوهېږم کوم ځواک او کوم خضر زما لاس ونیو. غلام غوث ټینګ او شله وو چې دا شعر ولولم. شعر مي ورته ولوست. هغه شیبه مجبور وم چې دا شعر ډېر په بد ډول ګوډ او مات ولولم. اوس د همدې بې ادبۍ په پار د ستر سرمد له روح څخه بخښنه غواړم.

د ګام وهلو نوره شیمه راته نــۀ وه پاتې. تندرکي «شقیقي» مي په سرې سوځنده تبۍ کې سوځېدل او د زړۀ اسیر مارغـۀ مي په ټولې بې تابۍ خپل ناتوانه سر د قفس پر دیوال واهــۀ. په همداسې یوۀ حالت کې تورن چلو صاف یا څڅ په لاس کې نیولی وو او زما د خبرو او حرکاتو شیره او شربت ئــې چاڼول. له هغــۀ سره مي هو او نه ویل خو هوښ او فکر مي بل ځای وو، کټ مټ لکه دا چې د چا روح قبض شوی وي.

ما ته هغه شیبې په یاد راغلی چې د شهید عبدالمجید کلکاني د شهادت د لومړي تلین شپې پاڼه «شبنامه» مو له یارانو سره په ګډه پر دروازو او دیوالونو ټومبلې. د ټل لپاره تللو یارانو څېرې مي په ذهن کې مجسمې شوې. د شهید سرمد د دوه وو نابنادو نا مرادو ځوانانو، فرید او او نجیب په یاد دمه شوم چې په بې دریغه مینې ئــې زما رنځور زړګي ته تسل راکاوۀ.

د هغو ورځو یاد دې په خیر وي چې د یو بل تر څنګ کښېناستلو او د سرمد اشعار مو لوستل. هر کله به چې د سرمد د کتابونو الماری ته مي کتل نو د غمونو یاغي څپو به زما د زړۀ دیوال لړزاوۀ. د تلپاتې «جاودانه[19]» (سرمد) عکس ئـې په الماری کې ایښی وو. د هغـۀ انځور به مي لیدۀ او بیا به مي یو کتاب د الماری له منځه راواخیست او د پالنې لاس به مي په مهربانۍ وربانديې کش کړ.

نــۀ پوهېږم د آزاده وو او خپلواکو ځوانیمرګو ځوانانو برخلیک غم ژړلې وبولم یا خپل ؟ کله چې کلونه وروسته له زندانه دباندې د خپل یوۀ همسنګره ملګري له خولې مي د اوب غملیک «سوګنامـۀ آب» تریخ داستان واورید نو زما وړوکي زړګي دداسې یوۀ غم لپاره د زغم ګنجایش نــۀ درلود. چیغې مي ووهلې او لکه داسې یو چا مي خپل سر او مخ ته لاسونه ونیول لکه چې ورور ئــې مړ شوی وي. لا تر اوسه دغې سودا او ناکرارۍ نــۀ یم خوشې کړی، آیا کــېدای شي څوک د خپل ورک شوي عزیز غچ له اوبو څخه واخلي![20]

خو د صدارت د کوټه قلفیو په غملړلو شپو ورځو کې د تورن غلام غوث پوښتنو د شهید سرمد د کتابونو د الماری تر څنګ د خاطراتو او خیالونو له نړۍ څخه د واقعیت له تورتمه ډکې نړۍ ته بیرته راوګرځولم. نور راته هیڅ د شک ځای پاتې نــۀ وو چې تورن یو خبیث جاسوس دی. هغــۀ په ډېر مهارت زما د لارې په اوږدو کې راته لومه ایښې وه چې ما په کې اسیر کړي. له نیکه مرغه په دې لومه کې ګیر نــۀ سوم او له څنګ څخه ئــې تیر سوم.

---

[19] ـ هغه مهال د شرایطو پر بنسټ د مخفي کاري په پام کې نیولو سره د شهید سرمد د اشعارو په پای کې به (جاودانه) لیکل کـېـدل.

[20] ـ فرید ۲۹ کلن وو چې په ۱۹۹۲ز کال کې د آسترالیا د کیاما په سیمې کې په اوبو کې ډوب شو. د هغه تخلص «شام» وو. دی په خپله په دې هکله لیکي : «ماښام (شام) په یوې معنی د طبیعت ماښام دی او زما د ملت او محکوم ټاټوبې د تأریخ د بهیر یو انځور دی. په بله معنی ما خپل تخلص غوره کړی دی او دا په خپله دوه دلیله لري : یو دا چې د خپل ټاټوبې د ماښام انځور اوسم. او بل دا چې زه په خپله هم د ماښام په شان غمجن، په زړۀ تنګ، سوړ، تور، غلی او، نتلی او مړاوی یم.»

خو غلام غوث نـــهٔ خوشي کولم. ټينګ نښتی وو. د زړهٔ له تله ئـــي «خدمت» او «زړهٔ سواندي» ئـــي کوله. دا ځل ئـــي خبرې د پخوا په پرتلې لا مشخصې وې. د ساما او د ساما د نيول شويو غړيو په هکله ئـــي خبرې کولې. د ساما د لوړ پوړو غړو نومونه ئـــي يادول که وګورې چې زما غبرګون څنګه دی. د زنداني شويو سامايانو ددوسيو په باب ئـــي معلومات راکول او په دې باب ئـــي زما د نظر غوښتنه کوله. پهره دار به د شپې له پلوه له کوټې دباندې وايست. ساعتونه ساعتونه وروسته به راغی. کله به چې راغی نو د وهلو ټکولو او د تحقيق د فشار په باب ئـــي ډېر ناليښت کاوهٔ. يوه ورځ ئـــي راته وويل :« زما ددوسيې کار بشپړ سوی دی. ما له دغـهٔ ځايه باسي. نـــهٔ پوهېږم ما چيرته بيايي، ښايي اعدام ته مې بوزي. خو زما زړهٔ ستا له پلوه نا آرامه دی. په دې آخر وخت کې غواړم يو خدمت درته وکړم.» په دې شيبې کې د دروازې له شا د پهره دار د ګامونو غږ راغی. تورن د احتياط او غليتوب په علامت خپله ګوته خپلو شونډو ته نيږدې کړه او بيا ورو ورو د دروازې تر شا لاړ او په احتياط سره ئـــي د سرتيري د ګامونو غږ ته غوږ ونيو. کله چې غږ ليرې شو، خپلو خبرو ته ئـــي داسي دوام ورکړ :«زه د تحقيق په رياست کې يو څوک پيژنم. ښـهٔ پوخ سامايي دی. له سامايانو سره ئـــي زياتې مرستې کړې دي. زموږ احوالونه دباندې باسي. تـــهٔ هم د خپلې کورنۍ او سازماني روابطو په باب يو څه وليکـهٔ. هغه قلم او کاغذ راوړي. خو بايد ډېر احتياط وکړې چې مسئـلـه حساسه ده، که نه موږ ټول تباه کېږو.»

هغه نکوريزي چې غلام غوث غوښتل زما پر لاسونو ومښي رنګ نـــهٔ اخيست. نور ئـــي نقاب له مخه لويدلی وو او چلوټو او نيرنګونو ئـــي نور کوم ځای نـــهٔ نيوهٔ. ددهٔ زارۍ، ناليښتونه او زړهٔ سواندي له اپلتو «ياوه» پرته بل څـــهٔ نـــهٔ ول. په لومړيو کې مې ورته وويل : «تـــهٔ ډېر مهربانه ئـــي. زه پوهېږم چې ستا دا ټولې خبرې له زړهٔ سوې دي، خو زه د کابل په ښار کې څوک نـــهٔ لرم. زه ئـــي ناحقه راوړی يم.» خو غلام غوث چيرته خوشي کولم او همدا ټينګار ئـــي کاوهٔ چې بايد له دغــهٔ چانسه ګټه واخلم.

يوه ورځ ئـــي د هرات د پرګنو د پاڅون او د هغوی په برحق والي او په پاڅون کې د خپلې ونډې او نقش په باب خپله خولـــهٔ خوږه کړه. زما غبرګون ته ئـــي کتل او سترګې په لار وو چې څه وايم. نوره مې حوصله له لاسه ورکړه. نور مې ددهٔ د لکچرونو د اورېدلو توان نـــهٔ درلود. له ځان سره مې فکر وکړ چې ددغـهٔ خردګي «فرومايه» جاسوس خبرو ته به تر کله غوږ ونيسم او تر کله به ورته هو او نه وايم او په سلهاوو مکيزونه ئـــي پر ځان ومنم. زړهٔ مې سمندر کړ او ورته مې وويل : « تورن صاييه! زه ستا د خبرو طرفداره نـــهٔ يم، ځکه چې ته له وينې بهونې او جنګ څخه دفاع کوې.» د تورن څيره تکه سره واوښته او په تندي کې ئـــي غوټه پيدا سوه او بيا ئـــي ځواب راکړ : «زما افسوس په دې راځي چې پر ځان دې د معلم او تحصيل کرده سړي نوم ايښی دی. تـــهٔ له روسي تيريګرو او د هغوی له ګوډاګيانو دفاع کوې. دا نو تا ته د شرم ځای دی.» پرېکړه مې وکړه چې دغه له خيرو ډکه شنجکۍ «دُمبُل» په نښتر ووهم، که نه هره شيبه به سونګ وهي او ما ليونتوب ته رسوي. په قهرژلې ژبې مې ورته وويل :« که دې بيا داسي خبرې تکرار کړې نو مستنطق ته وايم چې دلته يو نفر دی هره ورځ دولت تخريبوي.» غلام غوث خپلې خيرني پرسيدلې سترګې راباندې نيغې کړې او په چوپه خولـهٔ ئـــي راته وکتل. بيا ئـــي يو سوړ اسويلی وايست او وئـــي ويل :« زه ښـــهٔ پوهېږم چې تـــهٔ څـــهٔ کاره ئـــي.» دا هغه وروستی

جمله وه چي د تورن له خولي راووتله. په حقيقت کي نوموړي ددي وروستۍ جملي په ويلو سره د خپلي ناکامۍ او رسواييی پر سند باندي خپل لاسليک وکړ. هماغه وه چي مخکي له دي چي د صدارت د شکنجه ځای پر ويرجن چاپيريال باندي د توري شپي لمن وغوړېږي سرتيري له دې کوټي ځخه بلي کوټي ته زما د ليږدلو امر راوړ. څه دباندي شپږ مياشتي مې د لعنتي صدارت په کوټو کي تر شکنجو او تحقيق لاندي تيري کړي، په دې مودې کي له ډېرو جاسوسانو سره مخامخ سوم، خو د تورن غلام غوث زيرکي او لومه اچول بل ډول ول. غلام غوث يو ماهر او «کار کشته» جاسوس وو او ډېر ښـهٔ پوهـېـدهٔ چي له چا سره څه ډول چلند وکړي. د انسانانو «رواني حالت» به ئـي ښـهٔ په ځير لوستـهٔ او د هغوی د ضعف په ټکيو به ئـي وردانګل. د زنداني نړی د بيچارګی او کريابی نړی ده. غلام غوث به د کريابو او بې چاره وو پر حال ځان ورساوهٔ او حق به ئـي په لاس ورکاوهٔ! غلام غوث به تر هغي اندازې مينه، پالنه او بامنه کوله چي په لومه کي نښتی زنداني به ددهٔ د ټول لطف او خدمت مجذوب سو او زنداني به په خپل زړهٔ کي د اسرارو او رمزونو د پټي صندوقچي کونجی داوطلبانه په لاس ورکړه. په حقيقت کي غلام غوث هغه ليوهٔ وو چي د خپلي شيطاني غمخواری په بدل کي به ئـي د بې پناه وو، په زړهٔ ساده او پاکو ځوانانو زړهٔ لاس ته راووړ او بيا به ئـي نس وروڅيرهٔ او زړهٔ او ځيګر به ئـي ورته خام وخوړل. د صدارت د تحقيق د چارو د رياست له مستنطقينو سره ددهٔ اړيکي او تماسونه، او له هغوی سره د اطلاعاتو او تجربو تبادله له دهٔ سره د دهٔ د خبر ټولولو «خبری چينی» له مأموريت سره مرسته کوله. دی به د تحقيق په پلمې په ساعتونو ساعتونو دباندې بوتلل شو او د خاد د جلادانو تر څنګ به کښېناست او کوم متهم زنداني ته به ئـي د لومو د کښېنېولو لپاره لاره چاره سنجوله. په ياد مې دي کله چي زما ناروغی شدت ونيو، څو شپې ما ته د تبې د شدت له کبله خوب نـهٔ راتـهٔ. غلام غوث به شپه او ورځ زما سر ته ناست وو او زما پرستاري او بامنه ئـي کوله. غلام غوث په خپل کار کي بې ساری مهارت درلود. د اړتيا پر مهال به ئـي په لـپو لپو اوښکي توی کړې. دا ټولي هنرمندی او مکاری يوازې د يوهٔ سرسپارلي مُخبر او د غلام غوث په شان د مکارې ګيدړې له لاسه پوره وي.

ددغـهٔ کارآزمويلي او ماهر جاسوس يو مهارت دا وو چي د منافقت او ټګی پر پوړيو «زينو» به ئـي پښه کښـېـښودله او د خپلي هوښياری او ځيروالي له مناري به ئـي ځوانان ايلول «تسخيرول». په دې توګه «غلام غوث» په خپل ټول رزالت او دنائـت او لارو چارو د سل هاوو په زړونو ساده او په زړونو پاکو انسانانو کورونه ونړول او ان يو شمير ئـي تر اعدامه ورسول.

دا چي زهٔ ځنګه د غلام غوث د نيرنګ له تلک او خطرناکي لومي او د نورو جاسوسانو له ځالو ځخه بچ شوی يم کوم تصادف نـهٔ وو، بلکه دا د يو شمير ارزښتناکو آثارو معلومات ول چي ما لوستي ول او له ذهني پلوه دغسي حالاتو ته چمتو وم لکه : «فن مبارزه با پوليس سياسی»، «پنهان کاری پويا»، «حماسـهٔ مقاومت اشرف دهقاني» او ..... کولای سم ادعا وکړم چي د يوې ذهني تياری پـهٔ لرلو سره د خاد د مستنطقينو او د زندان د لمتيکو «دون صفتو» جواسيسو جګړې ته ورغلم. له زنداني کيدلو مخکي مې په دغو کتابونو کي د شکنجي، مقاومت، او د تحقيق د اصولو او لارو چارو په باب معلومات لوستي ول. د خپل هېـواد او د نورو ملتونو د زندانيانو تجارب په خپله يو ګران بيعه ګنج دی چي دهمدغو حماسه زيږوونکو د سترو دردونو او رنځونو د ګاللو له برکته موږ ته پـهٔ ميراث پاتی دی.

د تحقیق او مقاومت په لړ کې همیشنی شک له سره تر پایه یو له هغو ځلاندو او زرینو اصولو څخه دی چې مبارز زنداني ورته باید تل تابع او ټینګ وي. ما په کتابونو کې لوستي ول چې د تحقیق په لړ کې څه باید وکړو او څه باید ونــهٔ کړو.

مستنطق په ځلونو ځلونو د اشخاصو نومونه راته یاد کړل او عکسونه به ئــې راښوول او پوښتنه به ئــې کوله چې «دوی پیژني؟» کله به مې چې هماغــهٔ یو ځواب ورکاوهٔ نو زما د همیشنیو «نــه» ویلو په ځواب کې به ئــې دا تکراري جمله په ځلونو راته ویله چې «که پلار دې هم راولم، حتماً وایې چې نه نــهٔ ئــې پېــژنم.»

هماغسې چې غلام غوث زما ټولې خبرې، حرکات او سکنات تول او ترازو کول، متقابلاً ما هم د هغــهٔ ذره ذره حرکات تر څار او سترګو لاندې لرل او یو په یو به مې تجزیه او تحلیلاوهٔ. ډېر وروسته کله چې له یو شمیر هغو کسانو سره مخامخ شوم چې د غلام غوث د نیش زهر ئــې په زړونو ننوتلې ول ټولو به ویل چې د پرښتې په جامو کې ددغــهٔ ابلیس پیژندل زموږ له توانه پورته خبره وه. هر چا به یوهٔ ډول نــهٔ پــهٔ یوهٔ ډول خپل د زړهٔ درد وایــهٔ او سر ټکونه به ئــې ورڅخه کوله. د څرخي پلــهٔ د زندانیانو په منځ کې ښایي ډیر لږ داسې کسان ومومئ چې د غلام غوث له شرمه ډک نوم سره دې آشنا نــهٔ وي. د زندانیانو د خبرو اترو په لړ کې به کله چې د صدارت د کوټه قلفیو او د کوټو د جاسوسانو په باب خبره راتله نو هرو مرو به ئــې دا جمله یادوله چې : «دا را ته ووایه چې د غلام غوث له چلو صافه ئــې تیر کړی ئــې که نه؟» ان هماغه ځوان چې د یوهٔ کیڼ اړخي سازمان غړی وو، د څرخي پلــهٔ پــهٔ زندان کې د لیدلو پر مهال ئــې زما مخ مچ کړ او وئــې ویل : «ما تر آخرو ورځو پورې نــهٔ دی و پیژاندهٔ او نــهٔ تــهٔ. دوني طبیعي چلند دې وکړ چې موږ دواړو وویل چې دا بیچاره ئــې په ناحقه راوړی دی.» هغه ځوان ډېر پاک او شریف انسان وو. هیڅکله او هیڅکله ئــې د غلام غوث او نورو په تورو خیرونو کارونو کې لاس نــهٔ درلود. د تورن چالاکۍ او خوږې ژبې دی غولی وو مګر له دې چې دهٔ په خپله د پټولو او مخفي ساتلو لپاره څــهٔ نــهٔ درلودل نو د نورو پــهٔ باب ئــې هم احتیاط چنداني جدي نــهٔ نیوهٔ.

د تورن غلام غوث له برخه لیکه کوم خبر په لاس کې نــهٔ شته. ځینو ویل چې اعدام ئــې کړ. ځینو ویل چې خوشې شوی دی. دا چې دی له زندانه دباندې څــهٔ کاره وو او یا ئــې له کوم سازمان سره تړاو درلود چنداني د اهمیت وړ خبره نــهٔ ده. هغه څــهٔ چې مهمه ده دا ده چې د تأریخ د خاطراتو په دفتر کې ددهٔ نوم د یوهٔ شرف بایللي او د میرغضبانو په چوپړ کې د یوهٔ خائــین بني آدم په توګه ثبت سوی دی.

د زندان قصې هغه ډک جام ته ورته دي چې په منځې کې ئــې د انګبینو او زهرو معجون پروت دی. زندان د میرانې، مقاومت، ټینګوالي او د هغــهٔ د ضد یو سرګذشت دی. زندان د نــهٔ اورېدل شویو او نــهٔ لیدل شویو پیښنو او ماجراوو ځای دی. زندان د سترګو د لیدلي حال او د تجربو یوه نړۍ ده چې د یوهٔ شهید نسل د قربانۍ او د نیمه ژوندي پاتې شوي نسل په قربانۍ تر لاسه شوې ده. که دا سمه وي چې لا تر اوسه تأریخ خپل وروستي پوړ ته لا نــهٔ دی رســېـدلی، او که «ګومان مو نــهٔ وي کړی چې د مغانو کار لا پای ته نــهٔ دی رســېدلی» او که دا منو چې « د تاک په رګونو کې په زرهاوو ناخوړلي شراب شته» نو زه هیله مند یم چې دغه لړ تجارب به د سبا ورځې د نسل لپاره په درد ولګـېږي!

او وروستی خبره دا چې : زما قصې، په وینو کې زما د ناستو او لمبیدلو شهیدو یارانو او د کړېدلو هېوادوالو واقعي سرگذشتونه دي. کله چې له خپلو یارانو څخه یادونه کوم، تر فزیکي مرگه ئــې د تشي حضور راباندې لا غمجن او لا «قاتلانه» شي. همدلته ده چې د غمونو تونددباران په تول قساوت په وربدو شي او په ډېرې بې رحمۍ زما د زړهٔ د صنوبر څانگې ماتوي بيا مې غم مې ستونی ډک کړي او لمن لمن اوښکې توی کړم او تر هغو ژاړم چې د ارواښاد سرمد په خبره «د سترگو بستر مې په وینو کې لژند» شي.... په همداسې یوهٔ حالت کې آیا دا حق نــهٔ لرم چې د خپل وجود په ټولو ذراتو د « ځنځیر، متروکې، زندان، شکنجې، پوز بند او سترگو- بند پر پلویانو باندې» لعنت ووایم؟[21]

اوس چې د ارواښاد داؤود سرمد یاد څو ځله وسو، د هغـهٔ یو شعر دلته راوړم چې زما د زړهٔ تسل او هم ددې برخې پای ورباندې رنگین سي.

شعلهٔ ناله

دلم از اضطراب می لرزد همچو نقشی بر آب می لرزد
بسترِ دیده گشته خون آلود مژه از بهرِ خواب می لرزد
قطرهٔ خون به نوکِ مژگانم همچو اشکِ کباب می لرزد
باز در دستِ شوقِ مستی من ساغرِ پرُ شراب می لرزد
امشب از نالهٔ زمینگیرم در فلک هم شهاب می لرزد
شعلهٔ ناله چون به رقص آید آه در پیچ و تاب می لرزد
نغمهٔ عشق چون به ساز آید تار های رباب می لرزد
چشمه های زلال می جوشد جلوه های سراب می لرزد
موج توفنده می شتابد پیش دانه های حباب می لرزد
هرچه بنیاد محکمش نبود تا نگردد خراب می لرزد
بسکه لرزیده ایم در ره خود دل ز بیم حساب می لرزد
با تأمل کجاست لغزیدن پای ما در شتاب می لرزد
بسکه اینجا برهنه شد مضمون برگ های کتاب می لرزد
"سرمد "از شرم بیگناهی ما چوب دار و طناب می لرزد

21 - د صادق هدایت تعبیر – مجموعــهٔ آثار

# یوازې یو انتخاب : مقاومت!

ژوندون له سره تر پایه د ازمویښتنونو یوه پیچلې صحنه ده. ددې هیبتناکې جګړې په اخ و ډب کې یا بایلل دي یا ګټل. دا چې ولې داسې ده، کولای شو څو لاملونه ئـې وړاندې کړو خو دلته دا زما وراشه «بحث» نـهٔ دی. له بلې خوا انسان ئـې «د خلقت د ګلخانې ګڼل تعریف کړی دی. بل لقب ئـې د «ځمکې د مخ سالار» دی. په دې کې شک نـهٔ سته چې د آدمیزاد مقام او منزلت تر یادو شویو اوصافو او تعاریفو لوړ دی. (ولقد کرمنا بنی آدم). اوس دا پوښتنه پاتې کـېږي چې د «وچې او سمندرونو او فضا دا واکمن» ددومره برم او پرتم په لرلو کولای شي د آزموینې د بټۍ له ډګرونو څخه بریالی او سوبمن راووځي؟ له بلې خوا، بریا او ناکامې دواړه نسبي نښرغاندې «پدیدې» دي نه مطلقې. له دې کبله ما مـهٔ ملامتوئ که ووایم : له اوبو او خاورو څخه جوړ د ځمکې پرمخ داسې هم کسان سته چې ځانونه په سوبمنو کې تر ټولو سوبمن بولي مګر دوی د ځمکې پر مخ په ناکامانو کې تر ټولو ناکام دي. د ویلو حاجت نـهٔ سته هغه چاپیریالونه او شرایط چې افراد او ډلې او جریانات د همدغو آزمایښتونو متن ته راکاږي له یو بله توپیر لري.

دویمه پوښتنه دا ده : آیا د زندان په نمجنو او چڼاسکو «پوپنک» وهلو کوټو او سوړو کې کـېـدای شي کوم آزمایښت وشي؟ هو! د زندان چاپیریال د ژوندانــهٔ یوه برخه ده او نـهٔ شي کـېدای چې له دې قاعدې څخه مستثـنی پاتې شي. یو زنداني د نیول کېدلو له هماغې لومړۍ شیبې نیولې د خوشې کیدلو تر وروستۍ دقیقې پورې، د امتحان له کړۍ څخه دباندې نـهٔ سي اوسېدلی. ان تر هغې شیبې پورې چې د زینداﺉ د رسۍ تر کړۍ پورې رسیږي او هلته په پښو درېږي او یا په څو شیبو کې ئـې ددښمن د سرپو سرې ګولۍ پر تټر ورننوځي، ددې توان نـهٔ لري چې له دې کړۍ وتښتي.

یو زنداني مبارز شیبه په شیبه «په ځانګړې توګه د تحقیق په پړاو کې» تر بیلابیلو امتحانونو لاندې راځي. له جسمي شکنجې نیولې تر روحي فشار او تعذیبه، له سپکو سپورو نیولې تر تسلي او چلوټو، له زړهٔ سواندو او «پلرنیو نصایحو» نیولې تر شمیرل شویو او محاسبه شویو پارونو «تحریکاتو»، د توطـئــې له لومې نیولې تر عذر او زاریو پورې او.... او.... دا ټول یوازې یوه موخه لري یعنې په بند کې د راګیر مبارز د ایمان د کلا تسخیر، او د هغـهٔ غرور، د هوښیارۍ او د سرغاړې «سرکش» آس ایلول یا رامول دي.

د زندان دوران «په ځانګړې توګه د تحقیق پړاو» د شطرنج دړې «تختې» ته وَرته دی چې د لوبې دواړه خواوې د خپل سیال د ماتولو لپاره یو بل ته په لسهاوو نقشې جوړوي. دا د دوه وو برخه لیک جوړونکو سیالانو د زور آزمویلو ډګر دی چې د یوهٔ په بریالیتوب سره بل ئـې پر ځمکه لویږي او «ناک اَوټ» کـېږي.

څرګنده ده چې د زندان چاپیریال ځانته ځانګړي شرایط لري چې له زندانه دباندې د آزمایښت له ډګرونو سره یو شان نـهٔ دي. ما دا د سر په سترګو لیدلي دي: هغـهٔ چا چې له زندانه دباندې په تشو لاسونو د روسانو د شوبلو او ټانکونو پرضد د

جګړې ډګر ته دانګل او وروسي منډې ئـې وهلې، هماغه سرې د زندان د آزمايښت په ډګر کې د آزمايښت له دنګې څوکې لاندې رالويدلی او ددښمن ککړو او پليدو غوښتنو ته تسليم سوی دی. په ځلونو له دغـهٔ بدمخي او زشت واقعيت سره مخامخ سوی يم چې سُست عنصره کسانو خپل سُست ايمانه ژمنه، په ډېرې آسانۍ او په ډېره ارزانه، د هغو دښمنانو په واک او اختيار کې ايښې ده چې له نيول کيدلو مخکې ئــې د هماغه دښمن د جرړو د ايستلو او نسکورولو هيله په زړهٔ کې پاللې وه. شديد جسمي او رواني فشارونه او ددښمن چلوټه، مکرونه او مکيزونه ددې باعث ګرځي چې يو له خپلې کړنې پښيمانه سي خو د بل ايمان د پولادو په شان لا نــهٔ ماتيدونکی او پوخ سي. هرګوره، هغـه څـهٔ چې د خوشالی لامل ګرځي دا ده چې د سر ټيټو «توابينو» او تسليم شويو په مقابل کې، د ميرنيو او زړورو مقاومتګرانو لوړ سرونه د ټولو خپلواکۍ غوښتونکو د سرلوړۍ او خوښۍ لامل ګرځـېدلی دی.

ژباړونکی : توابين : د کوفې د خلکو يوه ډله وه چې د حضرت امام حسين له مخالفينو سره ئــې لاسونه يو کړل او د هغهٔ حضرت پر وړاندې ئـې جګړې کې ګډون وکړ. د يزيد له مړينې او د هغـهٔ د زوی له استعفا وروسته له خپلو کړنو پښيمانه سول توبه ئـې وکړه او ځانونه ئـې توابين وبلل او سوګند ئـې وکړ چې د هغـهٔ حضرت د غچ اخيستلو لپاره به پاڅون کوي.- پ‌ای

له ياده بايد ونــهٔ باسو چې د دواړو خواوو په مقابلې او ټکر کې، ددښمن په شيطاني لوبو باندې مخکې له مخکې خبرتيا او ذهني - رواني چمتو والی، په بند کې راګير انسان سره دا مرسته کوي چې له پيچومو ډکې، کږ ليچنې او اغزنې لار څخه په بريالیتوب او متانت تير سي. هغه څـهٔ چې په ما اړه لري دا ده چې ددښمن د لوبو په يو شمير برخو باندې مخکې له مخکې خبر وم. يو شمير مې د مخامخ مبارزې په لړ کې زده کړي ول. همدا شان، د زندانيانو د ترخو سرګذشتونو مطالعاتو، او د ولس د دښمنانو د غرغرو د رسيو، مکرونو، چلونو او متروکو پر وړاندې د آزادۍ غوښتونکو جنګياليو تل پاتې حماسو او کله ناکله د ناتار د قربانيانو له خولو دداسې داستانونو اورېدنګ له ما سره ډېره مرسته کړې ده.

غټه او له واقعيته ليرې ادعا د سپکوالي نښه ده. که ووايم چې پياوړی او جسماً ځواکمن وم، غلطه ده. خو دومره وايم چې د زندان د دوران له خطراتو ډکو او ښوويندو تنګو لارو کې زما د سرلوړو يارانو سترو نومونو، د هغوی څيرو، کارنامو او سرښندويو مقاومتونو له ماسره په بد ترينو حالاتو کې هملارې او مرسته کړې ده. ما د خپلې غوره کړې لارې او د ولس د انتخاب پر حقانيت باندې ټينګ باور او اعتقاد درلودلی دی. تر ټولو مهمه دا چې د آزادۍ پالنې دا پرتمين درس مې هيڅکله له ياده نــهٔ دی ايستلی چې : «د خپلواکۍ سباوون زښت ډېر ښايسته دی او په دې ارزي چې د حقيقي کېدلو لپاره ئــې انسان ورته ځان په قربانۍ کې ډالۍ کړي.» او په پای کې دا زياتوم : هر کله چې له مقاومت څخه يادونه کوم، ټول ئــې د هغې مدرسې د تعاليمو له برکاتو څخه دي چې هلته مې په کې د مقاومت، ولسپالنې، اخلاق او ملګرتوب درس لوستی او زده کړی دی.

ددې خبرې له تکراره هيڅکله نـهٔ ستومانه کـېږم چې د ژوندون له ويرونکو او خوفناکو تنګيو څخه په سرلوړۍ او بريا تيريدل مې د مهربانو او نوميالیو استادانو د تودو نـَـفَسونو له برکته زده کړي دي؛ زه ددوی پاسللی او پوررړوی يم. لا تر

دې دمه مې هغه چاپيريال پـهٔ ياد نـهٔ راځي چې زموږ له منځه دې چا د زولنو، برقي ډنډو، بې خوبيو.... مستقيمه تجربه لرلې وي خو هر کله که خبره په دې اړوند کـېدله نو زه خپل وجدان شاهد راوړم چې په زموږ په منځو کې داسې څوک نـهٔ دي ليدل شوي چې د زندان او زولنو له ويرې دې خپل تندی تريو کړی وي او يا ئـې وروځې کږې شوې وي. کلونه وروسته کله چې د روسانو د تاړاک تالانګر توپان راوالوت او د عمل ډګر راغی نو په نويو شرايطو کې – داسې شرايط چې ګڼې نرمه غوښه له ټينګ پولاد سره مخامخ وه – بيا هم زموږ د همسنګرو ملګرو همدغه ټوکر ټوکر ځانونه او مات هډونه ول چې د بريا بريمن بيرغ ئـې د هېـواد د ملي او انقلابي مقاومت د غورځنګ د پرتمين تأريخ پر دنګو څوکو په رپا راووست.

ددې ټکي يادونه دې عجيبه ښکاره نـهٔ سي چې که ووايم : ددومره ناورينونو او د غمونو له بلاګانو سره په مخامخ کيدلو سره سره، کله چې له زندانه خلاص شوم ګومان مې کاوهٔ چې د آزمويني دور مې نور پای ته رسـېدلی دی، خو واقعيت بل څه وو. دوستانو او شاو خوا يارانو غوښتل چې يو ځل بيا مې له سره امتحان کړي، دا هغه څـهٔ ول چې په هغـهٔ وخت کې راته هيڅ د خوښی وړ نـهٔ وو. ډېر وخت لا نـهٔ وو تير شوی چې د خيالونو د تال له نړی څخه مې د واقعيت پرځمکه بيا پل کښـېښود، او همدغه وخت وو چې پوه شوم د روزګار د امتحان په چارو کې لا تر اوسه د لومړی کوڅې په موړ کې يم.

* * *

پس له دې چې د تورن غلام غوث له لومې څخه ژوندی ووتم زه ئـې بلې سوړي ته بوتلم. نوې کوټه د خپل شکل او ودانيز جوړښت له اړخه د پخوانيو کوټو په شان وه او د صدارت د کرغيړنو کرکجنو کوټه قلفيو په قطار کې وه. دا داسې يوه څلور څنډيزه دوه پوړيزه ودانی وه چې يوه ضلع ئـې ورڅخه ليرې کړي وي. د کوټو دروازو انګړ ته لاره درلوده. په انګړ کې دننه يوه لويه عمر خوړلي ونه او د اوبو يو نل ليدل کـېـدهٔ. داسې ښکاري چې دغې عمر خوړلې ونې د روز ګار په سلهاوو ليل او نهار او پيښې ليدلې وې. د زړې ونې په ويرژړلو او غمجنو څانګو کې مرغيو ځالې جوړې کړې وې چې د عالم د موجوداتو لپاره د آزادۍ او مقاومت سندرې ووايي «وروسته ئـې دا ونه پريک کړه». يوازې په دوه وو حالاتو کې مو پر انګړ پښې لګـېدلې : يا به ئـې موږ تحقيق «شکنجې» ته بيولو او يا به مو د تشناب وار وو.

ددغـهٔ انګړ د ننوتنګ د دروازې په اړخ کې «په يو پوړيز ډول لسو کوټو ته» د انفرادي کوټه قلفيو لپاره يوه لاره بيليدله. دلته ئـې «خطرناک» زندانيان ساتل. ارواښاد عبدالمجيد کلکاني په همدغـهٔ ځای کې «په لسمې کوټې» کې ساتل کيدهٔ. که له پرتليز يا مقايسوي اړخه ورته وګورو، د خاد د تحقيق د رياست تر ټولو بد ترينه او بيمناکترينه کوټې همدا لس کوټې وې. د لسو کوټو د ودانی په پاسنی برخه کې چې بامونو ته ئـې لاره درلوده، د کوټو د بامونو پر سر د روسي کماندو يوه کوچنی ډله ځای پر ځای وه. ظاهراً د خاد د تحقيق د رياست او د صدارت د زندانيانو د ساتنې دنده د همدې ډلې پر غاړه وه. دغه بام مو په دوه وو حالاتو کې ليدلای شو، يو مو کولای شوای د دروازې له سوري ئـې ووينو او يا هم کله به چې د کوټې دروازه پرانيستل شوه. د جمعې هره شپه به د کابل ټلويزيون هندي فلمونه خپرول. روسي سرتيري د ټلويزيون مخې ته کښـېناستل او د هندي فلمونو له ليدلو څخه به ئـې دوه ځلې خوند اخيست. د هندي فلمونو د سندرو غږونه به د صدارت د زندان تر تورو

تیارو سوریو پورې په غلچکي ډول راغلل او د اسیر زنداني په غمجن ذهن کې به ئــې «د تیرو خوږو ورځو» خاطرات تخنول. کله نا کله به روسي سرتیرو د کوټو دروازې خلاصې کړې او له بندیانو څخه به ئــې پیسې غوښتې. که بندي ددوی له غوښتنو څخه سرغړونه کوله نو د «میلمنو» سوکان ، لغتې او توپک لیچ «قنداق» به د «کوربه» پر سر او غاړې په وَرېدو سول. ددغو سرتیرو دوې کلمې زده وې چې هر شیبه به ئــې د صدارت د خاد په نمجنو کوټو کې په لاس او اوږو تړل شویو اسیرانو پر وړاندې کارولې : «باسمچ» او «دشمن»[22].

په نوې کوټه کې دوه نفر ول. یوه زه او یو بل زنداني وو، دنګه ونه، اوږدهٔ ویښتان او غټه تنه وره څیره ئــې درلوده او ویل ئــې د افغانستان د هزاره وو له سیمو څخه دی. په روسیه کې ئــې د پولیسو لنډ مهالی کورس لوستی او دهٔ په خپله خولـهٔ اعتراف کاوهٔ چې د «خلق د ډیموکراتیک ګوند» د «خلق» د څانګې غړی وو. دوه درې ورځې وروسته ئــې یو ناروغه بې سواده کلیوال ځوان هم راوست. دی هم د شمالي د کوهدامن له سیمو څخه وو (نوم ئــې زما له یاده وتلی دی). د میرګې «صرع» ناروغي ئــې درلودله. هر کله به چې ناروغي ورباندې برید وکړ، نو بې سده به سو. دی به مو ټینګ ونیو چې ځان ته تاوان ونــهٔ رسوي. کله نا کله به د هغــهٔ د سوکانو او لغتو له ضرباتو بې نصیبه نــهٔ پاتې کــېدلو. کله چې ددغـهٔ ناروغه او ساده ځوان زار او خوار حالت ته مې کتل نو باور مې نه کــېدهٔ چې دی دې په سیاسي یا جنګي مسایلو کې ښکیل وي، که داسې وه نو سل آفرینونو دې ورباندې وي! په دې صورت کې دا خبره د لمر په شان روښانه او ځلانده واقعیت دی چې ددې ټاټوبې رښتوني بچیان «نر او ښځې» د پوهنتون له استاده نیولې تر بې سواده او ناروغه پورې ټول د جنایتکارو روسي نیواکګرو او د هغوی د وطني مزدورانو پر ضد د خپل مورني هــېواد د آزادئ د سنګر او استقلال څخه په میړانې دفاع کړې ده.

د زندان په کوټه کې راسره بندي «خلقي» که څــهٔ هم له کومې بې وزلې کورنی څخه وو خو بیا هم له موږ سره جوړ نــهٔ وو. یو ډول خانتما تکبر ئــې په ځان کې لیدل کــېدهٔ. ښایي نوموړی د خپلو ملګرو له کړو وړو څخه ناراضه وو چې ولې ئــې دی له «بې فرهنګه» اشرارو سره په یوې کوټې کې اچولی دی! «پایواز» ئـې نــهٔ درلود. د صدارت د کوټه قلفیو خط خطي جامې ددهٔ په ځان کې لنډې وې. له همدې اسیَـته دې ډېر ځورېدهٔ او شپه او ورځ به ئــې نالښت وو. دې ته سترګې په لار وو چې ګڼې لږ تر لږه خو «ملګري» دې ورته مناسب کالي برابر کړي. موږ ته به ئــې په ځان کې د نظارتخانې جامې راښودلې او په قهرژلې ژبې به ئــې وویل :« وګورئ، دا هم کالي دي؟!» ښایي دهٔ به رښتیا ویل چې د خاد د تحقیق د ریاست ژیړ چکې جامې په ټولې نړئ کې تر ټولو زړهٔ ځوروونکې او مسخره جامې وې. د زندانیانو قد او قامت دواړو په هیڅ ډول له داسې جامو سره تناسب نــهٔ درلود.

ددغـهٔ نازولي ښاغلي د سواد او معلوماتو کچه ډېره ټیټه وه. ان کلمات ئــې په سم ډول نـهٔ شوای تلفظ کولای، د معنی پوهېدل خو ئــې په ځای پرېږده. سیاسي اصطلاحات به ئــې په غلطې نیمګړې ژبې او ډېري وختونو به ئــې بې ځایه کارول. د ورځنیو پیښو، قضیو او مسایلو په هکله به ئــې عامیانه او له خپلې ګېډې جوړ تحلیلونه ورکول. هغه څــهٔ ئــې

---

[22] - د «بسمچ» کلمه د روسي ژبې له Басмачество څخه جوړه ده چې هماغه د «اشرارو» په معنی ده او روسانو د شلمې پېړۍ په پیل کې د منځنۍ آسیا د روسي ضد جنګیالیو لپاره کاروله.

چې له خپلو نورو ملګرو اورېدلې ول په ځلونو ځلونو ژوول. له بسه چې ددۀ لکچرونه مې واورېدل او ستړی ئــې کړم نو د خولې په خوځـېدلو به ئــې مخکې له مخکې پوهـېدم چې د خبرو آجنډا ئــې څــۀ ده.

ما د سیاست ډغرې نـۀ وهلې خو دۀ به ځان د خبرو دډګر یوازینی اتل ګڼـۀ. د خپلې پوهې لاپې او باتې به ئــې ویشتلې او خپل معلومات به ئــې په پیغور زما پر مخ ویشتل. خو له دغو ټولو خبرو سره سره یوازینی امتیاز ئــې دا وو چې په زندان کې دننه له جاسوسانو او شیطنتونو څخه ئــې خوښ نــۀ راتلل. هر کله به چې نوموړي د چا خبره د هـېواد د سیاسي – پوځې حالاتو په باب نظر ورکاوۀ نو دا خبره به ئــې په کې په خوند تکراروله چې :« اشرار ددولت پر وړاندې هیڅ دي. ټغر ئــې تر آخره پورې ټولیږي.»

دغـۀ ځوان له یوې خوا له خپل ګوند او حکومت څخه دفاع کوله خو بله اړخه له خپلو ګوندي ملګرو ګیله مند وو چې ددۀ په حق کې ئــې ظلم کړی دی. کله نا کله به ئــې پر خپلو دسیسه بازو ملګرو پریمانه سپکې سپورې وویلې. د ګوندي اختلافاتو په هکله ئــې خبرې کولې او د ملامتی پیټی به ئــې د پرچم د څانګو پر اوږو باراوۀ. لیدل کـېدل چې د تحقیق په لړ کې ئــې وهل هم خوړلي ول. ادعا ئــې کوله چې ګڼې پرچمیانو ورته دسیسه جوړه کړې او د ګوند د خپل منځي اختلافاتو قرباني شوی دی. نوموړي هـېڅکله خپل تور «اتهام» افشأ نـۀ کړ. کله نا کله که په سد او خوښ وو نو د خپلو عیاشیو قصې به ئــې کولې – ددۀ په خپله خبره چې د «عیش او شرابو د ټاټوبي» داستانونه به ئې په خوند ویل. نوموړی له موړ سره تر ډېرې مودې پاتې نــۀ شو. نــۀ پوهـېږم چې بلې کوټې ته ئــې بوت یا ئــې خوشې کړ او یا ئــې هم سر ورته تر وزرونو لاندې کړ.

د «خلقي» له تللو څو ورځې وروسته یو بل ځوان ئــې راووست، د شلو یا دوه ویشتو کالو په منګ به وو. لږ خبرې ئــې کولې، خو خبرې ئــې په ځیر وې، د ساړۀ طبیعت خاوند وو. خپل نوم ئــې راته عبدالوهاب او د کوهدامن د سرای خواجې «میر بچه کوټ» اوسـېـدونکی معرفي کړ. په هماغه لومړیو کاتو پوه شوم چې دا ځوان که څـۀ هم عمر ئــې خام دی خو عقل ئــې پوخ دی. زما او د هغـۀ بل کلیوال خبرو ته ئــې پـۀ ځیر غوږ نیوۀ او خپله به ئــې څـۀ نـۀ ویل. سترګې به ئــې ماته نیغې کړې او کله نا کله به ئــې پر شونډو د موسکا غوټۍ وغوړېدله. ټولو حرکاتو ئــې د تیزې هوښیارۍ او بصیرت څرګندونه کوله. په چابکۍ له ځایه پورته کـېـدۀ. که څـۀ هم کوچنی جُسه ئــې درلودله خو د پریمانه جسمي ځواک خاوند وو. ددۀ له خبرو او کړو وړو په آسانه پوهـېـدلې چې مؤدب او د تربیت خاوند انسان دی.

د خواشینی ځای دا دی چې د زندان چاپیریال داسې ځای دی چې هر څوک له یو بله ډارېږي. د خلکو خبره داسې ډار چې ان سړی د خپل ځان له جامو څخه ډارېږي. دغه ویره او وسواس له یوې خوا د زندان او د تحقیق د پړاو یوه اړتیا ګڼل کـېږي، له بلې خوا ډېر ښـۀ امکانات او فرصتونه هم ضایع کوي. هغه له اخلاص او مینې ډک لاسونه چې ستا لور ته یوازې دوستی او مرستې په پار اوږدېږي تـۀ مجبور ئــې چې هماغسې ئــې پـۀ هوا کې تش پرېږدې. د همدغو معاذیرو له کبله ول چې ما ډېر کم داسې امکان موندلی چې د معرفت او پوهې،پیرزوینې، ایثار او ځوانمردیو له ګرانبیعو مرغلرو سره ناسته ولاړه او نظر تبادله کړم. د همداسې شریفو انسانانو په منځ کې یو هم همدا عبدالوهاب وو چې په خواشینی تر وروستی ورځې پورې مې ورسره په آزاده زړۀ، ورسره د زړۀ خوالـۀ ونــۀ کړل او نــۀ د دوه وو په هـېواد مَینو بچیانو په شان یو بل ته نـېږدې

زنگون په زنگون کښېناستلو. له چلند څخه ئــې پوه شوم چې ما پېژني. هغــهٔ د خپل شهید ورور نوم، انجنیر شیر، چې د ساما یو مېړنی مبارز وو یاد کړ. په دې کورنۍ پورې ددهٔ اړیکه، څېره او د خبرو اترو او کړو وړو بڼه ئــې ماته کافي وه چې ددهٔ په دې ادعا کې کوم شک و نــهٔ کړم.

د تحقیق د ریاست د چلند بڼه زما پر وړاندې بدله شوه. جسمي – رواني شکنجې یو ځل بیا پیل شوې. پوهېدم چې د «آرامی» دوره مخ په تېرېدو ده او بیا د سپکو سپورو، د متروکو او ترټ «قمچینو» د شړک وار رارسېدلی دی. «زما چرگ یوه پښه درلوده – مرغ من یک لنگ داشت»، او زما سرټمبگي د خاد د شکنجه گرو له بدورگي «خشن» طبیعت سره جوړ نــهٔ راتــهٔ. دوی به ځانونه د ټولنې د بې وزلو پاړکو «طبقاتو» خادمان بلل خو ددوی داډمنې، د زړهٔ مینه او لیوالتیا له ولس او هېـواد وال سره نــهٔ بلکه هغو یو لکو شلو زرو « انترنالسیونالیستو سرې وژونکو» سره وه چې ددوی په تفکر، خیال او کړو وړو کې ئـې د کبر، غرور او امتیاز- غوښتنې او تر ټولو بد تره د «نــهٔ ماتېدلو» زهر تزریق کړي ول. د خاد خانتما مغرورو مستنطقینو گومان کاوهٔ چې شا ته ئــې غرونه ولاړ دي او پر نــهٔ نړېدونکې غرهٔ ئــې ډډه لگولې ده. له دې کبله دوی فکر کاوهٔ چې د فرعون له مقامه ټیټ مقام له دوی سره ښــهٔ نــهٔ ښایي! ددوی له عملي او فعلي پرته بل چا د سا ایستلو حق نــهٔ درلود. ټول ولس باید «د ځارویو د خوشایو له مردارېو د جوړو بتانو» ښنو ته په زنگنو ناست او ټیټ شوي وای او د استبداد، ارتجاع او امپریالیسم له منگولو څخه دې د ژغورنې په پار ورته شکرانه تر سره کړې وای! په داسې یوې اوضاع کې، په وینو لژند خونړي تاج او تخت ساتنې ته اړین ول چې خادیست تبر په لاس تیرغمالان دې د ناجو دنگې ولاړې ونې ووهي او له خاورو سره ئــې یو کړي. له همدې اسیـّـته «سبب» وو چې کومه شپه به نــهٔ وه چې دوی به پــهٔ ماپسې نــهٔ راتلل. هر وار به ئــې په لسهاوو لیکلي او شفاهي پوښتنې کولې. په پوښتنې پسې پوښتنه. کله به ئــې چې «قناعت بخښونکې» ځوابونه تر لاسه نــهٔ کړل نو استعلام به ئــې کلوله کړ او زما پر مخ ئــې راوویشت. په پای کې به چې ددوی میرزا قلمیو کوم ځای ونــهٔ نیو نو بیا به هماغه سپکې سپورې ناولې وې، وهل ول ټکول ول او د بزکشۍ غویمنډ.

یوه شپه د تحقیق په لړ کې مستنطق سید اکرام راڅخه وپوښتل : « ستا کالــهٔ ته چا تگ راتگ کاوهٔ؟» ومې لیکل :« زما خپلوانو او زما د کورنۍ غړو». په بې حیایۍ ئــې وویل : «مقصد مې ستا د ښځې لونډه گان دي». دغــهٔ سپک نامرده مخکې هم خپله ککړه خوله په سغندیو «رکیکو» الفاظو لا ککړه کړې وه، خو دا ځل مې ورته طاقت ونــهٔ سو کولای. کله چې وحشي جلاد توند او سخت ځواب واورېد مخ ئــې لکه لوگي تور وواوښت. شونډې ئــې په رېږدېدا سوې او د ډېر خښم له لاسه ئــې خپل غاښونه په غاښ چیچنې پر یو بل سولول. سترگې ئــې راباندې نېغې کړې. لومړی ئــې تر شونډو لاندې غځ غځ وکړ او بیا لکه خښمېدلی ییږ له ځایه پورته سو او وهل ټکول ئــې پیل کړل. زه ئــې تر هغو ووهلم چې نور له سده لاړم. کله مې چې سترگې خلاصې کړې گورم چې د بندیخانې د کوټې د غولې پر مخ پروت یم. نــهٔ پوهېږم شپه څومره تېره شوې وه. ومې لیدل چې عبدالوهاب مې سر ته ناست دی. په ډېرې سختۍ مې دونی وکولای سول وپوښتم «تر اوسه نــهٔ ئــې بیدهٔ شوی؟» هغــهٔ څــهٔ ونــهٔ ویل، یوازې ئــې سر د نــه په علامت وښوراوهٔ. پام مې سو چې ستونی ئــې د رخې او سخې «بغض» له لاسه دومره پرسېدلی چې نېږدې ده وچوي. سترگې ئــې له اوښکو ډکې سوې. ته به وایې چې د همداسې درد د غوټې د خلاصولو لپاره زما راتگ ته سترگې په لار وو. په داسې حال کې چې د اوښکو پرله پسې څاڅکي ئــې له سترگو بهېدل دا جمله ئــې په خولــهٔ راوړله : «کاشکې ستا پر ځای ما ووژنې!»

څنګه کولای سم ددې لنډي، انګازوري او زړه راښکونې جملې صداقت او د ميني دداسي کم پيدا مرغلرو توپول له ياده وباسم؟ خپلې ژړغونې سترګې ئــې په خپل لستونې وچولې او بيا به ئــې په لپو لپو وژل. د اوښکو د باران کتل مې ځيګر را کباب کړ. نــهٔ پوهــېـږم چې د اوښکو دغه باران پر ما د زړهٔ سوي نښه وه يا د ځان لپاره د عجز بيان؟ زه هغه عجز يادوم چې په ځلونو ځلونو ئې زما روح او ځان دواړه سوځولې دي. کاشکې د شاتو مچې واى چې په يوهٔ الوت مې د ميني او اخلاص د ګلانو شيره څاڅکي څاڅکي راټوله کړې واى او نــهٔ مې واى پرېښودلې چې د روسي ښکيلاکګرو په سرتېرلي مسلخ کې بې ځايه توى شوې واى! پس له څو شيبو مې ټول ځان په وياړ او غرور ډک سو. هو! ملګرو مې په خپل انتخاب کې غلطي نــهٔ وه کړې. زړهٔ مې توسېدهٔ چې ټينګ ئــې په غېږ کې ونيسم. خو ....

د سوکانو او د لغتو ګوزارونو زما په غاړې، سينې، سر او پښو کې زښت ډېر شديد درد پيدا کړی وو. ستونی مې پړسېدلی وو او ډوډۍ او څښاک مې نــهٔ شواى تيرولی. سرې تبې زما د تن جرړې سوځولې. نــهٔ پوهېږم چې تر څومره مودې پورې په کوټه کې پاتې سوم. دا موده راباندې زښته ډېر سخته تيره سوه. عبدالوهاب له هيڅ خدمته ځان نــهٔ سپماوهٔ. د ډوډۍ د کاسې له منځه ئې خوراکي غوړي ټولول او زما پر ځان ئــې موښل. ددې تر څنګ دی په يوې سامايي کورنی پورې تړلی وو په خپله هم د ساما يو فدا کاره غړی وو. دی ئــې د کابل ښار د وزير اکبر خان له سيمې څخه نيولی وو. خاد ته د نيول شويو کسانو د ګڼه ګونې او د زندانيانو د ډېروالي له کبله ناشوني وه چې په هره کوټه کې يو يو نفر واچوي، پرته له هغې، دوی له يوهٔ سازمانه دوه وو تنو ته په يوې کوټې کې ځای نــهٔ ورکاوهٔ.

عبدالوهاب د خپلو زغملو او ليدلو شکنجو قصې کولې. اورېدل ئــې راته ګران او سخت وو، خو ددهٔ روحيه تر دې کچې عالي او لوړه وه چې ګومان به دې نــهٔ کاوهٔ چې کومه ستونزه ئــې په مخ کې پرته وي. کله چې ما ددهٔ باطني خوښي او کلکوالی ليدهٔ نو د حيرت ګوته به مې پــهٔ غاښ کړه. دهٔ به د ډوډۍ له ماغزو د تسبيحو او شطرنج داني جوړولې او د خپل وخت د تيرولو په پلمه به ئــې د خپلې کوټې له ملګرو سره د شطرنج لوبه کوله. عجيبه حوصله ئــې درلوده، هر کله به چې د کوټې د تلاشۍ پر مهال ئــې ددهٔ د شطرنج داني يووړې، نو د نورو دانو د جوړولو لپاره به ئــې چمتووالی نيوهٔ. د ځای له تنګوالي سره سره ئــې ورزش نــهٔ قضا کاوهٔ. د نوکانو د سوهان کولو لاره دهٔ راوښودله. له هغــهٔ وروسته به مې خپل اوږدهٔ نوکان د کوټې په سمنټي ديوال موښل.

په هغه ورځ چې عبدالوهاب ئــې د څرخي پلــهٔ په لور بيوهٔ يوه جوړه جامې ئــې راته د يادګار په دود راکړې. دی له ما بيل سو خو د ليدلو لــېــوالتيا ئــې هيڅکله يوازې پرېــنښـودم. د هغــهٔ له ښـېـګنو څخه د مننې توپان مې په سينه کې څپې خپرولې او دا توپان به له يوې کوټې تر بلې کوټې يو ځای راسره خوځېدهٔ. له هر چا مې که ددهٔ پوښتنه کوله چا ئــې څرک په لاس نــهٔ راکاوهٔ. د زړهٔ له تله مې هيله کوله چې ژوندی اوسي. نــهٔ پوهېږم دا خبره په کومه ژبه وکړم، زما د زندان شپږم يا اووم کال وو چې ددغــهٔ بې مرګه ځوانيمرګ د پښو پل مې له خپل ګران همسنګره پيدا کړ. د څرخي پلــهٔ زندان ته له وړولو څو مياشتې وروسته ئــې پوليګون ته بيولی وو. د خلق ډيموکراتيک ګوند سرې وژونکو عبدالوهاب تر خاورو لاندې کړ خو و ئــې نــهٔ سو کولای چې وئــې ژني، دا ځکه چې رښتونی مرګ ددهٔ د قاتلانو په نصيب دی. دا جنايتکاران دي چې مري ان

که په لارو گرځي، او ډوډۍ وخوري او وغاپي، بیا هم دوی مړهٔ دي. د شعر او کلام د ملکي فروغ فرخزاد په خبره « څوک مري او څوک پاتي کېږي»، د عبدالواهاب آزاده روح دې ښاده او خاطره دې تل پاتې وي!

پس له دې چې عبدالوهاب ئــي د څرخي پلــهٔ زندان ته ولـېږداوهٔ، پهره دار، یو ډنگر وزمی سړی زموږ کوټې ته راوست. هغـهٔ خپل ځان د انجنیر نور احمد پـهٔ نامــهٔ راوپـېژاندهٔ او ویل ئــي چې د صوفي محمد شنا په مشرۍ د (سازمانِ کارگرانِ جوان افغانستان «کجا») غړی دی. له شخصي اړخه نیک چلنده، زړهٔ سواندی، مؤدب، شریف او مهربان سړی وو. ما ته دا ډاډمنتیا را په زړهٔ سوه چې انجنیر نور احمد سپکو کارونو او له هغې ډلې څخه یوه هم جاسوسي ده او ډاډه سوم چې دی دغو کارونو ته لاس نــهٔ اچوي. دهٔ به د سیاسي مسائـلو په هکله خبرې کولې. د خبرتیا او پوهې کچه ئــي غنیمته وه. د حکومت پر سیاستونو ئــي نیوکې کولې خو کله به چې د روسانو په باب د خبرو وار راغی نو احتیاط به ئــي کاوهٔ. پوهـېدم چې د «افغانستان له نیواک» سره چنداني موافق نــهٔ وو. په دې هکله خبرو ئــي ناڅرگند دریځ درلود، ان یوه ورځ ئــي وویل : «که روسان نــهٔ ول راغلي، په امین باندې د چا زور نــهٔ رسیدهٔ.»

د نیول نیولو د پراخو څپو له کبله د خاد څوگوني ریاستونه، د تحقیق ریاست او د څرخي پــلــهٔ زندان دومره ډک شوي ول چې د چا خبره تر ستوني ډک ول. زموږ کوټې ته ئــي څو تنه نور راوړل او بیا ئــي بوتلل، له دې ډلې څخه د کابل له ښاره یو ځوان محصل وو. دهٔ د حزب اسلامي افغانستان غړیتوب درلود. مرموز، ستغ «زمخت»، غلی او سرسخته ځوان وو. دی ئـي ډېر شکنجه کړی وو. د درد له شدته ئــي نالښت کاوهٔ. په شپو شپو ئــي خوب نــهٔ درلود، خو دهٔ هماغسې په ټینگه مقاومت کاوهٔ.

دوه درې ورځې پس ئـي یو بل په ونه دنگ، تنه ور، هډور او خوږ بیانه سړی زموږ کوټې ته راوست. ویل ئــي چې پخوا ښوونکی وو او اوس د وسلوالو ځواکونو افسر دی. زموږ له تصوره پورته ډېر ژر له موږ سره ئــي خوی ونیوهٔ. کله به مې چې هغــهٔ ته د تورن صاحب خطاب کاوهٔ نو ناکراره به سو او هیله ئــي کوله چې د ښوونکي «معلم» په نامــهٔ ئــي یاد کړو. که مې ذهن نــهٔ وي خطا شوی، نوم ئــي نوروز او د هرات د ولایت د شینډنډ له سیمې څخه وو. د خلق په ډیموکراتیک گوند کې ئــي خپل غړیتوب پټ نــهٔ کړ. خو له دې سره سره ښــهٔ اوصاف ئــي درلودل. هیڅکله ئــي خولـهٔ په سپکو سپورو خبرو نــهٔ خلاصوله. تر ټولو مهمه دا چې د ځوانمردۍ خصوصیت په کې لیدل کـېـدهٔ. له موږ سره ئــي داسې چلند کاوهٔ ته به وایې چې د یوې کورنۍ غړي یو[23]. یوه ورځ ئــي په محرمانه ډول راته وویل : «مستنطق راته ډاډ راکړی چې خوشې کـېږې، که داسې وي، راته ووایه چې دباندې څه خدمت درته کولی سم؟» له سترگو ئــي د صداقت باران ورېدهٔ. د دې مودې په لړ کې چې ورسره وم ددهٔ ټول حرکات، چارچلند، ان د سترگو او وروځو د تاوولو راتاوولو ښه مې تر څار لاندې نیولې وه. دا زما کورنۍ ته د اطلاع ورکولو یو ښــهٔ چانس وو چې باید گټه مې ورڅخه اخیستې وای. پوهـېدم چې زما د کړېدلې کورنۍ ټول غړي زما لپاره لالهانده، کړهانده او ناکراره دي، په ځانگړې توگه دا چې پوهـېدم سپین سرې مور مې د

---

[23]- کله چې د یوهٔ زنداني له نیکو اوصافو یادونه کوم، زما د نظر ملحوظ یوازې د زندان چاپیریال دی. له زندانه دباندې د اعمالو او کړو وړو قضاوت بیله موضوع ده. ښایي یو یزید وو او بل بایزید

خپل زوی د بیلتانــهٔ په کړس کې خوراک او خوب دواړه پر ځان حرام کړي ول. ددې وړاندیز په باب مې فکر وکړ. په پای کې مې پرېکړه وکړه چې خپلې کورنی ته د هغوی په پته د ځان یوه نښه ولیږم چې افشأ کول ئــې کوم جدي خطر ونــهٔ لري.

د معلم نوروز خبره سمه وه، خلاص سو. یوه اونی وروسته مؤظف سرتیري یوه جوړه کالي له نښې سره یو ځای راته راوړل. په هغـهٔ «پرزه خط» کې چې زما له کالیو سره یو ځای وو زما د خور نوم «روشنا» نوم مې ولوست. زما کورنی له څلور نیمو میاشتو وروسته خبر وموند چې زه ژوندی یم او د صدارت په کوټه قلفیو کې بندي یم.

تعامل داسې وو چې زندانیانو به له خپلو کورنیو څخه د پاکو «مینځل شویو» کالیو له ترلاسه کولو وروسته خپل خیرن کالي بیرته د سرتیري په لاس خپل پایواز ته چې له عمومي دروازې دباندې ئــې انتظار ایست، لـېږل. ما هم باید دا کار کړی وای، خو حیران وم چې په کوم جرئـت خپل په وینو لژند او ځیرې ځیرې کالي خپلې خور ته ولیږم، ځکه ددغـهٔ سوغات په لیدلو زما کورنی ماتم جوړاوهٔ. ډارېدم چې که مور مې زما په وینو ککړ کالي وګوري نو خدای مـهٔ کړه زړهٔ به ئــې ودرېږي. خو د خبرې بل اړخ مې نــهٔ وو سنجولی چې د مور سترتوب یوازې د خپل د زړهٔ د ټوټې په وینو لژند کالیو تر څنګ ژړا نــهٔ ده. زما لیږل شوې ډالی ددې لپاره وه چې زه تر دې دمه ژوندی یم او په نړۍ کې د یوازېنی مرغلرې د زړهٔ د تسل لپاره وه. هو! زما غملړلي مور زما په وینو لژند ټوکر ټوکر کالي په سترګو موښلي ول او تر کلونو کلونو – له زندانه زما د خوشې کیدلو تر مهاله پورې- ئــې ساتلي ول. بهشت معلی دې ځای وي!

«معلم نو روز» په خپلې خبرې وفا وکړه او د ځوانمردۍ دود ئــې پر ځای راوړ. له هغې ورځې تر ننه دادی څـهٔ نا څـهٔ دېرش کاله تیرېږي، خو د هغــهٔ نیکي او احسان لا تر اوسه ددهٔ د دنګې ونې په شان زما د سترګو مخې ولاړ دی. هغه که هرڅوک وو او هر څــهٔ چې وو، پر ما ئــې منت کښـېښود. زهٔ خپل ځان ددهٔ د نیکۍ او وفا مننداوی او پوروړی ګڼم. هر چیرته چې وي اوبـهٔ ئــې سرې او ډوډۍ ئــې تانده او توده!

ښایي دا خبره د کرېدلو او په زړونو داغېدلو کسانو خوښه نــهٔ شي که ووایم چې نــهٔ شو کولای لـه دې خبرې منکره شو چې د خلق د ډیموکراتیک ګوند په صفوفو کې پاک طینته انسانان هم موجود ول.

# څلورمه پرده

خاقانی اگر بسیج رفتن داری
در ره چو پیاده هفت مسکن داری
فرزین نتوانی شدن اندیشم از آنک
در راه بسی سپاه رهزن داری

د سپيڅلو رنځونو لالهانده سانګه «قافله» د مقاومت او ضد مقاومت د پېټر «ګذرګاه» پر پړاو ګام ږدي، هغه پېټر چې هر پل ئــي لــهرونه «ګودال» او څاه ګاني لري. له دغو خنډونو تــېرېــدل کوم سست فکره او خام تصوره کار نــهٔ دی، ځکه چې وينې څښونکی ميرځمن په منظم او سنجول شوي ډول تل او هر چيرې څک او کابو په کمين کې ناست دی – هغه ميرځمن چې پــهٔ يوهٔ لاس کې ئــي غيشی او په بل لاس کې ئــي لوپ او نيرنګ دی. هغه لار روی چې وغواړي له دې اوږدې او کړليچني لارې په سلامتی تير س ي نو ددې لارې د سفر په اوږدو کې دې له ځان سره په کڅوړې کې هوښياري، ايمان او مقاومت ولري. د «آزادئ يا مرګ» د کتاب ليکوال نيکوس کازانتزاکيس په دې باور دی چې : نروالی او نارينتوب يوازې د سالم او پياوړي جسم په لرلو نــهٔ دی بلکه د پياوړې او هوډمني روح په لرلو دی. ميرانه په روح اړه لري نــهٔ په جسم.[24]»

دا چې ولې ما د خپل سرګذشت دغه برخه «څلورمه پرده» عنوان کړې نه بايد فکر وسي چې ګڼي قلم مې د «غم – ليکنې» له لوري «ډرامه – ليکنې» خوا ته ځي. دلته له څلورمې پردې څخه موخه هماغه د تجريد زندان او د زنداني او باندنی نړئ تر منځ د هر ډول اړيکي پرېکون دی، دا هغه ځور دی چې د زنداني روح او روان ته په بې رحمی اور اچوي.

له نورو زندانيانو ئــي بيل کړم. زه وم او د صدارت د زندان د تړلې دروازې کوټه. يوازيتوب او ګوښيتوب لوی مصيبت دی! کله چې انسان ګوښي ګوټ او يوازې سي نو په ځان کې ډوبېږي، د بيچارګی احساس کوي او ټوله نړئ ورته دومره کوچنی سي لکه همدا کوټه چې دی په کې اسير دی. د لويديځ معاصر رمان ليکونکي جيمز جويس څومره په ځای خبره کړې چې :« د مجرد زندان «کوټه قلفی» د يوې ورځې د خاطرو په هکله کولای سو کلونه کلونه فکر وکړو». د زندان په ويروونکو کوټو کې د يوهٔ همکلامه، هم ژبي او همدرد شتون هم ستر غنيمت وي. ان کله نا کله سړی د خپل زړه د غږ په اورېدلو او د خپل سيوري په حضور هم تسل کيږي. ما چې د زندان د کوټې له بنديانو سره عادت اخيستی وو، يوازيتوب راته تر پخوا لا زړهٔ تنګوونکی ښکارېدهٔ. د يوازيتوب له خپسکې «کابوس» څخه د خلاصون او د يوې سرګرمی د موندلو لپاره يوه چاره مې په ذهن کې پيدا سوه.

زندانيانو په خپلو منځو کې شفر درلود چې په هغو ئــي کولای شوای ځيني معلومات تبادله کړي. له دې ډلې يو شفر هم د ګاونډي ديوال ټکول ول. کوټې د يو بل تر څنګ وې. کله به چې د کوټې منځنی ديوال وټکول شو نو د ګاونډئ کوټې زنداني به غږ واورېد او عکس العمل ئــي ښکاره کاوهٔ. ما هم د خپل څنګ ديوال وټکاوهٔ. ګاونډي په ځواب کې «شفر» راکړ. داسې ښکارېدهٔ چې دی په زړهٔ تنګ او يوازې ناست دی. ددويمې اشارې له رسيدو سره سم ګاونډي په لوړ آواز چيغه کړه :

---

[24] - زه دا خبره تر هغه مهاله بشپړه نــهٔ ګڼم چې د «ښځې» او «ښځمنتوب» مفهوم هم په کې ښکيل نــهٔ وي.

ازینجه تا شمالی کا ر دارم　　　به کوهدامن یکی دلدار دارم
خدا یا چارهٔ کارِ م را ساز　　　به دل ارمانهای بسیار دارم

ددې آشنا غږ په اورېدلو مې د وجود په رګ رګ کې د تیرو خاطراتو ځپې په خوځښت راغلې. دا زما هم ځنځیره، همګامه او همباوره ملګری انیس آزاد وو چې زما له نیول کېدلو څو ورځې وړاندې د میرځمن په منګولو کې اسیر شوی وو[25]. دا ځل انیس دیوال وټکاوهٔ. خولــهٔ مې د کوټې دیوال ته نــېـږدې کړه او دا بیت مـې زمزمه کړ :

همو روزی که از پروان کوچ کردم
چه بد کردم که پشُت با دوست کردم
رسیدم سرِ کوتلِ شمالی
نشستم گریهٔ پُر سوز کردم

انیس آزاد په مست غږ وویل : «واه واه! بیشک» زړهٔ مې لږ آرام سو ځکه ددیوال بله خوا کې زما همسنګره ملګري سا ایستله او زړونه مو د یوهٔ آرمان لپاره تپېدل. په سبا ئــې د انیس د غږ د اورېدو په هوس کې مې دیوال وټکاوهٔ خو ددیوال له بلې خوا څخه غږ رانغی.

انیس آزاد مې د لومړي ځل لپاره په مخامخ ډول د ۱۳۵۹ل کال د غبرګولي په میاشت کې د کوهدامن د شکر درې په سیمه کې په یوې سازمانې[26] غونډې کې لیدلی وو. د غونډې له پای ته رسیدو وروسته انیس آزاد، زه او حمید «د یاسین په مستعار نوم» د کرېږ تر سرک پورې بدرګه کړو. ډېر سخت شرایط ول. له ځمکې او آسمانه ټکه او آفت وَرېدهٔ. انیس پوهـېدهٔ چې له کومو لارو لاړ شي چې خطر ئــې لږ وي. د هغـهٔ په هر ګام او یون کې ځیرتیا، هوښیاري او د پازوالی او مسؤولیت حس څرګند وو. انیس آزاد د خپلو نورو ځانګړتیاوو تر څنګ شعر هم وایـهٔ چې یوه بیلګه ئــې دا ده :

## «کولـی»

کولی شکسته دل بی هدف نیم کــز　　　راه رفـته باز کـشم پای خویــش را
یا آنکه از گزند ره و نـیش خار هـــا　　　درپیش رهروان شکنم عهدخویش را
درنیمه شب که ازپس این پردهٔ حریر　　　می دیدم آن ستارهٔ کم نور خــواب را
من با هجای دیـــگر و فریـاد دیگری　　　می خوانــدم ســرود سرخ آفـتـاب را
آنشب که بــوی عطرِ غریبانــهٔ گیاه　　　مــی کرد تــازه کـوره ره امتــداد را

---

[25]- اروابناد انجنیر محمـد علي په هغـهٔ کور کې ژوند کاوهٔ چې زموږ د سازمان د ځینو کتابونو او لاسوندونو د چاپ وسایل په کې ځای پر ځای شوي وو. دښمن ددغـهٔ کالــهٔ د پټنو خاپ وموند. انجنیر محـمـد علی له خپل ورور او خور سره یو ځای ونیول شول. خادیستانو هلته کمین نیولی وو چې نور کسان هم ښکار کړي. کله چې انجنیر میرویس او پویا دواړه دغــهٔ کالــهٔ ته راغلل نو د دښمن په لومه کې ونښتل. په دوی پسې امین آزاد هم ددغــهٔ کمین ښکار سو.
[26]- د ساما لومړنی کنګره د کوهدامن په شکر دره کې جوړه سوه.


چون کولی ایکه از همه جا دل بریده است
می خواندم سرود خوش بامداد را

آنـروز هـا سـتـــارهٔ بخت سیــــــاه من
در آسمان چشم تو هرگز نمی نمود

سیـلاب سهـمناک خروشان لــحظه ها
یکسر مرا ز ساحل آرامشـم ربـود

آری کنون که درخـم یک کوچه مـانده ام
فریـــاد باز گشتن مــن مرد در گلو

تو از سپـیده هـای زمان پرُس و بـازگـرد
آنگاه راه رفـتن مـن را دو باره گـو



انیس آزاد

# بلې ځنډې «ضلعې» ته لــېږدول

ډېر وخت لا نــهٔ وو تـېر شوی چې پهره دار د لوړ پوړو مقاماتو په امر زه له یوې ځنډې څخه بلې ته ولـېږدولم. نوې کوټه له هماغو لسو کوټو سره جوخته «لسمه کوټه» وه چې ارواښاد عبدالمجید کلکاني په کې نفس ایستلی وو. کله چې خپل لومړی گام مې پر دالان کښـېښود نو د مجید دا له شوره ډکه مستانه وَلوَله مې تر غوږ راغله :

«موري! ستا په اتل پالي پاکي غيرې، ستا د شهيدو زامنو په سرو وينو رنګيونو سينو، ستا د نړېدلو ښارونو او کليو په سرو سنګرونو، او ستا په غچ اخيستونکي خښمناک فرياد مې دې سوګند وي چې ترڅو مو د خپل ګران ټاټوبي لمن د ښکيلاک له ککړتيا او د هغـهٔ د ګوډاکي رژيم له نجاست څخه پاکه کړې نـهٔ وي خپله د رزم وسله به پر ځمکه کښېـنـږدو.[27]»

تيارهٔ تور تم دالان د هېـواد د زامنو د بې شميرو، درندو کړاونو او رنځونو په ياد وغورځولم، هغوی چې د افغانستان د آزادۍ لپاره دلته بنديان شوي ول. په دې پوهېـدم چې دا کهين «منفور» ځای د يو شمير سرښندويو ايثارګرو وروستنی پته وه.

د هغه عذاب په پار چې دوی ددښمن له لاسه زغملی وو او ددوی د آګاهانه مقاومت په ياد مې د درناوي او تکريم سر ټيټ کړ. دا يوازې زه نـهٔ وم چې ددغو اتلانو د سوبمنو ارواحو په مخ کې مې خپل درناوی وړاندې کاوهٔ بلکه د زندان اوسېنينو ميلونو هم ددوی د نـهٔ ماتيدونکي او خلل نـهٔ منونکي ايمان پر وړاندې سرونه په سجده ايښي ول.

د صدارت زندانيانو دا لس کوټې د «روسانو د کوټه قلفيو» په نامــهٔ يادولې او دا ځکه چې ددغو لسو واړو مرګونو کوټو اختيارات روسانو «د کوماندو ډلې» په لاس کې اخيستي ول. زما کوټه په دغو لسو واړو کوټو کې نـهٔ راتله بلکه د همدغـهٔ دالان پـهٔ پيل کې وه «څوارلسمه يا پينځه لسمه کوټه وه». دا هغه ځای وو چې له باندنی نړۍ سره ئــې اړيکه ډېره محدوده وه. زما د کوټې اندازه تر مخکينی کوټې په ځلونو کوچنی وه او په ځلونو ځلونو زړهٔ تنګې او ويروونکې. ان کوم غږ هم غوږونو ته نـهٔ راتـهٔ. ورځې او شپې تـېـرېدلې خو چا مې احوال نـهٔ اخيست، حال دا چې له دې مخکې هره شپه يا يوه شپه تر منځ د تحقيق په موخه بيول کيدم. زما اړيکه ئــې له هر شي سره پرېکړې وه. ما چې په دې خولپوټې ځاه کې يوازې د خپل زړه درزهار اورېدهٔ د يوازيتوب رښتوني معنی مې تجربه کړه. کله کله به مې له ځان سره ويل داسې نـهٔ وي سوي چې د ژوندانـهٔ د معمول بهير برخلاف، وخت او زمان له حرکته نـهٔ وي لويدلی. ما ته ئــې سخت شرايط او سخت چاپيريال رامنځته کړی وو. ما بل کار نـهٔ درلود مګر دا چې هره شيبه وشمارم، داسې شيبې چې ګڼې دنيا ته له موره مړې راغلې دي. ګومان مې کاوهٔ چې زمان يوازې يو لوری لري او هغه هم تير مهال. راتلونکی راته يوازې په تورو لوخړو او وريځو کې راتاو يو پريښانه خوب په نظر راتـهٔ. په همداسې شرايطو کې زما يوازينی ژغوراند منجي او ملګری صبر او استواری وه او بس. ما بايد د صبر لمنې ته لاس اچولی وای او له هغــهٔ مې مرسته غوښتې وای. (نظامي ګنجوي) وايي :

| | |
|---|---|
| رهايي خواهی از سيلاب ان دوه | قدم بر جای بايد بود چـون کوه |
| ګر از هر باد چون کاهی بلرزی | اګر کـوهی شوی کاهی نـيرزی |
| به صبر از بند ګردد مرد رسـته | کـه صبر آمـــد کلـيدِ کارِ بســته |
| ګشايـد بند چون دشـوار ګــردد | بخندد صبح چون شب تار ګردد |

[27] - شبنامه : «فاجعه است يا حماسه؟ » د اروابناد عبدالمجيد کلکاني په قلم.

څرګنده ده چې له داسې يوۀ ځايه ژغورنه د هر زنداني هيله ده. ما هيله کوله چې که خوشې سم بيا به هم پر هماغو کوڅو، لارو او ګودرونو ګام کښېږدم چې زما ګرانو ملګرو له هر ډول قيد و بند څخه د انسان د آزادئ لپاره پلونه ايښي ول. هيله مې کوله تر هغو دې ژوندی پاتې سم چې د خپلو يارانو دپلونو خاپونه په سترګو وموښم او له سهاره تر ماښامه مې د حافظ دا زړۀ راښکونی شعر په شونډو وي :

| | |
|---|---|
| ګربود عمر به ميخانه رسم بار دګر | به جز ازخدمتِ رندان نکنم کار دګر |
| خُرم آنروز که با ديدۀ ګريان بـروم | تا زنــم آبِ درِ ميــکده يــکــبار دګـر |

يو ځل بيا د کډه کېدلو وار راغی. يوې بلې کوټې ته چې د هماغو مخکينيو کوټو په کنار کې وه بوتلل سوم او بيا هم په يوې انفرادي کوټې کې واچول سوم. له دې ټولو فشارونو، کړاونو او رنځونو سره سره، زما نيمکرغي په دې کې وه چې زما د ژوندانــۀ پخواني وختونه ډيري ئــې په داسې يوۀ چاپيريال کې غوړېدلي ول چې چا کولای سوای ورباندې زړۀ ښــۀ او خوښ کړي او ورڅخه د مقاومت پالې روحيې په پالنې او بامنې کې مرسته وغواړي. که زه د کوم بډای خو ګډور «بی مايه» پر ځای وای، يا کوم عياش وای چې په ژوندانــۀ ئـې کوم رنځ او کړاو نــۀ وي ليدلی، نو د پخوانيو وختونو ددونې ناز او نعمت په له لاسه ورکولو به مې دومره فشارونو، کړاونو او ځورونو ته تاب نــۀ وای راوړای. په هغــۀ حالت کې به مې په لاس کې په پخوا وختونو له افسوس او ټاب «حسرت» پرته بل څــۀ پــۀ لاس کې نــۀ وای. خوښ پــۀ دې يم چې د تيرو وختونو د وفادار لښکر يادونه او خاطرات د زندان تر ويروونکو سوړو پوړې راسره مل ول. له دې څخه نــۀ منکره کېږم چې د زړورو ښځو او ميړنيو نرانو همفکري، ملتيا او ګډه سا تر دې دمه راته د ايمان او باور د دنګ غرۀ په شان روحي ډاډمنيا او تکيه ځای دی. هغه کسان چې له دې معنوي ارثيې څخه بې برخې دي ښايي ووايي چې تيرو خوږو خاطراتو ته مخ اړونه او د هغوی پر معنوی ستنو باندې ډډه لګول او پر تير مهال باندې زړۀ تړل له اوسمهال او راتلونکې سره د پريکون معنی ښندي. ما د تيرو مهالونو له خاطرو د ډکو شپو ورځو په يادولو سره، د کوټه قلفی تورتم په هيڅ شمارۀ، او يا د مبارز شاعر محمـد شاه فرهود په وينا چې خپله ځواني ئــې د ځرخي پلــۀ د زندان په تورو کوټو کې تيره کړې : « د شکنجې په کوټه کې د اند «انديشه» په مرستې د وقار پر نالی «دوشک» بيدۀ وم[28]» او د تيرو نيکمرغو وختونو ياد مې د خير په زانګو کې زنګاوۀ، هغه وختونه چې د خپلو نازولو يارانو او همسنګرو ملګرو تر څنګ ولاړ وم.

څــۀ درانــۀ خواږۀ ياران مو درلودل! زموږ په منځ کې داسې څوک نــۀ ول چې د مبارزې په لارې کې دې تر نورو مخکې د مرګ لمن ته ونــۀ دانګي او ځان وسپموي. په سختو ورځو کې هر يو ئــې په لومړي کتار کې دَرېدۀ. يوه شپه مې پــۀ ياد راځي چې تر پراخ آسمان او د سپوږمۍ تر رڼا لاندې چې زړونه مو په اسطوره يي ملګرتوب ډک ول اوږه په اوږه روان وو. په منځ کې مو د بڅرکي پــۀ اندازې بزګي او د ويښتــۀ په اندازې بې اعتمادي نــۀ وه. زړونه ما صاف او رانه او نيتونه مو لا تر هغـۀ رانــۀ ول. له ځمکې او آسمانه مينه او محبت وَريده او پــۀ سينو کې مو د هېـواد مينه څپانده وه. د ختينو

[28] - ښاغلی محمـد شاه فرهود د خلق د ډيموکراتيک ګوند د غړو په لاس د شکنجو او زندان ته د خلکو د اچولو په باب ډېرې ليکنې لري او له هغې ډلې څخه د «جنايات حزبی» کتاب د يادونې وړ دی چې پــۀ دوه ټوکو کې ليکل شوی دی

کورونو له ډېو، د بڼونو او ونو له منځه، له ویالو او د پټیو له پولو، له کروندو او تنګیو او موړونو تېرېدلو. په یاد مې راځي چې وعده مو، هماغلته په یوازې سر ولاړې یوګړې ونې لاندې وه. همدلته به مو سترګو د کوم یار او یا د یارانو لارې څارلې، د جومات د ملا آذان به مو غوږ ته راغی، یا به مو غوږنه د چرګ بانګ غو وتخنول او یا به مو د چونګښو زړهٔ راښکونې سمفونې اوریدله. همدلته د سپوږمۍ په مکیز په لاره تګ او د ستورو غلچکي سترګکونه دومره د لیدلو وړ او ښایسته ول چې انسان ئې ځانته مجذوباوهٔ. هرکله به چې د زندان په کوټه کې زما سترګې پټې شوې نو دا ټول خاطرات به تکرارېدل. د شهید عبدالمجید کلکاني د زندان دوران مې په یاد راغی، هغه مهال چې د ظاهر شاه د سلطنت پر مهال د دهمزنګ په زندان کې بندي وو. د زندان مسؤولینو ئــې لاسونه او پښې ځنځیر او زولانه کړې ول. په یوې تورتم خولپوټې سوړې کې ئــې اچولی وو، هره ورځ به ئــې لکه ډېرې غوندې کلکې د سیلو د ډوډۍ له یوې ټوټې پرته، چې د چا خبره له غاښونو سره جنګېدله، د بل شي څکه نــهٔ کوله. دهٔ په خپله قصه کوله چې «یوه ورځ د ډوډۍ پرمخ د ښوروا یو څاڅکی څڅېدلی وو، کله مې چې دغه ټوټه ډوډۍ وخوړه نو دومره خوندوره راته ښکاره سوه چې په ژوند کې مې په دې خوندورتوب بل شی نــهٔ وو څکلی.»

د سردار محـمـد داؤود له کودتا وروسته کلونه مې پـهٔ یاد راغلل چې یو شمیر روڼ اندو له مجید او یارانو سره ئــې له ګډ کار څخه غاړه وغړوله، پـهٔ بل عبارت د انشعاب لاره ئــې خپله او کتابونه او د چاپ وسایل ئــې چې زموږ ټولو ګډ مال وو له ځان سر یوړل. موږ چې په وینه تاودهٔ او احساساتي ځوانان وو د انشعابیونو دغه عمل مو د خپل غرور پر حریم باندې یو ډول تیری ګڼـهٔ. موږ په دې خیال وو چې په هر قیمت چې وي باید دغه شیان له دوی څخه بیرته واخلو. کله چې عبدالمجید کلکانی زموږ له دې اقدامه خبر شو نو سخت نا آرامه سو او وئــې ویل : «د سیاسي مبارزې پــهٔ لړ کې پـهٔ ځلونو ځلونو نـېږدې والی او بیلتون رامنځته کـېـږي. که نن دا ملګري له موږ بیل شوي دي، سبا به بیرته موږ سره یو ځای شي. که موږ مبارزه کوو، هغوی هم مبارزه کوي. هغه کسان چې د ولس لپاره مبارزه کوي، کله چې لاره او برخلیک ئــې سره یو وي، هیڅ څوک حق نــهٔ لري دا شیان ئــې په منځو کې وویشي. کتابونه او وسایل دې ددوی وي، موږ او تاسو به تر هغو لا ښه پیدا کړو.»

شهید استاد عزیزالله[29] زموږ د زده کړو د چارو مسؤولیت پر غاړه درلود. ماته ئــې دنده سپارلې وه چې د یو شمیر تـئـوریکي مسایل په باب چمتووالی ونیسم. د په پام کې نیول شوې موضوع راتلونکی ئــې راته ښه تشریح کړه. استاد عزیزالله ونازولم. ورته مې وویل :« د فارسي له فرهنګ پرته د ځینو کلماتو پوهـېدل راته ګران ښکاري، کاشکې د عمید د فرهنګ یو ټوک مو درلودای.» څو ورځې وروسته استاد عزیزالله زموږ کور ته راغی. د کڅوړې له منځه ئــې د عمید دوه ټوکیز فرهنګ راوایست او وئــې ویل :« دا درته آغا صاحب رالیږلی دی».

د سردار محـمـد داؤود له کودتا وروسته یو کال مې په یاد راغی. مجید د راتلونکي اوضاع په کړکـېچنوب پوه شوی وو. له همدې امله ئــې په مخفي کار او د مخفي ځایونو په تابیا سپارښت او ټینګار کاوهٔ. د پسرلني موسم نیږدې خړ سهار وو چې

---

[29] ـ د استاد عزیزالله مستعار نوم شریف وو. دی د پغمان د اوریاخیلو له سیمې څخه او د مجید له ډېرو قدیمي یارانو څخه وو. د (۱۳۵۸ ل د غبرګولي په میاشت کې) د ساما په مؤسس کنفرانس کې ئــې ګډون درلود و د همدغـهٔ کال د چنګاښ په میاشت کې په کابل کې ونیول شو او د روس د بومي ګوډاګیو له پلوه اعدام سو. ارواح د ې ښاده وي!

زموږ د انګړ وَر ورو ورو وټکېد. ګاونډیان لا تر دې دمه په خوب بیده ول. د وَرهٔ شا ته لاړم چې وَر پرانیزم. د انګړ د وَر تر شا شهید ملنګ عمار او یاسین «حمید» ولاړ ول. هغه مهال عمار مخفي ژوند کاوهٔ. دوی مې خپل کور ته راوستل. مور مې ورته توده ډوډۍ او تودې شیدې برابرې کړې. د سهار له چای وروسته ملنګ عمار وویل : « خبر سوي یو چې د یاغي ځوانانو لپاره د مخفي ځای د جوړولو پلان لرې. له همدې کبله ملګري «منظور ئــې مجید وو» رالیږلی یم چې د کورونو د جوړولو د نقشي په هکله له یو بل سره مشوره وکړو.» له کالــهٔ دباندې ووتو. په پام کې ول چې زموږ انګړ ته د جوخت بڼ په یوې برخې کې یو کور جوړ شي. ملنګ په ډېر ځیر بڼ ګز او پل کړ او په پای کې د ودانۍ د جوړښت نقشه ئــې د بڼ په ګوښه کې طرحه کړه. یو څــهٔ موده وروسته کله چې د جوړښت کار پای ته ورسید، د دروازو په جوړولو کې زما مالي توان یو څـهٔ ضعیف سو. مجید آغا چې په ډېرې لیوالتیا ئــې دا پروژه څارله د استاد عزیز الله په لاس یو څـهٔ پیسې راولیږلې چې د کالـهٔ د پاتې برخې کارونه ورباندې بشپړ کړم. زه چې د مجید د ژوندانــهٔ په سختو شرایطو خبر وم ومې ویل :« نه، دا پیسې نــهٔ اخلم.» استاد عزیزالله وویل : «که ئــې وانخلې، آغا خفه کــېــږي. په خپله آغا وویل چې دا د حق العضویتونو پیسې نــهٔ دي، دا زما د بڼ دممیزو د پلور پیسې دي. اوس چې ملګری د مبارزو ځوانانو لپاره کور جوړوي، موږ هم مسؤولیت لرو چې یوازې ئــې پرینږدو.»

کنګل ژمي مې په یاد راغلل. زه او شهید استاد عبدالبصیر د زده کړنیزو موادو او شبنامو د تکثیر په خاطر په ساړهٔ کور کې د یو بل تر څنګ کښېناستلو. استاد بصیر چې یارانو د هغـهٔ د ټولو ښـېګنو په پار «بـــهرنګي» لقب ورکړی وو، د ټایپ ماشین ئــې پر کوچني میز باندې ایښودهٔ او خپله پر ځمکې کښــېناستـهٔ. ما به اصلي متن لوست او دهٔ به ټایپ کاوهٔ. د شپې په پای کې به دواړه د کار د ډېروالي او د ډېرې بې خوبۍ له کبله ستړي سو. ما به ورته وویل چې استراحت وکړو، بهرنګي به د خپلي خوږې موسکا په لړ کې د ملګرتیابــهٔ په کلماتو ویل : «خیر دی انډیواله، همدا دوه نورې پاڼي ټایپوم چې کار پرمختګ وکړي.» په دې ترتیب کار به دوام وموند، او تر هغو به مو دوام ورکړ چې کړکۍ ته د بندې شړۍ له چاودو د لمر رڼا زموږ ستړي مه سي ته راغله.

بیا مې ژمی پــهٔ یاد راغی. یوه ورځ د ساړهٔ ژمي ماسپښین مهال وو او له څو تنو صادقو یارانو سره په اوږدهٔ سفر وخوځېدو. لا دوه یا درې کیلومتره لار مو پلې نــهٔ وو وهلې چې واورې وَرېدل پیل کړل. توند باد چلیدهٔ او د واورو دانه دانه پاغوندې ئــې زموږ پر سرونو او مخونو ویشتلې. په لنډ وخت کې هرې خواته پریمانه واوره وغورځیده. زموږ د لارې پــهٔ اوږدو کې د پنجشیر سیند وو. د بوټانو او جامو د ایستلو لپاره فرصت نــهٔ وو. د سیند اوبو تخته تخته کنګل له ځان سره ځغلول او زموږ په پښو به ئــې ویشتل. ډېر لږ غفلت د هلاکت باعث کــېــدهٔ. ښایسته اوږده لار مو ووهله. د یارانو له منځه یوهٔ غږ کړ : «صبر وکئ چې بوټ مې له پښې لویدلی دی.» د شدیدې واورې د وَریدو او د سړې او توفاني هوا له کبله د لارې او ګودر تشخیص ناشونی شوی وو. لاسونه به مو په راغلې لارې په واورو کې د پښو په خاپونو دننه کړل خو بوټ مو پیدا نــهٔ کړ. بله چاره مو نـهٔ مګر دا چې ملګری مو پاتې لار په لوڅه پښه ووهي. کله چې د لارې په اوږدو کې د یارانو له منځه د هغـهٔ یار کورته ورسیدو چې په لاره کې تر ټولو نیږدې کور وو دا مهال شپه پای ته نیږدې وه. د کالــهٔ دروازه مو ورو ورو په ګوتو وټکوله. د کوربــهٔ، پیغلې او عزتمنې خور دروازه زموږ پر مخ پرانیستله. ومو پوښتل «...... کور کې سته؟» ځواب ئــې راکړ چې «ورور مې چیرې تللی دی، مګر کور خو ئــې له ځان سره نــهٔ دی وړی.» موږ کور ته

ننوتلو. دې مهرباني خور ډېر ژر صندلی توده کړه. زموږ جامې کنګل شوې وې. ومو نـهٔ شوای کړای چې خپل بوټان وباسو. بله چاره مو نـهٔ وه مګر دا چې بندونه ئـې په چړې پریک کړو. زړورې نجلی د شپې پـهٔ هماغـهٔ ناوخته وخت کې ډوډی تیاره کړه او د تودو اوبو طشت ئـې راووړ. لاسونه او پښې مو په لوښې کې ونیول. له دې سره سره زموږ د ځوان ملګرې پښې پوستکې واچاوهٔ او تر ډېرې مودې پورې له لارې تګه پاتې سو. دهٔ به په ټوکو ویل : «اندیواله! لا تر اوسه ئـې یو پوستکی غورځـېـدلی دی، شپږ نور ئـې لا پاتې دي.» د غوايي له کودتا څو موده وروسته یوه ورځ د یارانو له یوې ډلې سره پـهٔ یوهٔ کالـهٔ کې ناست وو. ټولو یارانو مخفي ژوند درلود. نیږدې ماښام وو. هر څوک مجبور وو چې د کوم کار د تر سره کولو لپاره له کالـهٔ دباندې ووځي. محصل[30] او درو تنو نورو همسنګرو ملګرو د تګ لپاره ځانونه چمتو کړل. محصل دالان ته ووت چې خپل بوټان واغوندي. څو لنډې شیبې وروسته ئـې د خندا غږ زموږ غوږونو ته راغی. ومې ویل : «ولې خاندې، پام کوه چې ګاونډیان دې غږ وانـهٔ وري.» بیا هم په خندا سو او پښه ئـې له ځمکې راپورته کړه او خپل سپین سپورتي بوټان ئـې موږ ته راښکاره کړل. ومول لیدل چې د پښې د ګوتې څوکه ئـې د بوټ له سورې دباندې راوتلې وه. یارانو وخندل. محصل په ټوکو وویل : «وګوره اندیواله، دغه مې حال او ورځ ده! یوه جوړه بوټان دې راته وانخیستل.» ومې ویل : «تـهٔ اوس لاړ سه، کله چې بیرته راغلې که مې د کالـهٔ په دیوال کې لوټه هم پاتې نـهٔ سي خو تاته به یوه جوړه ساق داره بوټان واخلم.» درې ورځې وروسته کله چې هماغـهٔ کالـهٔ ته لاړم کوربه چې علني ژوند درلود په خواشینی وویل : «د دښمن د کمین له کبله یو اندیوال شهید سوی دی.» «په وارخطایي مې پوښتنه وکړه : کوم اندیوال.» وئـې ویل :« په نامـهٔ ئـې نـهٔ پوهیږم خو ویل کیږي چې سپین کرمچ بوټان ئـې په پښو ول. سر مې تاو سو. پر ځمکه کښـېـناستم او خپل سر مې په دواړو لاسونو ټینګ ونیو. نـهٔ ژړا راسره مرسته کولای شوای او نـهٔ هم ساندو او کوکارو. په چوپه خولـهٔ او فریاد په زړهٔ مې د زړهٔ له تله وژړل. ومې ویل : اې خدایه! دی خو درې ورځې مخکې ژوندی وو، ټولو سره ئـې ټوکې کولې. یو ځل ئـې ویل ول : «هرو مرو خو وژل کیږم، یو کار وشي چې یوه ښځه وکړم، یوازې دونې وسې چې یو زوی مې په نامـهٔ پاتې شي.» او دریغ چې زما دا ملګری له هماغو زړو ټوکر ټوکر بوټانو سره ووژل سو! که زما له مرګه وروسته څوک زما قبر خلاص کړي، د سلهاوو داغونو له منځه چې زړهٔ کې ئې لرم یو داغ به همدا داغ دی.

د مخفي ژوندانـهٔ پر مهال د یوهٔ شریف بزګر کور زموږ پناه ځای وو. ددغـې ویاړلې کورنی پیغله لور به په شپو شپو د کالـهٔ پر بام کښـېـناستله او د کالـهٔ شاو خوا به ئـې څارله. هر څومره مو چې ټینګار کاوهٔ چې له دې کاره لاس واخلي ګټه ئـې نـهٔ درلوده. د کالـــهٔ پر بام باندې به کښـېـناستـله، پـهٔ ځانګړې توګه کله به چې هوا سړه وه آسان کار نـهٔ وو. خو دې مهرباني پیغلې یو ځواب درلود : «تاسو چې د هـېـواد لپاره له خپل سره تیر یاست، زه هم باید خپله دنده ترسره کړم.»

د اسلامي بنسټ پالو یوې ډلې د مزار د شولګرې په سیمې کې د سامایانو یو حامل موټر ودراوهٔ. د هغوی پـهٔ منځې کې ئـې «متعلم» وپـېـژاند چې د ساما په سازمان پورې اړه درلوده. هغه ئـې د کلاشنیکوف تر ضرباتو لاندې ونیو. که «متعلم» خولـهٔ ښورولې وای د سازمان د څو تنو نورو غړو ژوند ئـې له ګواښ سره مخامخ کاوهٔ. له همدې امله ئـې غوره وګڼله چې د وینو څښونکو تورمخو تر برچو لاندې ووژل سي خو د خپل سازمان او یارانو په حق کې ئـې خیانت و نـهٔ مانـهٔ. روح دې ښاده وي!

[30] - ما دغه له لاسه تللی ملګری په همدغـهٔ نامـهٔ پـېـژاندهٔ

***

يو ځل بيا پس له شلو ورځو د کډه کېدلو نغاره وډنګول سوه. زما د نوې کوټې مخې ته – په لومړي پوړ کې چې دروازې ئــې مخ په انګړ خلاصيدله – د اوبو يو نل وو. کله نا کله به پهره دارانو او زندانيانو ورڅخه اوبــهٔ اخيستلې. د اوبو د شړپهار او د سرتيري او زنداني غږ به مې کوټې ته راتــهٔ. دا يوازينۍ موهبت وو چې کولای مې شوای زړهٔ ورباندې خوښ کړم. يوه ورځ مې يو آشنا غږ تر غوږو شو. په ځير مې ورته غوږ ونيوهٔ. انجنير زمري صديق د عادت له مخې په لوړ غږ خبرې کولې. هيڅ مې باور نــهٔ کــېـدهٔ چې زمری صديق دې هم په لومه کې نښتی وي، خو ما ته نور د شک ځان نــهٔ وو پاتې[31]. د ساما د مشرتابــهٔ د يو شمير غړو له نيول کـېـدلو وروسته د څو تنو نورو پاتې غړو حضور ته زړهٔ خوښوالی او اميد پاتې وو چې دوی خو نــهٔ دي نيول شوي. هيله کـېـدله چې دا ملګري به رامنځته شوي تش ځايونه تر يوې کچې ډک کړي او ګډوډۍ به سره راټولې کړي[32]. همدا شان ګومان نــهٔ کـېـدهٔ چې د مشرتابــهٔ پاتې غړي دې د کابل په ښار کې – چيرې چې دښمن په خپل ټول واک او ځواک زموږ د پوپنا کولو په لټه کې وو – پاتې شي. د زمري صديق د غږ په اوريدلو مې ټولې هيلې د نوميدې په اوبو کې لاهو شوې. کولای مې شوای د ناتار او فاجعې د ژورتيا حدس ووهم. له ځان سره مې وويل چې انجنير زمری بايد په تحقيق کې زما له دريځ څخه بې خبره پاتې نــهٔ شي. د کوټې د دروازې په پاسنۍ برخې کې يوه وړوکې کړکۍ وه چې له هماغه ځايه هوا کوټې ته راننوتله. له دې وړوکې کړکۍ څخه مې کولای شوای انګړ ووينم. دا يوازينۍ شانس وو چې کولای مې شوای ورڅخه ګټه واخلم. دې وړوکې کړکۍ ته پورته ختل کوم آسان کار نــهٔ وو. ددې تر څنګ دا جدي خطر هم وو چې پهره داران او خاديستان به مې ووينې. که هغوی ليدلای وای نو له لوی سرخوږي سره مخامخ کـېـدم. د تصميم نيولو لپاره مې ډېر لږ وخت درلود. يوازينۍ لاره دا وه چې د زمري زړهٔ خپل کړم او ووايم هر څه چې کېږي ودې شي. پښې مې پــهٔ مهارت په دروازې پورې ټينګې کړې او سر مې د وړوکې کړکۍ پورته ځای ته ورساوهٔ. انجنير زمری له يو بل تن سره د نل چاپيره د خپلو لاسونو او مخ په مينځلو بوخت وو. ومې ليدل چې پهره دار د بلې کوټې د دروازې په قفل کولو بوخت دی. په داسې يوهٔ حالت او حساسې شيبې کې ان يوه ثانيه برخليک جوړونکې وي. ځان مې ښــهٔ نور هم په دروازې پورې ټينګ کړ او ښی لاس مې موټی کړ او له کړکۍ مې دباندې وايست. بيا مې مخ کړکۍ ته نيږدې کړ. انجنير زمري چې ددروازې غږ اورېدلی وو پام ئــې شو خو په لومړي کاتو ئــې ونــهٔ پــېـژندلم ځکه زه ئــې په داسې ګډ وډ حالت، اوږدو ويښتانو او ببرې ږيرې نــهٔ وم ليدلی. کله ئــې چې زه وپيژندم هک پک ودرېد. څيرې ئــې بدلون وکړ. يو ډول ناکرارۍ مې ددهٔ په څيرې کې وليدله. خپل موټی کړی لاس مې وروښود چې پوه شي ما مقاومت کړی دی، او وړانديز ورته کوم چې مقاومت يوازينۍ لاره چې د وياړ سبب ګرځي. د انجنير صديق په ليدلو پوه شوم چې انفرادي کوټې ته زما وړل او د فشار د څلورمې پردې په لاره اچول يوازې ددغو يارانو د نيولو کېدلو له کبله ول. همدا شان، پوه شوم چې د شکنجو بله جوپه راته سترګه په لار ده. معمولاً مستطنق زنداني له کوټه قلفيو دباندې ايستــهٔ او د تحقيق «شکنجې» کوټې ته ئــې بيوهٔ او پــهٔ پای کې به ئــې بيرته تر کوټې پورې رساوهٔ. له دې کار څخه موخه له تورن سره د افقي اړيکې پريکون وو. د تحقيق د رياست ايجابات ول چې له مستنطق پرته دې بل څوک له تورن سره اړيکه ونــهٔ لري. هماغسې چې ما وړاند ويينه کړې وه، يوه يا دوه شېې وروسته پهره دار له کوټې دباندې وايستلم. سيد اکرام د کوټې د

31 - زمری صديق د سياسي دفتر علی البدل غړی او د ساما د تشکيلاتو د کميټې غړی وو.
32 - انجنير محمد امين، انجنير زمری صديق او نعيم ازهر وروسته ونيول شول.

دروازې شا ته ولاړ وو. له يو بل سره مو سلام و عليک ونـــهٔ کړ. دی مخکې او زه ورپسې وخوځېدم. د تحقيق کوټې ته ننوتلو. سيد اکرام په تکبر او لوييني پر څوکی کښېناست. زه درېدلی پاتې شوم. له چلند څخه ئـــې ښکارېدل چې له خپل ځانه ډېر راضي دی او دومره مغروره وو ته به وايې چې د کائـناتو کونجې ئـــې لاس ته لوېدلې ده. د مستنطق خوښوالي زما د زړهٔ پر ټپونو مالګه شيندله. دا ډېره سخته ده چې د اور لمبې ستا دننه بدن سوځوي او تـهٔ ئـــې درد له خپل ستوني په چوپه خولـــهٔ غوړېوې. ما او مستنطق په دوه وو متضادو نړيو کې ژوند کاوهٔ. دی د سامايانو له نيول کـېدلو خوښ وو او ما د راغلي ناورين په پار د وينو اوښکې تويولې. په زړهٔ کې مې د اور لمبو غړغړاندې وهلې خو بيا هم ورته مخامخ په سړه سينه ولاړ وم. مستنطق په خپل لومړني «نصيحت» وښودل چې ګڼې هر څه نور روښانه شوي دي او مخفي کاري او ځان ټينګ نيول نور بې ګټې دي. کله چې پوه شو نور ئـــې منترونه کار نـــهٔ کوي لستوني ئـــې بډ وهل او د وينې څښونکې پړانګ پـهٔ شان ئـــې راودانګل، کټ مټ لکه پخوا چې د هرې پوښتنې ګړوېړنې پـهٔ پای کې ئـــې له ځانه څرګنداوهٔ. له زور زياتي کار اخيستل اوفزيکي ټکر دواړه صاف صفا د مستنطق د ضعف څرګندونه کوله. د خاد د مستنطقينو کار- ښه دا وه چې که چلوټې او موعظې ئـــې کار ونـــهٔ کړي، نو خپل ضعف ئـــې د سپکو سپورو په ويلو او د زور زياتي په راوړلو پوښـــهٔ.

داسې شپه به نـــهٔ وه چې د شکنجې خونې ته بـه ئـــې نـــهٔ بيولم. سره له چې د نور فشار راوړل او د شکنجې د شدت زياتوالي مې بدني قوا راڅخه اخيستې وه خو دا زما اراده او ايمان وه چې د هغو په زور مې ځان ورته ټينګ کړی وو. په همدې مهال کې ول چې د خاد آمريت ته چې د کوټه قلفيو له پاسه ئـــې موقعيت درلود يوړل شوم، ويل کېدل چې دغه کوټه د تحقيق د رياست د خاد آمريت[33] دی خو ورڅخه د زندانيانو او د پوښتنو ګړوېړنو لپاره کار اخيستل کـېـدهٔ. کله به مې چې تر شکنجې لاندې د اسيرانو چيغې او فريادونه اوريدل تر هغوی بد تره به موږ ډېر دردېدلو. ددغـهٔ ځای غوره کول د زندانيانو د روحيې د تضعيف په خاطر ول.

ددغې شپې شرحه چې په ما څـــهٔ تير سول ما پـهٔ خپلې يوې بلې ليکنې کې شرحه کړې ول او دلته ئـــې راوړم. زما دا ليکنه «اقيانوس شخصيت عبدالمجيد کلکانی / د عبدالمجيد کلکاني د شخصيت سمندر» نومـېږي :

«د ۱۳۶۰ ل کال د مني موسم وو. ما «ليکوال» د صدارت په کوټه قلفيو «د خاد د تحقيق د چارو رياست» کې پـهٔ سختی ساه ايستله. د شپې له نيمايي ډېر وخت تير شوی وو. زما د کوټې دروازه خلاصه سوه. د کوټه قلفيو ډلګې مشر قادر په خپل هميشني خښمـېدلي چلند له کوټې دباندې وايستلم او د پوړيو «زينو» له لارې ئـــې دويم پوړ ته بوتلم. يوهٔ لوکس دفتر ته ننوتلو. د تحقيق د رياست درې تنه مسؤولين، د تحقيق د چارو د رياست لومړی مرستيال قاسم «مشهور پـهٔ عينک»، د تحقيق درياست دريم «قسم» مدير شريفي، او د تحقيق د رياست د خاد آمر چې نوم ئـــې زما پـهٔ ياد نـــهٔ دی ماته سترګې پـهٔ لار ول. ددوی له خښمـېدلو تروو څېرو پوه شوم چې سخته آزموينه مې تر مخې پرته ده. دوی هر يوهٔ د وينې څښونکو کاربل «کفتار» په شان داړې او غاښونه تيرهٔ کړي ول چې ما وداړي. لومړنی خبره ئـــې دا وه چې :« پس له دې موږ ته

---

[33] - د خلق او پرچم د ګوډاګي حکومت جاسوسي سازمانونو د شوروي د کي جي بي په تبعيت يو پيچلی سيستم رامنځته کړی وو چې خاد او اګسا په واقعيت کې په دولت کې دننه بل دولت وو، او د ويرې او ډار او د ټولنې د هر اړخيز نظارت او کنترول د چاپيريال په رامنځته کولو سره ئـــې ټول هـېواد پـــهٔ يوهٔ زندان بدل کړی وو. د تحقيق رياست په خپله د (خدمات اطلاعات دولتي «خاد») يوه برخه وه خو په خپل چوکاټ کې ئـــې د «خاد آمريت» درلود چې ددغـهٔ رياست د منسوبينو کړهٔ وړهٔ تر څار لاندې ولري.

مهمه نــهٔ چي ته سامايي ئــي كه نــهٔ، مهمه دا ده چي د ساما د تشكلاتو اسناد موږ ته راكړي. پرته له هغې، كه پولادي ديوال هم اوسي چپه كوو دې.»

شكنجه پيل سوه. قاسم عينک او شريفي يو پــهٔ بل پسي په وار وهلم. بې هوښه سوم او بې سده پريوتلم. زما پر مخ ئـي سړې اوبــهٔ را وويشتلې. كله چي پــهٔ سد راغلم د غالى پر مخ پروت وم. شكنجه ئــي بيا پيل كړه. د شكنجي درد مي د هډونو مغزونه راسوځول. له ضد او نقيضو افكارو سره مخامخ وم. داسي مي حسول چي اراده مي د كړكيچ په لومه كي نښتي ده. شكنجه گرانو راڅخه لاس نــهٔ اخيست. ددوی له خولو او غاښونو د اوبو ځگونو داري وهلي او د وحشي ييږو په شان ئــي رمباړې وهلې. په دې اثنا كي يوهٔ تن ئــي د غضب د زياتوالي له كبله په چيغو وويل :« مرداره خيرنه، كثيفه! څــهٔ غواړې؟ غواړې د مجيد په شان اتل سې؟» د مجيد د نامــهٔ په اورېدلو مي د بدن په رگ رگ كي د انرژی د ځپاندهٔ سيند ځپې په مستـېدو سوې. د متروكو درد مي له سترې او ډنگر ځانه ورک سو. د مجيد د نامــهٔ پــهٔ اورېدلو پولادي ديوال سوم. دښمن په خپلې ژبې اقرار وكړ چي مجيد يو اتل وو او هر هغه څوک چي ددښمن پر وړاندې سرښندويه مقاومت وكړي، اتل دی.»

پــهٔ دغو شپو ورځو كي د غمونو پـېـټـي زما پر سترو ستومانه اوږو خپل دروندوالي ښودهٔ. له يوې خوا د ساما د غړو د نيول كـېدلو په خاطر فشار او شديد ترينه جسمي او رواني شكنجي وې او له بلې خوا مي ډوډۍ خوړلو ته زړهٔ نــهٔ كـېـدهٔ. يوهٔ سپين پوستكي او ښايسته مخي سرتيري چي په پنچشيری لهجې ئــي خبرې كولې ما ته ئــي د ډوډۍ راوړلو دنده په غاړه درلوده. هر ځل چي دهٔ راته ډوډۍ او ميوه راوړه نو پوښتنه به ئـي كوله : « بچې وطن! چرا نان نمی خوری؟» زما ځواب ورته «اشتها نــهٔ دارم» وو. هغــهٔ ماته زما له استحقاقه ډېره ډوډۍ او ميوه راوړه او ويل ئــي : « گوره وطنداره!! په نــهٔ خوړلو خو نــهٔ كـېږې، مقاومت شيمې ته اړتيا لرې. كه ډوډۍ ونــهٔ خورې ضعيف كـېـږې.» بيا به ئــي له معنى ډكې سترگې راته واړولې او ويل به ئــي :« زه خو ئــي درته ږدم، كه ئــي اوس ونــهٔ خورې، پسته به ئــي وخورې.» يوه ورځ ئــي راته وويل : «وطنداره! كه د بيرون لپاره كوم احوال لرې راته ووايه.» ورته مي وويل :«ژوندی اوسې، خدای دې خير دركړي»َ. د دغــهٔ زړور ځوان زړهٔ سوی د ټولو زندانيانو په حق كي يو شان وو او ددهٔ همدغه احساس ددې باعث شو چي دی په خپله د صدارت په كوټه قلفيو كي ولويږي. ډېر وروسته راته څرگنده سوه چي نوم ئــي عبدالله او د پنجشير دی. زه به هيڅكله ددهٔ نيكی هيرې نــهٔ كړم. خدای دې ورسره مل او ملگری وي!

# پینځمه پرده

الا، سروش سحرگاهان!

تو روشنی را جاری کن

تو با درختان، غمخوار و مهربان می باش

تو رودها را جرئت ده

که دل به گرمی خورشید بسپرند

تو کوچه ها را همت ده

که از سیاهی بن بست بگذرند

(نادر نادرپور)

[اې د سپیده دم هاتفه! تهٔ روښانيي راوړه، تهٔ پر ونو باميال او زړهٔ سوَن اوسه، تهٔ سيندونو ته جرئت ورکړه چې زړونه د لمر تودوخې ته وسپاري او د تورتم له بندو کوڅو تير سي]

د صدارت د خاد د تحقيق د چارو رياست، د يو شمير نيول شويو سامايانو د تحقيق لړۍ لا هم نوره سخته کړه. او دليل ئــې دا وروستی نيوني او د ساما د تشکيلاتي اسنادو د يو شميرو اسرارو افشأ کېدل ول چې لا دمخه د اروابناد انجنير محمد علي له کالــهٔ څخه ترلاسه شوي ول. له همدې کبله ول چې دښمن لا نور تحقيقات پيل او نور ډېر فشار ئــې پر موږ واچاوهٔ[34]. مستنطقينو پــهٔ ډېر جديت هڅه کوله چې د دوسيو تيارهٔ ځايونه روښانه کړي. هغوی لا نور معلومات غوښتل چې له مخې ئــې وکولای سي د ساما وروستنی سنگر ونيسي او د ساما وروستــنی غړی د مرگ په لومه کې راگير کړي.

د تحقيق د رياست، په ځانگړې توگه د «قسم سوم» د مديريت د شکنجه گرو، دوه سرې اره په چټکی خوځــېدله. له سپکو سپورو سره يو ځای پوښتنو پسې پوښتنې، ښکنځلو او ترټلو او غير انساني شکنجو زموږ ستړی ستومانه تن او روح په اور کې سوځاوهٔ. هره ورځ او هره شپه به په سلهاوو کاغذ پاڼې توری شوې. له بسه چې غوږونو مې له سپکو سپورو سره ځای تکراري پوښتني اورېدلي دي تر نن پورې هر ډول پوښتنه او گروېږنه چې وي ورڅخه زړهٔ توری او بيزاره يم!

مستعار نوم دې څــهٔ وو؟ خپل لاس لاندې او تر ځانه پورته کسان راته معرفي کړه. له کومو افرادو سره دې پېــژندگلوي درلوده؟ د سازمان تشکيلاتي جوړښت د کاغذ پر مخ رسم کړه! ددغو عکسونو په منځ کې څوک پيژنـې؟ د غوايي د انقلاب په هکله څــهٔ نظر لرې؟ په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځي ځواکونو حضور څرنگه ارزوې؟ څومره حق العضويت

---

[34] ـ جنرال عبدالغنی عزيز د خاد د تحقيق د رياست عمومي رئيس وو چې پــهٔ هــېــواد کې په ټولو سياسي زندانونو کې ئــې د تحقيق د لړۍ مشري کوله. دغــهٔ مشهور جلاد او شکنجه گر د صدارت په زندان کې د زرهاوو جسمي او رواني شکنجو په کولو د تحقيق د لړۍ مديريت کاوهٔ. اروابناد زمری صديق د تحقيق د عمومي رئـيس د ظلم او بد چلندۍ په باب راته داسې ووېل : زما کور او د جنرال غني کور په لومړيو مکروريانو کې په يوهٔ بلاک کې وو. کله ئــې چې زهٔ ونيولم جنرال غني په خپله د تحقيق کوټې ته راغی او وئــې ويل :« او هو! زهٔ خبر نــهٔ وم چې زما پــهٔ کور کې هم مار ژوند کوي.» دومره سخته او کلکه لغته ئــې پــهٔ خولــهٔ راکړه چې غاښونه مې مات سول. خپلو تر لاس لاندې کسانو ته ئــې ووېل : «دا ډېر خطرناکه سړی دی. تر هغو ئــې شکنجه کړئ چې يا اعتراف وکړي او يا مړ سي.» زه د ميگرين ناروغي لرم. د جنرال غني د دستور پر بنسټ، خاديستانو د ميگرين د ناروغۍ درمل مې مصادره کړل.»

د جنرال غني تر څنگ د کي جي بي زبردستو مشاورينو د شکنجې، نيول نيولو او تحقيق لپاره په ځير محاسبه شوي ميکانيزمونه طرح کول.

دې د میاشتې ورکاوۀ؟ د کومو شبنامو په خپرولو کې دې برخه اخیستې؟ په «ندای آزادی[35]» کې دې مقالې لیکلې؟ ماده مقدمه ده یا شعور؟ په مارکسیستي – لیننیستي آثارو کې دې کوم لوستي دي؟...؟...؟

د زړۀ تنګونکو پوښتنو څپو او د مستنطقینو لومېنانه چار چلندونو مې خُلق راتنګاوۀ. په ځانګړې توګه هغه مهال چې مستنطق «یعنی شکنجه گر» به نشئـه وو. د خبرو پر مهال به د روسي وډکا بوی په کوټه کې خپور او ورسره یو ځای به د پوچو ښکنځلو باران وشو. په داسې شرایطو کې چې موږ وو پرته له صبر او زغم مو بله چاره نـهٔ درلودله.

سنګِ صبور، سنګِ صبور، تو صبوری، من صبورم

«سنګ صبور : یا د صبر ډبره! په اساطیرو کې راغلې یوه ډبره وه. ډبرې به د خلکو د زړونو غمونه اورېدل. دا هم ویل شوي چې کله به ډبرې د خلکو غمونه واورېدل نو وبه چاوده. د تشبیه له اړخه ډبره د صبر او زغم مثال دی- ژباړونکی»

له زندانه سرټکونه او شکایت هسې بابیزه خبره ده. زندان په ټولو هـېـوادونو کې د رنځ او عذاب ځای پـېژندل شوی او هر چیرې زندان ته زندان وایي خو په دې توپیر چې د روس ګوډاګي رژیم - په لاس او پښو تړل شوي بندیان انسان نـهٔ شمـېرل. لویه ورځ به مو د زندان د مسؤولینو له خولو اورېـدل چې «انقلاب ضد کسان تر ځارویو بدتره دي.» یوازې یو ځل مې د یوۀ خادیست له خولې له دغو خبرو پرته یوه اورېـدلې وه او هغه هم هغه مهال وو چې د خاد د شکنجه ګرو د ډلې د وهلو ډبلو او د برق د بهیر د شدت او زیاتوالي له کبله پر ځمکه ولګیدم او له خولې مې وینه راغله.... په همدې شیبې کې یوه ئــي غږ کړ : «ملګرو، نور ئــي بس ده، که انقلاب ضد دی مګر انسان خو دی!»

دا مې منلې وه چې د دښمن له خولې د سپکو سپورو کلماتو، پیـغور او د ښکنځلو اورېدل د چا د وقار او حیثیت د ټیټیـدلو باعث نـهٔ شي کـېدای. هر کله به چې د مستنطق له کبرجنو، منځتشو او پوک صفتو حرکاتو سره مخامخـېدم، دا مې ددۀ د اخلاقو او کړو وړو یوه نـهٔ بـېلـېدونکې برخه ګڼله. ددومره ډېر فشار راوړلو موخه د متهم ستومانول او تر دوه وو سوړمو رسول ول تر څو له اعتراف پرته بله لاره ورته پاتې نـهٔ شي. دا چې ولې ما اعتراف ونـهٔ کړ، فکري او اخلاقي دلایل ئــي څرګند دي چې دلته یوازې د هغـهٔ د یوۀ پـهٔ یادولو بسنه کوم :

ما له داسې دوستانو سره اړیکه درلوده چې زامنو ئــي ما ته اکا ویل. د هغوی پتمنو مـېـرمنو راته ددوی پر دسترخوان باندې خپله مالګه او ډوډۍ ایښې وه. په هغو کلونو کې چې ما مخفي ژوند درلود، همدغو خویندو په خپلو لاسونو باندې زما جامې مینځلې وې... اوس به کوم وجدان وي چې هغه ماشومان بې پلاره او هماغه پتمنې میرنۍ مـېـرمنې بې مـېړونو کړي؟ داسې یوه بې غیرتي زما له لاسه پوره نـهٔ وه.

---

35 - د سازمان آزادیبخش مردم افغانستان «ساما» نشراتي ارګان

# د توقع خلاف پېښه

په همداسي يوهٔ چاپيريال کي د يوهٔ سامايي د ندامت، پښېماني او «پر ځمکه د توبي د پوزي موښلو» له شرمناکي پېښي سره مخامخ سوم. دا هغه تريخ داستان دی چي شرمناکه خاطره به ئې هېڅکله له ياده ونهٔ باسم. البته هېڅ څوک نهٔ سي کولای ووايي چي ساماييان له تېروتنو او ښويېدنو پاک او مبرا دي، ځکه د ساما په ګډون هېڅ سازمان کومه پولادي کلا نهٔ وه. خو له دې سره سره له داسي يوهٔ وضعيت سره مخامخ کېدل ماته نوې خبره وه.

يو څوک ئې د تحقيق کوټې ته راوست. د نظارتخاني جامي ئې په ځان کي وې. له وضعيته ئې ښکارېدل چي روحيه ئې زښته ډېره ضعيفه ده. مستنطق ورته امر وکړ چي ما ته مخامخ ودرېږي او نيغ زما سترګو ته وګوري. مستنطق ورته وويل : «دا سړی پېژني؟»

وئې ويل : «نه»

له ما ئې پوښتنه وکړه : «تهٔ ئې پېژني؟»

ومي ويل : «نه»

رښتيا خبره دا وه چي موږ له يو بل سره نهٔ پېژندل. د مستنطق او ددهٔ سړي ترمنځ پوښتنو او ځوابونو دوام وموند.

- څه کاره وې؟
- د ساما غړی وم
- څه باعث شول چي اعتراف دې وکړ؟
- د وجدان غږ مجبور کړم
- رښتيا ووايه چي چا دغهٔ کار ته مجبوره کړی ئې؟
- نه، قطعاً نه
- دغهٔ ملګري ته دې څه ويل غواړې؟
- دغهٔ سړي ته وايم چي د خلق ډيموکراتيک ګوند لاره او انقلابي واکمني برحقه ده. مقاومت ګټه نهٔ لري. بايد د همکاری لاره ونيسئ.

د روزګار تصادف ته ګوره چي يو ويشت کاله وروسته له همدغهٔ سړي سره يو ځل بيا په هالند کي مخامخ سوم. بل وخت او بل دوران وو. زموږ پر سر نهٔ کوم مستنطق ولاړ وو، نهٔ د تحقيق ميز وو او نهٔ د شنکجه ګرو تخت و بخت پاتې وو. خو يو شی له منځه نهٔ ول تللي. دا ښاغلی چي له ډېره شرمه سور اوښتی وو او ټول ځان ئې رېږدېدهٔ نهٔ غوښتل ما په ځای راوړي!

***

د کوټه قلفیو پهره دار خدای نظر چې تل به ئــې پـهٔ زړهٔ سواندو سترګو راته کتل، یوه ورځ زما د کوټې دروازه پرانیستله. د دروازې له خلاصولو سره سم کوټې ته مې تانده هوا د څپې پـهٔ شان راننوتله. کله چې دباندې ته مې وکتل، د لمر رڼا هرې خواته خپره وه. د لمر د رڼا په لیدلو داسې سوم ته به وایې چا راباندې کوډې کړې وې. پـهٔ زړهٔ کې مې وویل راځه یو ځل خو خپل بخت وازمایم «اگر شد آبې، اگر نشد للمی». ومې ویل : «خدای نظره! اجازه راکړه چې څو شیبې دباندې تر لمر لاندې کښېنم.»

پهره دار د یوې شېبې لپاره غلی سو. بیا ئــې شاو خوا وکتل. په انګړ کې دننه څوک نــهٔ لیدل کـېـدل. ښایي کومه مهمه غونډه به وه چې ټولو پــهٔ کښې ګډون کړی وو. پـهٔ بیړه ئــې وویل : «ژر راوځه». چټک دباندې ووتم و د یوې لویې ونې د ډډې څنګه ته چې زما د کوټې مخ ته دنګه ولاړه وه کښېناستم. آه! د لمر رڼا او تودوخه ئــې څونې خوندوره وه! دوې دقیقې لا نــهٔ وې تیرې سوې چې خدای نظر وویل : «ورځه کوټې ته دې چې څوک رانــهٔ سي.».

په تنګې او زړهٔ تنګونکې کوټې کې مې ګام واهــهٔ. د سپین کټ «تباشیر» یوه وړوکې ټوټه مې ولیدله چې د کوټې په ګوټ کې پرته وه. دا ټوټه مې راپورته کړه او د دروازې د تختې پر مخ مې د الوت پـهٔ حال کې د یوې مرغۍ انځور وکیښ. سره له دې چې مرغۍ ډېر بده رسم سوې وه خو له ځان سره مې ومنله چې دا یوه ژوندۍ مرغۍ ده او د الوتلو په حالت کې ده. ساعتونه ساعتونه مې د مرغۍ خوا ته کتل او «الوتل مې ذهن ته سپارل.» د صدارت د کوټه قلفیو ډلګی مشر چې له زندانیانو سره ئــې چلند زیېر ډېر سخت او له دښمنۍ ډک وو یو ناځاپه کوټې ته راننوت. ته به وایې پیشو د موږک بوی احساس کړی دی، او ګڼې پوه شوی دی چې کوم شي ته مې زړهٔ خوښ کړی دی، د کوټې کښته، پورته، کیڼ او ښی خواته ئــې وکتل ترڅو چې سترګې ئــې پـهٔ «مرغۍ» ولګېدلې. پـهٔ بیړه ورته ورغی او د سترګو په رپ کې ئــې د چوغکې وزرونه او ښکې وشکول او ویې وژله.

څو وخته وروسته ئــې، نــهٔ پوهــېږم ولې، مخامخ ضلعې کې بلې کوټې ته ولـېږدولم. مخکې مې هم په دې کوټې کې څو ورځې تېرې کړې وې. سره له دې چې ددې کوټې شرایط تر مخکینی هغې یو څـهٔ ښــهٔ ول، خو قدم ئــې ما ته نحس ګڼل کـېـدهٔ، دا ځکه چې له دې کوټې څخه مې په ذهن کې یوه ترخه خاطره پاتې وه. فکر مې کاوهٔ چې له چت او دیواله ئــې راباندې غم اوروي. دا کوټه د سرتیرو د تګ راتګ په لاره کې پرته وه. د کوټې ددروازې یوې برخې کې یو وړوکی سوری وو چې پهره دار له هماغـهٔ ځایه ددروازې له شا د کوټې دننه څارله. ما به پـهٔ مناسبې شیبې کې خپله سترګه په همدې سوري کې کښېښودله او دباندې به مې کتل او څیرې، ددوی ونې او قوارې به مې په ښه کولې. همدا شان هغه زندانیان به مې له نظره تیرول چې دغـهٔ ځای ته ئــې راوړل.

یوه ورځ ماسپښین مهال وو چې څو تنه ئــې د کوټه قلفیو انګړ ته راوستل. ددوی له وضعیته ښکارېدل چې دوی ئــې د ځرخې پلــهٔ له زندانه راوړې دي. نیمایي شپه سوه. د شپې له پلوه ګرځ بندیز لګېدلی وو او تر دې دمه مو تشناب ته د تګ اجازه نــهٔ درلوده. د دروازې له سوري څخه مې انګړ ته وکتل. د انګړ د منځ څراغونه ئــې وژلي ول. هر لور ته روسي او داخلي سرتیري ولاړ ول. خادیستان او د محافظ د قوماندانی افسرانو دیخوا ایخوا په بیړه او وارخطایي منډې وهلې. ددې

حالت په لیدلو ډاډه سوم چې فوق العاده او استثنایي حالت روان دی. شک مې نــهٔ وو چې هرو مرو کومه شومه پېښه رامنځته کېـدونکې ده. د روسانو تر ځار لاندې کوټه قلفیو «هماغه لس کوټې» د دروازې مخامخ یوه زړه او قدیمي ودانۍ وه. د دواړو ودانیو «د روسانو تر ځار لاندې کوټه قلفیو او زړې ودانۍ» تر منځ د کوټه قلفیو، نظارتخانې، قوماندانۍ او نورو اړوندو دفترونو لپاره د تنگ راتگ لار وه. د محافظ د قطعې د قوماندان د تنگ راتگ په لار کې «یو پنډ سړی چې غټه خیټه ئــې درلوده د اندراب یا خوست و فرنگ وو چې نوم ئــې زما له یاده وتلی»، او د همدې قطعې سیاسي مرستیال « د غوربند له ولسوالۍ څخه وو او گومان کوم چې نوم ئــې رجب وو»، له یو شمیر افغان او روسي سرتیرو سره ولاړ ول. روسانو د کوټه قلفیو له منځه یو یو تن زنداني راایست او همدې ودانۍ ته به ئــې بیوهٔ. له هرو پینځو دقیقو وروسته به ئــې هر یو بیرته همدغــهٔ دالان ته راوست. کله چې دوی ئــې د دالان د تنگ راتگ په لار کې د بریښنا تر رڼا لاندې درول ما لیدل چې د نظارتخانې ژیړ بخونې جامې ئــې په ځانونو کې وې او سترگې ئــې په تور ټوکر ورتړلې وې او لاسونه ئــې تر شا تړلي ول. له دې چې لاره ئــې نــهٔ شوای لیدال، خادیستانو به هر یو له بازو نیولی او په کش کول کش کولو به ئــې بیوهٔ. د موټر شاتینۍ دروازه چې یو گوښې گوټ ولاړ وو خلاصیدله او قرباني به ئــې دننه ور ټیل واهــهٔ. بیا به د بل تن وار راغی. په همدې ډول د لسو تنو په شا و خوا کې ئــې ټول تر وروستني تن پورې موټر کې واچول. موټر په خپل غمجن غږ په لاره ولوید. د موټر شا ته روسي زغره والې شوبلې وخوځېدې. له آسمانه ویر اوسوگ وریدهٔ او ځمکې کوکارې وهلې. له وحشتناکې منظرې سره مخامخ سوی وم. د زړهٔ اسیرې مرغۍ مې بې تابۍ کوله او خپل سر به ئــې زما د زړهٔ پر قفس واهــهٔ. خوله مې وچه سوې وه. د نړۍ د ټولو بې چاره وو په منځ کې مې ځان تر ټولو بې چاره حس کړ.

څراغونه ئــې بېـرته روښانه کړل خو د تنگ راتگ دالان لا تر دې دمه تش سوی نــهٔ وو. زړهٔ مې غوښتل تر سهاره خپله سترگه له دغــهٔ ناولې لعنتي سورې څخه لیرې نــهٔ کړم. پهره دار دروازې ته نـېږدې راغی. دروازه ئــې خلاصه کړه او وئــې ویل : « د تشناب وار دی.»! سترگې ئــې لکه د وینو جام سرې اوښتې وې. د خبرو کولو حوصله ئــې نــهٔ درلوده. لــهٔ تندي او سترگو ئــې څوک پوهېـدل چې ددغو تکراري جنایاتو له تکرر څخه ستړی سوی دی. او ما څوک نــهٔ درلودل چې زما په زړهٔ کې د ځپانده غم په ژورتیا پوه شي. څوک څــهٔ پوهېـدل چې پر ما څــهٔ تېـرېږي؟ نــهٔ مې کوم غمخور وو، نــهٔ غمشریک او نــهٔ کوم تسلی ویوونکی! یوازې زهٔ وم او ناورین ځپلی سورې سورې زړهٔ مې چې ددوني غم درونډ پیټی مې په یوازې سر له ځان سره ووړ او دردمندې سترگې مې وې چې ددغو قربانیانو د سوگ او ویر لپاره ئــې د اوښکو پر ځای وینې ژړل. الله محمد (مستعار نوم ئــې عزیز، د شاه محمد ورور د کلکانو له آق سرای څخه) د ساما زړور چریک او مبارز ځوان هم پــهٔ همدغــهٔ کتار کې وو چې د اعدام لپاره ئــې وړی وو. ډېر وروسته کله چې د څرخي پلــهٔ په زندان کې وم د زندانیانو له خولې مې واورېدل چې قاتلانو څنگه دی د څرخي پلــهٔ له زندانه وایست او صدارت ته ئــې بوت....

الله محمد سره مې کلونه کلونه وړاندې آشنایي درلودله. هغه مهال تنکی ځوان وو، دهٔ له خپل ورور شاه محمد (پردل[36]) او ملگرو ئــې فقیر سره چې درې واړه مخفي ول زموږ په سیمه کې ژوند کاوهٔ. الله محمد په ځیره ښایسته، هوښیار، له سره

---

[36] ـ د پردل اصلي نوم شاه محمد و او د زېږېدو ځای ئــې د کوهدامن آق سرای وو. دی د عبدالمجید کلکاني له پخوانیو یارانو څخه وو او د ساما پوځي مسؤولیت ئــې پر غاړه وو. د ۱۳۵۹ل کال په دوبي کې د کوهدامن پر لور په یوازې سر وخوځېد او د لارې په اوږدو کې ورک سو. روح دې ښاده وي!

تیر او زړور انسان وو. دۀ پــۀ داسې نسل اړه درلوده چې له مینې، سربښندنې، مبارزې، مقاومت، ملګرتوب او ولس پالنې پرته بله لاره ئــې په مخکې ونــۀ نیوله. الله محـمـد د خپل نامتو ورور پردل په شان د عبدالمجید کلکانې له نیږدو او وفادارو ملګرو څخه وو. زه ددې شاهد یم چې دغه سربښندویه ځوان به شپه او ورځ د ساما او د ساما د ویاړلې مشر مجید په خدمت کې وو پــۀ ځانګړې توګه په وروستیو کلونو کې چې د مجید د شاو خوا ملګرې یا ونیول سول او شهیدان سول خو دی به لکه د سیورې پــۀ شان ورپسې روان وو او ددۀ ساتنه به ئــې کوله.

شهید الله محـمد د ۱۳۵۸ ل کال د سلواغې د میاشتې په اتمه نیټه د «سازمان آزادیبخش مردم افغانستان» «ساما» له بنسټ ایښودونکې سره یو ځای د کابل د مکروریانو په سیمه کې ونیول سو او د ډېرو شکنجو له زغملو وروسته د تأریخ د شرمیدلو او بدنامو قاتلانو پــۀ لاس اعدام سو. روح دې ښاده وي!

مدتی معکوس باشد کارها شحنه را دزد آورد بر دارها

# ظریفانه توطـئـــه

که تورن «متهم» هر څومره مقاومت کاوۀ بیا هم د تحقیق ریاست لا تر ډېر فشار لاندې نیوۀ او د تحقیق لړۍ ئــې ورته اوږدوله. له همدې کبله ول چې خاد زما د ژبې د خلاصولو لپاره له ډول ډول لارو چارو څخه کار واخیست. له نیکه مرغه زما هماغه یوه خبره وه بله نــۀ کـېـدله.

یوه شپه مستنطق راته وویل : « که زه له تا سره د خبرو کولو لیاقت نــۀ لرم زموږ یو بل ملګری به له دباندې راسې او له تا سره به خبرې وکړي.» د مستنطق دا خبره مې چندانې جدي ونــۀ نیوله. دری یا څلور ورځې وروسته د سهار لس بجې ئــې تحقیق ته وغوښتم. کله چې د تحقیق کوټې ته ننوتم، څلور تنه ناست ول. یوۀ ئــې چې منځنی ونه درلوده، ډنګر وو او ساده جامې ئــې په ځان کې وې تر ټولو پورته ناست وو. نورو به ورته درناوی کاوۀ، ددوی د درناوي له مخې پوه سوم چې دا سړی د ډېر صلاحیت څښتن دی. سړی له ځایه پورته سو او په نرمښت ئـې ما ته د ستړي مه سئ لاس راکړ. په خپل لاس ئــې راته اشاره وکړه چې پر څوکی کښــېـنم. د څو ثانیو لپاره چوپه چوپتیا وه. د مجلس په صدر کې ناست سړي چوپتیا ماته کړه او وئــې ویل : « زه د ګوند له مرکزي کمیټې څخه راغلی یم. له زندان او زندانې سره سرو کار نــۀ لرم. نن راغلی یم چې یو بل سره خبرې وکړو. په دغو خبرو کې زموږ حقوق برابر دي. تر ټولو لومړی تا ته د یوۀ انسان په سترګه ګورم. هر لید لوری چې لرې، راته ئــې په آزاد زړۀ ووایه.» څو شیبې وروسته ئــې د اصلي خبرو دروازه خلاصه کړه. د غوایي له انقلاب او د انقلاب له پرمخ تللي پړاو «مرحله ی تکاملي» ئــې تعاریف پیل کړل. د باندنیو لاسوهنو، نړېوال امپریالیسم، د سیمې ارتجاع، سوسیالیستي بلاک، د چین هژمونیسم او دداسې نورو خبرو پــۀ باب ئــې پــۀ ماړۀ نس خبرې وکړې. که څه هم داسې لکچرونه راته کومه تازه خبره نــۀ وه خو ددغــۀ په اصطلاح ښاغلي د کتابي معلوماتو کچه د خاد تر مستنطقیو په څلونو لوړه وه.

دهٔ په خپلو خبرو کي د مجلس روحیه پـهٔ پام کي نیوله او د بڅرکي په اندازه بي نزاکتي مي ورڅخه ونـهٔ لیدله. څه دباندې یو نیم ساعت ئـي کنفرانس ورکړ. د خپلو خبرو پـهٔ پای کي ئـي له ما وغوښتل چي خبرې وکړم. زه په ډېرې آرامۍ او حق په جانب توگه د یوهٔ ساده او کم سواده ځوان په نقش کي غلی پاتي سوم. دهٔ خپله غوښتنه بیا تکرار کړه. پـهٔ ځواب کي مي ورته وویل : « دا رقم خبرې چي تاسو وکړې زه ئي نـهٔ سم کولی.» وئـي ویل : «ښه، ستا نظر زما د خبرو په هکله څه دی؟» ځواب مي ډېر ساده وو : «تاسو ښې خبرې وکړې، خو زه ئـي په مانا پوه نـهٔ سوم ځکه چي ډېر مشکل لغاتونه مو استعمال کړل.» زما پلو ته ئـي وکتل او نرمه موسکا ئـي وکړه.

ددهٔ د خبرو او د حریف د چلوټو او نیرنگ معنی ما ته پټه نـهٔ وه. پوهېدم چي د شکنجې ابزار ئـي نور مات سوي اوس ئـي د کوچو پـهٔ شان غوړې او نرمې خبرې راته پیل کړي دي. د «مرکزي کمیټې د رالیړل شوي استازي» لکچرونه یوازې په نړېواله کچه د روسانو د تیري گرې تگلارې توجیه وه او بس. د هغـهٔ له نظره زموږ د هېـواد نیواک زموږ د ملت د سمسورتیا یوازینی لاره وه او زموږ پر ټاټوبي باندې د روسي پوځي ځواک یرغل خیرغوښتونکي او انترناسیولیستي ښه لرله. کله نا کله د دښمن د بابو لالو او د هغه د سپین سترگۍ پر وړاندې چوپتیا تر ټولو ځوابونو ظریف او پرېکنده ځواب وي. دا ددښمن سنجول سوي تگلارې او چلوټي دي چي غواړي په هره بیعه چي سوي وي د اسرارو کونجي له تورن «متهم» څخه واخلي او د زنداني قفل خولـهٔ وربانديې خلاصه کړي. په دغسې ځای کي که زنداني هره اندازه ډېرې خبرې وکړي، احساساتي سي، هرو مرو تاوان ویني او دا هغه څه دي چي دښمن ورته شیبې شماري او ورپسې هلاک هلاک دی. که زنداني یوه خبره وکړه، مستنطق وربانديې بسنه نـهٔ کوي، او دویمه خبره غواړي او تر هغو ئـي په آرام نـهٔ پرېږدي او لاس ورڅخه نـهٔ اخلي ترڅو چي تورن ورته د اسرارو ټوله کڅوړه ددهٔ مخي ته تشه کړي نـهٔ وي.

زبان چون ز گرمی برآشفته شد　　　سخن های نا گفتنی گفته شد

د مرکزي کمیټې رالیږل شوی استازی پوه سو چي زه ورته د ویلو لپاره څه نـهٔ لرم. څو ثانیې چوپ سو. بیا ئـي وویل :«اختیار لرې»

د غرمې ډوډۍ ئـي د تحقیق کوټې ته راوړله. مستنطق له خپل مشر ملگري پوښتنه وکړه : «تورن کوټې ته بوزو؟» ملگري ئـي وویل :« نه، وي دي، له موږ سره دې ډوډۍ وخوري.» یو غاب وریجي ئـي زما مخې ته کښېښودلې. نورو کسانو پـهٔ ډوډۍ خوړلو پیل وکړ خو ما لاس ورنـهٔ ووړ.» مېلمه وویل : «ولې ډوډۍ نـهٔ خورې؟» پلمه مي وکړه او پـهٔ ځواب کي مي وویل : «لاس مي نـهٔ دی مینځلی (ما ته ئي کاچوغه نـهٔ وه راوړې).» مېلمه خپله کاچوغه را وړاندې کړه. د کاچوغې په څوکي مي څو داني وریجي وخوړلې.» کله چي د مېلمه پام سو وئـي ویل : «تـهٔ حق لرې. تا غوندې سړی نـهٔ باید له موږ سره ډوډۍ وخوري. زه تا ته درناوی لرم ځکه چي خپل دښمن دوست نـهٔ گڼي.» مېلمه پهره دار ته امر وکړ چي ما بیرته کوټې ته بوزي.

په دغو ورځو کي د تحقیق د ریاست د کانې زړهٔ نرم سوی وو. هر نفر ته ئـي یوه یوه نالۍ او کمپله ورکړې وه. د نالۍ پر مخ اوږد وغځېدم او ژوره ساه مي وایستله. گومان مي کاوهٔ آزاد یم، خو ددې آزادۍ په متن کي یو پټ غم زما د زړهٔ په

نړۍ کې څپانده وو او هغه د انسانانو پر برخه لیک باندې له واکمنو مناسباتو څخه بې زارې او زړۀ توري وه. همدا مصیبتونه ددې باعث ګرځي چې «انسان بل انسان ته لیوۀ سي» او یو بل څیرې څیرې کړي. له ځان سره مې وویل که دروغ، چلوټه، او غولول نــۀ وای نو نړۍ به څه ډول وای!؟

***

د هري ورځې په تېـرېدلو د مستنطقینو له کاري بڼې سره آشنا کېـدلم. ډاډه وم چې دښمن نــۀ سي کولای څه شي راڅخه واخلي. تل به مې دا خبره په زړۀ کې، په خپل روح او وجدان کې پیاوړې کوله چې د خپل ژوند په بیعې باید له دې ډګره سوبمن او سر لوړی راووځم.

سر مې د مستنطق سید اکرام د تا ویلو ما ویلو فشار په درد کړی وو، دا لا کم نــۀ وو چې د چا خبره یو «د ښـۀ چلند» ځوان په خپلې ښایسته څیرې او موسکا کوټې ته راننوت. څو شیبې ئــې نیغ نیغ زما سترګو ته وکتل. له سید اکرام څخه ئــې پوښتنه وکړه :« دا سړی ولې دونې ځوروې؟» سید اکرام ورته وویل : «دا خدای وهلی ډېر ځیل کوي سرټمبه دی» بیا ئــې وپوښتل :«تحقیق ئــې نــۀ دی خلاص سوی؟» سید اکرام ځواب ورکړ : «نه». ځوان وویل : «تا اشتباه کړې ده. دا خو ښـۀ سړی معلومیږي. شاید خراب برخورد دې ورسره کړی وي.» «د ښـۀ چلند» ځوان له ځایه پورته سو او ما ته ئــې لاس راکړ او وئــې ویل :« حاضر ئــې چې له تا تحقیق وکم؟» په زړۀ کې مې له ځان سره وخندل او ومې ویل بده خبره نــۀ ده، دا کوډ لوبه «شعبده بازی» هم په آزمویلو ارزي.

بله ورځ ئــې چې تقیق ته بوتلم «د ښه چلند والا مستنطق» راته سترګې په لاره وو. (دوستانه چلند!) ئـې وکړ او خبرې ئــې داسې پیل کړې : «خبر سوی یم چې تا سره ئــې ښــۀ رفتار نــۀ دی کړی. د متهم شکنجه کول، سپکاوی او تحقیر زموږ ددولت او ګوند سیاست نــۀ دی. له مخالفینو سره نــه باید بد چلند وسي. هر څوک ځانته عقیده او مسلک لري. نورو ته درناوی زموږ اصول دي. هغه کسان چې دا مسئـله نــۀ درک کوي یا نادانه دي او یا د ګوند او دولت دښمنان. زموږ په ګوند کې دننه د امین باند فعالیت لري. هغوی غواړي چې ګوند او دولت بدنامه کړي.»

مستنطق له کوټې دباندې ووت. کله چې بېـرته راغی یو پیاله تود چای او دوه دانې روسي چاکلیټ ئــې د میز پر سر کښېـښودل او وئــې ویل : «نوش جان ئـې که». ما په ټول هوښ او حواس دا له زرنګۍ ډکه لوبه څارله، او بې اختیاره مې وخندل. مستنطق راڅخه د خندا د علت پوښتنه وکړه. زړۀ مې غوښتل ورته ووایم چې آفرین دې په دې زرنګۍ سه چې د یوۀ ګیلاس چای او په دوه وو دانو روسي چاکلیټونو باندې غواړې ما واخلي. څومره ارزانه؟ په ژولې ژبې مې ورته وویل : «تــۀ څومره مهربان سړی ئــې!» مستنطق بیا هم د چا خبره اصولي اکټ وکړ او وئــې ویل : «ورور جانه! دولت زموږ او ستاسو ټولو دی. د دولت پر وړاندې عـُقده مه نیسه. هغو کسانو چې تــۀ یې ځورولی ئــې موږ ورته سزا ورکوو. تــۀ بد سړی نــۀ ئــې. له څیرې دې ښکاري. ښه نو، هر انسان اشتباه کوي. زه پوهېـږم چې تــۀ د اصلاح وړ ئــې. زه تا ته د شرف ژبه او قول درکوم چې مرسته درسره کوم. هیله مند یم چې ډېر ژر زموږ څنګ ته راسې»....

مستنطق بیا د تحقیق له کوټې دباندې ووت. دا ځل ئــې د خوراک او څښاک پر ځای له ځان سره د کاغذ څو پاڼې راوړې. لومړی ئــې یو قطعه عکس راوښود او وئـې پوښتلم : «دا عکس د چا دی؟ (عکس زما د ګران ملګري انجنیر امین وو چې د تشکیلاتو په کمیټې کې مې همکار وو)». کله مې چې عکس ته ولیدل ومې ویل : «نــهٔ ئــې پیژنم». وئــې ویل : «ښــهٔ پــهٔ ځیر ورته وګوره ښایي وئـې پیژنې.» بیا مې ورته وکتل او ځواب مې ورکړ :« نــهٔ ئـې پیژنم.» وئــې ویل : «خیر دی، پروا نــهٔ لري.» څو پاڼې کاغذونه ئــې راوښودل او وئــې ویل : «په دغو لیستونو کې څه شی وینې؟» ومې ویل : «جمع، ضرب او تقسیم.» په داسې حال کې چې پوهېدم دا د سازمان د تشکیلاتو د مالي څانګې حسابي صورت دی چې د خاد لاس ته لوېدلی وو. ددغو لیستونو له ښودلو مستنطق دوه موخې درلودې. یو دا چې غوښتل ئــې په دې توګه ما پوه کړي چې موږ ستاسو په ډېرو محرمو شیانو باندې خبر یو. دویم دا چې زما عکس العمل ئــې لیدهٔ چې آیا زما پښه هم په دې موضوع کې ښکېل ده که نه. مستنطق بیا پښه ټینګه کړه چې ددغو لیستونو په هکله فکر وکړم. ومې ویل : «پوهیږم چې مقصد دې څه دی.» کله ئــې چې دا جمله زما له خولې واورېده، پوه سو چې لوڅې پوڅې ئــې بې ګټې دي. په عاجزی ئــې راته وکتل اوبیا ئــې زما لاس ونیوهٔ او وئــې ویل : «تا ته قسم درکوم چې هیڅ چا ته څه ونــهٔ وایې.» مستنطق په خپلې بې چاره ګی اعتراف کړی وو. ددهٔ ددې جملې په اورېدلو مې ددهٔ مخ ته په ځیر وکتل. رنګ ئــې تک سپین الوتی وو. د مخ ښه ئــې خواره او مخ په ژیړېدو وه. یو ډول شرم ئــې په څیره کې له ورایه ښکارېدهٔ. په حقیقت کې حق، حق دار ته رسیدلی وو. هر څوک پوهیږي او برخه ئــې. د خوښی شراب مې د بدن په رګونو کې په خوځېدا سول او ځان مې په خوشحالی او خوند کې خړوب سو.

د مستنطقینو کاري ښو له یو بله چنداني توپیر نــهٔ درلود. اکثریت مستنطقین کلک زړي، بد ژبي او له عقدو ډک کسان ول چې بیا ددوی په منځ کې زما مستنطقین تر ټولو بد ول. اطو کړې دریشی به ئــې په ځان کې وې، ویښتان به ئــې ږمنځ کړي ول، ښکلې نیکټایی به ئــې تړلې او ځلانده جلا داره بوټان به ئــې په پښو ول. سوګند په شرافت او ناموس به ئــې تکیه کلام وو. خو دغـهٔ «متمدن» نیکټایي والا به د نورو شرافت او ناموس ته د یوهٔ بې ارزښته واښــهٔ په اندازه ارزښت نــهٔ ورکاوهٔ. له دې کبله دې نور څوک ونــهٔ وایي چې زموږ د بدبختی او د نورو ورځو عاملین یوازې هغه کسان دي چې زموږ د ږیرې اوږدوالی اندازه کوي. هغوی چې هره ورځ پر خپلو ویښتانو ځلانده جـِل وهي، او د ورځې د مُوډ نیکټایي تر خپلو غاړو ځړوي، هم کولی سي زموږ د ولس آبرو او عزت نورو ته په ډېرې آسانی لیلام کړي!

***

یوه شپه چې له نیمایي شپې څخه وخت تیر وو، سید اکرام تحقیق ته وغوښتلم. د نورو ورځو برخلاف ئــې دا شپه تندی، ورین ښکارېدهٔ. ددهٔ دا ډول چلند ما ته عجیب ښکاره سو. له هر لوري ئــې خبرې باد کړې. خبرو ئــې نــهٔ سر درلود نــهٔ پای، داسې خبرې لکه چې د کوم بې تجربې سړي له خولې راوځي. په ځلونو ځلونو ئــې داسې ګواښونه وکړل لکه چې یو ماشوم څوک ډاروي. بیا به ئــې د وعدو او وعیدو نړی ته پنا یووړه. «راځه له موږ سره همکاري وکړه. وګوره هر څه چې سوي له هغو څخه موږ تیریږو. تا ته د «شرف قــَول» درکوم چې مرسته به درسره وکړم. داسې یو کار وکړه چې ملګري

دې زموږ د ګوند او دولت پر ضد له مبارزې څخه لاس واخلي. که تــهٔ له موږ سره په صداقت مرسته وکړې، موږ هم سترګي لرو چې ستا پر وړاندې له ځوانمردئ او ترحمه کار واخلو....» ما د تل په شان يو ځواب درلود. سيد اکرام له خپلي څوکۍ پورته سو. ګومان مي وکړ بيا د وهلو وار راورسـېد. بښــهٔ ئــې ځان راته نـېږدې کړ. ګومان مي کاوهٔ چې غواړې زما په غوږ کې څه ووايي. :« په هر څه چې ايمان لرې، په هماغــهٔ شي درته قسم درکوم چې له ما سره مرسته وکړه. ما خپلو ملګروته مـــهٔ شرموه. ځيل مـــهٔ کوه. يو څه ووايه چې ما ته د اوړو پزه سي.» د خاد د مستطنق د منافقت وروستۍ پرده مخ په ټوليدو وه.» «پينځمه پرده» ددغــهٔ پرله پسې داستان «دنګه څوکه/ اوج» وو چې د دښمن حقارت او زبون توب او په لاس او پښو تړلي د يوهٔ اسير سوبه ئـــې څرګندوله. د سيد اکرام عذر، زارئ او التماس بل څه نــهٔ ول مګر دا چې دهٔ په خپله د خپلي تسليمئ پر لاسوند/سند باندې خپل لاسليک ايښودهٔ.

د خاد د شکنجه ګرو ټينګار او شله توب بې دليله نـــهٔ وو. ويل کـېدل که مستنطق وتوانـېږي له تورن څخه اقرار واخلي، په بدل کې ئـــې د نغدي انعام ترڅنګ د «پينځلس ورځنئ عياشئ» لپاره د شوروي له پينځلس ګونو جمهوريتونو څخه يوهٔ ته استول کـېدهٔ او ددهٔ د مقام د لوړوالي سبب هم کـېدهٔ. له همدې کبله ده چې مستنطقين دې ته هلاک هلاک ول چې متهمينو څخه اقرار واخلي.

له نيمايي شپې ډېر وخت تير سوی وو چې خپلي کوټې ته بوتلل سوم. ټول ځان کې مي د غرور احساس کاوهٔ. په ټول وجود کې د خوښئ او ښادئ سيندونه په مستيدو ول او خوندونه مي ورڅخه اخيستل. له ځان سره مي وويل اوس نو له مرګي هم ويره نـــهٔ لرم. اصلي موخه مي د سازماني اسرارو او د يارانو او آشنايانو د سلامتی ساتل ول او دا دی ګام پر ګام خپلي موخي ته درسـېدو په درشل کې يم. که مي اوس دښمن د اعدام تر پولي هم ورسوي، نو نـــهٔ به زما کار پای ته ورسـېږي او نـــهٔ به هم ددښمن ښاد سي!

مخکې له دې چې خوب مي يوسي د شاعر دا شعر مي د زړهٔ په ترنم ووايـــهٔ :

ما را چو آفتاب مساوی است مرګ و زيست<br>
ګر شام مرده ايم، ســـحر زنـــده ګــشتـــه ايم<br>
موږ ته مرګ و ژواک د لمر د ژوندون په شان دی، که ماښام مړهٔ سو سهار بيا راژوندي کيږو

# د استنطاق وروستۍ ورځې

به دریـا مرو گـفـتمت زینهار
وگرمیروی دل به توفان سپار
(سعدی)
[پام کوه چې سیند ته لاړ نـهٔ سې، که ځې نو بیا زړهٔ توپان ته وسپاره]

د تحقیق ددفتر چاپیریال د هرې ورځې په تېرېدو سره مخ په سرېدو وو. نــهٔ مستنطق د پوښتنو لپاره کومه نوې خبره درلودله او نـهٔ ما څه درلود چې وئـــې وایم، داسې ښکارېدله چې د حریف د پوښتنو کڅوړه نوره تشه سوې وه. د مستنطق پوښتنې هماغه تکرار په تکرار وې او ورسره زما ځوابونو هم دهٔ ته کوم راښکون نــهٔ درلود. مستنطق به چې شونډې وښوروله پوهېدم چې څه غواړي ووایي. همدا شان دی هم زما د ځواب نـهٔ ورکولو په پایله ښـهٔ پوهېدهٔ. زموږ دغه شناخت د میاشتو میاشتو مخامخ مقابلې او زور آزمویلو په پایله کې رامنځ ته شوی وو. د تحقیق د پړاو له پیله تر پایه د «مسابقې/ سیالی» دواړو لورو هڅه کوله چې حریف غافله او په پای کې له ماتې سره ئـــې مخامخ کړو. د تلې د داړو پلو موازنې له ځمکې تر آسمانه له یو بله توپیر درلود. د مساوي حقونو درلودل هسې بابیزه خبره وه، په دې معنی چې مستنطق حق درلود له ما هره پوښتنه وکړي خو ما حق نــهٔ درلود له هغــهٔ څخه د لسهاوو «ولې» «ځواب» وغواړم چې پر مات ورمیږ او کږې غاړې ئـــې ورته دروندوالی کاوهٔ. له هرې پوښتنې او ځواب وروسته د دواړو خواوو عکس العملونه هم د یو بل ضد ول. زه له خپلو ځوابونو راضي وم مگر د «هو» ویلو داغ مې تر آخره د خاد د مستنطق په زړگي کې پرېښود. کله مې چې لیدل چې زما ځوابونه د مستنطق تریو تندی لا نور تریووي او په خرابو اعصابو غبرگون ښیي له ډېرې خوښی په جامو کې نــهٔ ځاییدم، حال دا چې که تاسو چا ته څه شي ورکړئ نو دا خو دود دستور دی چې له اخیستونکي څخه د ورین تندي او رضایت هیله لرئ. دلته معامله سرچپه وه. ما د مقابل لوري د بد خـُلقۍ او نارضایتۍ هیله درلودله. نـهٔ پوهېږم دغه استثنایي حالت په کوم ټکیو بیان کړم؟ ښایي دلیل ئـــې دا وي چې د پیښو او نښرغاندو «پېدیدو» دریځ، مقام او ارزښت د زمان او مکان د چوکاټ په شرایطو کې کولی شو وسنجوو.

وایي چې هر شی په خپل ځای ارزول کـېږي. هغه شی چې د خاد خوښـېدل زما نــهٔ خوښـېدل، او هغه شی چې دښمن ته گټور وو ما ته تاوان وو. له همدې کبله ول چې له غیرت، صداقت، رښیا ویلو او نورو مفاهیمو او کلماتو څخه زما تعریف او اخیستنه غیر له هغـهٔ څه ول چې مستنطق غوښتل[37]. ان د هېـواد پالنې مفهوم او کلمه زما او د هغـهٔ له نظره توپیر درلود. د روس د ځواک پر وړاندې سرغندویه مبارزه ما ته د هېـواد پالنې نښه وه، او دهٔ به په برالا ویل چې :« له روسانو سره دوستي د هېـواد پالنې معیار دی.» دغه شیان ول چې موږ ئـــې په دوه وو متضادو، مخالفو او نـهٔ پخلا کیدونکو اقطابو کې ځای پر ځای کولو. زموږ افکار، باورونه، سیاسي دریځونه، زموږ اخلاق او کړهٔ وړهٔ... ټولو له یو بله توپیر درلود. زه ځان

---

[37] - د مستنطق له خولې مې په ځلونو ځلونو وارېدل چې ویل به ئـې :« ولې دروغ وایې؟ سامایان خو دروغ نــهٔ وایي» تا ته په شرافت قسم درکوم چې رښتیا به وایې. «یا» تــهٔ غیرت لرې؟ ولې نر غوندې له خپلو اعتقاداتو دفاع نـهٔ کوې؟......

په دې کې نېکمرغه بولم چې د آزمېښت له دې ډګره سرلوړی راووتم او دغه پرېړه او ځرګنده کړښه راته هیڅکله کمرنګه او پیکه نـهٔ سوه. د لیکل سویو پوښتنو پر وړاندې مې ځان آرام احساساوهٔ ځکه شفاهي پوښتنې تل په سپکو ککړې او له ترخو او سپورو سره بدرګه وې خو دا باید یاده کړم چې دوی سپکې سپورې نـهٔ شوې کولی په تحریري پوښتنو کې ولیکي. زه او مستنطق دواړه پوهېدلو چې نیږدې ټول ځوابونه مې مصلحتي درواغ دي. زما د «درواغو» او د هغـهٔ د چلوټې او فریب توپیر په دې کې وو چې ما د وجدان په حکم او د مسؤولیت پر بنسټ ځان د خپلو دوستانو او ملګرو د ځان د ساتلو او د سازمان «ساما» د اسرارو په پټ ساتلو ملزم ګڼلــهٔ، دا هغه اسرار ول چې ما ته د سترګو د تور په شان ګران ول او په ارزښت ئــې تر ټولو ښــهٔ پوهــېدم.

په همداسې یوهٔ حالت کې سیاسي زنداني باید خپل دریځ/ موقف او موقعیت وپېژني، پرته له هغې دا امکان سته چې هر څـهٔ ئــې له لاسه ووځي. زه د خپل هېـواد د مستقل، ملي او مترقي مقاومت د زرهٔ ور لښکر سرښندوی او سرسپارلی سرتیری وم چې د پردي تیریګر پوځ پر وړاندې ئــې خپله سینه ډال کړې وه. زموږ د مبارزې مشروعیت له دې له معنې ډکې خبرې سرچینه اخیستې وه چې : « د ناصالح حکومت پر وړاندې پاڅون نــهٔ یوازې د ولس حق دی بلکه د هغوی دنده هم ده[38]». له همدې کبله مې د خپلې لارې پر سموالي او حقانیت او ددښمن پر غلطې لارې ان د یوې شیبې لپاره هم شک نــهٔ دی کړی. ځرګنده ده چې مستنطق د همدغـهٔ هدف په هاغـهٔ بل لوري کې جنګـېدهٔ.

# انګیرنې او جاجونه

داسې برېښـېده چې د تحقیق لړی خپل پای ته په نـېږدې کـېدو ده. په ټولیز ډول مې باور درلود چې «هیڅ داسې لاره نـهٔ سته چې پای ونـهٔ لري»، خو پـهٔ دې نـهٔ پوهـېدم چې د لارې پای به چېرته رسـېږي. زندانیانو خوشحالی کولې چې د ځرخي پـلـهٔ لوی زندان ته له لېږدېدو وروسته ښایي یو شمیر امتیازات لاس ته راوړي، ته به وایې چې ګڼې هلته یو څه آزادئ وي. همدا شان ویل کـېدل چې د تحقیق د لړئ له پای ته رسـېدو وروسته محکمې ته د تګ وار دی او هر څوک کولی شي د «قضا په محضر» کې له ځانه دفاع وکړي. ان هغو کسانو هم چې د تحقیق په لړئ کې په خپلو کړو او ناکړو «ګناهانو» اعتراف کړی وو ویل چې په قضایي جلسې کې منکر کېږو او وایو چې موږ د شکنجې په زور اعتراف کړی دی. د ځان په هکله مې انګیـرنه دا وه چې خبره به تر ځرخي پـلـهٔ او محکمې ونـهٔ رسـېږي. د همداسې یوهٔ جاج لپاره دوه دلیله ول : یو دا چې د «انقلاب د تکاملي مرحلې» له چلوټو او نیرنګونو بې خبرې او بل ئــې د خلق او پرچم د هېـواد پلوري باند له کرغیړنو او شنیعو کړو وړو څخه زما د سترګو لیدلی حال او زما په وینو لژندې ترخې تجربې وې چې ددې هېـواد یو نسل روڼ اندي زامن او په زرهاوو رزهاوو نازولې بچیان ئــې لکه غنم وریېل. د مخالفینو «په ځانګړې توګه د روڼ اندو او آګاهو» مخالفینو پر وړاندې د خلق د ډیموکراتیک ګوند له بوړنوړي تاوتریخوالي ډک چلند ما ته دا سبق راکړی وو چې هر هغه څوک چې سر ئــې په تن وارزي د خلق د ډیموکراتیک ګوند له ویني بهوونکي ساطور څخه به ونـهٔ ژغورل سي. له ځان سره به مې ویل : نیاز الله ئــې پرته له کوم وړوکي جرم او ګناه ستي کړ زه خو لږ تر لږه «یو څه یم»! نیاز الله

38 - تاریخ اندیشهٔ اجتماعی، لیکنه : بارنز و بکر، ژباړه : جواد یوسفیان او علی اصغر مجیدي.

د پروان د ولايت د سيد خيلو په يوهٔ کلي کې د يوې ډېرې بې وزلې کورنۍ غړی ووه. زه په خپله شاهد وم چې هغـهٔ د زړهٔ په وينو د جبل السراج په ليسې کې ښوونځی پای ته ورساوهٔ. نياز الله په خپله چې هغه مهال په لسم ټولگي کې وو راته قصه وکړه چې :« کله چې مور زما جامې مينځي، په کالـهٔ کې مې د خور جامې اغوندم.»! همدا بې وزلی ځوان د کابل په پوهنتون کې وو چې د «زيارکښو دولت» ونيو او تر نن پورې لادرکه دی. کله چې په دې وروستيو کې د خلق د ډيموکراتيک گوند په لاس د وژل شويو د پينځو زرو شهيدانو ليست د هالند د هېـواد د پوليسو له پلوه خپور شو ددهٔ نوم مې د همدغو شهيدانو په ليست کې وليد. پوهېـږئ ددهٔ جرم څه وو؟ نياز الله يو په زړهٔ ساده خو د ډېر استعداد خاوند ځوان وو. د ۱۳۵۷ل کال د غوايي له آفته مخکې ئــې دی د «ختيځې اروپا د سوسياليستي بلاک» کوم هېـواد ته د تحصيلي بورس لپاره کانديد کړی وو. د پوهنتون په ليلې کې ئــې يوازې په ناخبره «ناخود آگاه» توگه له خولې وتلې ول چې «زه سوسيال امپرياليستي هېـوادونو ته د تحصيل لپاره نــهٔ ځم.» نياز الله له سياست سره سر و کار نــهٔ درلود او نــهٔ هم په سياست پوهېـدهٔ. د عامو خلکو په خبره اورېدلي ول چې علي آباد هم ښار دی. د «سوسيال امپرياليسم» خبره کوم خبر غل اورې. د روزگار له قضا چې بدلون راځي او د خلق ډيموکراتيک گوند واک ته رسېـږي. هغـهٔ جاسوس گې چې دا خبره اورېـدلې وه واکمن گرځي او په پايله کې خوار نياز الله د کابل پوهنتون له ليلې څخه بيايي.

هو زما گرانې خورې او زما گرانه وروره! نياز الله د سياست له رمز او رازه ناخبره ځوان وو او يوازې د «سوسيال امپرياليزم» د کلمې د ويلو په جرم ئـې په ناځوانی ووژهٔ. سره ژبه، شين سر بربادوي. روح دې ښاده وي! دې ورته بيلگې کمې نــهٔ دي :

د خزانه دار[39] د زوی د کوټې له تلاشۍ څخه چې خپله د سالنگ د لويې لارې مأمور وو د پينځو تأريخي دورو د کتاب يوه تايپ شوې نسخه ومونده سوه. دی ئــې يوازې په دې «جرم» تر خاورو لاندې کړ چې د پينځو تأريخي دورو کتاب ئــې لوست خو د گوند غړی نــهٔ وو، له دې کبله دا ثابته خبره وه چې گټې سياست ئــې کاوهٔ، هغه هم آگاهانه سياست! دغـهٔ ځوانيمرگ ځوان هېـڅ سياسي سابقه نــهٔ درلودله. د ړېرې او کلاشنيکوف اصحابو د کتابونو لوست ددوی په وينا د «ميده خط» کتابونو لوستل گناه او بې لارې گڼله، خو دا بايد هيره نـهٔ کړو چې د پردېو واکمنی ته سرسپارلو گوډاگيانو هم چې هره ورځ ئــې ړېره چپه ترابښله کتاب لوستنه ئــې د مرگ د مجازاتو مستحقه گڼله

د پروان ولايت د سيد خيلو د ليسې د دولسم ټولگي زده کوونکی حليم جان ئــې د زده کوونکو د کتار له منځه يو نــهٔ وړ؟ د حليم جان نوم هم د پينځو زرو شهيدانو په ليست کی دی. اوس کولای شئ وواياست چې حليم جان ئــې د کومې گناه په جرم وواژهٔ؟ ياد دې تل ژوندی وي!

د جبل السراج د عشق آباد د کلي اوسېـدونکی شهيد استاد شير احمد يادوم. لومړی ئــې د پنجشير يوهٔ ښوونځي ته تبديل کړ. څو موده وروسته ئــې، دغه لايق او هېـواد پال استاد په روسي جيپ موټر کې د چهاريکارو تر ښاره راووړ. هغو کسانو چې ددهٔ د راليږدولو مأموريت ئـې پر غاړه درلود استاد ئــې په خپلو ټولو ښو اوصافو ښـهٔ پېـژاندهٔ خو ښايي تر دې دمه د

---

[39] - دا شهيد مې په همدغـهٔ نامـهٔ پېـژاندهٔ.

خپل مزدور دولت او ګوند په ماهيت خبر نــهٔ ول. کله چې دولتي سرې تښونکو استاد ئـې خپلو دولتي ملګرو سپارهٔ نو د سپارلو پر مهال ئــې د خلکو مخ ته د خپل استاد لاسونه ښکل کړل. ښايي دوی هم پوهېدل چې دا به ئــې له خپل عالم استاد سره وروستنی ديدن وي. ياد دې ژوندی وي! بله خاطره يادوم : تر دغـهٔ دمه مې مخفي ژوند نــهٔ وو غوره کړی. د يوهٔ کار د ترسره کولو لپاره د کابل ښار پر لور وخوځېدم. په موټر کې دننه راسره د پروان ولايت د سيدخيلو د ابراهيم خان د کلي استاد اکرام الدين ناست وو. سپين کالي ئــې په ځان کې ول. کله ئـې چې زه وليدلم له خپل ځايه راپورته سو او زما تر څنګ کښېنــاست. ورته مې وويل : «سړيه لکه چې وادهٔ دې کړی؟» وئــې خندل او وئـې ويل : «لکه چې له سپينو جامو مې پوه شوې که څنګه؟»! د حال او احوال پوښتنه مې ورڅخه وکړه. وئـې ويل : « زه ئــې ډېر ليرې او ان په ليرې ځايونو کې تر ټولو ليرې ځای ته تبديل کړی يم. ان د پنجشير آخر ته.» ورته مې وويل :« هلکه پام کوه چې په دې خلکو اعتبار نـهٔ سته؟» وئــې ويل : « اوس خو ئــې له نظره چپ يم.» ومې ويل : « ونــهٔ غولېږې ان هماغلته هم ددوی تر څار لاندې ئــې.» وئـې پوښتلم چې تــهٔ څـهٔ حال لرې؟ ورته مې وويل :« والله ياره زما ورځ هم بده ده. جاسوسان راپسې دي، خو نــهٔ غواړم مفت او چفت ځان ددوی تر چړې لاندې واچوم.» پوښتنه ئــې وکړه :« څـهٔ فکر او پلان لرې؟» ومې ويل : «ښايي دا زما د علني ژوند وروستۍ ورځې وي چې علني ګرځم.»

زموږ د سپرلۍ موټر د چهاريکارو ښار ته ورسېد. دی له موټره پلی شو چې پنجشير ته لاړ سي. خدای په اماني مې ورسره وکړه. له همدغـهٔ ليدنګ وروسته زموږ دواړو برخليک هم بدل سو. ورپسې څو ورځې وروسته د شهيد عبدالمجيد کلکاني په دستور مخفي سوم[40]، خو په خواشينی مې خبر تر لاسه کړ چې زما ګران ملګری او نازولی ټولګيوال، اروابښاد استاد اکرام الدين د کودتايي رژيم د خروړو په لاس تښتول شوی وو چې بيا خپل کور ته رانغی. ارواح دې ښاده وي!

بل ملګری مې غلام سخي نومېدهٔ. د پروان ولايت د سيدخيلو د ولسوالی د ظفرخيلو له کلي څخه وو. موږ د لومړني ښوونځي له دورې يو بل سره دوستي او آشنايي لرله. تر دولسم ټولګي پورې اوږه په اوږه ښوونځي ته تللو. د کابل په ښار کي ئــې متوسطه طب پای ته ورساوهٔ او همدغـهٔ ښار کې په کار بوخت سو. غلام سخي زړور، ځوانمردی، کاکه او دوست پاله ځوان وو. ددهٔ همدا ځانګړتياوې وې چې پر دوستانو باندې ډېر ګران وو. سياست ته ئــې ليوالتيا درلوده خو د هـېڅ سازمان او ډلي غړيتوب ئــې ونــهٔ مانــهٔ. هغـهٔ ته به مې د منظم «سياسي» کار وړانديز کاوهٔ. په خپلې خوږې خندا به ئــې ويل : « زما ککره په کړۍ کې مه بندوه!». د جمعو په ورځو به کلي ته د خپلې کورنۍ ليدلو ته راتـهٔ او د شنبې په ورځو به بيرته کابل ته روان وو. يوه ورځ له خپل کوره وخوځېد چې کابل ته لاړ سي. کله چې چهاريکارو ته ورسېد، وينو ته د تږي يوهٔ «خلقي» سترګي ورباندې ولګـېدلي، هغه ئــې له ځان سره بوت، تری تم سو او پوپنا ئــې کړ. ياد دې تل ژوندی وي!

---

[40] ـ شهيد مجيد کلکاني د غوايي د کودتا له همغو لومړيو ورځو خپلو دوستانو ته خبرداری ورکړ چې د غوايي کودتا دې د سردار داوؤد د کودتا په شان ونــهٔ انګېري. له ملي او روڼ اندو ځواکونو سره د غوايي د کوتا د کودتاچيانو چلند ډېر پرېکنده، خونړی او له دښمنۍ ډک وو. کله چې د خلق ډيموکراتيک ګوند يرغل پيل کړ مجيد آغا خپلو نامتو او مشهورو يارانو ته مشوره ورکړه چې د خطر له احساس سره سم دې ځانونه مخفي کړي. هغـهٔ به ويل : موږ خپل ملګري ددې لپاره نــهٔ دي روزلي چې د دښمن د چړو تر ګوزار لاندې راسي». اروابښاد شهيد اکرم ياري ته د پيام او نفر د ليږلو او د همکارۍ او د پناه ورکولو لپاره د ژمني تيارې د هغـهٔ د همدغې پوهې له کبله ول.

آیا هېـڅ داسې سترګې او وجدان نسته چې ونـهٔ وینې او پوه نـهٔ شي چې د خلقیانو او تر هغو بدتره د پرچمیانو د جنایت او قساوت ژورتیا څومره ژوره وه؟ دومره استادان، محصلین، د ښوونځیو زده کوونکي، مأمور او کارګر، بزګر او د جوماتونو ملایان او نور او نور او ..... د ښوونځیو، پوهنتونونو، دولتي ادارو، هټیو او جوماتونو له «تودو سنګرونو» څخه چا یوړل او چا ئــې سرونه تر خاورو لاندې کړل؟ څوک انکار کولی شي چې دوی ان پنډیان «جوالیان» ئــې له منډوي، له سرِ چوک او یا له چنداول څخه چې رسی ئــې پر غاړو وې او همدا ددوی وسله وه له ځان سره یوړل او تر نن پورې ئــې نښه نــهٔ ده پاتې! د افسوس او غم ځای دا دی چې لا تر اوسه هم داسې کسان سته چې په ټولې بې شرمۍ او سپین سترګی سره د «پرتمین دوران» له جنایاتو انکار کوي او یا په سپین سترګی وایي چې «هېـڅ چا له کوم موجبه پرته هېـڅ آزار او اذیت نــهٔ دی لـېدلی.» له همدې کبله ول چې ویره او خپل مرګ ته سترګه په لاره پاتې کـېدل لکه د ځان د سیورې په شان راپسې وه. هرګوره، زما ټول جاجونه او اخیستې سمې ونـهٔ ختلې. زه نـهٔ پوهـېدم چې د (انقلاب د لومړي پړاو) «پرتمین والی» به خپل ځای بل لوړ پړاو ته ورکړي او نور پراخ ارګانونه او ادارات به رامنځ ته شي. مډرنو بیروکراتیکو تشریفاتو د سرکوبې «په تورتم کې له منځه وړل» د زړو طریقو ځای ونیو. دوی د تحقیق، شکنجې، وژلو او د لومو کښېـنولو نوي او پرمخ تللې لارې او ابزار اختراع کړي ول. ان زنداني کولای شوای تر «انقلابي اختصاصي محکمې» پورې ورسـېږي او له ځانه (دفاع) وکړي. هلته څارنوال[41] حضور درلود او تورن ته د دفاعیې د لیکلو حق ورکول کـېدهٔ! اوس ئــې څه فرق کاوهٔ چې له څارنواله نیولې تر قاضي، محرر، دروازه وان او ډریور ټول د ګوند بیا په ځانګړې توګه د خاد غړي ول او ټولو د خپل تبر تیغه یوې خواته وهله. بیا ئــې هم څه فرق کاوهٔ چې د قاضي، محرر، څارنوال او نورو غوږونه د متهمینو د زاریو او عذرونو پر وړاندې چې په زاریو زاریو به ئــې د بې ګناهۍ ادعا کوله کاڼــهٔ ول؟ زه هیڅ تر اوسه نـهٔ یم پوهٔ سوی چې دا دومره دوسیه جوړول او دوسیه بازی د څه لپاره ول؟ که دغو دوسیو حقوقي اعتبار درلودای نو ولې ئــې د خپلې واکمنی د خونړي لمر له ډوبـېدا مخکې په خرواروںو دوسیې او پروتوکولونه وسوځول؟

# وروستـنـی استنطاق

زما وروستنی تحقیق له ګواښ، ترټنې، رټنې، ښکنځلو او په پای کې د پخوا په شان له زور زیاتي او فزیکي وهلو ټکولو سره بدرګه د خاد د تحقیق د ریاست د دوه وو تنو وحشي داړونکو د تحقیق د ریاست د لومړي مرستیال قاسم مشهور په عینک او د ریاست د دریم قسم د مدیر شریفي له پلوه پر مخ لاړ. دا دوه تنه بې رحمه ځناور « ددوی خوی او کړو وړو ته په کتنې دوی ته د ځناور د صفت وړل لا هم کمی کوي» ددې لپاره راغلي ول چې معلومه کړي چې آیا زما په څیره کې د توبې، پښیمانی، یأس او تسلیمی آثار لیدل کـېږي که نه؟ د تحقیق د چارو دا دواړه لوړ پوړي مقامونه خپل ټیټ سرونه سخت په ډېرو ووهل خو په پاشـېدلو مغرونو او تشو لاسونو بیرته خپلې سوړې ته لاړل. څه ئـې باک چې د شریفي د ډیرو درندونو لاسونو د سوکانو باران زما ناتوان او له شیمې لوېدلی ځان اوړهٔ اوړهٔ کړ؟ قاسم عینک هم لاس تر زنې کښې نناست. د دواړو لاسونو ګوتې ئــې زما د خولې داوړو ژیو ته یووړې او نیږدې وو خولـهٔ مې راڅیرې کړي. د شریفي د سوکانو درد به هیر کړم خو د تحقیق د ریاست د لومړي مرستیال بې شرمي او بې حیایي به هیڅکله هیره نـهٔ شي چې ویل

[41] - په دري متن کې سارنوال لیکل شوی دی او د چاپی محدودیت له کبله ئــې سارنوال لیکل شوی دی

ئــي :« تـــهٔ ... لکه کنچنۍ ښځه سل رقمه ناچو ناچو دې زده ده». زموږ ولس څه ښـــهٔ ويلي دي : د تبر زخم به جوړ سي خو د ژبې زخم نـــهٔ جوړيږي!

لويه څښتنه! آيا داسي «نارينه وو» خپلي هينداري ورکي کړي دي چي هر څومره له شرمه ډک او سپک اوصاف په جهان کي سته دوی ئـي د خپلي مور په لمني پورې ترې؟ حال دا چي دا نامردان په خپله تر هرې بد لمني بدتره عمل کوي؟

وايي چي غر، غرهٔ ته نـهٔ رسېږي خو بني آدم، بني آدم ته رسـېږي. د همدې خبرې سموالی ما ته دا خاطره را ژوندۍ کوي:

۱۳۷۴ل يا ۱۳۷۵ ل به وو. د شکنجو او زندان له سختيو څخه کلونه کلونه تـېر شوي ول. له خپل يوهٔ همسنگر ملگري سره مي د حيرتان له ښارگوټي څخه د مزار د ښار پر لور مو د تگ تکل درلود. د حيرتانو له بازاره د موټرونو تر تم ځايه پورې بايد پلي تللي وای. زموږ تر مخي يو سړی په چټکۍ روان وو. کميس او پرتوگ ئـي اغوستي وو. تر خپلي غاړې ئـي «چارخانه» دستمال اچولی وو چي په هغـهٔ باندې ئـي خپل مخ پوښلی وو. هر لور ته ئــي په تښـېدلي رنگ غلچکي او وارخطا وارخطا کتل. داسي لکه چي دښمن ورته په کمين کي ناست وي. ددهٔ دا وضعيت موږ اړ کړو چي لا نور پام ورته ور واړوو. موږ هم په چټکۍ گامونه واخيستل. هو! د تحقيق د رياست مشهور شکنجه گر شريفي له موږ سره هم سفره وو. ملگري مي د موضوع پوښتنه وکړه. کله چي پوه سو چي دی څوک دی وئــي ويل : « وای وای! دی خو زه هره ورځ وينم. د مزار په ښار کي د يوهٔ خصوصي شرکت مدير دی او دفتر ئــي هم د مزار د شاديانو په دروازه کي دی.» ملگری مي چي لږ سر زوری وو وويل :« اجازه راکړه چي دا خو يو څو کلکي څپېړې ووهم تر څو پوه سی چي څپيړه څومره درد لري.» ورته مي وويل : «نه انډيواله، زه په فردي غچ باور نـــهٔ لرم.»

## د صدارت له کوټه قلفۍ څخه د څرخي پلـهٔ د زندان پر لور

د صدارت د کوټه قلفيو د يو شمير سرتيرو چلند له متهمانو سره له زړهٔ سوي ډک وو خو دی د لوړو مقاماتو له ويرې هغه څه چي په زړهٔ کي درلودل په عمل کي ئــي له ځانه نـــهٔ شو څرگندولی. پهره دار غفار يو له داسي مهربانو انسانانو څخه وو. د ۱۳۶۰ ل کال د سلواغي د مياشتي شلمه نيټه وه، د ساړهٔ او کنگل ژمي سړې ورځي وې چي زما د کوټي دروازه ئــي خلاصه کړه او وئــي ويل :« تگ ته چمتووالی ونيسه». ورته مي وويل : « غفار جانه څنگه تياری؟ تياری تر تياري فرق لري؟» په زړهٔ سوي ئــي راته وکتل او يوه سړه آه ئــي له ستوني وايستله او په خپلي خوږې ننگرهاری لهجې ئــي وويل :« د څرخي پلـــهٔ ته ځې، خدای دې درسره مل او ملگری وي، ما در ته هېـڅ شی ونـــهٔ سو کولی. بيا هم که کومه سهوه او خطا له ما سوې وي ما وبخښه.» د زندانيانو د وړلو لپاره مخصوص موټر له انگړه دباندې ولاړ وو. د کوټه قلفيو او موټر تر منځ لاره نـېږدې پينځوس متره وه. هر لور ته وسله په لاس سرتيري ولاړ ول. دا د فوق العاده حالت څرگندويه وه. کله چي ډک ډوک موټر ته وختلم د ښورېدلو ځای نـهٔ وو پاتې. موټر څوکی نـــهٔ درلودلې. متهمين ولاړ ول. د موټر شا ته چي اوسپنينه دروازه وه وتړل سوه او د موټر دننه د ساتونکو او بنديانو تر منځ يوه پنجره وه، ساتونکي هم کښـېناستل. د موټر د چت په

پورتنۍ برخې کې یو وړوکی سوری وو، موټر نــۀ کړکۍ درلوده او نــۀ ښیښه. له همدې کبله په داسې موټر باندې د «دیګ بخار» نوم ایښی وو چې یو په ځای او سم نوم ورته وو.

زما له نیول کېدلو شپږ میاشتې او لس ورځې تېرې‌شوې. له دې څخه مې اتۀ ورځې د شش درک په لومړي ریاست او شپږ میاشتې او دوه ورځې مې د صدارت په کوټه قلفیو کې تیرې کړې وې. بیا هم یو ښــۀ شانس وو چې پس له دومره وهلو ټکولو اوقیل اوقال او زور زیاتي وروسته د تحقیق د ریاست له تنګو تورو کوټو څخه د څرخي پلــۀ د قفس پر لور لـېږدول کـېدم.

«دیګ بخار» په غمجن نالښت په لاره ولوېد. د «دیګ بخاطر» دننه منظره او حالت ډېر وحشتناک وو. موږ ټول سترې ستومانه او په ځان خوار زندانیان په خپلو اوږدو ویښتانو، ږیرې ږیرې په وینولړژندو جامو په سختۍ په پښو درېدلای شوای. کله به چې موټروان د موټر برک وواهـۀ موږ به یو پر بل باندې ولوېدلو. رښتیا خبره خو دا ده چې موږ هېڅ یوۀ دوني شیمه او زور نــۀ درلود چې په خپلو پښو ودرېدلای سو. په پای کې دا خوځند تابوت خپل مقصد ځای ته ورسېد. د موټر د شا دروازه ئــې خلاصه کړه. موږ ته ئــې فرمان راکړ چې له دې خوځندې جنازې څخه راکوز سو. ټول په یوۀ کتار کې ودرېدو. هوا زښته ډېره سړه وه. تودې جامې مو نــۀ درلودې. د بتخاک د دښتو ساړۀ باد زما نیم ژوندی ځان په متروکو واهـۀ. د ولي د پاڼې په شان رېږدېدلم. غاښونه مې بې اختیاره پر یو بل باندې کرېـېدل او یوه غمجنه نغمه ئــې پیل کړې وه. داسې مې احساس کاوۀ چې د سلواغې د میاشتې سړښت مې د هډوکو تر مغزو پورې رسـېږي. په همدې لړ کې څو نور موټر هم راغلل. په هر موټر کې د نورو زندانیانو تر څنګ زما دوه او درې تنه ګران ملګري هم ول چې هغوی ئــې هم دلته رالـېږدولي ول. د دریم قسم مدیر شریفي شخصاً په خپله زما د دغو همسنګرو ملګرو په بدرګه راغلی وو. په لومړي ګام کې ئــې نور بندیان تقسیمات کړل او زموږ خبره لا روښانه نــۀ وه. په «آزاده» هوا کې درېدلي وو او رېږد اخیستي وو.

هـېـڅـکله مې د څرخي پلـۀ زندان نـۀ وو لیدلی. کله چې له موټره راکوز سوم په ویرې مې څلورو خواوو ته وکتل. څلور خواووې دنګو ډبرینو دیوالونو او ټینګو برجونو چې بدخویه ساتونکي په کې ناست ول په غـېږ کې نیولې وې. هرې خواته دې چې کتل له پولادي میلو، ډبرو، سمنټو او له کانو سختو زړونو، تریو مخونه او فرعون مآبانه چلند بل شی نــۀ ښکارېدل. ددغـۀ وحشتناک حصار په منځ کې په زرهاوو «نافرمانه» انسانان ول چې یا ئــې د خپل مرګ لپاره د انتظار شیبې شمیرلې او یا ئــې کړاو ځپلي ځانونه او ارواحې په تراټ د ورستـېدلو پر لور په منډو وې.

د څرخي پلــۀ له زندانه ټینګه ځارنه او ساتنه کـېدله. د پرېړ ډبرین او ټینګ عمومي دیوال تر څنګ هر بلاک ئــې بیا په نورو ټینګو دیوالونو له یو بل څخه جلا کړی وو. د بلاک د اوسپنیني دروازې مخې ته به وسله په لاس سرتیري ولاړ ول. موږ ئــې د یوې درې پوړېزه ودانۍ مخې ته ودرولو. ددې ودانۍ د کوټو وړوکي کړکۍ په ټینګو پولادي میلونو ټینګې پوښل سوې وې، ډېر وروسته پوه شوم چې دا لومړی بلاک دی. د محوطې دننه ئــې د زندانیانو د ګرځـېدا لپاره ځای په پام کې نیولی وو. په انګړ کې یو وړوکی چمن ګی چې په وچو وښو پوښل سوی وو او د ژمي په سړو وهل سوي ګلان هم لیدل کـېدل. وروسته پوه سوم چې د زندان ساتونکو ان په زندان کې دننه د ځان لپاره د ښـۀ وخت تیرولو لارې چارې سنجولې

وي! د بلاک افسرانو له یو شمیر سرتیرو سره زموږ شا و خوا راتاو سول. شریفي هم زموږ شا و خوا د لیوهٔ په شان تاوېدهٔ راتاوېدهٔ او په خپلو خښمېدلو پړسېدلو سترګو او تروو شونډو او تریو تندي ئــې موږ هر یوهٔ ته کتل. تر دې حده غضبناکه وو چې موږ ګومان کاوهٔ اوس به مو خام وخوري. له افسره تر سرتیري پورې ټولو موږ ته په تعجب او حیرانتیا کتل او زموږ خیرې او قد او قامت به ئــې له نظره تیراوهٔ.

ټول ځان مې لکه جام د اورېدلو خبرو له لاسه تر ژئ ډک وو. میاشتې میاشتې کېدلې چې له وړوکو څو استثنایي مواردو پرته نــهٔ کومه رښتیا او نــهٔ مې کومه انساني خبره اورېدلې وه. مینه لیدل او مینه ورکول راته ناپیدا اکسیر ګرځېدلي ول. زړهٔ مې غوښتل له دردونو سره آشنا څوک وموموم او د خپلو غمونو پیټی مې مخې ئــې ته کښېږدم او د زړهٔ غوټې مې ورته خلاصې کړم او هم د هغهٔ د غمجن زړهٔ کتاب هم ولولم. خو موږ ته چیرته د خبرو کولو وخت اوفرصت وو. یوازې مو کولای سوای غلچکي یو بل ته وګورو. د همسنګرو یارانو بېلول او ورسره د خبرو ممانعت په دې خاطر ول چې ونــهٔ سو کولای په خپلو منځونو کې اطلاعات تبادله کړو. له بلې خوا، موږ په خپله هم د احتیاط له چوکاټه دباندې نــهٔ وتلو. په همدې شیبې کې د شهید محمد علي کشری ورور حسین چې یو بې ډاره او سرښندویه ځوان وو په شدت په ځمکه ولوید او پریوت. دا پېښه مې هېڅکله له یاده نــهٔ وځي[42]. موږ ئــې د شریفي د دستور پر بنسټ یو یو ودانۍ ته ننه ایستلو او د زندانیانو په اصطلاح «تقسیمات» ئــې کړلو. لیدل کېدل چې زموږ اسیر ملګري ټول نتلي «افسرده»، بې انرژي، ډنګر، کم ویني، په مخونو ژیړ او زار و زهیر سوي دي. د سرونو ویښتان ئــې لوړ، اوږدې ږېرې او نوکان ئــې اوږدهٔ شوي ول. د میاشتو میاشتو کوټه قلفی، وحشیانه شکنجې، سپکې سپورې، انک «هتک حرمت».... به له دې پرته بل کوم سوغات ولري؟

هغه صدمات چې د صدارت په مرګ زېږوونکو کوټو کې په زنداني دېر وخت د تېرېدلو او د یوهٔ زنداني په جسم او روح باندې د فشارونو راوړلو او د شکنجو له کبله را پیدا کېږي دومره ډېر دي چې په خواشینۍ تر اوسه هېڅ افغان عالم په دې باب کومه مشخصه پلټنه او څېړنه نــهٔ ده کړې، خو دلته اړینه ګڼم چې د پوهانو د څېړنو پایله چې د شدیدو شکنجو له کبله رامنځته کېږي دلته کټ مټ د بي بي سي د فارسي سایټ له مخې را اخلم :

> (څېړني ددې څرګندویه دي چې هغو کسانو چې د زندانونو په انفرادي کوټو کې وخت تیر کړی دی د یوې مودې له تېرېدلو وروسته له حس څخه بې برخې کېږي او د خپل تشخیص توان له لاسه ورکوي. په دې څېړنو کې د شمالي امریکا محصلین تر ازمویني لاندې ونیول شول «په انفرادي کوټو کې واچول شول» ډیري ئــې له دوه ساعتو او لږ شمیر ئــې له ۷ ساعتو وروسته ددې وضعې ددوام وسعه نــهٔ درلوده... ددغو ازموینو شرایط دوی ته د زغم وړ نــهٔ ول.
>
> یو شمیر هغو کسانو چې د بي بي سي په څېړنیزو ازمایښتونو کې ئــې ګډون وکړ ددیرشو ساعتونو له تیرېدلو وروسته ئــې په خپلو کوټو کې ګام وهل پیل کړل. «براین کینان» چې څلور کاله ئــې په لبنان کې

[42] - د شهید انجنیر محمد علي ټوله کورنی لکه پلار، ورور او خور ئــې زنداني وه.

په اسارت کې تېر کړي ول وايي :« په ياد مې راځي چې يو ځل ويښ سوم، خپل مخ او سينه مې کښېکارله او له ځانه مې پوښتل چې آيا لا تر اوسه ژوندی يم؟»

آدام چې ۴۸ ساعته وروسته له انفرادي کوټې راووت، غوښتل ئې د هغه سړي مخ ښکل کړي چې ددهٔ پر مخ ئې دروازه خلاصوله. آدام له ۳۰ ساعتو وروسته ويرې او اوهامو او خيالاتو ونيو. د هغهٔ ماغزه يو شمير تصويرونه ښيي، دهٔ په خپلو خيالاتو کې د موسيقي آلات ليدل چې غږونه ئې شيبه په شيبه لوړېدل اولوړېدل. دی زياتوي : «کله چې دباندې راووتم له ۴۸ ساعتونو وروسته مې وکولای سول لمر او آسمان ووينم. حواس مې په بوی، غږ او ليد ډک شوي ول[43].)

هغه زندانيان چې په مياشتو مياشتو د صدارت د زندان په تيارو او نمجنو کوټو کې ناست ول څنګه دې امکان ولري چې دوی ته هېڅ اوږدمهاله تاوان نهٔ وي رسيدلی؟ موږ خو لا د هغو تللو شهيدانو په باب خبرې نهٔ کوو چې دښمن ئې په حق کې «ترحم» وکړ او د تل لپاره ئې له اضافي کړاو او رنځ څخه بې غمه کړل. هغوی د تجريدي زندان او شکنجو ټول عوارض له ځان سره تر خاورو لاندې يوړل. زموږ خبره د هغو ژوندي په قبر کې ننه ايستل شويو کسانو په باب ده چې د خپل مرګ تر شېبې پورې – هره ګړۍ او هر ثانيه- شکنجه کېږي او ذره ذره اعدامېږي.

( شکنجه داسې څهٔ نهٔ دي چې څوک ئې په آسانی هېره کړي. د شکنجو قربانيان غالباً د کلونو کلونو لپاره د ډاکټر درملنې ته اړتيا لري. روان پېژوندونکی او روان درمل، برګيته برانت ويلهلمې د «کاريتاس د شکنجو د قربانيانو لپاره د رواني درملنې د مرکز مسؤول» وايي : «د دردناکو تجاربو مکرر يادول او مُرور، د بې تفاوتۍ احساس او بې حوصلې توب، ويره او وحشت چې په بيلابيلو بڼو ځان ښکاره کوي، بې خوبي، او متداومې خپسکې «کابوس»، ځان وژنې ته ليوالتيا، نا آرامي او جنسي ستونزې ټولې د شکنجې د قربانيانو ستونزې دي.» دی زياتوي ...« هغوی «د شکنجې قربانيان» ددغو ستونزو پيټی تر اوږدو مودو پورې په اوږو وړي. دا وضعيت نورې پايلې هم لکه په کورنيو اړيکو کې ستونزې زيږوي.[44])

ددې ټولو شکنجو او ظلمونو عواقب لا تر اوسه راسره پاتې دي. د لوېديځې نړۍ د روان پېژندنې او روان درملنې متخصصينو زما غمجن داستانونه واورېدل او د بې خوبۍ او له Flashback څخه د متداومې ويرې له عوارضو (د تيرو شويو پېښو بيا په ياد راتلل، په ذهن کې د رنځ زېږوونکو خاطرو تکرار) څېړنې وکړې او دا ټول د post traumatic stress syndrome ناروغۍ په اخته کېدلو رامنځته کېږي «يعنې له پېښې وروسته کړکيچ زېږونکی اختلال» يا « له پېښې وروسته د سترس اختلال» دی دوی له خپلو پلټنو وروسته راته وويل : هغه ربړې او ستونزې چې تاسو ګاللي دي ان

---

[43] - د شکنجې او په انفرادي کوټې کې دغه معلومات کلونه وړاندې د بي بي سي له سايت څخه اخيستي ول خو اوس مې چې هر څه ولټول پيدا مې نهٔ کړل.

[44] - دا شرايط او حالات په بيلابيلو مواردو کې له يو بله توپير لري، خو په ټوله کې مفهوم ئې يو وي چې پورته وويل شول

باور نــهٔ منونکي دي. له در پيښ شويو مصيبتونو شديد ضربات دومره ژور دي چې ان د مرگ تر شيبې پورې به دې له ذهن او خاطرې ونــهٔ وزي. تــهٔ مجبور ئــې له خپلو غمونو سره يو ځای ژوند وکړې بله چاره نــهٔ لرې!

ددغو متخصصيو د نظر سموالی ان په خپلو هډونو احساسوم. څـهٔ دباندې درويشت کاله مخکي له زندانه خلاص سوم، خو جسم او روح مي دواړه په زولنو تړلي او د زندان په قيد کي دي. کله چي کوم وحشتناکه خوب وينم ټول ئــې له زندان او اعدام سره نــهٔ بيليدونکي اړيکي لري. سوگند خورم چي ان يو ځل مي هم په خوب کي د گلو پټی، د سيند غاړه، د چنار او د ولې د ونې سوړ سيوری، ميله او چکر، ټوکي ټکالي نــهٔ دي ليدلي. له پوليس څخه ډارېږم. د گول سيخ مي په نظر کي د زندان ميلونه راځي. د برق مزي او د ماشوم چيغي ما ته د شش درک او د تحقيق د رياست وحشت ځای په ياد راولي. له برج لرونکي کلا، ديوال او تنگي کوټې څخه کرکه لرم. د پهره دار، پهرې، قفل، ځنځير، زندان، شکنجې، مستنطق، دوسيې، پوښتني، ځواب، قاضي، څارنوال، دفاعيې، اتهام او اتهام ليک د کلماتو په اوريدلو شوک وينم ټکان خورم. له دسته جمعي قبرونو او د سرونو دکوپړيو ليدل خو هېـڅ مـهٔ يادوئ! هر کله چي د زندان او زنداني په باب کوم شی ليکم نو په اونيو اونيو له پښو لوېږم او په شپو شپو مي خوب تښتي. لنډه دا چي : ستونزه دومره ژوره ده چي که څوک د پښتو په خوږې ژبې ووايي : ښاد/خاد او بريالی اوسې! نو يو ناڅاپه د خدمات اطلاعات دولتي «خاد» ربړونه او کړاوونه مي په ذهن کي مجسم شي. کاشکي کيدای شوای د ښاد د کلمې پر ځای خلک بله کلمه وکاروي[45]!

دوران بقا چو بادِ صحرا بگذشت تلخی　　　وخوشی و زشت و زيبا بـــگذشت

پنداشــت ستمگر که ستــم بر ما کــرد　　　در گردن او بماند و بر ما بگذشت

(سعدی)

[د پايښت مهال د بيديا د باد په شان تير سو، تريخوالی، خوښي او زښتی او ښايست تير سو، آيا ستمگر په دې پوه سو چي پر موږ ئــې ستم وکړ، پر موږ تير سول او ددوی پر غاړه پاتې سول]

[45] - ښاد د پښتو سمه بڼه ده خو په ختيځې پښتو کې ښ په خ بدليږي. د ښاد پر ځای خاد وايي.

# دریم پړاو

هغه چې وَزَر او بڼکې نـهٔ لري او مارغـهٔ نـهٔ دی نو د څه لپاره د ګړنګ پر ژی ځاله جوړوي «نیچه»

د لومړي بلاک له ودانی څخه څو متره لـېـرې دننه ته د ننوتلو د اجازت لپاره دَرَول شوی وم. دا ډېر تریخ انتظار وو. د زندان د اوسپنینو میلونو له شا اسیرانو راته لاسونه ښورول. دنګو پلنو دیوالونو، ټینګو برجونو او وسله په لاس ساتونکو را چاپیر کړی وم. د خادیستانو فرعون ډوله چلند او د سفله زندان ساتونکو د بریتو مکیزونه مې لکه اغزي په زړهٔ راننوتل. د حرفوي سړي وژونکو له غچ ډکې سترګې او د زندان ساتونکو غاښ چیچنې او پوچ او جلف حرکات د یوهٔ اسیر پر وړاندې چې لاس او پښې ئــې تړلې دي د رواني جګړې له اعلان پرته بل څه نــهٔ ول. داړه مارو غلو په بې ډېرې بې حیایۍ د نویو راوړل شویو زندانیانو لاسونو او مړوندونو ته کتل چې که کومه قیمتي ګوټه یا ساعت ومومي، او د «وړلو په ورځ» («اعدام ځای ته د بیولو») ئــې ورڅخه ولجه کړي. بې شرمي هم حد لري!. هغه د خلکو خبره : بزُ دَه غمِ جان کندن، قصاب دَه فکر چَربو.

د زندان ویروونکي چاپیریال او د زندان ساتونکو له تاوتریخوالي ډک چلند زه د «قلعـهٔ نای[46]» د زنداني د ترخې کوکارې په یاد وغورځولم چې په خپل ټپي ستوني ئــې داسې فریاد ایستلی وو :

نالم ز دل چو نای من اندرحصار نای پستی گرفت همتِ من زین بلند جای

[د نای په حصار کې د شپیلۍ په شان د زړهٔ له تله کوکه کړم په دې لوړ ځای کې مې همت راټیټ سو]

په زولنو کې د راګیر د «قلعـهٔ نای» له زنداني سره د همدردۍ احساس مې د ځان په رګ رګ کې په ځلغېـدو سو. ورسره جوخت د زړهٔ ټکانونه مې لا ډېر شول او یو ډول ټپه ویره مې مخې ته ودرېده. زه د ژوندون په کړلیچنې او له موړونو ډکې او اغزنې لارې باندې د مـېـړانې په متې د سختیو غېږ ته تللی وم او له هېـڅ شي څخه مې دومره ویره نـهٔ درلوده چې د همت او مـېـړانې له ټیټوالي څخه مې درلوده. له ځان سره مې وویل : لویه خدایه! هغه ورځ راباندې مـهٔ راولې چې د جفا غیشی زما لوړ همت او مـېـړانه په نښه کړي!

ددې لپاره چې خپل زړهٔ ته مې تسل ورکړی وي، د حافظ دا بیت مې څو ځله له ځان سره تکرار کړ:

همتم بدرقهٔ راه کن ای طایر قدس که درازست رهِ مقصد و من نوسفرم

زما د ذهن په کړلیچونو او موړونو کې د مـېـړانې د لوټ کـېـدلو غم په څپو وو چې مؤظف نفر راته د تګ امر وکړ او له همدغـهٔ وسواس سره یو ځای مې د لومړي بلاک په دالان پښه کښـېـوده. په تورتم دالان کې نبـږدې شل متره وړاندې لاړم او د پوړیو په لومړۍ پټې مې چې پورته پوړ ته ئــې لاره درلوده ګام کښـېـښود. تر دې دمه د پوړیو کاږهٔ ځای ته لا نـهٔ وم

---

[46] ـ موخه نـېـږدې ۹۰۰ کاله وړاندې مسعود سعد سلمان دی

رسېدلی چې محافظ په خپل لوړ آمرانه غږ راغږ کړل چې «صبر وکه»! د دویم پوړ پهره دار اوسپنینه[47] دروازه خلاصه کړه. د «پنجرې» غمجن نالښت په دالان کې ازانګه وکړه. دا د څرخي د پلـۀ د زندان د قفل او ځنځیر لومړنی غږ وو چې زما په غوږ کې ئــې ځای ونیو او تر کلونو کلونو پورې تکرار سو. دې پنجرې ددویم پوړ ختیځه خوا له نورو برخو څخه بیلوله. دویم دالان ته ننوتم. دغـۀ دالان څه ناڅه سل متره اوږدوالی او دوه نیم متره پسور درلود. د دالان دواړو خواوو ته کوټې وې چې دروازې ئــې تړلي وې. لا څو ګامه مې نــۀ ول اخیستي چې سرتیرې د دالان کیڼې خوا ته د یوې کوټې دروازه راته خلاصه کړه. راته وویل شول :« ننوځه!» اوسپنینه دروازه په خپل کرکجن غږ بیا راپسې وتړل سوه. دا کوټه د درې نیمو په درو مترو پلنوالي کې وه چې دوه داني دوه پوړیز چپرکټونه په کې ایښودل شوي ول. د صدارت د زندان تر کوټو دا کوټه یو څه ناڅه پاکه وه. د کوټې غولی ئــې په عسکري کمپلو پوښلی وو. په کوټه کې څلور تنه ناست ول، سرونه ئـې په کتابونو خم ول. د دوه پوړیزو اوسپنینو چپرکټونو، آهن چادري بکسونو، بیکونو، کتابونو، د چای ترموزونو، ښیښه یي ګیلاسونو.... شتون لنده دا چې هر شی راته په زړۀ پورې او جالب ول. داسې مې ګومان کاوۀ چې په ژوند کې مې داسې شیان نــۀ دي لیدلي. له هرې خوا سترګې راباندې نـېغي وې. د بې جرئـتـۍ څپه مې په ځان کې خپره سوه. که د کوټې د ناستو کسانو ورین تندی راته نـۀ وای ښودل سوای ښایي هماغسې به د دروازې په خولـۀ کې پاتې وای. څلور واړه په پښو ودرېدل او لاسونه ئې راکړل. په زړۀ کې مې وویل څوني مهربانه انسانان دي! د غولي پر مخ کښېناستم. راڅخه ئــې پوښتنه وکړه چې څه کاره یم؟ ورته مې وویل چې ښوونکی وم. ومې لیدل چې د رضائـیت نښې ئــې په څېرو کې په غوړېدا سوې. ددغو څلورو تنو په منځ کې یوۀ ئــې چې ځان تر نورو پوه ښودۀ په پښتو وویل : «ښـۀ شو چې تعلیم یافته سړی دی.» زما د تور یا اتهام په هکله ئــې پوښتنه وکړه. هماغه ځواب مې ورکړ چې وړند یا مناسب وو. د خبرو له فحوی ئــې راته څرګنده سوه چې زما مخفي کاري ئــې خوښه نـۀ سوه. یو بل تن ئــې وویل : «دا د اعدامیانو بلاک دی. دلته عادي دوسیې نـۀ راوړي. هغه کسان چې لومړي بلاک ته راوړي خطرناک کسان دي.» د چپرکټونو پر مخ مې پام پرتو کتابونو او مجلو ته ولوید. ومې ویل : «څومره ښه ده چې لږ تر لږه د څرخي پـلـۀ په زندان کې خو د کتاب لوستلو ممانعت نـۀ سته.» ډېره موده سوې وه چې کتاب مې نــۀ وو لیدلی. زړۀ مې غوښتل پر هر کتاب باندې د مینې لاس کش کړم. کله مې چې ولیدل د کوټې بندیان خپلې سترګې له کتابه نـۀ لیرې کوي په زړۀ کې مې وویل : «د زندان د میلونو تر شا څومره هڅانده او کوښښي انسانان ژوند کوي»!

زما غالب ګومان دا وو چې په کوټه کې راسره ناست بندیان د خلق دډیموکراتیک ګوند او د روس د نیواکګرو مخالف روڼ اندي دي. له خدایه مې غوښتل چې دا هیله مې حقیقت وي. په همدې سودا کې ډوب وم چې په دوی کې هاغه «مهم» سړي وویل : «موږ د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند غړي یو. د غوایي انقلاب زموږ د مټو په زور بریالی سو. اوس ئــې موږ زندان کې اچولي یو. پرچمیان موږ د باندیستانو په نوم یادوي». ددۀ دا خبرې داسې وې لکه څوک چې زما په ډوب خوب کې بیدۀ خیال باندې سړې اوبـۀ واچوي. نفس مې بند سو، لاسونه او پښې مې سستې شوې، ته به وایې چې روح مې قبض سوي وي. د غوایي د کودتا او سپېرې او شومې پایلې ئې له ما پټې نــۀ وې. هغه قتل عامونه چې د غوایي د کوتا چیانو په لاس شوي ول په یاد مې راغلل. زما بهترین یاران ددوی د غوبل او وحشت پر مهال وژل شوي ول. نـۀ مې غوښتل

[47] - په زندان کې ئــې ځالۍ ډوله اوسپنینه دروازه هم پنجره بلله. دلته پنجره د کړکۍ په مانا نـۀ ده.

د کوټې له دیوالـۀ څخه خپلې سترګې لیرې کړم. کله به مې چې ددوی پوښتنو ته ځواب ورکاوۀ ژبه مې بنده بنده کېدله او نـۀ مې شواى کولاى د پوښتنو کوونکو سترګو ته وګورم. پر خپل ځان مې زړۀ سوځېد. د برخلیک پر لوبې مې خندل چې څنګه ئــې نــۀ پخلا کېدونکې دښمنان سره تر یوۀ چت لاندې د یوۀ دسترخوان چاپیره راټول کړي دي. لږ وروسته مې دوی وپېـژندل. یو ئــې حبیب الرحمن (له پغمانه) وو چې په روسیې کې ئــې درس ویلی وو، ښـۀ چلند ئـې درلود او هوښیار او زرنـګ سړی ښکاریدۀ. په روسي ژبې پوهېدۀ او خپل ډېر وخت ئــې د کتاب په لوستلو تیراوۀ. نوموړی د حفیظ الله امین د واکمنی پر مهال د قوای مرکز سیاسي معاون وو. بل ئــې له (پغمانه) سید منیر نومېدۀ د پروان په ولایت کې (د کام مدیر[48]) وو. نوموړي ډېرې خبرې نــۀ کولې، عصباني، ګرومجن «عقده یې» او ګوځ مخی «درونګرا» ځوان وو. ډاکټر جهان نور جهان «له پکتیا څخه» مخکې د کابل په جمهوریت روغتون کې ډاکټر وو، شوخ او سرټمبه سړی وو. څلورم تن هاشم نومېدۀ.

د کوټې بندیانو راته چاى او شیرنې وړاندې کړل. هیڅ مې زړۀ نــۀ غوښتل چې ددوی څه شی وخورم یا په اصطلاح مالګه او خواړۀ ئــې وڅکم. هرګوره، دا یو تریخ واقعیت وو چې ورسره مخامخ سوی وم. ځمکه سخته او آسمان لیرې. ددغه حالت بدلول زما له واکه بهر ول. د ځمکې هغه ځاى سوځي چې اور ورباندې بل وي، چاره مې نــۀ وه. د ځان د تسلی لپاره د نیما یوشیج د شعر دغـۀ بیت ته مې پناه یوړه :

با دوست هنر نیست اگر زیست کنی بادشمنِ خود زیست چوکردی هنر است

«له دوست سره ژوند کول هنر نـۀ دی، له دښمن سره ژوند کول هنر دی»

ددوی یوۀ تن یوه آبګرمي چې دوی جوړه کړې وه[49] د اوبو په ډک سطل کې کښېودله. د اوبو تر تودېدو پورې ئــې له ما پوښتنې کولې او دا پوښتنې له زندانه بهر د حالاتو په باب وې. یوه پوښتنه ئــې دا وه : آیا له زندانه دباندې خلک خبر دي چې موږ زنداني یو؟» که رښتیا ئــې ووایم زه په خپله د جلاد حفیظ الله امین د ډلې له زنداني کېدلو دقیقاً خبر نــۀ وم.


د سطل اوبـۀ تودې شوې. ما ته ئـې وویل چې که غواړې خپله ږېره اصلاح کړې، د ږیرې خرېلو تیغ او ماشین به درته درکړو. ومې ویل سمه ده. د ځان پرېوللو تشناب او د حاجت د رفع کولو تشناب سره څنګ په څنګ ول چې دروازې ئــې کوټې ته لاره درلوده. که څه هم د لومړي بلاک د مرکز ګرمی سیستم نیم کاره پاتې وو خو د تشناب په نل کې سړې اوبــۀ رواني وې. له همدې کبله ځان پریلوو او د حاجت رفع کولو خبرې چنداني ستونزه نــۀ درلوده. تشناب ته ننوتم. خپل مخ مې له شیږو میاشتو وروسته په هینداره کې لیدۀ. په لومړیو کې مې خیال وکړ چې په هینداره کې د چا انځور کښل شوی دی. له خپل مخ څخه وډار سوم. د سر ویښتان او ږیره مې د انسان ویښتانو او ږیرې په شان نـۀ ول. تر ټولو خندنی خبره خو دا وه چې د سر ویښتان او ږیره مې مستنطقینو شکولې وه. خپله ږېره مې وخریله او ځان مې په تودو اوبو پریمنیت. میاشتې

[48] - د غوايي له بخولې «فاجعې» وروسته د روس د ګوډاګي او لاسپوڅي رژیم د مخفي پولیسو ددستګاه نوم (د افغانستان د ګټو ساتونکې اداره) یا «اګسا» نومېدله. له یوۀ کال او څو میاشتو قتل او وحشت او وینې بهونې وروسته کله چې حفیظ الله امین د خپل «استاد» نور محمد تره کي سر تر ابده تر بالښت لاندې کړ او د ګوند او دولت بې سیاله اداره ئــې په لاس کې واخیسته، د «اګسا» نوم ئــې د (خپلې سل ورځنۍ واکمنۍ) پر مهال «د کارګرانو امنیتي مؤسسه» یا «کام» په نامـۀ واړاوۀ. همدا اګسا او د هغـۀ خلف الصدق کام وو چې د «مرحلـۀ نوین و تکاملي انقلاب شکوهمند ثور» وروسته د «خدمات اطلاعات دولتي» «خاد» په نامـۀ ونومول شو.

[49] - زندانیانو به په پټه کله ناکله د ږیرې خریو له تیغ «پـَـل» او د ښیښې له کومې ټوټې او یا د حلبي له یوې پاڼې او د برق له مزي څخه آبګرمي جوړوله.

میاشتي کېدلي چي تودو اوبو ته مي لاس نــهٔ وو وروړی. د سر ویښتان مي په خپل حال پاتي سول. باید ووایم چي نویو راغلو کسانو ته په زندان کي دا ډول «میلمه پالنه» یوه عادي خبره وه ځکه هغه کسان چي د صدارت له زندانه د څرخي پلــهٔ زندان ته راوړل کــېدل دوی به له ځان سره خطرناک حشرات راوړل. له بلي خوا که د کوټي د زندانیانو له مرستي یادونه ونــهٔ کړم په حقیقت کي به مي انصاف تر پښو لاندي کړی وي.

د غرمي له ډوډۍ نـېږدي نیم ساعت مخکي پهره دار زموږ د کوټي دروازه خلاصه کړه. یو دنگ سړی زموږ کوټي ته راغی. وروسته پوه سوم چي نوم ئــي حضرت دی او د کندز له کومي سیمي څخه دی. هغهٔ زموږ د وچي ډوډۍ برخه راوړي وه. د پوړ یا طبقي زندانیان مکلف ول چي وچه ډوډۍ او قرَوانه په وار د بلاک له انگړ څخه راوړي او د هماغهٔ پوړ پر زندانیانو ئي وویشي. حضرت د کوټي ددروازي په خولـهٔ کي ودرېد او په تلوار او وارخطایي ئــي «په پښتو» وویل : (زموږ کوټي ته ئي یو انجنیر چي په شوروي اتحاد کي ئــي زده کړې کړي دي راوړی دی. ښځه ئــي هم روسۍ ده. ډېر پوه سړی دی خو وایي چي افغانستان د یوهٔ بل انقلاب په درشل کي دی. دا ماته اریانوونکي ښکاري.) ملگرو ئــي یو بل ته داسي په تعجب وکتل ته به وایي چي قیامت ئــي د کور شا ته راغلی دی یا کوم ابلیس کعبه په ډبرو ویشتلي ده. هغــهٔ خوار ساده «خلقي» په دا دومره پراخه او لویي نړۍ کي یوازي او یوازي څو پرله پسي سیاسي اصطلاح گاني له یاده کړي وې او له هغو څخه یوه ئــي « د غوایي په شا نــهٔ تلونکی انقلاب» وو. دهٔ ساده بډانگ خیال کاوهٔ چي که د هر شي پرمخ د نــهٔ ماتېدونکي سریښ او پیوند وټومبي نو هېڅکله زوال نــهٔ مومي. حضرت بیره درلوده او نـهٔ یي شوای کولای ډېر منتظر پاتي شي. حضرت ځواب ته سترگي په لار وو. ټولو د « کوټي هوښیار ته» سترگي رغړولي خو «پوه» سړی غلی وو. داسي برېښـېدله چي «پوه سړی» هم د چرتونو په دریاب کي په ځواب پسي لالهانده دی، له یو څه ځنډ وروسته ئــي خپل مخ حضرت ته واړاوهٔ او وئــي ویل : «داسي ښکاري چي دغه سړی شعله يي دی. هغو شعله یانو چي په شوروي اتحاد کي زده کړې کړي دي ډېر سخت سره دي. ملگریه! ورته ووایه چي بل انقلاب به په خوب کي هم ونــهٔ ویني. تر څو چي له سرهٔ پوځ سره یو ټانک هم پاتي وي، د ثور انقلاب ماتي نــهٔ خوري.» ما په ډېري کرارۍ ددهٔ خبرو ته غوږ ونیو او پوه شوم چي انجنیر زمری صدیق ته ئــي زموږ مخامخ کوټي کي ځای ورکړی دی.



زمری صدیق

انجنیر زمی یو زړور او د سپیني ژبي سړی وو او مخامخ به ئــي خبره کوله. اور ژبی وو او همداسي ئــي عادت وو. د هېڅ چا پر وړاندي ئــي ځان کم نــهٔ راووړ. له خپلو اعتقاداتو او باورونو څخه به ئــي په کلکه او هر چیري دفاع کوله. ددهٔ د همدغـهٔ عادت له کبله به انډیوالانو پري انتقاد کاوهٔ. انجنیر امین به په ټوکو ورته وویل چي «په سرهٔ کارت دي مـهٔ نازېږه چي وژل کـېږې[50].»

[50] - له «سرهٔ کارت» څخه موخه د انجنیر امین روسی ماندینه وه.

د حضرت له خبرو او د نورو له غبرګون څخه مي دا پايله واخيسته چي دا ډله لا تر اوسه دې ته چمتو نــهٔ ده چي له تاريخه درس واخلي. په پردي ځواک «او هغه هم په نيواکګر ځواک» ډېره لګول، د روس د امپرياليسم د خوښی او رضائيت د ترلاسه کولو لپاره لوڅي پوڅي او هڅي او جينګي داړې نيول ددوی د هيلو په سرلوحي کي ځای درلود. په دې سربيره د هر هغه څه پر وړاندې د حساسيت ښودل چي د خپلي «کړی د مشر» له خولي نــهٔ وي ويل شوي او يا په کتابونو کي نــهٔ ول راغلي، ددې ډلي د پوهي د ټيټي کچي او د نــهٔ زغم د ټيټي کچي څرګندونه کوله. ښه وه چي انجنير زمري دا خبره په زندان کي ويلي وه، که نــهٔ کلونه کلونه به موږ د هغـهٔ په سوګ کي ناست وو!

د غرمي ډوډۍ راغله. د څرخي پلـهٔ د زندان ډوډۍ د کيفيت له اړخه د صدارت د زندان تر ډوډۍ ټيټه وه. د کوټي دوه وو تنو بنديانو په خپلو چپرکټونو کي او پاتي درو تنو د يوهٔ دسترخوان پر سر ډوډۍ وخوړه. يوهٔ تن د کب کنسرو قوطی خلاص کړ. دا لومړی ځل وو چي د سمندر کب مي په قوطي کي ليدهٔ! د تحقيق د رياست په زندانونو کي د اوږدو او سختو جسمی او روحي شکنجو له ګاللو او د محروميتونو له تيرولو وروسته، د لومړي بلاک شرايط «تودې اوبـهٔ، تشناب، د لامبلو امکانات، چای، ډوډۍ او نور» موږ ته فوق العاده شيان ګڼل کـېدل. زندانيانو اجازه درلوده چي د لومړي بلاک له کانتين څخه شيريني، وچي شيدې، سګرت، کنسرو شوي کبان او بسکويټ وپيري. د صدارت په تور تم کوټو کي د مياشتو مياشتو له تيرولو وروسته په يوه شپه او ورځ کي يوازې د يوهٔ ساعت لپاره په آزادې هوا کي ګرځـېدل لوی غنيمت وو. ښايي سعدي چي هاغه مهال دا شعر وايـهٔ : همداسي حالت ئــي په پام کي نيولی وو.

حوران بـهشتی را دوزخ بــود اعـــراف
ازدوزخيان پرس که اعراف بهشت است

[جنتي پرښتو ته اَعراف «د جنت او دوزخ تر منځ ځای يا پرده» دوزخ دی- له دوزخيانو وپوښتنه چي اعراف ورته جنت دی]

او يا :

| | |
|---|---|
| مرغ بريان به چشم مردم سـير | کمتر از برګ تره برخوان است |
| وانکه را دستګاه و قوت نيست | شلـغم پُـخته مرغ بـــريان است |

[د ماړو خلکو په سترګو کي الوی سوی چرګ ددسترخوان پرمخ د ترکاري تر پاڼي لا کم دی، او هغه چي بې وزلی دی ورته پوخ شلغم، الوی سوی چرګ دی.]

شپه راغله. ساتونکي راته دوې خيرني په خاورو او دوړو ککړې کمپلي راوړي. يوه مي تر پښو لاندې واچوله او بله مي پر ځان راتاو کړه او د کوټي د غولي پر مخ بيدهٔ سوم. د لومړي بلاک د ختيځې برخې په کوټو کي ئــي دوه پوړيزه چپرکټو ايښي ول او څلور تنه وربانديې بيدهٔ کـېدل. پينځم تن بايد د کوټي د غولي پرمخ بيدهٔ سوی وای. له نيکه مرغه د کوټي د غولي مخ تود وو ځکه د همدې کوټي په لاندني پوړ «لومړي پوړ» کي يو اتريشی ژورناليست د «سکالا» په نامـهٔ بندي وو او څو وخته ئــي د صدارت په کوټه قلفيو کي زما د کوټي تر څنګ کوټي کي تير کړي ول. هغـهٔ ته ئــي د لرګيو د سون

بخارئ ایښي وه. سکالا پینځوس کلن وو او د جاسوسی په تور زنداني شوی وو. نوموړي به د صدارت په انفرادي کوټو کې دیري وختونه له ساتونکو او افسرانو سره دعوی کوله. د کوټې دروازه به ئـې په شدت ډبوله او غږ به ئـې تر لیرې ځایونو ورسېد. سکالا د اعتراض په غږ چیغې وهلې چې : «هوا سړه ده. تودې جامې غواړم. ناروغه یم. بوره «شکر» غواړم. دروازه راته خلاصه کړئ. د کوټې هوا چټله ده. زه مرم.» سره له دې چې سکالا په پردي هېواد کې زنداني وو خو بیا هم په خپلو انساني حقونو ښـهٔ خبر وو او هغه ئـې غوښتل. ما هماغه مهال له دهٔ څخه زده کړل چې که انسان په هر حالت او هرې موقعې کې وي کولی شي «او باید وئـې کړي» له خپل او د نورو له حق څخه دفاع وکړي. دا نـهٔ یوازې د انسان حق دی بلکه د هغـهٔ مسؤولیت او دنده هم ده. سکالا چې له ډېرې لیرې لارې یوهٔ بل پردي هېـواد ته راغلی وو، له خپل حق څخه نـهٔ تېـرېدهٔ. خو موږ یا له خپلو حقونو خبر نـهٔ وو او یا هم ډارېـدلو چې دا حق غوښتنه به زموږ په تاوان واوړي. د داسې ډار او بې تفاوتۍ له عواملو څخه یو ئـې له استبداد سره عادت نیول دي چې نسل په نسل کې ئـې زموږ جسم او روح ته اور اچولی دی.

# د څرخي پلـهٔ په زندان کې لومړنی سهار

د ۱۳۶۰ ل کال د سلواغې د میاشتې د یو ویشتمې نیټې سهار وو چې زموږ د کوټې دروازه خلاصه سوه. پهره دار راته وویل : «تـهٔ د دباندې وتلو حق نـهٔ لرې.» د کوټې نورو بندیانو د دباندې تګ لپاره چمتووالی نیولی وو. زما کمپلې ئـې هم واخیستلې چې خاورې او دوړې ئـې وټکوي او لمر ته ئـې کښېـږدي. د دالان د دواړو خواوو د کوټو دروازې یو بل ته مخامخ وې. زموږ د کوټې دروازه د څو شیبو لپاره خلاصه پاتې شوه. له مخامخ کوټې څخه انجیر زمری صدیق – د دالان له هاغه بلې خوا څخه - په چابکی یوه وړوکې غوټه زما کوټې ته راوغورځوله. د سر په اشارت ئـې سلام وکړ او په یوې خوندورې موسکا ئـې ونازولم. د لاس د ګوتو په اشارت ئـې پوه کړم چې سپورت قضا نـهٔ کړم او کافي خوراک وخورم. هغه شیبه مې ددهٔ دا عمل د احتیاط له چوکاټه دباندې یو عمل وګانـهٔ. خو اوس کار له کاره تیر وو. ددغـهٔ کار له عاقبه ډارېـدم چې نـهٔ سي زما د کوټې بندیان دا خبره د زندان ادارې ته راپور کړي، حال دا چې د وخت په تېـرېدو پوه سوم چې د ډلې اکثریت غړو د زندان د ادارې په ګټه ئـې له جاسوسی څخه ځان لیرې ساتـهٔ. ان څو تنه ددوی خپل ملګري چې په جاسوسی تورن ول ، دوی تحریم او ترټلي ول. که ددوی دا کار په هر دلیل وو، وو به، خو دا یو حقیقت دی او ماته نـهٔ ښایي چې له دوی سره د دښمنی په پار ورڅخه انکار وکړم.

د کوټې دروازه بیا وتړل سوه. په وړوکې غوټه کې په شنـهٔ رنګ یوه جوړه ژمنی جورابې او لږ پیسې وې. جورابې مې واغوستلې، خورا نرمې او تودې جورابې وې. په ټول ژوند کې مې داسې ښې جورابې نـهٔ وې پـهٔ پښو کړې.

په آزادې هوا کې د ګرځـېدلو ممانعت چې معمولاً د یوهٔ ساعت لپاره وه تر ډېره دوام ونـهٔ کړ. یوه اونی وروسته ئـې موږ ته هم اجازه راکړه چې له نورو سره دباندې ووځو. په انګړ کې به ګرځـېدلو او کله نا کله به مو مخفیانه خبرې هم سره کولې. همدا شان موږ حق درلود چې په ټاکل شویو ساعاتو کې د دویم پوړ په دالان کې وګرځو او له نورو زندانیانو سره چې په

همدغـۀ دالان کي ول اړيکه ونيسو خو په عام ډول د لومړي بلاک په ختيځې خواکي د حفيظ الله امين د ډلي «خلقيان» بنديان ول[51].

د ورځي په تېرېدلو د کوټي له بنديانو سره مي آشنايي ډېرېدله. اتلس ورځي په دې کوټه کي پاتي سوم. هغه ورځ چي راته وويل سول چي «کالي دې ټول که» نـۀ پوهېدم چي کوم برخليک راته قابو په کمين کي ناست دی. د کوټي بنديانو را ته د خلاصون زيری راکړ خو زه پوهېدم چي له زندانه له خلاصي او خوشي کېدلو پرته نور د بل د هر څه امکان سته.

زما حدس غلط نـۀ وو. «ديگ بخار» يو ځل بيا د تحقيق رياست «صدارت» ته ولېږدولم. دا ځل ئــي په يوې زړې يو پوړيزې حويلی کي چي تر پخواني ځايه بد تر ځای وو بوتلم. دغه ودانۍ د صدارت د دويم بلاک د کوټه قلفيو او نظارتخاني تر منځ پرته وه. ددې حويلی له شتون څخه تر دې دمه خبر هم نــۀ وم. ښايي د صدارت زندانيان په څوڅو ځايونو کي ساتل کېدل. ارواښاد عبدالوهاب «زما سازماني ملګري او د زندان د کوټي ملګري» راته ويلي ول چي هغه ئــي په يوې تنګي او تيارۀ تهکاوۍ «ځمکتل» کي چي څو کوټي ئــي درلودې اچولی وو. هغه ويل چي د هغـۀ ځای شرايط په ځلونو ځلونو د روسانو تر کوټه قلفيو بد تره ول.

لومړۍ شپه مي په يوې سړې، تيارې او زښتي ډېرې نمجني کوټي کي تيره کړه، داسي بوينه کوټه وه ته به وايې چي تشناب کي ناست اوسم. د آکسيجن کمبود سا لنډي راته پيدا کوله. له بلي خوا دې کوټي په خپل وړوکوالي ددوني زندانيانو د ځايولو ګنجايش نــۀ درلود. د بيدۀ کېدلو لپاره مي ځان ونــۀ موند، بله چاره نـۀ وه مګر دا چي کرۍ شپه ويښ پاتي سم. ورځ تر شپي بدتره او زړۀ تنګونکي وه. همدا فکر راسره وو چي ولي ئــي بيا دلته راغوښتی يم آيا بيا غواړي راڅخه تحقيق وکړي. تشويش مي لا دا هم وو چي ګڼي کوم بل تن ئــي زموږ نوی نيولی دی، له دې کبله ذهناً او عملاً د هر احتمال لپاره مي تياری نيوۀ.

دا چي په کوټه کي راسره څوک ول، زما په ياد نـۀ دي پاتي. يوازې دوه تنه مي په ياد دي چي دواړه ئــي د ټيټ عمر صاحب منصبان ول او غالب ګومان دا دی چي د افسر کېدلو لپاره ئـي لنډ مهالي کورسونه نيولي ول. ددغو افسرانو يو تن ئـي چالاک، سپين سترګي او بي نزاکته ښکارېدۀ. دويم افسر که ورسره همدوسيه وو ما ته ئــي د خپل ملګري له لاسه سر ټکونه کوله او ويل ئــي :«زما همدوسيه ډېر ناځوانه سړی دی. له مجاهدينو سره ئــي اړيکه درلوده. زه ئـي هم جذب کړم. که کله چي دولت ونيوۀ زما په حق کي ئــي خيانت وکړ او زه ئــي په ګير ورکړم. اوس بيا د خاد په خدمت کي دی.»

کله چي د تحقيق د رياست پر هر لور باندې د شپي د تورتم تيارۀ خپره سوه مستنطق سيد اکرام د زندان د کوټي د دروازې شا ته راغی او له ځان سره ئــي بوتلم. د لارې په اوږدو کي مي له ځانه پوښتل چي دوني له توانه پورته شکنجو وروسته ـــ چي زما د ځان شيره او قوت ئــي نښتيځلی وو ـــ د شکنجو دويم دور او تحقيق به راته ډېر سخت ازمايښت نـۀ وي؟ کله چي

---

[51] ـ د امين د باند يو شمير پېژندل شوي څېرې چي هغه مهال د څرخي پلـۀ د زندان په لومړي بلاک کي بنديان ول دا کسان ول : ډاکټر شاه ولي، محمود سوما، عبدالرشيد جليلي، منصور هاشمي، عبدالقدوس غوربندي، عبدالمحمد درمانګر، خيال محمد کټوازی، محمد سالم مسعودي، سرسام، غلام سخي، احمد جان، شايسته خان، شاه ولي مطمئـن، عباس خروشان، شينواری، نظيف الله نهضت، صادق عالميار، وحدت، سنګر، آقا حسين تلاش او نور

د تحقیق کوټې ته ورسېدو مستنطق په نسبتاً نرمې ژبې راته وویل : «پر څوکۍ کښېنه» د میز دواړو خواوو ته دوه څوکۍ ایښودل سوې وې. مخامخ مستنطق ته کښېناستم. راته ئې وویل :« ښـهٔ راته وګوره او خبرو ته مې غوږ ونیسه.» چندان لېواله نـهٔ وم چې ددهٔ کرغېړن مخ ته بیا وګورم. په لومړیو کې ئــې له زړهٔ سواندۍ ډک نصایح پیل کړل. «اوس هم وخت لرې، څه نــهٔ دي سوي، تـهٔ کولی سې خپل برخلیک ته بدلون ورکړې، دا ستا وروستی چانس دی.».... د سید اکرام له څېرې، حرکاتو او الفاظو پوه سوم چې تر دې کوم بل سخت پلان په ککره کې نـهٔ لري. زړهٔ مې یو څه قوت واخیست. ورته مې وویل : «زه دوسیه لرم، هره پوښتنه دې چې کړې ما په خپلې دوسیې کې ځواب کړې ده. نور د ویلو لپاره څه نـهٔ لرم.» په ډېر خښم او عتاب ئــې وپوښتل :« ووایه ما څه پوښتنې کړې دي او تا څه ځوابونه راکړي دي؟» ما ورته وویل :« ټول ئــې په دوسیه کې سته.» څو څو ځله ئــې هماغه یوه پوښتنه په بیلابیلو کلماتو یاده کړه او ما هماغه یو ځواب ورکړ. مستنطق زما دوسیه د میز له سره راپورته کړه او زما مخ ته ئــې واچوله او وئــې ویل : «واخله دا دې تر تخرګ لاندې ونیسه. دا د درواغو داستانونه چې تا جوړ کړي دي زما په کار نـهٔ دي. دا تــهٔ او دا زما او ستا داستانونه.» نور راته هر څه څرګند سوي ول. پوهېدم چې هېڅ شی زما د تکل او ارادې خنډ نــهٔ شي کېدای. مستنطق د څو شیبو لپاره په فکر کې ډوب سو، بیا ئــې دوسیه د میز له مخې پورته کړه. د هغو له منځه ئــې څو کاغذ پاڼې راپورته کړې او وئــې ویل : «لومړی خو دا پاڼې لاسلیک کړه.» د «لومړی» د کلمې په ویلو پوه سوم چې دویم دور هم راتلونکی دی او دا دور له وهلو ټکولو پرته بل څه نــهٔ دي. د سید اکرام اخطاریه ما ته د یوهٔ ډاکو او غلـهٔ ضرب الاجل ته ورته وه چې خپل قرباني ته ئــې ویلې ول :« مخکې له دې چې جامې دې په سرو وینو کې لژند سي، جامې دې وباسه.» کله مې چې د پاڼو په پای کې لاسلیک وکړ، مستنطق د خپلو همیشنیو ښکنځلو او ګواښونو باران ته مخه کړه.« په شرف مې سوګند خورم[52] چې که په زر هاوو وزرونه هم وباسې زما له لاسه به خلاص نـهٔ سې. تــهٔ فکر کوې چې که څوک اعتراف ونــهٔ کړي موږ ئــې نــهٔ سو اعدام کولی؟ تا به د سپي په شان مړ کړو، داسې به دې مړ کړو چې مور او ښځه دې قبر پیدا نــهٔ سي کړای[53].» د مخکې ځلونو په پرتلې د وهلو ټکولو او په شرف د قسم توپیر چې دا ځل زما په نصیب سو دا وو چې د مستنطق سید اکرام سوکانو او لغتو را ته پر دښمن باندې د بریا احساس را په زړهٔ کاوهٔ.[54]»

بېـرته خپلې کوټې ته بوتلل سوم. د شپې له نیمایي څخه ډېر وخت تیر شوی وو. فکر مې کاوهٔ له ۷ تورو غرونو څخه ژوندی تیر سوی یم. اوږې مې سپکې سوې وې. زما په کوټې کې څو تنه نور بندیان ئــې ایستلي ول. خوښ په دې وم چې نن شپه به لږ تر لږه په غځېدلو پښو خوب وکولی سم. هر څه مې کوښښ وکړ چې بیدهٔ سم، خوب رانغی. د خوبونو پرښته راڅخه لاړه. ښایي دې پرښتې زما د بریا نشئـه راڅخه لیرې شړله، او یا دا چې ویښ ئې ساتلم چې زما بریا راسره ولمانځي. په دې شپه کې مې هېڅ څوک د زړهٔ محرم ونـهٔ موند چې د زړهٔ خوښي مې ورسره شریکه کړم. څه مې کولای سوای؟ ددنیا کارونه همداسې دي. کله نا کله انسان مجبوره کېـږي چې خپل غم یا ښادي له ځان سره په یوازیتوب کې تیره کړي. د ویاړ او غرور له هیجانه مې خپله ګوته د برق پیکه او کمرنګه څراغ ته ونیوله او مې ویل : « اې روښنایيې! زه تا

---

52 ـ د خاد مستنطقینو تل په شرف سوګند خوړ.

53 ـ مستنطق مخکې له مخکې په دې پوهېدهٔ چې په زړونو سترې ستومانه او داغلې میندې به تر خاورو لاندې د بیدو سوري سوري انساني کوپړیو په منځ کې خپل ورک شوي بچیان ونــهٔ شي موندلی.

54 ـ مستنطق سید اکرام وروسته د څرخي پلـهٔ د زندان د خاد کارمند سو. ددهٔ غیر انساني اعمال او وحشي بد چلند یو بیل داستان دی چې د «سپېڅلو رنځونو» په کتاب کې به راشي.

شاهده نیسم چې تر دې دمه په بند کې د ساتل سوي افغان ولس پاکو ارمانونو او له یارانو سره مې خپلې کړې ژمنې او پیمان ته وفاداره پاتې یم.»

سهار سو، لمر راختلی وو. د دروازې له شا د پهره دار د ګامونوغږ مې غوږونو ته راغی. په زنګ وهلي قفل کې کونجي تاو سوه خو قفل ځیل کړی وو او نـهٔ خلاصیدهٔ. پهره دار چې حوصله ئــې تنګه سوه په خښم وویل :« په سوري کې دې متیازې وکم، ولې نــهٔ خلاصیږې؟! کله چې د جهنم دروازه خلاصه سوه هماغه تکراري آمرانه غږ مې واورید : «د تشناب وار دی.» د همدې ورځې له ماسپښین مخکې وو چې په خوبوړیو سترګو ئــې بیا د څرخي پلـهٔ زندان ته بوتلم.

# لومړی بلاک درییم پوړ ختیځه څانګه

(یوه به شئ، زامنو، یوه به شئ، چي ولې مو ګلبڼ کې د آرام خوب لپاره غږ نـهٔ دی پورته کړی، کتاب مو نـهٔ دی لوستی او کار مو نابشپړ خوشي کړی دی. نور سوګ مـهٔ کوئ، زامنو، نور نه، یوه ورځ به د همدغو درواغو او تورنو دلیلونه، د همدغو توی شویو اوښکو دلیلونه چې ومو زغمل ټولو ته روښانه شي) «اتل روزنبرګ»

له «دیګ بخاره» راکوز سوم. یو ځل بیا مي د اعدامیانو د بلاک پر لعنتي دیوالونو سترګي ولګېدلې. پرته له دې به مي نور څه زړهٔ ته راتلل او بله کومه هیله به مي لرله؟ زما برخلیک همداسي وو چي که هرې خواته سترګي ورغړوم دیوال وینم، او هرې خوا ته که مخ وګرځوم د مرګ ویروونکي او رټلي څیره وګورم. کله چي رژیم خپلي ټولي چارې د خپلو مخالفانو د جرړو د ایستلو – په ځانګړې توګه د آزادي پالو روڼ اندو– د پوپنا کولو لپاره په لومړیتوب کي ایښي وي نو په لومه کي یو راګیر مبارز به څنګه ونـهٔ سي کولای د خپل مرګ ځړول شوی ساطور د تل لپاره ونـهٔ ویني؟ هغو کسانو چي زندان لیدلی دی زما د خبرو په معنی تر نورو کسانو ښـهٔ پوهېږي ځکه چي دا د ټولو سیاسي زندانیانو یو ګډ حس دی چي یوازې د مستقیمي تجربه له لارې تر لاسه کېدای سي. هغو کسانو ته چي زندان ئـې نـهٔ دی لیدلی ددې حس الفأ کول د کلماتو یا د ادبي صحنه سازیو له لارې ناشونی دی.

په لومړي بلاک کي هر څه په خپل حال پاتي ول. داسي به مي ګومان کاوهٔ چي د زندان په ځمکي او آسمان کي هیڅ خوځون نـهٔ دی راغلی. یوازینی توپیر چي ما ولید دا وو چي د لومړي ځل په خلاف مي دا ځل له یو شمیر شیانو سره عادت کړی وو او ډیری شیان راته آشنا ښکارېدل. لکه : د سرتیري په لاس په زښت ډېر سپکاوي د بندي جیب او خښتګ پلټل «بدني تفتیش»، د افسر کرغیرن او زیږ چلند، له انګړه تر دالانه، له پوړیو تر کوټې، د زندانیانو غمجني څیرې او ددوی زړور مقاومت.

لومړی بلاک د «خطرناکو» زندانیانو لپاره وو، دلته به ئـې په لاس راتول شوي او غوره شوي زندانیان له نورو بلاکونو څخه راوړل. دا بلاک په درې پوړونو کي وو چي په ختیځو او لویدیځو څانګو ویشل سوی وو. په لومړي پوړ کي یو شمیر اداري او جاسوسي دفترونه ول. په ختیځي څانګي کي په کوټو کي دوه دوه پوړیز چپرکټونه ایښي ول. ډیري «خاص» زندانیان به ئـې د لومړي بلاک په ختیځي څانګي کي اچول.

د ۱۳۶۰ ل کال د کب د میاشي لسمه نیټه وه چي له مفصلي تلاشی وروسته ئـې د لومړي بلاک د دریم پوړ ختیځي څانګي ته بوتلم. په دې کوټه کي زه وم او څلور تنه د حفیظ الله امین پلویان بندیان؛ یو ئـې د تره کي د مهال د سوداګرۍ د چارو وزیر عبدالقدوس غوربندي او بل ئـې عبیدالله محک وو. د دوه وو نورو نومونه مي په یاد نـهٔ دي. د لومړي ځل برخلاف، د دریم پوړ په دالانونو کي تګ راتګ منع نـهٔ وو، زندانیانو کولای شوای په ټاکل شویو وختونو کي د دالان له دې سره تر بل سره پورې تګ راتګ وکړي. یو ساعت وروسته د ګام وهلو شوق راغی. په دالان کي مي د تګ راتګ کوونکو زندانیانو

په منځ کي بسم الله ولید چي په سختۍ ئــي ګامونه اوچتول. د عذاب او شکنجي آثار ئــي په ځان کي له لیرې چا ته ښکارېدل. په کړوپه ملا کرار کرار روان وو. رنګ ئــي تک زېړ او حالت ئــي خوار زهیر وو. راته نیږدې راغی او تود سلام مې راکړ او وئـي ویل : «ګوره سړیه! ما په ګیر نـهٔ یې ورکړی.!» ددهٔ د خبرو په معنی پوهـېدم. زما له نیول کـېدو څلور میاشتې مخکي له دغـهٔ همسنګره ملګري سره د خپل کالـهٔ په چم ګاونډ کي مخامخ شوی وم. توند باران وریدهٔ. جامې ئـي لمدې خیشتې سوې وې او پښې ئــي تر ښنګرو پورې په خټو او لوخړو ککړې سوې وې. زه ئــي چي ولیدم وئــي ویل :« داسي ښکارې چي کور دې په همدغو شاو خواوو کي وي.» د مخفي ژوندانـهٔ د ملحوظاتو او د شخصـي ژوندون حالات او د تشکیلاتي ضوابطو د رعایت پر بنسټ مي حق نــهٔ درلود چي خپل کور ته ئــي وبولم. بسم الله د تشکیلاتي ستونزو د غرونو له کبله چي ما ته راپېښـي سوې ول خبر نــهٔ وو. نــهٔ مې شوای کولای ورته ووایم چي زما کوچنی کور د کسانو د ډېروالي له کبله نیږدې ده وچودې. ما په یوې وړوکي حویلي کي د کرایه ورکوونکي په توګه له کورنۍ سره ژوند کاوهٔ، د ناستي لپاره مو یوازې دوې کوټې درلودې. دا تنګه حویلي د څلورو تنو مخفي سامایي ملګرو او د دوه وو سامایي کورنیو لپاره پناه ځای وو. په همداسي یوهٔ حالت کي حیران وم چي خپل دغـهٔ همسنګر ته څه ځواب ووایم. له یوې خوا د اصولو مصلحت او له بلې خوا د دوست د مخ ناز او نازکي. په شرمــېدلی غږ مي ورته ویلي ول : «نـه بابا! ما کور له کومه کړ، خپله شپه او ورځ د آشنایانو او دوستانو په کورنو کي تیروم.» بسم الله په هاغه ورځ له مانا ډکه یوه خندا وکړه او بیا ئــي وویل : « له ما ئــي ددې لپاره پټوې چي زه په سازمان کي کوم مهم سړی نــهٔ یم. تشویش مــهٔ کوه، زه تا په ګیر نــهٔ ورکوم.»

سختې شپې ورځې وې. دومره سختې چي ان یادول ئــي سړی ویروي. ژوبو او دیوانو سره لاسونه یو کړي ول چي زموږ وینې وزبـېښي. موږ د دښمن د متقاطع اور په منځ کي بندي پاتې وو. تعقیب، ترور، برید او سرکوب له هر لورې پر موږ را روان وو. لنډه دا چي ساما د غنم هغې داني ته ورته وه چي د ژرندې په دوه وو ډبرو کي بند پاتې وې. د نورو ډلو او د مبارزو، دیموکراتو، خپلواکو او په هیڅ چا پورې د نــهٔ تړل شویو ډلو او افراد کسانو حالت زموږ حالت ته ورته وو. د همداسي سختې او غمجنې اوضاع په متن کي دننه مو کافي امکانات او وسایل نــهٔ درلودل. ډیریو هغو کورنـېو چي له ساما سره ئــي مستقیمې اړیکي لرلې په ماړهٔ نس ډوډۍ نــهٔ سوه موندلی، حال دا چي هاغه بل لور باند چي «مربي» ئــي درلود د ډالرو، کلدارو، روبلو او دینارو باران ورېـدهٔ.

روزگاری بود؛
روزگار تلخ و تاری بود.
بخت ما چون روی بد خواهان ما تیره،
دشمنان بر جان ما چیره.
شهر سلی خورده هذیان داشت،
بر زبان بس داستان های پریشان داشت.
زندگی سرد و سیه چون سنگ،
روز بد نامی،
روزگار ننگ.

غیرت اندر بندهای بندگی پیچان،
عشق در بیماری دل مردگی بیجان.
ترس بود و بال های مرگ؛
کس نمی جنبید، چون بر شاخه برگ از برگ.
سنگر آزادگان خاموش،
خیمه گاه دشمنان پر جوش...

«یو روزگار وو، د تورتم سخت روزگار. میرڅمن راباندې برلاسی. نري رنځ وهلي ښار اپلاتي ویل، پر ژبه ئـي غمجن داستانونه ول. ژوندن کله توره ډېره سوړ، د بدنامۍ ورځې، د شرم روزگار. غیرت په ځنیځرونو تړل شوی، په زړهٔ ماتي مینې ځنکدن درلود. ویره وه او د مرگ وزرونه، څوک لکه ځایه نـهٔ خوځېدل، لکه د ځانگې پاڼې، د آزادي پالو سنگرونه په خولو غلي، ددښمنانو کـېږدۍ د خوښیو په جوش کي....[55]»

د بسم الله له نیول کـېدلو هېـڅ خبر نــهٔ وم. کله چي په زندان کي ورسره مخامخ سوم خپل درد مي له یاده ووت. له خپلي هغې کړني پښـېمانه سوم چي ولې دی مي په هماغي باراني ورځ خپل کور ته نــهٔ وو بیولی. د هغې ورځې لپاره د پلمې تراښل راباندې د دراندهٔ پیتي په شان فشار راووړ. په شرمـېدلو سترگي مي له سره تر پایه ورته وکتل. نــهٔ پوهـېدم څه ځواب ورته ووایم چي دی ورباندې ونــهٔ ځوریږي. داسي راته ښکارېدل لکه چي د خبرو لوری راڅخه ورک سوی وي. بې اختیاره مي له خولي ورته ووتل : «ډېره شکنجه دې لیدلي ده؟» په لویینې ئــي ځواب راکړ : «زه خو د سازمان سپاهي یم. هر چا ته د هغـهٔ د مقام او مسؤولیت په اندازه شکنجه ورکوي.» ددهٔ دغي خبرې راته نور جرئـت راکړ چي نورې پوښتني ورڅخه وکړم.

له پوښتنو او گړویږنو وروسته راته څرگنده سوه چي دا سامایي مبارز ډېر سخت شکنجه سوی وو خو هماغسې چي له یوهٔ سامایي څخه هیله کېـده ددهٔ له خولې یوه خبره هم نــهٔ وه وتلې. هغه یو زړور، پیاوړی، د ښکلي اندام څښتن، ځوانمرده او با وفا ځوان وو او خپل ملگري ورباندې گران ول. په یاد مي راځي چي کلونه وړاندې ئــي خپل یو همسنگره ملگری د مرگ له لومې ژغورلی وو او په خپلو اوږو ئــي وړی وو، خو د زندان سختي شکنجي ددې لامل شوې چي ملا او پښې ئــي شدیداً تاوان ووینې. پروسږ کال خبر راغی چي ددغـهٔ سربښندویه ځوان روغتیایي حالت له بده پسې بدتره سوی دی. ډاکټر ورته توصیه کړې وه چي د خپلي درملنې لپاره باید بل هېـواد ته لاړ سي. وایي تشه لاسه تــهٔ مي دښمن ئــي. کله مي خپل لاس تش ولید نو په کړېدلي زړهٔ مي په خپل حال وژړل. روغتیا او اوږد ژوند ورته غواړم!

د افغانستان دوه تنه نامتو استادان، استاد عبداللطیف رستم زاده «پخوا د پیروز سلماني څښتن» او استاد محمد ابراهیم بابري «د ساینس د لاربنودني د کورس استاد» هم له ما سره د لومړي بلاک په دریم پوړ کي زندانیان ول. د صدارت «د تحقیق د ریاست» په انفرادي کوټو کي د اوږد مهال «څه د باندې اووهٔ میاشتي» تیرولو او پرله پسې جسمي او رواني فشارونو دوی ستړي، ستومانه او ناروغه کړي ول. دوی په خپله راته وویل چي د صدارت د تحقیق په ریاست کي ورته په ځلونو ځلونو

---

[55] ـ شاعر: سیاوش کسرایي، د هغـهٔ د نامتو شعر «آرش کمانگیر» یوه برخه

برق ورکړل شوی دی. خو د همدوني فشارونو له زغملو سره سره بیا هم دغو نـهٔ ماتـېدونکو هڅونو د ماتیدلو شرم پر ځان نـهٔ وو منلی. د هېـواد پالنې، صفا، مهربانی او صمیمیت آثار ئـې په چلند او خبرو کې پلوشې خپرولې.

زما پایوازۍ ته څوک نـهٔ راتلل. د ماجرا دا برخه په خپله یوه ترخه قصه ده، لکه د رزهاوو نورو غمجنو داستانونو په شان چې تر اوسه نـهٔ چا لیکلې دي او نـهٔ چا اورېدلې دي. کاشکې زما ګراني میرمن «خوبان» دا توان درلود چې د خپلو منډو ترړو، رنځونو، غمونو، وفا او بې شمیرو نورو سرښندنو شرحه ئـې په یوهٔ پریړ کتاب کې لیکلې وای او هغه ئـې د نن او سبا ورځې نسل ته ډالۍ کړې وای! بې پایوازه زنداني ددې توان نـهٔ درلود چې ځینې اړین شیان لکه د «تشناب کاغذ، د غاښونو برس او کریم، سګرټ، شیرینی، چای او....» ... د زندان له کانتین څخه ځانته وپیري. دغو دوه وو تنو دوستانو «ښاغلو بابري او رستم زاده» په خپلې لوینې راته د پیسو وړاندیز وکړ. خپل نفسي مناعت او قناعت، او د مخکینی پیژندګلوۍ نشتوالي او هم د ځوانی د دورې احساساتو راته اجازه رانـهٔ کړه چې ددوی له سخاوته ډک لاسونه ومنم. اوس چې د هغوی د پاک احساس تودوالی او د خپل انکار سوړوالی راته په یاد راځي، له ځانه شرمـېږم. خوښ یم چې دا دواړه ګران استادان تر اوسه ژوندي دي. لوی خدای دې ورته اوږد ژوند ورکړي!


د لومړي بلاک د لومړي پوړ په ختیځې برخې کې څو تنه ځواني ښځې هم بندیانې وې. د هغوی ظاهري حرکاتو ددوی د زړورتیا او بې ډارۍ او جرئـت څرګندونه کوله. کله به چې زندانیان د بلاک په انګړ کې ګرځېدل دا ښځې به د خپلو کوټو کړکیو ته راغلې. یوه ورځ چې زموږ د ګرځـېدا او لمر ته د کښېناستو وار وو له دغو ښځو څخه دوه تنې ئـې کړکۍ ته نـېږدې راغلې. یوې ئـې په ما غږ وکړ او وئـې ویل : «تـهٔ هم ددې ملت د قاتلانو له منځه کوم یو ئـې؟» په منظور ئـې یوه سوم او ځواب مې ورکړ : «ګرانې خورې! زه ئـې د ساما په تور دلته راوړی یم.» د دواړو تر منځ لنډه لفظي شخړه راپورته سوه. ښایي دویمه نجلۍ هغه بلې ته خښـمـېدلې وي چې ولې دې بې ګودره پښې لوڅې کړې. بیا ئـې راڅخه بخښنه وغوښتله. ګومان کوم له دوی څخه یوه یا دوه تنې ئـې د آریانا د الوتکې د ناکامه تښتولو د قضیې په تور زنداني سوې وې. ددوی نارینه همدوسیه هم په لومړي بلاک کې له موږ سره زنداني ول، د یوهٔ نوم ئـې اکبر او د بل نوم ئـې حبیب وو[56].

احمد ضیأ مشهور په «قاضي ضیا» د وردکو د ولایت د بهسودو له ولسوالۍ هم له موږ سره په همدغـهٔ پوړ کې وو. دا هغه میړنی خپلواک انسان وو چې د هغـهٔ د مقاومت او مبارزې خاطرات به په خپل داغدار ګوګل کې د مرګ تر شیبې پورې ولرم. په لومړي کاتو مې ونـهٔ پـېژاند. ډېر ډنګر سوی وو. نرۍ ږیرې او څیرې ئـې بدلون موندلی وو. که د موسکا غوټۍ ئـې پر شونډو نـهٔ وه غوړېـدلې، دی به مې په ځای نـهٔ وای راوړای. د بیلابیلو موضوعاتو په هکله مو خبرې وکړې او له هغو څخه یو ئـې زموږ د نیول کېـدو عوامل، د یارانو د تحقیق بهیر او زموږ د کار عاقبت وو. هغـهٔ وړاندیز وکړ چې راځه زه او تـهٔ به دواړه د ټولو کارونو مسؤلیت په غاړه واخلو چې ملګري له اعدامه بچ سي. ما هغه ښـهٔ پـېژاندهٔ. هر هغه څه ئـې چې ویل ورباندئ عمل ئـې کاوهٔ او دې کار ساما، ولس او ملګرتوب ته ددهٔ د ژمنې او سرښندنې اوج ښودهٔ. ما ورته وویل چې د یارانو لپاره چمتو یم چې له خپل سر او وینو تیر سم، خو فکر نـهٔ کوم چې دښمن دې په دغو تکتیکونو د یارانو له سره لاس واخلي.

---

[56] ـ ددوی تر څنګ د حفیظ الله امین د کورنی غړي هم په لومړي بلاک کې په یوې جلا او وړوکې حویلی کې بندیان ول.

له قاضي ضیأ سره د ۱۳۵۹ ل کال په پسرلي کې آشنا سوم. په لومړي ځل لیدلو مې قاضي يو د استعداد خاوند، مؤمن، سربښندوی، په زړهٔ پاک او راستمن انسان وموند. له هماغه لیدلو څو میاشتې وروسته د خاد په لومه کې ونښت. خاد ددهٔ پر ضد متعبر لاسوندونه نـهٔ درلودل، دهٔ خپله ویل چې ښايي څلور یا پينځه کاله به حبس سي. په خواشینی چې يو شمير تيروتني رامنځته سوې چې له کبله ئــې د ساما يو شمير مهم اسناد د خاد گوتو ته ورغلل. ددغو لاسوندونو په منځ کې د قاضي ضیأ په قلم ليکل سوی ددهٔ يو ليک وو. دغه ليک قاضي ضیأ ته لوی سرخوږی پيدا کړ او په پای کې ددهٔ د اعدام لامل وگرځېد. خاد په قاضي ضیأ پسې د سترگو د توتيا په شان لالهانده سرگردان وو او د مختار «د قاضي ضیأ مستعار نوم» په تعقيب کې ول، خو نــهٔ پوهېد چې مختار ددوی په منگولو کې اسير دی. کله چې خبره افشأ سوه چې مختار همدا احمدضیأ دی، نو خاديستانو د خوښی جشن جوړ کړ او ويل ئــې : «ای بابا! آب در کوزه و ما تشنه لبان مي گرديم!» قاضي ضیأ ئــې د دويم ځل لپاره تحقيق ته وغوښت. دهٔ خپله راته وويل چې د اوو مياشتو لپاره ئــې د لمر مخ ونــهٔ ليد او زښتي ډېرې روحي او جسمي شکنجې ئــې وزغملې. قاضي ضیأ په زندان کې راته قصه وکړه : «هره شپه به ئــې وهلم ټکولم، خو آه به مې نــهٔ ايستله. شکنجه گرانو تعجب وکړ او په شرم ئــې اعتراف وکړ چې تــهٔ له پولادو جوړ ئــې. د شکنجه گرو په منځ کې يو تن چې تر نورو څه نا څه هوښيار وو ورڅخه وپوښتل : «له زندانه دباندې دې سپورت کاوهٔ؟ ورته مې وويل چې هو. بيا ئــې خپلو ملگرو ته وويل، ددهٔ وهل گټه نــهٔ لري د خپلې شکنجې بنې ته بدلون ورکړئ.» روح دې ښاده او ياد دې تلپاتې وي[57].



احمد ضیأ

استاد سلطان احمد مې وليد. پر ځان ئــې زيربخون پټو راتاو کړی وو. زما لاس ئــې ونيو او يوهٔ گوښې گوټ ته ئــې بوتلم. په غېږ کې ئــې ټينگ ونيولم او په غمجن غږ ئــې وويل : «اوهووو! څوني ډگر سوی ئــې، ويښتانو ته دې گوره، ډېر ځورول شوی ئــې؟» په پښتو مې ورته وويل :« په مينه کې بنگړي ماتيږي.» وئــې ويل : اول خو به دې ويښتان در لنډ کړم.» ومې ويل : «په څه شي مې ويښتان رالنډوې؟» وئــې ويل :« يوه وړوکي بياتي لرم.» ورته مې وويل : «ځه ياره په دغو خبرو پسې مـهٔ گرځه چې کوم جنجال پيدا نسي. څوک خو مې د اوږدو ويښتانو په خاطر له ښاره نــهٔ باسي.» سلطان وخندل او خپل مهربان لاس ئــې زما پر اوږه کښېښود. د دالان په پای کې يوه تشه کوټه وه. استاد سلطان خپل پټو د غولي پر مخ خپور کړ. په ياد مې نــهٔ دي چې څوک د کوټې د دروازې څنگ ته ودريد چې د پهره دار له احتمالي راتگ څخه خبر ورکړي. سلطان خپله وړوکي بياتي راواخيسته او په بيړه او چټکی ئــې زما د سر ويښتان رالنډ کړل. کله چې کار خلاص سو نيږدې وه چې زموږ بدوډې د خندا له لاسه وچوي. زما د سر ويښتان ئــې دومره نامنظمه قيچي کړل ول چې ټولو راپورې خندل. ويښتان مو په وارخطايي راټول کړل، خو بياتي شوي ويښتان د سلطان د وړيو په پټو پورې کلک نښتي ول.

---

[57] - احمد ضيأ د ساما د مشرتابـهٔ غړی ۱۳۶۱ ل کال د وري د مياشتي به اوولسمه نيټه اعدام سو.



سلطان احمد

استاد سلطان احمد د «سازمان پیکار برای نجات افغانستان» فعال غړی وو. یو مؤدب، هوښیار، آگاه او د استعداد خاوند ځوان وو چې ددهٔ په شان بیلګه مې د زنداني یارانو په منځ کې لږ درلوده. سلطان د خپل ورور (شهید داؤود د «سازمان رهایي افغانستان» غړی، د پولیسو د اکاډیمی استاد چې د ۱۳۵۸ ل کال د زمري د میاشتې په ۱۴ د بالاحصار په پوځي پاڅون د کودتايي رژیم پر ضد رغنده ونډه لوبولې وه) د مرګ د غم پیټی په زغم له ځان سره ګرځاوهٔ. له دې سره سره به سلطان خندل او نورو ته به ئـې روحیه ورکوله. نـهٔ ئې د اعدام پروا درلوده او نـهٔ د خپل ځان د ژغورنې په فکر کې وو.د زندان په وروستیو کلونو کې ورسره په دویم بلاک کې یو ځای وم. دی مې ډېر مهذب او مهربان انسان وموند. له یو بل سره ډېر صمیمی وو او خلوص مو درلود. خوږ مجلس به ئـې وو او خوږې او خوندورې ټوکې ټکالې به ئـې کولې. د دغـهٔ ګران یار له پوهې ډک سیاسي مباحث، زړه سواندي او شفقت، ټینګتوب او استواري به هېـڅکله هېـره نـهٔ کړم. سلطان د یارانو یوهٔ یوهٔ روغتیا او سلامتۍ ته پام کاوهٔ. انډیوالان ئـې ورزش ته هڅول او په خپله به تر نورو مخکښ وو. هغه لږ شمیر پیسې به چې کورنۍ دهٔ ته راستولې هغه به ئـې پر بې پایوازه ملګرو باندې وویشلې. د مستحقو کسانو لپاره به ئـې له دباندې جامې راغوښتلې. دی د هغو کسانو په منځ کې وو چې ډله پالنه، ګوندبازي او پره توب ئـې نـهٔ خوښاوهٔ. د ټولو مترقي او خپلواکو سازمانونو او شریفو کسانو سره به ئـې یو شان او له ملګرتوبه ډک چلند کاوهٔ. د نورو سازمانونو له غړو سره ددهٔ مینه او محبت او د مسؤولیت حس هماغه وو چې د خپل سازمان له غړو سره ئـې درلود. یوه ورځ مې هم د سلطان په څیره کې د یأس او کم زړهٔ توب نښه ونـهٔ لیده. پیاوړې روحیه ئـې درلوده. انډیوالان او دوستان به ئـې هم د خپلې مستې او رغندې روحې په مستۍ خړوبول. له فزیکي مرګ څخه ئـې ویره نـهٔ درلوده او په راتلونکې ئـې ټینګ ایمان درلود. هغه د نـهٔ ماتیدونې ایمان یو ژوندی تجسم وو. دهٔ په خپله خپل یوهٔ شعر کې ویلي دي :

هزاران بار درب وسقف و دیوارم بکُن ویران
زخشت جان وتن آنرا هزاران بارخواهم ساخت
اگرخواهی بسازی جنگلی ازدار، پروا نیسـت
اگرصدجان به تن باشدهمان یکبارخواهم باخت

استاد سلطان احمد هغه انقلابي ځوان وو چې د ولسي مبارزې او مقاومت توپان ته ئې زړهٔ سپارلی وو. نوموړي د روس د تیري پر ضد زموږ د ولس د مقاومت په پاڅون کې رغنده ونډه ولوبوله او بریا ته ئې هیله مند وو. ددهٔ شعري طبع ددهٔ د احساساتو ترجمانه وه، د بېلګه په توګه یوهٔ بل ځای کې ئـې په خپل شعر کې ویلي ول :

درین قربانگهٔ خونین، چه غوغا می زند جوش
سرشکِ غم زچشمِ آسمانها مــی زند جــوش
زکوه ها لشکــرِ امید، زصحـرا شورِ آزادی
سرود فتح از هرکوی، چه زیبا می زند جوش
ز سوزِ رزم بـی پایان شـهاب روشنی خـیزد
و نـور پرُ فـروغ آن به دنیا مـی زنـد جـوش

سلطان احمد، د حفیظ الله امین له پلویانو سره په یوې کوټې کې اچول د شکنجو په منځ کې تر ټولو بدترینه شکنجه بلله. هغهٔ په ځلونو ځلونو ویل چې : «موږ ته ئــې په زندان کې دننه بل زندان جوړ کړی دی. څوني گرانه ده چې موږ د خپلو زرهاوو هېوادوالو او ملگرو د قاتلانو په منځ کې اوسو. خادیستان په خپل دې کار سره هم زموږ روح اسیره کړې او هم زموږ جسم. د روح زنداني توب د جسم تر زنداني توب سل ځله له کړاوه ډک دی.»

یوه ورځ زه او سلطان دواړه د لومړي بلاک په دالان کې گرځېدو. سلطان وویل : «راځه چې پهره دار ته ورسو چې موږ د حفیظ الله امین د پلویانو له منځه دباندې وباسي. هر چیرې مو چې بیایي، بومو دې زي، خو په دې شرط چې ددوی په منځ کې نـهٔ اوسو.» ښایي سلطان د علي دشتي د «ایام محبس» کتاب لوستلی وو. دشتي لیکلي دي : «د یوهٔ محبوس یوازینی د تسل سرچینه دا ده چې خپل ځان دداسې ډلې په منځ کې احساس کړي چې ددهٔ له فکري لید لوري سره لږ تر لږه ورته والی ولري.» سلطان د پنجرې شا ته لاړ او له پهرداه ئــې د ځای د بدلون هیله وکړه. پهره دار وویل : «دا کار زما د صلاحیت له چوکاټه بهر دی.» د ولس دا سرغندویه بچی د څرخي پلـهٔ له زندانه له خلاصیدو وروسته پاکستان ته د پېښور ښار ته لاړ، هغه ځای چې اسلام پلورو حرفوي سرې وژونکو، د پردیو په امکاناتو او فرمایش، د خپلواکي غوښتونکو، خپلواکو او پرمختگ پالو روڼ اندو په قتل جای بدل کړی وو، هغه ښار چې سرې تښتونو او تورمخو بنسټپالو سرې خوړونکو راج چلاوهٔ. لنډه دا چې دغه پینځه دیرش کلن میرنی ځوان ئـې په ۱۳۶۸ل کال کې د پاکستان د پېښور په ښار کې ښکار کړ او تر نن ورځې پورې ورڅخه پته نـهٔ لرو. روح دې ښاده او نوم دې تلپاتې وي[58]!

هره شیبه چې د سپیڅلو سربښندیو او سترو مبارزینو د مرگ غم مې پر گوگل ډېر دروند سي نو د بدن رگ رگ مې د خښم په اور کې وسوځي. د دې دوني بې ځایه وینه بهولو په افسوس کې مې له سترگو سرې اوښکې په بهېدو سي. حیف د هغو سترو هستیو پر ژوند باندې چې ټېټرونه ئــې د دښمنانو د گولیو په باران سوري سوري سول. حیف د هغو سترو ارمانونو چې تر خاورو لاندې سول... له دې سره مې لیونی زړگی ملامت کړم او وایم : تــهٔ خو پوهېږې چې د آزادۍ د خونړې لارې لارویان له قربانۍ پرته بل برخلیک نــهٔ لري!؟ مگر دا فکر دې نــهٔ دی کړی چې د میني په مسلخ کې یوازې ښـهٔ خلک وژني؟»

[58] - د وژل شوي امریکایي شاعر اتل روزنبرگ د شعر دا برخه، د ارواښاد سلطان احمد عکس او د هغـهٔ د شعرونو بیلگه د «اشعار دشنه گون» له سایت څخه اخیستل شوي دي.

که داسې وي نو د هېواد د آزادۍ او د ولس د ژغورنې او سمسورتیا د نیالګې په لمن کې د وینو ډالۍ به کوم عبث شی نـهٔ وي.

از هرخون سبزه ای می روید،از هر درد لبخنده ای
چرا که هرشهید درختیست. «شاملو»
«له هر څاڅکي د وینې یوه سبزه شنه کیږي او له درده یوه موسکا، ځکه چې هر شهید یوه ونه ده»

# د «ليکونو» له ليکوال سره ليدنه

هماغسي چې په زندان کې شيان، چاپيرپال او تومنه ئې بل رنگ، ارزښت او بيل مفهوم لري د محبس په قفس کې شيبې او د زمان نبض هم بله مانا لري. له همدې کبله ده چې د څرخي پلـۀ بيا يادول په متضادو ماناگانو او حس کي ځلندويه کېږي «تبلور مومي». زنداني د پسرلي او ژمي د راتگ له حس څخه بې خبره وي. مهمه نـۀ ده چې ژمی دې د زنداني احوال اخيستلو او پوښتني ته راسي، د زنداني سره او سوځنده نری په خپله د سخت ژمي زمهرير وي. زندانيان د کال څلور فصلونه د خپلو خاطراتو له مخې شميري- کټ مټ لکه څوک چې سوکان او لغتي شميري. يوازې هغه مهال ددۀ تپي ځان د ژمي له راتگه خبريږي چې د ژمي هډ سوځونکي سړښت ئــې تن په سړو متروکو وهي. زنداني د شنـۀ پسرلي له ترنم، د ويالو له سندرو او د مرغانو له شرنگ او چنهار څخه د تاودۀ تنارۀ د تودې او خوندورې ډوډۍ د عطوفت او د آزاد او بې ديواله چاپيرل په اندازې ليرې دی[59].

د عامو خلکو هغه خبره مې په ياد شي چې وايي د ژمي له يادولو سره سم مې ځان په ريږديدو سي. زندان ليدلي ته د زندان يادول هم کټ مټ همداسي ده. د زندان ياد تير عذابونه او رنځونه تازه کوي او د زنداني زړۀ په غمونو او غصو بيا ډوبوي. دا غصه ددۀ په پرتله نورو ته ډېره ده. ددۀ د همقطارانو لښکر چې د ستم او ظلم او جنايت قرباني شوي دي ددۀ مخې ته دربږي او بې اختيار ددوی له هر يوۀ سره خبرې کوي او گومان کوي چې هيڅ يو ئــې نـۀ دی مړ سوی. په حقيقت کي زنداني اړ دی چي دوه ډوله رنځونه په درد او احساس و زغمي : خپل رنځ او د خپلو همځنځيرو ملگرو رنځ.

د رندان له رنځ او غمه ډک چاپيرپال سوړ، کرخت او تکراري دی، خو زنداني کرار کرار ورسره خوی نيسي ځکه هيڅ څوک «په ځانگړي ډول زنداني» نـۀ سي کولی له داسي چاپرياله وښتي چي دی په کي په تړلو وزرونو اسير دی. د زندان له ورځنيو ترخو غمونو سره عادت نيول په دې مانا نـۀ دي چې گڼي له عادت نيولو وروسته دې آرامه خوب وکړي او يا کوم رنځ او درد ئــې نور نـۀ کړوي. د زندان ځور او فشارونه په پټه د زنداني په احساس او د زړۀ په ژورو کې ځاله نيسي او ان ددې امکان شته چې ددغو جسمي – رواني، په زهرو لړلي رسوبات د زنداني د ژوند تر پايه، ددۀ په خوب او ويښتابـۀ، او ددۀ په آگاه او ناخود آگاه ضمير کي ورسره بدرگه وي او له شر څخه ئــې د ژغورني لار ورته پاتې نــۀ وي.

***

نــۀ پوهېږم کومه ورځ او د ورځې څو بجې وې. سترې، ستومانه، اَوتر «پريښانـه» او لالهانده وم. ددغو لالهانديو او چرتونو په دليل يوازې يوازې زه پوهېدم او بس. په ژوندانـۀ کي کله ناکله داسي حالات هم راځي چې سړی دې خپل درد

---

[59] - دلته يو ټکی بايد روښانه سوی وای چې زه ئــې غواړم دلته ووايم دا ده چې په دې ليکنې کي زما موخه له «زنداني» څخه يوازې هماغه هېواد پال، او د شرف او آزادۍ د لارې مبارزين دي، ددې هېواد «گناه کاره» او «بې گناه» خلک - د «خلق د ډيموکراتيک گوند» د ملي ضد او ولس ضد - گوندي رژيم او نورو مستبدينو په لاس شکنجه ځايونو، زندانونو او اعدام ځايونو ته وليږل سول؛ زه دلته له هغو جنايتکارانو سره چې د جرم او جنايات په کړس کي زندان ته تللي دي يا ځي هيڅ کار نــۀ لرم - دلته دهغوی خبره نـۀ سته.

اوغصه په خپله او په یوازې سر غروپ کړي او ان یوه آه هم له خولې ونــهٔ باسي. ددغو لالهاندیو یو عامل هم د زندان د چاپیریال معموله کرختي وه. ددې ترڅنګ له بسه چې له یوهٔ پوړ څخه بل پوړ ته او له یوې کوټې ئــې بلې کوټې ته بیولی وم نور بیخی اَوتر او لالهانده سوی وم ان تر دې چې د وخت او زمان شمیر نور راڅخه هیر سوی وو. کولی شم ووایم چې د خادیستانو شکنجې راته څو اړخیزې ضربې وی، په نیمه شپه کې د زنداني د کوټې بدلول دوني وحشت درلود چې د اعدام ډګر ته تر وړلو ئــې وحشت څو ځله زیات وو.

ګوندي سرتاسري کنفرانس چې په ناحقــهٔ ئــې نوم «دیموکراتیک» خلق ایښی وو، نوی پای ته رسېدلی وو (۱۳۶۰ ل کال سلواغه). ګوند نــهٔ دننه او نــهٔ له ګوند څخه دباندې «دیموکراسي» ته ځای پرې ایښی وو او نــهٔ ئــې «ولس/ خلق» ته د حق په نامــهٔ څه پېژندل. ددې لپاره چې ددوی «زنداني ملګري» ددغــهٔ کنفرانس له بهیر څخه بې خبره پاتې نــهٔ سي، د څرخي پلــهٔ د لومړي بلاک په دالان کې ئــې ټلویزیون ایښی وو. دولتي تلویزیون د سرتاسري کنفراس بهیر خپراوهٔ. د مرګ تر شیبې پورې به مې له یاده ونــهٔ وځي چې ډاکټر نجیب ( هماغه د خاد عمومي رئیس په خپلې ښښمېدلې څېرې او بیا د جمهور رئیس په نرمې څېرې کې) کله چې تر خپلې اداري لاندې د اداري لاسته راوړني شمیرلې نو د خپلو خبرو په لړ کې ئــې خپل لاسونه په ناز، مکیز او ویاړ، د مجلس حاضرو کسانو ته اوږدهٔ کړل او د دوه وو «خطرناکو باندونو» (موخه ئــې د ساما او پیکار سازمانونه ول) د بشپړې پوپنا کــېدني زیری د ارزښتمندې تحفې په توګه کنفرانس ته وړاندې کړ. د غونډې ګډونوالو ددې قیمتي ډالې د وړاندې کولو په بدل کې په بې سارې خوښۍ او ولولو لاسونه وپړقول او د هورا ګانو رمباړې ئــې وایستلې. ټول د خوښۍ او لذت له خونده په جامو کې نــهٔ ځاییدل. له دوی څخه مو د بل شي هیله هم نــهٔ شوای کولای ځکه د ګوند او دولت «سپیڅلي» اهداف همدا وو چې د روسي بادار له پلوه په سپارل شوې دنده کې باید له ځانه وړتیا ښکاره کړي او تر څو ئــې چې کولای سوای باید خپل فکري مخالفین ئــې سرکوب کړي وای او په بدل کې به ئــې خپل ګوندي- دولتي مقام او دریځ لوړ اوهٔ.

څومره وحشتناکه منظره ده! « د آزادي پالو مورچل په خولــهٔ چوپ شوی، د میرڅمن کــېردئ په زوړ او ولولو...» دښمنانو د خوښۍ شور او زوږ پیل کړی وو او زه او زما په شان نور مخامخ د ټلویزیون ښیښې ته ناست او د هغــهٔ جشن ننداره مو کوله چې زموږ د سټ وټ «بربادي» کــېدلو لپاره جوړ شوی وو! حقیقت دا وو چې د (سازمان آزادیبخش مردم افغانستان «ساما») او د (سازمان پیکار برای نجات افغانستان) مشران او کدرونه نیول شوي ول او زندان ته اچول شوي ول. د زندان هر ګوټ ته دې چې کتل ددغو دوه وو سازمانونو زندانیان به سترګو کــېدل او د خواشینۍ ځای لا دا دی چې د دغو دواړو سازمانونو لوړپوړي غړي زموږ د ټولني تحصیل کړي کسان ول. دا یوه هډ سوځوونکې فاجعه وه. ددې تر څنګ، په صدارت کې د تحقیق د دوري ګنګس توب مې لا تر اوسه په ځان کې وو. همدا شان، یو شمیر یارانو د تحقیق په لړ کې تیروتنې کړې وې او دې خبرې مې روح لا نوره ځوروله. د ډېرې آرمان پالنې په کړس کې دا غلطه انګیرنه او جاج مې په ذهن کې وو چې ګني سامایي مساوي په خاص نــهٔ ماتیدونکي پولاد دی او د فوق انساني خصوصیاتو لرونکی وي، حال دا چې زما دا جاج او انګیرنه نــهٔ علماً سمه وه او نــهٔ عملاً.

په همداسي يوهٔ حالت کې ول چې زه ئــې د لومړي بلاک ددريم پوړ له ختيځې څانگې څخه چې قدوس غوربندي او عبيدالله محک او دوه تنه نور «خلقيان» په کې ول پرته له کوم څرگند دليله د لومړي بلاک دويم پوړ ته تبديل کړم. کله چې د دويم پوړ دالان ته ننوتم، پهره دار راته د دالان کيڼ لور ته د لومړۍ کوټې دروازه پرانيستله. په کوټې کې پينځه تنه ول. د کوټې له نويو بنديانو سره آشنا سوم. د کوماندو د قطعې بولندوی صادق عالميار او دوه ورونه ئــې عتيق عالميار او شفيق عالميار او آذرخش حافظي وو چې د عالميار له کورنۍ سره ئــې خپلوي درلوده. پينځم تن ددوی له قطاره نـهٔ وو، ځکه چې هغه نور څلور تنه ئــې «خلقيان» ول. په لومړيو کاتو سړی پوهېدهٔ چې دا پينځم تن کوم معمولي سړی نــهٔ دی. د چلند او کړووړو او د وينا او کلام دروند والی ئــې په بشپړه توگه بل ډول وو. دهٔ گومان نــهٔ کاوهٔ چې ما «سم» پېـژندلی دی. استاد بابري راته ددهٔ له بندي کيدلو مخکې له مخکې خبر راکړی وو. څو دقيقې لا نــهٔ وې تيرې شوې چې په خپلې ذاتي هوښيارۍ ئــې پوه سو چې د غمونو دروند پيټی مې پر اوږو پروت دی، او يا هم ښايي زما نا آرام حواس ددې لامل شوي ول چې زما د زړهٔ د غمونو کتاب ولولي. په نرمی ئــې راته وويل : «وطنداره، چرت مــهٔ وهه، په ژوندانـهٔ کې دا شيان پېښـېږي.» دهٔ په خپلې دې خبرې غوښتل ما ته تسل او ډاډگيرنه راکړي. مخ مې ورواړاوهٔ او ورته مې وويل : « دا ټول ئــې ستاسو د ليکونو له لاسه دي چې موږ به داسي ورځې گرفتاره سوي يو». په حقيقت کې مې دی په دې پوه کړ چې ښـهٔ دې پېـژنم. ښــهٔ ئــې په ځير راته وکتل، د څو شېبو لپاره چوپ سو او بيا ئــې وويل : «زه هم ستاسو تر څنگ بندي يم. په ټولو رژيمونو کې مې زندانونه تير کړي دي.» زموږ تر منځ يوازې دوه جملې يو بل ته وويل شوې او بيا يو ډول اوربند رامنځ ته سو. دی له هغـهٔ مصيبته خبر نـهٔ وو چې پيټي ئــې زما پر گوگل دروندوالی کاوهٔ. غم زما په زړهٔ وو نـهٔ د ټولو پر زړهٔ!

د هماغې ورځې په ماسپښين کله چې زموږ د کوټې دروازه خلاصه سوه او د پوړ د دالان زندانيانو ته د دباندې وتلو اجازه وسوه، دغـهٔ ښاغلي له لاسه ونيولم او راته وئــې ويل : «راځه چې دواړه يو ځای وگرځو.» زما د زوکړې د سيمې او زما د سياسي سوابقو په هکله ئــې پوښتنې وکړې. ما هيڅ شی ورڅخه پټ نــهٔ کړل. کله چې پوه سو چې زه د اروابناد ملنگ عمار له زده کوونکو څخه يم د اعتماد تله ئې لا درنده سوه. له هر څه مخکې ئــې راڅخه وغوښتل چې د ملنگ عمار د شهادت د څرنگوالي په باب ورته معلومات ورکړم. کله چې زما خبرې خلاصې سوې نا آرامي ئــې لا زياته سوه. د خپلې کورنۍ او د اروابناد عمار د کورنۍ تر منځ د ټينگې دوستۍ په هکله ئــې وويل او دا ئــې هم وويل چې د ملنگ په مرگ دی او ميرمن ئــې دومره غمجن سوي ول چې د څو ورځو لپاره ئــې ډوډۍ ونــهٔ خوړله. د اروابناد عبدالمجيد کلکاني د ښـېگڼو او استعداد په هکله ئې قصې وکړې او دا ئــې هم وويل چې دغـهٔ ميرني څنگه انگليسي زده کړه، او.... او.... او دا ئــې هم په پای کې وويل چې څنگه ئــې لاره سره بيله سوه، او د هغه د شهادت په هکله ئــې خپل خپگان وويل او همداسي نورې قصې.

د «سه تصوير» شعر ئې نوی ويلی وو. دا شعر ئــې راته ولوست. د «سه تصوير» شعر په حقيقت کې د شاعر د ژوندانـهٔ له لوړو ژورو ډک ژوند يو انځور وو. د خيال ټال مې د ۱۳۴۹ او ۱۳۵۰ل کلونو په يادونو کې ډوب سو. هغه مهال نوی د سياسي زده کړو کړيو ته ورگډ شوی وم. زموږ د کړۍ مسؤول په قلم ليکل سوې يوه ليکنه له ځان سره راوړې وه چې د زده کړو د مواد په توگه ورڅخه کار واخلم. د ليکنې هره کرښه راته تازه او بکره وه او داسې په زړهٔ پورې مطالب ئــې په کې ليکلې ول چې تر دې دمه مې ډېر لږ له خلکو اورېدلي ول. د همدې ليکنې د لومړۍ پاڼې پر تندي په زاړه رنگ ليکل شوي ول «نامه ها» خو هېـڅ چا موږ ته د ليکنې د ليکوال نوم معرفي نــهٔ کړ. «نامه ها» درې برخې درلودې : فلسفه، اقتصاد او

سیاست. د «نامه ها» د لیکلو سبک څرګنداوۀ چې لیکوال ئــې له سیاست، تأریخ، ادبیاتو، فلسفي او اقتصاده ښــۀ خبر دی. د «نامه ها» ادبیات پاخــۀ، خوږۀ او ساده ول. کله چې لیکوال غوښتل یوه موضوع توضیح کړي نو ساده، روښانه او په ځیر غوره شوي مثالونه به ئــې راوړل. ځینو ځایونو کي به کوم شعر هم د متن خوند او مالګه پسې نوره خوندوره کړه. قاعده دا وه چې د کړی هر غړی باید د «نامه ها رساله» په «خود کار قلم» او «کاربن پیپر» څو کاپی ولیکي. د «نامه ها» لوستل او لیکل څو څو میاشتي ونیولې. باید اعتراف وکړم چې له «نامه ها» څخه مي ډېر شیان زده کړل و ان تر اوسه مي د هغــۀ مطالب په ذهن کي پاتي دي. زموږ چارې کرار کرار پر مختللي او ډېر وروسته پوه سوم چې د «نامه ها» لیکوال څوک دی او په دې هم پوه سوم چې لیکوال، د «نامه ها رساله» د دهمزنګ په زندان کي لیکلې وه.

په راوروسته کلونو کي هم د همدغــۀ لیکوال ځیني لیکني زموږ لاس ته راغلې. زموږ د سیاسي کړی د سیاسي زده کړو په پیاوړتیا کي د «نامه ها» د لیکوال څرګنده ونډه زموږ د ډلې له هیڅ غړي څخه پټه نــۀ وه. ددې تر څنګ د «نامه ها» د لیکوال او زما د ګرانو یارانو تر منځ سیاسي – تشکیلاتي او ددوستی شخصي اړیکي هم رامنځته شوې وې.

***

هګل یو ځای ویلي ول چې پــېښــې په تأریخ کي بیا تکرارېږي، او ما په خپلو سترګو لیدل چې زندان د یوې سیاسي پــېښې په توګه څنګه د «نامه ها» د لیکوال په ژوندانــۀ کي تکرارېږي، یو ځل د دهمزنګ د زندان په بڼه کي او بیا د څرخي پلــۀ د زندان په بڼې کي. د څرخي پلــۀ د زندان د لومړي بلاک په ختیځې برخي کي زموږ دوه دوه پوړیزه چپرکټونه ول چې څلور تنه په کي بیدۀ کــېدل. زه او د «نامه ها» لیکوال دواړه د کوټې د غولي پرمخ بیدۀ کــېدلو. هوا لا تر دې دمه سړه وه او لکه د لړم په شان ئــې چیچل کول. سړې هوا به د شپې له پلوه د رنګ بایللو او سوری سوری کمپلو له چاودو څخه لاره وموندله او زموږ هډونه به ئــې سوځول. د «نامه ها» لیکوال چې زما تر څنګ بیدۀ کــېدۀ په زړۀ سواندی او مهرباني به ئــې خپله توده چکمن زما پر شکنجه شوي ځان اچوله. نــۀ پوهــېږم دا ښــېګڼه ئــې ددې لپاره کوله چې د سعدي خبره «بني آدم د یوۀ بل غړي دي» او یا دا چې له پخوانی دوستی څخه ئــې څه شی په ذهن کي پاتي ول. هر کله به مي چې ددۀ لاسونو ته کتل نو په لسهاوو ګران اتلان به مي سترګو ته ودرېدل چې د اخلاص او ملګرتوب په ویاړ او پار ئــې پر دغو لاسونو باندې لاسونه ایښي ول. کله به مي چې ددۀ سترګو ته کتل نو له ځان سره به مي ویل چې دا کومې هغه تللي خوږې شیبې وې چې دغو سترګو به د عبدالجمید کلکاني او د هغــۀ د وفادارو ملګرو له سترګو سره کتلي وې. د کوټې له دغــۀ ملګري سره ناستې راته د نسل د نومیالیو مبارزینو او په هــېواد او ولس د مَیَــنو مینه پالو، دهمسفری او هملاري توب یاد راتازه کړ. په همدې شیبې کي د «نامه ها» د متن هره کلمه مي په ذهن کي ګرځــېدله او د هماغــۀ شوق ، ژمني، ایمان او باور - اور ئــې زما د خاطراتو په تل کي بیا راژوندی کاوۀ. له ځانه سره مي ویل چې اوس دی هماغه پخوانی سړی نــۀ دی چې موږ ته د ملګرتوب یوه بیلګه او د مبارزې، ټینګتابــۀ، استواری او ایمان جوهر ګڼل کــېدۀ، ان تر دې چې خپل نوم ئــې لا بدل کړی وو، خو بیا مي هم زړۀ مي نــۀ منل چې په رښتوني او حقیقي نړی کي دې دغسې یو غملړی شا تګ رامنځته شوی وي.

دی نور هاغه «مضطرب باختري» نــهٔ وو چې موږ ورته د ځان ځارولو تر کچې چمتو وو. ددې لپاره چې په خپل ژوندانــهٔ کې ئــې نوې پانه پرانیستي وي، د «نګارګر» نوی نوم ئــې غوره کړی وو او اوس «اسحق نګارګر» شوی وو. د مبارزې له دود او له غوره کړل شوې لارې پښیمانه وو، د مبارزې د مورچل د خوشې کولو او له خپل نوم او نښان څخه د انکار تر بریده وړاندې تللی وو. له دې تړولو حالاتو سره سره بیا هم راته ګرانه وه چې ان د یوې شیبې لپاره ددهٔ پر وړاندې د زړهٔ له کومې خوږ چلند ونــهٔ لرم. که رښتیا خبره سي نو نــهٔ دهٔ وکولای سول زما پروړاندې کم لورینه، لږ پــېــرزوینه او نامهرباني ولري او نــهٔ ما وکولای سول ورته په سپکه وګورم. زه نــهٔ پوهــېږم چې ولې هغــهٔ راسره داسې چلند وکړ. ښایي د زندان مجبوریتونه ول، او یا دا چې موږ دواړو تر یوهٔ واړهٔ چت لاندې سا ایستله، د یوهٔ دسترخوان ګردچاپیره سره کښېناستلو او یا هم د آشناییو پاس او درناوی وو؟ تر هغــهٔ ځایه چې په ما اړه نیسي، له مجید آغا څخه د ځلانده ملګرتابــهٔ ددرس زده کړې زما د ژوندانــهٔ لارښودې ډېوې وې.

د محمد داؤود د واکمنۍ کلونه مې په یاد راغلل. د کورنیو چارو وزرات د قدیر نورستاني تر مشرۍ لاندې نوې ماجرا ته لاس اچولی وو او د مجید آغا نیول کــېدل او یا وژل ئــې له خپلو لومړیتوبونو څخه ګڼل. صوفي غلام حضرت یو له هغو کسانو څخه وو چې د مجید کلکاني وژلو ته ئــې ژمنه کړې وه. صوفي چې ځان له سره تر پایه د قدیر نورستاني په چوپړ کې ګومارلی وو ددولتي امکاناتو په لرلو شپه او ورځ په مجید پسې ګرځــېدهٔ. د صوفي غلام حضرت لومړنانه ماجرا لټوني ورځ تر بلې ډېــرېدلې او پر مجید او یارانو ئــې د ژوندانــهٔ کړۍ تنګه کړې وه. د لټون، تعقیب او پر هغو لارو چې د مجید او د یارانو د تګ راتګ امکانات ول د کمین نیولو تر څنګ ئې د هغو کسانو او کورنیو قتل او ځورولو ته هم لاس اچولی وو چې له مجید سره ئــې ښې اړیکې لرلې. د مجید یاران او دوستان د مجید د امنیت په هکله سخت اندیښمن ول. هر چا به د علاج د یوې لارې چارې وړاندیز کاوهٔ. ویل کــېدل مخکې له دې چې کار له کاره تیر سي باید موږ لاس په کار سو او د غلام حضرت چاره باید مخکې له مخکې وشي. خو د زماني هماغه د لیرې فکر خاوند به ددغو ګوابښونو تر پیټې لاندې نــهٔ راتــهٔ او د غلام حضرت داسې ډول چاره کول ئــې د ملګرتوب، انسانیت او ځوانمردۍ د اصولو خلاف ګڼل.

په دې هکله د اروابښاد عبدالمجید کلکاني د دوستانو یوه خاطره چې د هغــهٔ د ځوانمردۍ او ځلانده ملګرتوب رمز اوراز په څرګنده بیانوي د «ویژه نامــهٔ شهید عبدالمجید کلکانی» د ۶۴ پاڼې له مخې چې په ۱۳۶۰ل کال کې خپره شوې وه دلته اقتباسوم :

« له نن څخه کلونه وړاندې آغا له غلام حضرت سره ددوستۍ اړیکي ټینګ کړي ول، خو غلام حضرت به له آغا سره هم د شپــږ - تږ «نرد» لوبه کوله او هم به ئــې ورسره ددوستۍ لاپې شاپې ویشتلې. له دوستۍ څخه ډېر وخت نــهٔ تیر شوی چې ددوستۍ تومنه ئــې وشنــېده. غلام حضرت د لوټمارۍ، شوکو، غلاوو او سرې وژنې پر لور لاړ. آغا ورڅخه مخ واړاوهٔ. غلام حضرت چې په زړهٔ کې ئــې د اوښ په شان کینه او کرکه پاللې وه غوښتل ئــې ستر مجید له منځه یوسي... همدا وو چې غلام حضرت په موقع پسې ګرځــېدهٔ.

یوه ورځ زه د غلام حضرت له شیطاني فکره خبر سوم او هماغه شیبه مي آغا ته خبر کړ او ورته مي وویل چي ژر تر ژره د غلام حضرت وزرونه او ښکي وشکوه. آغا وویل : «غلام حضرت دوني زړه نـهٔ لري چي ما ووژلی سي. له هغـهٔ څخه ماته تاوان نـهٔ سي رسېدلی. او وژل ئـي هم چنداني سخت کار نــهٔ دی.... خو د هغه ملګرتابـهٔ پار مي سترګو ته درېږي چي یو وخت مي ورسره درلود، که ئــي مړ کړم نو ټولي میندي او ټول پلرونه به د خپلو نویو ماشومانو په غوږ کي ووایي : بچیه کله چي لوی شوې ملګرتوب مــهٔ کوه، موږ د مجید او غلام حضرت د ملګرتابـهٔ پایله ولیدله.»

مجید له دغـهٔ کار پرته کولای سوای بل انتخاب ولري خو په هغـهٔ صورت کي به ئـي د تأریخ، د انسان د پرمختللي فرهنګ او راتلونکو نسلونو ته د همداسي یوهٔ ګنج په لیږد کي کوم مسؤولیت نـهٔ پـېژاندهٔ. هغـهٔ نـهٔ سوای کولای د هېواد بچیانو ته له ځانه تریخ دود او لاره په میراث پرېږدي. له همدې کبله ده چي ویلي ئــي دي : «مردي او نا مردي یوازې یو ګام له یو بله واټن لري.» ښایي څوک ګومان وکړي چي د سعدي په خبره د مجنون سترګي په ما کي دي چي د لیلی له ښـېګڼو پرته بل څه نــهٔ وینم. خو حقیقت دا دی چي د مجید په ځانګړتیاوو کي یوه ئــي دا ده چي نوموړی د شلمې پېړۍ په پای کي د افغاني ټولني د منل شویو ارزښتونو میراث دار او د سپیڅلو عیارانو د فرهنګ ساتندوی وو. هغـهٔ د دوستی، د سلام علیک د ارزښت، ژبې او ژمني ، د نان و نمک پاس او د نیکونو دود او نیکو لارو د پیوند اهمیت پـېژاندهٔ او ددغو ارزښتونو ټینګ درناوی ئــي کاوهٔ. دی ډېر ښـهٔ پوهېدهٔ چي دا ارزښتونه هسې وړیا او مفت په لاس نــهٔ راځي او نــهٔ شي کېدای په دومره آسانی لیرې و غورځول شي.

د نن ورځي په پیسه محوره او ګټه محوره نړۍ کي انسان محوري په ناپیدا اکسیر بدل شوی دی. پالیالي «وفاداري»، او د معنوي ارزښتونه پاس او درناوی د هر بوالهوسه کار نــهٔ دی. داسي کسان سته چي دا شیان په یوهٔ واښه هم نــهٔ اخلي او د ملګرتوب او دوستی په لاره کي پښه ئــي ګوډېږي، نـهٔ ئــي دوستي، دوستی ته پاته کېږي او نـهٔ ئــي دښمني، دښمني ته. که نن له یوهٔ ګریوانه سر راباسي سبا ورځ د یوهٔ وړوکي اختلاف په رامنځته کېدو سره کار ئــي د رسوایي او افتضاح تر کچي رسېږي، او په خواشینی چي ددې پر ځای چي یو بل ته د نیلوفر په ګلونو هرکلی ووایي، په ډنډونو کي ناسته ختې راباسي او د یو بل پر مخ ئــي ولي.

***

یوه ورځ د زندان مسؤولینو استاد نګار ګر وغوښت. په یاد مي نـهٔ دي چي څومره وخت ئــي ونیوهٔ. کله چي بیرته راغی موږ ته ئــي وویل :« یو ځوانکی له زندانه دباندې زما لیدلو ته راغلی وو. ځان ئــي په سیاسي مسائلو کي ډېر پوه او وارد ښودهٔ. له فلسفي او دیالتیک ئــي خبرې وکړې، آخر مي ورته وویل! ګرانه ورورکه! ما هم له همدغو وړیو یوه خولی جوړه کړې وه. ځوانکي ټینګار کاوهٔ چي ګڼي له سیاست پرته ژوند ناشونی دی او هیڅ څوک له سیاسته بیل نـهٔ شي پاتي کېدای. ما ورته وویل : که د ژوندانـهٔ په نظام کي د نړۍ ټولي نجوني یو ځل پریکړه وکړي چي موږ مېړهٔ نـهٔ کوو، نو په نړۍ کي به ستر ناورین رامنځته سي. خو که څو تنه نجوني ووایي چي موږ مېړهٔ نــهٔ کوو نو کومه ستونزه به رامنځته نــهٔ سي. په سیاست کي هم خبره همداسي ده. که د نړۍ ټول سیاستوال ووایي چي یاره موږ له سیاسته نور لاس په سر یو، نو لویه «بخوله» فاجعه به رامنځته سي خو که څو تنه ووایي چي موږ نور سیاست نــهٔ کوو نو بیا کومه ستونزه نــهٔ سته. زه د

همدغو څو تنو په ډله کي یم. ځوانکي بیا وویل چي خیر دی که ګوند ته نــهٔ راځي نو «پدر وطن جبهي» ته راسه او له موږ سره همکاري وکړه. ما په ځواب کي ورته ویل چي ما په ټوله کي له سیاست سره پرېکون کړی دی. د پدر وطن جبهه هم سیاسي ارګان دی.»

استاد به کله د کوټي له نورو بندیانو سره د شطرنج لوبه کوله او کله به ئــي قصي کولي. د کوټي بندیان ددهٔ له سیاسي سوابقو خبر ول او له دهٔ به ئــي داسي پوښتني کولي چي ددهٔ د لید لوري، مواضعو او د معلوماتو د سطحي په ژورتیا پوه سي. موږ په دوه وو له یو بله بیلو نړیٔ ګانو کي سره واټن درلود. زموږ ډېریو غمونو او هیلو له یو بله توپیر درلود. سره له دي چي د زموږ د پوښتنو او ځوابونو کتابونه همداسي پرانیستي پاتي ول نــهٔ ما ورڅخه دا وپوښتل چي ولي دي خپلو پخوانیو یارانو ته شا کړه او نــهٔ دهٔ دا پوښتنه راڅخه وکړه چي تــهٔ ولي زما له پخوانیو دوستانو او همسنګرو ملګرو سره په دوستی دوني شله ئــي؟ له ځان سره به مي ویل چي د شرافتمند ژوند د لارې غوره کول او له هرې فلسفي پیروي کول د انسان طبیعي حق دی.

هره هغه شیبه چي د مجید او د هغــهٔ د یارانو دوستي له مضطرب باختري «استاد نګارګر» او اروابناد انجنیر عثمان مشهور په عثمان لنډي سره په یاد راتله زړهٔ به مي له غمه تک شین سو. مضطرب باختري او اروابناد انجنیر عثمان دواړو اروابناد عبدالمجید کلکاني او یارانو ته ئـي په ډېرو سختو او فوق العاده حالاتو کي شا کړې وه او له دوی څخه هیڅکله داسي هیله نــهٔ کېدله. د خپل مورچل له ګرانو، خوږو او له ځانه تیرو یارانو سره د اروابناد انجنیر عثمان او مضطرب باختري د غمجن بیلتون لړیٔ په یوهٔ بیل یادداشت کي لیکل شوی چي «سفر در خمِ کوچه های خاطرات» نومـېږي او تر اوسه خپور شوی نــهٔ دی، دا یاداشت مي د زړهٔ په وینو لیکلی دی.

چا پیوستون او بیلتون دواړه د یوهٔ ایکی «سکي» دوه خواووې تعریف کړي دي. په هماغه اندازه چي وصلتونه خواږهٔ او خوندور دي هماغومره بیلتونونه ډېر تراخه او دردوونکي دي... او د لوح قلم د ښبتن به دا څومره عجیب او مبارک کار وي چي د هغو اړیکو په شلېدلو خپله رضا ورنــهٔ کړي چي د زړهٔ په وینو او د ځوانیٔ په بیو سره پیوند سوي وي!

ای خدا این وصل را هجران مکن
سرخوشانِ عشق را نالان مکن
باغ جان را تازه و سرسبز دار
قصد این مستان و این بُستان مکن
بر درختی کاشیان مرغ تست
شاخ مشکن، مرغ را پران مکن
جمع و شمع خویش را برهم مزن
دشمنان را کور کن، شادان مکن
گرچه دزدان خصم روز روشنند

آنچه می خواهد دل ایشان مکن
نیست در عالم ز هجران تلختر
هرچه خواهی کن، ولیکن آن مکن

***

# د کډې نغاره

فراق نامه ی نیما به آب اگر شویند
کسی از آن نتواند زُدُود نـام قـفس
[که نیما بیلتون لیک ځوک په اوبو پریمینځي – نو د قفس نوم به ورڅخه پاک نـهٔ سي کړای]

د ۱۳۶۱ ل کال د وري د میاشتې د پیل ورځې او ځابنت مهال وو چې یو ناځاپه موږ ته امر وسو چې «کالي مو ټول کړئ!» هر هغه ځوک چې د خپل ځوړند مرگ لپاره د مرگ دیو ته شیبې شماري نو په غوږونو کې ئـې د خطر د همداسې زنگ په کړنگېدلو سره هرو مرو په ناخود آگاه ډول د قاتلانو د سرو گولیو ځوب «سوزش» په خپل سر او گوگل کې احساسوي. ما هم همدا حالت درلود. نـهٔ پوهېدم څه وکړم او خپل وصیت لیک د چا غوږ ته ورسوم. هرې خوا ته مې چې کتل د ډاډ وړ او د راز محرم ځوک مې ونــهٔ موند. چاره مې نــهٔ وه مگر دا چې ځان او زړهٔ د راتلونکي توپان پېښو ته وسپارم، له دې کبله مې خپله د همت ملا د اعتماد او مقاومت په ځرمن وتړله او وخوځېدم.

هغو زندانیانو چې نومونه ئــې په دې لعنتي لیست کې لوستل شوي ول په لالهاندئ او وارخطایيي دیخوا هاخوا منډې وهلې او د ناځرگند سفر لپاره ئــې ځانونه چمتو کول. دغـهٔ چمتو والي ډېر وخت ځکه ونـهٔ نیوهٔ چې د ځرخي پلـهٔ د لومړي بلاک زندانیانو کالي او اسباب نــهٔ درلودل چې راټول ئــې کړي.

د کوټې له بندیانو سره مې خدای په اماني وکړه. د لومړي بلاک په انگړ کې د اسیرانو سترې ستومانه ټولی په ترهیدلو مخونو، تنگو زړونو او کرکې د کومې شومې پېښې لپاره سترگې ځارلې. ددغـهٔ انتظار ترخې شیبې د هلاهلو تر زهرو لا ترخې وې. هیڅ ځوک په خپل عاقبت خبر نــهٔ وو. هر چا کوښښ کاوهٔ پوهٔ شي چې د سفر پایله ئــې چیرې ده. زندانیانو به له یو بله پوښتل : «موږ چیرته بیایي؟» که څه هم دې پوښتنې ته په بیلابیلو جملاتو ځوابونه ورکول کېدل خو پایله د ټولو یوه وه. «خدای دې موږ ته خیر کړي.»، «نــهٔ پوهېږم»، «وطنداره چرت مــهٔ وهه، خدای مهربانه دی....» داسې کسان هم ول چې د شونډو ښوررولو حوصله ئــې بیخي نــهٔ درلوده او پوښتونکي ته به ئــې د سر په ښوررولو خپله بې خبري ښودله.

دقیقاً نـهٔ پوهېږم چې د هغو زندانیانو شمیر ځومره وو چې همداسې یوهٔ موهوم برخلیک ته سترگې په لار ول، ښایي د سلو په شاو خوا کې. د لومړي بلاک د ختیځې برخې د زندانیانو د یو شمیر تر ځنگ ئـې د همدغـهٔ بلاک د لویدیځې برخې یو شمیر نور زندانیان هم له موږ سره یو ځای کړي ول. فرمان ورکړ سو چې په یوه لیکه یو په بل پسې وخوځېږو او یوازې حق لرو چې مخامخ وگورو بس. د لومړي بلاک له دروازې ووتلو. داسې مو گومان کاوهٔ چې د چنگیز یا د هیتلر د ځواکونو په اسارت کې یو. هرې خوا ته دې چې سترگې رغړولې، له غصې، غم، پریښناني او بې چاره گئ بل څه دې په لاس نــهٔ درتلل. له بلې خوا وخت دومره سوکه تېرېدهٔ چې د چا زړهٔ ورته تنگېدهٔ، داسې سوکه چې ته به وایې د وخت پښه هم فلج سوې ده، او یا دا چې - چا وخت - زموږ دوزخیانو لپاره په ځلورو میخونو تړلی وو. هماغومره چې د محافظینو سختې، خښم او عتاب ډېرېدهٔ په هماغه اندازه مو د زړونو ټکانونه ډېرېدل. فکر مې کاوهٔ د اجل پرښته مې پر سر تاوېږي، د بل څه په باب نـهٔ، بلکه یوازې مې د خپل مرگ په هکله فکر کاوهٔ. ما د بولدوزر او خندق قصې اورېدلې وې. له ځان سره مې ویل

: « ددومره شمیر زندانیانو اجساد یوازې بولدوزر کولای شي تر خاورو لاندې کړي.» هر څومره چې وړاندې پرمخ تللو هماغومره د مرگ، بولدوزر او خندق وحشتناکه منظره مې په سترگو کې مجسمه کېدله.

د محبوسینو کتار ښي لاس ته تاو سو. سرتیري او افسران د څلور پوړیزې ودانې مخې ته زموږ رسېدلو ته سترگې په لار ول. امر وسو چې په انگړ کې ودرېږو. د پسونو د رمې په شان ئې څوڅو ځلې وشمارلو. د لیست له مخې د هر چا نوم چې اخیستل کېدهٔ مجبور وو چې خپل د پلار نوم او استوگنځی معرفي کړي. د نوې وضعیت په لیدلو مې زړهٔ یو څه کرار سو. لږ تر لږه مې دا ډاډ تر لاسه سو چې گڼې موږ په بل ځای باندې سپاري. د زندانیانو په وچو رنگ الوتو کالبدنو کې یو ځل بیا وینه وغوړېده. سرې کنگل شوې شونډې په خوځښت راغلې او زارو زهیرو غمجنو څیرو یو ځل بیا روح و موندله. دا ټول - ژوندي پاتې کېدلو ته د انسان د طبیعتي ذاتي راښکون او له مرگ او پوپنا کېدني څخه د هغهٔ د تیښتي څرگندویه ده. دلته تا کولای سوای د مرگ او ژوند تقابل په رڼو سترگو ووینې. په همدې حالت کې مې دا پوښتنه ذهن ته راغله چې : هغه کسان چې په داوطلبانه او آگاهانه ډول خپل ژوندون د انساني او انقلابي آرمانونو لپاره نذرانه کوي، د زرهاوو ځله ستاینې او درناوي وړ نـهٔ دي؟

زندانبان له هماغو لومړیو شـېبو ویلای سوای چې تاسو له لومړي بلاکه بل بلاک ته بیایو. یوازې همدې لنډې جملې څو ثانیې نیولې او کولای ئـې سوای موږ د مرگ له گواښه وژغوري. ولې ئـې دغه جمله ونـهٔ ویله؟ دلیل ئـې د وخت سپما نـهٔ وه، بلکه ددوی شیطاني پالیسي همداسې وه چې زندانیان تل په ویره او ډار کې وساتي. هغوی اصلا روا داري نـهٔ درلوده چې لږ تر لږه د یوې شـېبې لپاره دې د داموکلس توره زموږ له غاړې لیرې وي. هغه خوند چې د زندانیانو له «ستم کـُش» کولو څخه د خاد او د خلق د ډیموکراتیک گوند د شکنجې، ځور او قاتلې دستگاه له کبله ور په نصیب کېدهٔ، دغه خوند ئـې ددوی په یو ځل وژلو نـهٔ سو ترلاسه کولای. د لومړي بلاک او د بل بلاک تر منځ واټن یوازې د اټکل له مخې څلور سوه متره وو. دا نـهٔ کومه باټه او توره ده او نـهٔ دروغ چې تر دویم ځایه تر رسیدو پورې موږ خپل مرگ په لویشتو شمارلی دی. وروسته بیا ښـهٔ پوه سوم چې د تورتم او ویرې په متن کې د زندانیانو ساتل، خپله تر ټولو ستره شکنجه ده چې د روسانو او د هغوی د گوډاگي رژیم د سرکوب گرې پالیسی یوه برخه وه.

هغـهٔ افسر چې لیکونه او لیستونه ئـې له ځان سره لرل موږ ئـې بلاک ته دننه بوتلو. د یوې وړوکې دروازې له لارې یوې لویې ودانی ته ننوتلو. د تگ راتگ لارې له موړونو او کړلیچړنو ډکې وې، د تنگ ځنگل په شان پولادي میلونه، اوسپنیني دروازې وې او زندان ساتونکي قهرژلي او ښمناک په سترگو راتلل. کله به چې زموږ د پښو د غږ ازانگه په دالان کې خوره کېدله د زندن منظره ئـې څو ځله نوره وحشتناکوله. له هماغو لومړیو شیبو پوه سوم چې دا نوی ځای د ډېرو زندانیانو د ساتلو گنجایش لري. له پوړیو پورته سوو او دریم پوړ ته ورسـېدم. افسر د دریم پوړ سرتیري ته امر وکړ چې د یوې کوټې دروازه دې خلاصه کړي. پهره دار په بیړې کونجي ئـې په لوی درانده قفل کې واچوله. اوسپنینه دروازه پرانیستل شوه او زه کوټې ته ننوتم. کوټې ته له ننوتنگ سره سم نـېږدې وو بې سده سم. دومره لوی قفس هک پک حیران کړم، دلته مې داسې یو شی ولید چې په خوب کې به مې هم نـهٔ وو لیدلی. د کوټې دننه د اصلي دیوال ترڅنگ دا کوټه په خپل وار نورو پولادي سیخونو میلونو محاصره کړې وه. داسې پولادي میلونو چې په خپل وار ئـې د لویې کوټې په منځ کې بله

پولادي کوټه جوړه کړې وه اود لويو وحشي ځناورو د ساتنې بڼه ئـې خپله کړې وه. زندانيانو به داسې کوټه د «پنجرې» په نامـهٔ يادوله. د اصلي ديوال او د پولادي ميلونو د ديوال تر منځ واټن نيږدې دوه نيم متره وو. د اصلي ديوال په پورتنی برخه کې ئـــې کړکی ګانې چې له پولادي ميلونو څخه جوړې شوې وې ايښي وې چې هوا قفس ته ننوتلای سوای. د کړکی خولې ته نـېږدې کيدل يو ګران کار وو خو په دغو شپو ورځو کې ډيری ګرځـېدا راګرځـېداوې د اصلي ديوال او د پولادو د ميلونو د ديوال ترمنځ دالان کې چې د کوټې ګرد چاپيره کـېدهٔ، د زندانيانو د ګڼه ګوڼې له برکته د کنترول وړ نـــهٔ وو. د کوټې غولي ئـــې په زړو کمپلونو او شنـېدلو شطرنجيو پوښلی وو. د کوټې باشي دنده درلوده چې هر چا ته ځای وټاکي. ما ته ئـــې د کوټې منځ کې ځای راکړ. هر بندي ته ئـې يوه زړه کمپله چې په خاورو، دوړو او حشراتو ډکه وه ورکړه. موږ ته ئـــې وويل چې درې تنه دې د يوې نالۍ «دوشکې» پر مخ پريوزي. عجيبه منظره وه چې په کلماتو انځورول ئـــې هنرياله وړتيا غواړي. هر چا غوښتل خپل اسباب او شيان ځای پر ځای کړي. چا ديخوا چا هاخوا منډې وهلې او بې ګټې خنداوې ئـــې کولې. د کوټې چاپيريال له دوړو او خاورو ډک شوی وو. د هوا اندازې ټولې کوټې ته کفايت نـــهٔ کاوهٔ. همدې کوټې ښايي د پينځوس تنو لپاره ځای درلود خو دوی دلته درې سوه تنه اچولي ول. په حقيقت کې قفس تر چته په سرِيو ډک وو. ان د کاليو د غوټو، بغچو او بيکونو لپاره ځای نـــهٔ درلود. د ځای د تنګوالي له کبله مې خپل بوټان تر نالی لاندې کښـېښودل. يوازې مو کولای سوای پلاستيکي بدنی «د زندان مهم ترينه د کار آمد وسيله» او د کاليو غوټې د قفس «پنجرې» په ميلونو کې وځړوو او دې کار په خپله بل جنجال رامنځته کاوهٔ. ځکه که د زندان ساتونکي سترګې ورباندې لګـېدلې نو دستور به ئـــې ورکاوهٔ چې ژر تر ژره ئـــې کښته کړو.

زندانيان د غولي پرمخ د يو بل ترڅنګ ناست او خبرې ئـې کولې. د خبرو پر مهال د زندانيانو لوړ غږونه ددې مانع کـېدل چې څوک دې د بل خبرې په آسانی واوري. نـهٔ پوهـېږم چې ولې د زندانيانو قصو او داستانونو پای نـــهٔ درلود؟ ښايي همدا به ئـې مناسبه شـېبه موندلې وه چې يو بل ته د زړهٔ دردونه ووايي. ځينې ئـې په چرتونو او فکرونو کې ډوب تللي ول. يو نيم خو لا په کې خريمانه بيدهٔ وو. لنډه دا چې : هر چا خپل ځانته خپله نړۍ درلوده. په همدومره توپيرونو او رنګا رنګيو کې ټولو سره يوه ګډه وجه درلوده : ډ ټولو پرمخونو د غمونو دوړې ناستې وې، د ټولو ارواحې ختلې او لالهاندې وې، د ټولو د مخونو هډوکي راوتلي او د ټولو برخليک ناڅرګند وو.

سره له دې چې کوټه له سره تر پايه په شديدې بې نظمۍ کې ډوبه وه خو تر يوهٔ چت لاندې د يو بل تر څنګ ددومره شمير انسانانو حضور ماته ستر ښها «موهبت» وو، په ځانګړې توګه د څو مياشتنې يوازيتوب او نسبي جلاوالي او انزوا له دورې وروسته ددومره زندانيانو د ليدلو سعادت راته په نصيب سوی وو. ښايي همدا ماته يو ښـــهٔ فرصت وو چې کوم دوست او آشنا ومومم او ور سره خپل غمونه او دردونه شريک کړم. ما ته د خوښۍ ځای وو چې له څه نا څه اتو مياشتو وروسته ځان مې د انسانانو په لويې ټولنې کې ليدهٔ.

# له ضابط ضیأالحق هروي سره آشنايي

د کوټې اکثریتو زندانیانو په دوه وو دوه وو یا درې درې تنو له یو بل سره همکاسګي یا «انډیوالي» درلوده. ما د زندانیانو په منځ کې څوک نـهٔ پېـژندل. یوازې ناست وم او په خیالونو کې ډوب وم چې یوهٔ غږ د خیالاتو له نړۍ راوېښ کړم. مخ مې وروګرځاوهٔ. یو ډنګر او نری ځوان چې په لاسونو ئـې بنداژ تاو ول راباندې غږ کړی وو. ورته مې وویل خیریت دی؟ په خوږې هراتی لهجې ئـې وویل : «راځه چې له یو بل سره همکاسه سو. موږ او تاسو ته نور څه پاتې دي؟ ښه به دا وي چې څو ورځې د یو بل تر څنګ واوسو. دا هم یو غنیمت دی.» د هراتي ځوان د خبرو او وړاندیز له ښې هک پک سوم ځکه په دې غوښتنې کې ئـې مانا نغښتې وه. له ځان سره مې وویل چې څه باک لري که ورسره همکاسه سم. ځوان چې لاس ئـې مات وو وویل «زما نوم ضیأالحق دی». ورځخه مې وپوښتل چې دا کوم ځای دی. وئـې ویل دغه ځای ته دریم بلاک وایي. خبرو او کړو وړو ئـې ددهٔ د ښکلي سیاسي او اخلاقي تربیت استازیتوب کاوهٔ. داسي کلمات ئـې په ژبه راوړل چې ورځخه د مینې او صداقت تومنه ځڅېدله. دومره خوږې او له صمیمیته ډکې خبرې ئـې کولې چې ګڼې موږ کلونه کلونه له یو بل سره پېـژنو او یو بل سره اړیکي لرو. ډنګر او له غوښو تکېدلی ځان ئـې ددې ښکارندوی وو چې زښتې ډېرې شکنجې او سختی ئـې لیدلي دي. له خبرو ئـې راته ځرګنده سوه چې ستر غم ئـې په زړګي کې ډوب دی. خو له دې سره سره به ئـې مستانه غوړې کولې او هر هغه څه چې ورباندې تیر سوي ول په اوتو بوتو ئـې نـهٔ یادول. مؤدب او درونډ سړی وو. په لومړیو کاتو راته ښکاره سوه چې دی یو شریف، روڼ اندی، پوه، له درده ډک او د وجدان خاوند دی. هغـهٔ د ساما نوم یاد کړ او داسې خبرې ئـې کولې چې ګڼې ما پېـژني. په هاغه شپـېو کې ما په دې ډډه کوله چې خبرې اترې سیاسی لوری وانخلي او دا مې د خپلې دوسیې د حالت له کبله وو چې باید تر آخري پورې حده احتیاط وکړم.


ضیأالحق هروي

تر څنګ مو څو تنه کندهاري هېـوادوال ول چې پایواز ئـې نـهٔ درلود. کله چې ضیأالحق د هغوی په خوار و زهیر حالت پوه سو وئـې ویل چې باید ورسره مرسته وکړو. ضیأالحق وویل : «دلته چې هر څوک راغلي دي ښایي د روس دښمن اوسي او لنډه دا چې زنداني دی. موږ له انساني نظره پر یو بل کوم امتیاز نـهٔ لرو.» ما ورسره ومنله. له دوه اونیو ډېره موده مو له یو بل سره د یوهٔ دسترخوان په چاپېره ډوډۍ وخوړله. زموږ دغې یو ځای ناستې ډېر دوام ونـهٔ کړ.

بیا هم د ارهټ سلواغه تاو سوه او زه ئـې بلې کوټې ته بوتلم او تر یوې مودې پورې له یو بله جلا سوو. له ضابط ضیأالحق سره زما آشنايي د «قفس» له منځه پیل سوه خو د وخت په تیریدلو ئـې زما د وجود په رګ رګ کې جرړه وځغلوله. کله کولای سم د هغـهٔ نوم او یاد د خپل ذهن له لوح څخه پاک کړم. کله کولای سم د «۱۳۶۱ل کال د وږي د میاشتې اولسمه نیټه» هاغه ورځ هیره کړم چې د خاد جلادانو زما له څنګه بوت او د مرګ په سفر ئـې ولیږهٔ.

# بل ځای ته لېږد

له لوی قفس څخه ئې یوځ بل کرکجن ځای ته ولېږدولم. کله چې پهره دار دروازه راته خلاصه کړه، نو په یوځ اوږدځ دالان مې ګام کښېښود چې په زندانیانو ډک وو. د دالان یا د راهرو یوې خواته وړوکې تنګې کوټې وې چې درې خواته ئې دیوال او ددالان خوا ئــې له پولادي میلونو جوړه سوې وه. د دالان په پای کې د دویمې شمیرې یا دریمې شمیرې کوټې کې ئــې ځای راکړ. دا کوټه د دوه مترو په دوه نیمو مترو کې پلنوالي درلود او د پنجرې دروازه ئې لکه چې وویل شول له راهرو سره موښتله. درې تنو نورو له ما مخکې دلته ژوند کاوځ. کله مې چې له دغو درې واړو پوښتنه وکړه چې دا کوم ځای دی، ددوی له منځه یوځ تن چې توره ږمنځ شوې او ښکلې ږیره ئې درلوده وویل : «بادارِ ګل اینجه را کوته قلفي میګن». بې اختیاره مې یوه سړه آه له ستوني وختله او له ځان سره مې وویل : « لکه چې کوټه قلفیو له ما سره قرار داد کړی وي!» دغـځ ځوان، چې شیک او ښایسته جامې او دنګه ونه ئې درلوده ځان راته حاجي نسیم معرفي کړ او وئـې چې د کابل د دِځ افغانانو اوسیدونکی دی. د کوټې دویم تن صوفي محمد نومېدځ او د کوهدامن د سرای خواجې وو. د دریم تن نوم مې هیر کړی دی.


سره له دې چې دغې سوړې ته کوټه قلفي ویل کېدل خو چا له دباندې خوا دروازې ته تاله نـځ اچوله. نورې کوټې هم همداسې وې. زندانیانو کولای سول له خپلو سوړو راووځي، په راهرو کې وګرځي او دجماعت لمونځ په دالان کې اداء کړي. د کوټه قلفیو ودانیز جوړښت داسې وو چې که د ننوتنګ له دروازې ورته راننوتلې نو دالان به په ښي او کیڼ خوا ویشل کـېدځ. هر دالان له شلو تر څلورویشت یا پینځه ویشتو کوټې درلودې. ددغـځ دالان بڼه د انګلیسي الفبا د « U» د توري په شان وو چې خولـځ ئې د دروازې پر لور خلاصـېدله او د قاعدې برخه ئـې تړلې وه چې محبوسین ونـځ شي کولای له دغـځ راهرو څخه بل ته په آسانی لاړ شي. د کوټه قلفي لومړیو درې ورځو چنداني ګڼه ګوڼه نـځ درلوده خو له هغـځ وروسته د زندانیانو شمیر دومره ډېر سو چې په یوې کوټې کې چې د دوه وو تنو لپاره ئـې سم ځای نـځ درلود له شپږو تر اوو تنو واچول سول - په ټولو کوټو کې همدا حال سو. کله چې د کوټه قلفیو ګنجایش له ستوني پورته سو، نو نور شمیر ته ئـې په راهرو کې ځای ورکړ. تا به ګومان کاوځ چې دومره ډېر بندیان ئـــې راوړي چې له زندانه دباندې به نور څوک پاتې نــځ وي. په ټولو ستونزو سربیره، بله وحشتناکه ستونزه دا وه چې د همدومره زندانیانو لپاره یوازې درې تشنابونه (د دالان په پیل کې د ننوتنګ د دروازې څنګ ته) ول. له هغـځ لا نوره وحشتناکه ئـې لا دا چې همدغه درې تشنابونـه نـځ یوازې د معذرت د رفع کولو لپاره ول بلکه د ځان پریوللو لپاره هم کارول کـېدل. که چا په دغـځ رښتوني جهنم کې څو شپې تیرې کړي وي نو د «تشناب د وار» ستر رنځ به ئـې سم درک کړی وي او پوه به وي چې څومره لویه ستونزه وه.

یو ساعت وروسته له کوټې دباندې ووتم چې په دالان کې وګرځم. یو سپین ږیری چې اوږده ږیره ئـې درلوده د دالان د دیوالـځ څنګ ته ناست وو. په شا ئـې په دیوال باندې ډډه لګولې وه، سر ئـې لوړ نیولی وو او پلن ټـټر ئـې له ورایه ښکارېدځ. څیره ئـې راته آشنا په نظر راغله. ورو ورو ددځ خواته ورغلم. د کلکان کاکا حبیب د اروابناد عبدالمجید کلکاني د وفاداره یارانو یو یار مې ولید چې د غولي پر مخ ناست دی او د زندانیانو تګ راتګ ته ګوري. یوازې مې کولای سوای یو عادي

سلام ورواچوم او بس. زړهٔ نا زړهٔ ئـي له څنګه تیر سوم. څو ګامه مي لا نـهٔ ول اخیستي چې زبیر احمد مي مخې ته راغی. موسکا ئـې پر شونډو ځلېدله او نـهٔ پوهېږم له چا سره ئـې ټوکې کولې چې مست او بې باکه پر لاره روان وو.

کرار کرار له نوي چاپیریال او شرایطو سره مي عادت ونیو. زموږ له دالانه تر بل دالان پورې تګ راتګ امکان درلود. خو دا کار په غلچکي ډول کېدهٔ ځکه که باشي یا پهره دار څوک لیدلای وای چې له یوهٔ دالانه بل دالان ته تللی دی نو سزا ورکول کېده. زه هم کله کله هغـهٔ بل دالان ته په پټه تلم. د زندانیانو ډېره ګڼه ګوڼه ددې لامل ګرځېده چې زندانبان دی د زندانیانو له دقیق کنترول څخه بې وسي سي. د زندان مسؤولینو د زندانیانو د «ښې اداري» او «تر نظر لاندې نیولو» په خاطر یو شمیر بې ایمانه او سُست عنصره زندانیان استخدامول. دا هماغه ډارن ول چې یوازې د یوهٔ کوچني له شرمه ډک امتیاز لپاره سپکه دنده چې د زندان په ګټې جاسوسي وه تر سره کوله. شرم دې وي پر دوی!

زندانیانو اجازه درلوده چې د یوهٔ ساعت په شاو خوا کې انګړ ته د ګرځېدلو او لمر لپاره لاړ سي. دغه له خاورو ډک نا هموار انګړ د مثلث بڼه درلوده نو ځکه د زندانیانو په ژبه د مثلث په نامـهٔ یادېدهٔ. ددغـهٔ تنګ او تریو مثلث درې واړه اضلاعې د څلور پوړیزې ودانۍ د زندانیانو د کوټو باندنیو دیوالونو جوړولې. له مثلث څخه یوازې په میلونو پوښل شوې اوږدې خو نرۍ کړکۍ ګانې لیدل کـېدلې. دا وړوکې کړکۍ ئـې د زنداني له قده پورته د زندان په کوټو کې دننه جوړې کړې وې چې یو لږ څه لمر او تازه هوا به ورڅخه کوټو ته ننوتله. د زندانیانو د ګرځېدا پر مهال به دوړې او خاورې هوا ته پورته شوې او مثلث یعنی زموږ یوازینی تفریح ځای به د خاورو په تنارهٔ بدل شو. په لومړیو ورځو کې یوازې له څو تنو پرته چې زه هم د هغوی په ډله کې وم نورو سپورت ته چنداني لیوالتیا نـهٔ درلوده. نـهٔ یوازې چا به زموږ ملګرتوب نـهٔ کاوهٔ بلکه زموږ لاس او پښې ښورول به ئـې له خپل نظره یو ډول بدعت او ناروا کار ګڼـهٔ. کرار کرار دا ورزش وو چې ډیر کنګل او تړل شوي اذهان ئـې پرانیستل او ورزش عام سو او نورو زندانیانو هم ورسره عادت ونیو. د لمر پیټاوي ته کښېناستل یوه بله ښـېګڼـه هم درلوده او هغه دا چې زندانیانو کولای سوای له یو بل سره اړیکې ټینګ کړي. کله به دا امکان په لاس راغی چې بل دالان ته لاړ سم. له نورو زندانیانو سره زما اړیکې نیول ډېر محتاطانه ول. د ډاکټر عبدالله، ډاکټر کریم او زبیر احمد کوټې د بل دالان «بلې ضلعې» په پای کې وې. ما له هغوی سره سلام علیک درلود. یوه ورځ ددوی د کوټې مخ ته ناست وم چې یو په څیره ښکلی سړی چې خړه ږیره ئـې درلوده نـېږدې راغی. د تسبیح دانې ئـې د ګوتو په څوکو شمارلې. کله چې زموږ له څنګ څخه تیر سو زبیر مي وپوښتنـهٔ چې دی څوک دی. وئـې ویل «دی شاهپور قریشي نومـېږي او د کيڼ غورځنګ له نامتو روڼ اندو څخه دی.» هر کله به مي چې قریشي لیدهٔ نو هماغه تسبیح به ئـې لاس کې وې. په دالان کې په کراره، دروندوالي او وقار ګرځېدهٔ. له نورو زندانیانو سره ئـې لږ راکړه ورکړه درلوده.


شاهپور قریشي

د لمونځ کوونکو په کتار کې به درېدۀ او لمونځ به ئې په جماعت اداء کاوۀ. د شاهپور نوم مې په ۱۳۴۹ یا ۱۳۵۰ ل کال کې د ارواښاد عین علي بنیاد په قلم یوې رسالې کې لوستلی وو. پوهېدم چې د شاهپور ډله د شعلۀ جاوید د جریان یوه ډله وه، خو په دې خبر نـۀ وم چې نوموړي د ساما په بنسټ ایښودونکې کنفرانس کې هم ګډون درلود. په دې خبرې هغه مهال پوه شوم چې د ځارنوال اتهام لیک راته راکړل سو.

په دواړو دالانونو کې یو شمیر سامایان چې ما ور سره آشنایي نـۀ درلوده هم بندیان ول. د دالان دې خواته زما د کوټې تر څنګ د امان الله پیمان کوټه وه. څو وخته وروسته ډاکټر احمد علي او امان الله محمودي ئې هم راوړل. داکټر احمد علي او امان الله پیمان د پیکار برای نجات افغانستان په سازمان کې د غړیتوب په تور بندیان شوي ول. امان الله محمودي چې خپل تحصیلات ئــې په شوروي کې پای ته رسولي ول له کینې انقلابي غورځنګ څخه ئې خپله بې زاري نـۀ پټوله. بل سړی چې نوم ئـې زمان وو د ساما د غړیتوب په تور بندي وو. ددغـۀ سړي چار چلند او د خبرو بڼه مې خوښه نـۀ شوه. دۀ به داسې ټېټ پټ او مزخرفې خبرې کولې او حق نا حقه به ئـې بې ځایه خندل چې له یوۀ مسخره سره ښاییدلې نـۀ له یوۀ سامایي سره.

دوه تنه نور چې زوی او پلار ول هم له موږ سره په کوټې کې ول. دا زوی او پلار د افغانستان د هزاره میشتو له سیمو څخه ول خو په کابل کې ئـې ژوند کاوۀ. نورموړي تش لاسي او بې وزلي سپین ږیري له صداقت، خلوص او مینې ډک زړۀ پرته بل څه نـۀ درلودل او همدا ئـې د ژوند یوازینی پانګه وه. ځوان زوی ئـې هم « د پلار نښې» درلودې او له سره تر پایه ورڅخه راستي او صداقت په ځلیدا وو. دواړه د شیخ آصف محسني د اسلامي حرکت له ډلې سره د اړیکې په تور راوړل شوي ول. نـۀ زوی له سیاسته کومه خبرتیا درلوده نـۀ پلار. یوازې همدومره پوهېدل چې روسانو ئـې پر هېواد تیری کړی دی.

حاجي نسیم یو شتمن او زرنګ سړی وو. ددۀ د خولې خبره ده چې مخکې ئـې د کابل ښار د میوې او ترکارۍ مارکیټ په اجاره اخیستی وو. نور مالي امکانات ئـې هم درلودل لکه د باروړلو موټران او د وچ چای پلورلو څو هټۍ. صوفي محـمـد د کوهدامن د سرای خواجې اوسیدونکی ورسره همدوسیه وو. زموږ د کوټې تر څنګ یو بل سپین روبی هم بندی وو چې د حاجي نسیم د سوداګرۍ په دفتر کې ئـې ورسره میرزا وو. په څرګنده ښکارېدل چې دا دوه تنه مخکې له دې چې د سیاسي تفکر خاوندان وي، له یو بل سره ئـې اقتصادي انګیزې درلودې. داسې ښکارېدل چې دوی د قاري شریف له ډلې څخه ول او دې ډلې د برهان الدین رباني له جمعیت اسلامي سره نیږدې اړیکې درلودل. هغه تورونه چې پر حاجي نیسم لګېدلي ول دا ول : د لاسوندونو او وسلو ساتل، د باروړونکو موټرانو له لارې د جمعیت اسلامي د لیکونو، اطلاعیو او شبنامو راوړل. د پایوازیو په ورځو به ئـې حاجي نسیم ته د پیسو او کالیو تر څنګ میوه، سبزیجات او کله نا کله پخه ډوډۍ هم راوړه. نـۀ پوهېږم چې دا کار دوی څنګه تر سره کاوۀ ځکه هغه مهال تورنو کسانو ته د ډوډۍ او خوراکي توکو راوړل منع ول. ښایي کوم افسر یا سرتیری ئـې خپل کړی وو. زه دومره پوهېدم چې حاجي نسیم «د لاس او پښو» او هوښیار سړی وو. په آسانی سره ئـې کولای سوای د هر چا زړۀ لاس ته راوړي. نوموړی مسلمان او زړۀ سواندی انسان وو. ددغو میوو اوسبزیو یوه برخه به ئـې په پټه نورو کوټو باندې ویشله، دا هغه شی وو چې د کال په هغـۀ فصل کې او بیا ئـې د زندان له محرومیته ډکو شرایطو کې د اکسیر ارزښت درلود.

ما په پرله پسي ډول سپورت کاوۀ او د خپلې کوټې نورو بنديانو ته مې د ورزش اړتيا او اهميت توضيح کاوۀ. په لومړيو کې به چا چنداني غوږ نـۀ نيوۀ. داسې ښکارېده چې ګڼې دوی سپورت ځان ته يو ډول کسر شأن ګڼل. څو وخته وروسته د کوټې بنديانو هم ورزش پيل کړ او له ما سره به ئـې يو ځای سپورټ کاوۀ. کله چې د سپورټ ګټورتوب ئـې تجربه کړ نو ليوالتيا ئـې زياته سوه او تر وروستيو ورځو چې راسره يو ځای ول نو په ګډه به مو سپورټ کاوۀ.

زما په کوټه کې راسره بنديانو يوۀ ئـې هم د ليک لوست توان نـۀ درلود. دغه حالت ددوی د ځور سبب ګرځېد. له ځان سره مې وويل له دې چې کافي وخت لرو نو ولې به يو ګټور کار پيل نـۀ کړو. ما ورته وويل چې زه چمتو يم له تاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړم. حاجي نيسم ويل چې په ژوندانـۀ کې يوازې يو کمبود لرم او هغه هم ليک لوست دی. د کوټې بنديانو به پوښتل چې آيا په دې زړښت او سپين ږير توب کې په ځانګړې توګه په دغـۀ قبر غوندې تورتم سوري کې د ليک لوست د زده کړې شونتيا سته؟ ما ورته وويل چې تاسو خو به اورېدلي وي چې «له زانګو تر ګوره په پوهه پسې ګرځه». د سواد د زده کړې پروژه مو په زندان کې په پټه پيل کړه. ددې کار د ترسره کولو لپاره مو موادو او وسايلو ته اړتيا درلوده. هغه متل دی چې وايي «که سل دروازې وتړل سي نو يوه بله به خلاصه سي» چې دا ستونزه هم حل سوه. د دالان باشي چې له زندانه مخکې ئـې له جهادي ډلو سره اړيکي لرل د اسلامي ګوندونو له غړو سره ئـې په پټه مرسته کوله. له بلې خوا حاجي نسيم د خپل ځانګړې مهارت له مخې باشي ځانته رام کړی وو. باشي، حاجي نسيم ته قلم را وړ. موږ د کاغذي کارتنونو او د سګرټيو د قوطيو د کاغذونو پر مخ کار له «دري» الفبا څخه پيل کړ. زموږ کار پرمختګ کاوۀ. د دوه نيمو مياشتو په اوږدو کې د کوټې بنديانو ښـۀ پرمختګ وکړ. زه د يوۀ ښوونکي په توګه له خپله کاره راضي وم. څرګنده ده چې راسره د کوټې بنديان هم له ما خوښ ول. زموږ تر منځ د صميمت او تفاهم رامنځته شوی چاپيريال زموږ د لا خوښی سبب ګرځېدلی وو. نـۀ سم کولای د هغوی له لوييني ډک درناوی او ډاډ له ياده وباسم.

وروسته له دې چې د ليک لوست په لار کې زموږ ګډې هڅې او کوښښونه تر يوې کچې ثمر ته ورسېدل حاجي نسيم به ويل :« استاد جانه! په ژوند کې به ستا دا کومک له ياده ونـۀ باسم. د خدای جان په دربار کې دعا کوم چې موږ له دې بلا څخه خلاص کړي چې زه به دې ژوند در جوړ کړم.» د حاجي نسيم مقصد له «ژوند جوړلو» مالي مرسته وه. هر کله به ئـې داسې وعدې راکولې نو ما به ورته کرار په سترګو کې کتل او خندل به مې. ددې خندا په معنی نـۀ دی او نـۀ بل څوک پوهېدل. له ځان سره به مې ويل، څه نامرده دنيا ده دا! هرې خوا ته چې سترګې ورغړوې د معامله ګرۍ او مطلب آشنايي بازار تود دی. د هر څه بيه بايد په پيسو ورکړئ. حاجي نسيم ملامت نـۀ وو ځکه هغـۀ دا وړتيا نـۀ درلوده چې زما په باطني هيلو او نيتونو پوه سي. له بلې خوا، د انسان سوځوني له بټی څخه ژغورنګ يوازې په خوب او خيال کې شونی وو!

فکر کوم د ۱۳۶۲ل کال دوبی وو، هغه مهال زه د دويم بلاک په دويم پوړ کې وم. زما د کوټې مخامخ د حاجي نسيم کوټه وه. کله نا کله به مو پيتاوي ته د تللو يا د تشناب د وار پر مهال سره ليدل. يوه ورځ څاښت مهال نيردې ماسپين وو. پهره دار مې کوټې ته راغی او مخامخ راته ودريد. ورو ئـې وويل :« د دروازې خولې ته لاړ سه يو څوک درسره کار لري.» د دروازې د ميلونو تر شا ودرېدم. له مخامخ کوټې او نورو کوټو څخه «نفر کشي» روانه وه. د دوي په ډله کې مې حاجي نسيم وليد

چې سپینه جالی خولۍ ئې پر سر او بزَگ دستمال ئې پر اوږو اچولی وو. دروند د کالیو بیک ئې په لاس کې نیولی وو. د دروازې څنګ ته ما ته سترګې په لاره وو. زما او ددهٔ تر منځ واټن اټکلي څلور متره وو. کله مې چې دی ولید زړهٔ مې ودرزیدهٔ. نور د شک ځای نـهٔ وو پاتې. دداستان پای ته رسېدلی وم. شاو خوا پینځه دیرش کلن ښکارېدهٔ. زړهٔ نا زړهٔ په لړزېدلي غږ مې وپوښتل : «حاجي صاحب دریم بلاک ته ځې؟» ددې خبرې مانا دا وه چې ګڼې له اعدامه بچ سوی ئې، ځکه چې یوازې محبوسین ئې دریم بلاک ته بیول. مخ ئې پورته آسمان ته ونیوهٔ او وئې ویل :« هر څه چې د خدای رضا وي.» ښایي دهٔ ته هم نوره خبره ښکاره وه. هک پک وم چې نور څه ورته ووایم. ذهن مې په کلماتو پسې لالهانده وو او په همدې حالت کې ئې راباندې غږ وکړ : «استاد جانه! خدمتونه دې راوبخښه او راته دعا وکړه.»

دا زموږ وروستی دیدن وو چې د خاد د افسر په راتګ سره ناتمامه پاتې سو. د حاجي همیشنۍ خبره مې په یاد راغله چې ویل به ئــې : «د خپل ځان غم مې دومره نـهٔ ځوروي چې د خپلې تور سرې او خپل ماسوم «معصوم» ماشوم غم مې ځوروي.» زړهٔ مې له ډېره غمه په چاودېدو راغلی وو. دنیا راباندې تور تم سوه. د حاجي نسیم ترڅنګ په لسهاوو نور ئې قربانۍ ته دباندې رااېستلي ول. هغه لاړ او بیا رانغی. ارواح دې ښاده وي!

ما را مبر بباغ که از سیر لاله زار یک داغ صد هزار شود داغدیده را (صائـب)

# د «یولس یولس» عملیات

دریم بلاک د خپل ودانیز جوړښت له اړخه د څرخي پلـهٔ له لومړي او دویم بلاک څخه ډېر توپیر درلود. لومړی او دویم بلاک دواړو څلور جلاجلا دیوالونه درلودل خو د یو بل تر څنګ جوړ شوي ول. دریم بلاک د دایروي بلاکونو د کړۍ یو بلاک دی. په دې دایره کې څو بلاکه دي چې یو ئـې دریم بلاک دی. ددریم بلاک لوی لوی قفسونه دومره لوی دي چې کولای شي څو زره بندیان په خپلې ګېډې کې ځای پر ځای کړي. د اړینو اړتیاوو او امکاناتو کمښت لکه اوبـهٔ، تشناب، بستره، چپرکټ، خوراکي توکي، د زندانیانو لپاره د ګرځېدا ځای... ټول له یوې مخې وحشتناکه ول. له دغو څخه یو ئـې د تشنابونو کمښت وو چې زندانیانو ته تر ټولو لویه ستونزه وه، دا ستونزه په ځانګړې ډول هغه مهال لا ستونزمنه کـېدله او خپل اوج ته رسـېدله چې زندانیان به ټول په ډله ییز ډول په نس دردي، اسهال او د ناروغیو په نورو ډولونو اخته سول. ویل کېدل چې د زندان مسؤولینو کله نا کله په لوی لاس د زندانیانو په خوراک کې داسې توکي اچول چې ټول به ئـې په شدیدو اسهالاتو اخته کړل. ددې تر څنګ، د ډوډۍ غیر صحي توب او حفظ الحصې ته نــهٔ لاسرسی د همدې لعنتي ناروغۍ لامل ګرځـېد.

یوه ورځ د تشناب لپاره د منتظرینو په کتار کې ولاړ وم. هرې خوا ته ګنده بوی خپور وو. له هرو درې تنو زندانیانو څخه دوه تنه ئـې په شدید اسهال اخته شوي ول. ددې ستونزې پر وړاندې د زندان د ادارې بې تفاوتې ټول زندانیان په خښم کړي ول. د زندان ادارې ددې لپاره چې زندانیان کوم بل خښمناکه ګام اوچت نـهٔ کړي یو شمېر زندانیانو ته اجازه ورکړه چې د

کوټه قلفیو تشنابونو ته لاړ شي. پام مې څو تنو ځوانانو ته واوښت چې د تشنابونو مخې ته ولاړ ول. دوی د تشناب د وار لپاره په تلوار او بې تابۍ کې ول او د مار په شان تاوېدل. اکثریت ددغو ځوانانو چې خیرنې او څیرې څیرې جامې په ځانو کې وې زموږ د کلي له شاو خوا کلیو څخه ول. دوی په خپله ویل چې موږ د «یولس یولس عملیاتو» قربانیان یو. یولس یولس عملیات د روسانو او د ګوډاګي حکومت د ځواکونو سرکوبګره او له چلوټې ډکه محاصره وه چې د ۱۳۶۰ل کال د سلواغې د میاشتې په یولسمه نیټه د پروان او کاپیسا په لویه سیمه کې په لاره واچول سول. ددغو بې وزلو کلیوالو یوۀ تن دا پېښه داسې شرحه کړه :

« د ۱۳۶۰ ل کال د سلواغې د میاشتې یوولسمه نیټه وه. د ځمکې پر مخ پریمانه درنده واوره پرته وه. ټوله سیمه د روسانو او دولت ځمکنیو او هوایي ځواکونو کلا بند کړې وه. لومړی ئــې د لودسپیکرونو له لارې جار وواهـۀ چې مـۀ ډارېږئ، یوازې دومره چې دستګیر پنجشیری د ګلبهار نساجۍ ته راغلی دی او غواړي له وطندارانو سره خبرې وکړي. د میټینګ له پایه وروسته به خلکو ته کمکي مواد هم توزیع کړو. مخکې له دې چې سیمه کلا بند سي وسله وال مجاهدین لا وختې له سیمې وتلي ول. په داسې سړۀ ژمي کې مو ځای نـۀ درلود چې لاړ سو. له بلې خوا موږ فکر کاوۀ چې دستګیر پنجشیری مو وطندار دی. ممکن چې خبره خرابۍ ته لاړه نـۀ سي. موږ له زړۀ تر ځوانه ټول د ګلبهار د نساجۍ د شرکت پر لور وخوځېدو. کله چې د پنجشیري خبرې خلاصې سوې، موږ ټول ئــې په سرویس موټرانو کې واچولو او دا دی سرحد مو دلته د څرخي پلــۀ زندان ته راورسېد. له هماغې ورځې تر نن پورې نـۀ کوم پایوازې لرو او نـۀ کوم غمخور. له موږ څخه تحقیق کوي چې تاسو اشرار یاست. وهل او ټکول خو بیخي مـۀ یادوه، په ماړۀ نس ئــې ډبولي یو.»

له دوی څخه مې پوښتنه وکړه چې څو تنه ئـې راوستي یاست، دوی وویل : «دوه زره نفر ئـې زندان ته واچول.» ددغو ځوانانو د دغـۀ تراخـۀ سرګذشت په اورېدلو د خلیفه د استازي یوه تأریخي چلوټه مې په یاد راغله چې د «تأریخ رویان و طبرستان» کې مې لوستلې وه :

«د خلکو ستونزو ته د ځواب ورکولو په پلمه ئـې دستور ورکړ چې خلک دې په بېلابېلو ځایونو کې راټول کړل سي، بیا ئـې یو یو حضور ته راوغوښت او د هر یوۀ غاړه ئـې په توره ووهله، داسې چې د هماغې ورځې په پای کې له دغـۀ قوم څخه بل څوک ژوندی پاتې نـۀ سو.» (تأریخ رویان و طبرستان. پ. ۱۸۳)

* * *

## «د کنعان له څاه» د «احزان تر دیرې» پورې

د څرخي پلـۀ د زندان دریم بلاک تنګې او تیارې کوټه قلفې د تودوخې له شدت او د زندانیانو له ګڼه ګوڼې څخه نور تر ستونې ډک او د چاوېدو تر کچې رسېدلی وو. د زندانیانو چیغې او کاړوکوړ «هیاهو»، د صلوة بانګ «آذان»، په لوړ غږ د قرآن قرائت، د پهره دار چیغې - چې ته به وایې چې ښـۀ د زړۀ له بیخې کوکارې وهي : «قروانه چې مرش مرش!»، ورځنې شخړې او جنګونه، د انسان بوزه او انسان راوړه چیغې... دا به ټول سره یوځای شول او په ډېرې سختۍ به دې

کولای شوای د خپل مخاطب لوري خبره واوري. له مجبوریته په لوړ غږ خبرې کول ددې باعث شول چې ان زندانیان په عادي حالت کې هم په لوړ غږ خبرې وکړي او دا ددوی عادت ګرځېدلی وو.

د تجرید د زندان او عمومي کوټو توپیر په دې کې وو چې د صدارت په نمجنو تورتم کوټه قلفیو کې به سړي یوازې د خپل زړه د ضربان له غږه پرته بل څه نــه اورېدل، حال دا چې د څرخي پلـه د زندان لوی قفسونه د زنداني او د هغوی د کوکارو له لاسه په چیغو راغلي ول. دا چیغې به د پایوازیو په ورځو خپل اوج ته ورسېدې. د پایوازۍ په ورځ به د زندانیانو د کورنیو غړو د زنداني پاکې جامې د زندان د باندني دیوال له بلې خوا سرتیري ته ورسپارل چې په قفس کې پرتو اسیرانو ته ئې ورسوي او پر ځای ئــې خیرن کالي – ددوی د زړونو د ټوټو د ژوندي پاتې کېدلو یوازینی ثبوت- بیرته دوی ته ورسپاري. ټول زندانیان به څړ سهاره تر نیږې مازیګر پورې په وسواس او ناکرارۍ په غوږو بوخ ول چې سرتیری به کله ددوی نوم ولولي. هغه شیبه چې سبا ئــې پایوازي کېدله د زنداني له سترګو به خوب کډه وکړه. کله به چې زنداني د جامو غوټه خلاصه کړه نو په خیالونو کې به ډوب سو، او بیا به ئــې یوه سړه آه د خوږین زړه له تنارهٔ څخه وایستله او د عجز او ناتواني اوښکي به ئــې توی کړې. بیا به ئــې خپلې جامې لټولې او وربانديې به ئــې لاسونه کش کړل. د متهم او کورنۍ تر منځ دوه اړخیزه اړیکه او راکړه او ورکړه یوازې د متهم د «پریوللو» او «خیرنو» کالیو په راکړه ورکړه کې وه، نیکمرغه متهم به هغه وو چې په پنځلسو ورځو کې یو ځل به ورسره داسې اړیکې ټینګ شول. که اوضاع بیرني حالت کې وه نو د دوه وو پایوازیو تر منځ واټن به تر اونیو اونیو وغځېد. له همدې کبله به زنداني د خپلو «پریوللو» جامو په منځ کې خپلې تیرې خاطرې او پوپنا شوې هیلې لټولې او د جامو په هر درز او بخی کې به ئــې د خپلې مور، میرمنې، پلار، خور، ماشوم او یا ورور څیره لیدله. په یقین چې داسې وضعیت د «احزان له دېرې څخه» د «کنعان د ښاه[60]» تر حالته بد تره وو. «خیرنو جامو» د حضرت یوسف د جامو حیثیت درلود چې د زنداني د کورنۍ غړي به پرې راتاو سول او لپه لپه اوښکې به ئــې ورته توی کړې. زندانیانو به له یو بله پوښتل : «پایواز دې راغی؟» که د زنداني ځواب مثبت وو نو بل زنداني به ورته د سترګو روښانیدلو زیری ورکاوهٔ. او همداسې به دا خبرې بل مخاطب لوري ته تکرارېدلې. دا د زندان دود وو او څوک نــهٔ پوهېدل چې د «زړهٔ د خوشالولو» ددغــهٔ بنسټ دود چا ایښی وو؟

## کم سواده ملا

د کوټې مخامخ مې «ملا صاحب» ناست وو. له سهاره تر ماښامه به په دالان کې ناست وو او زندانیانو ته به ئــې د دین او ایمان په باب مسئلې کولې. د خپل معیوبیت له کبله هم په آسانی په لاره نــهٔ سو تلای ، له همدې کبله به زندانیانو ورته ګوډ ملا ویل. سپینه خیرو خوړلې لنګی به ئــې ان د یوې شیبې لپاره له سره نــهٔ لېرې کوله. د ملا د لنګی له لاندینۍ برخې به د خولو څاڅکي راروان ول، او بیا به ئــې له ویښتانو ډکې غاړې څخه تیر شول او ددهٔ فقیرانه جامې به ئــې ورلمدې کړې. غټ هډور سړی وو، غټې راوتلې خیټه ئــې د ملا صاحب له قد او قوارې سره چنداني تناسب نــهٔ ښکاره کاوهٔ. که رښتیا ووایم له

---

60 ـ د کنعان ښاه هماغه ښاه وه چې د حضرت یوسف ورونو، هغه حضرت په ښاه کې واچاوهٔ. دلته موخه زندان ده. بیت الاحزان یا د احزان دېره- هماغه کور وو چې حضرت یعقوب جوړ کړی وو، هلته به ورتــهٔ او د خپل زوی «یوسف» په بیلتانــهٔ او فراق کې به ئــې زار زار ژړل. دلته موخه د زنداني کورنۍ ده.

اسلامي علومو څخه تقریباً په هیڅ هم نـهٔ وو خبر. څـهٔ دباندې شپیتـهٔ په سلو کې قرآن ئـې غلط لوست، خو له همدومره بې کمالۍ سره به ئــې ځان د دین د جیدو علماوو په کتار کې شمېـرهٔ. د خپل ځان او نظافت او ورځنیو لمبلو ته به ئــې چنداني پام نـهٔ کاوهٔ. سپږو ددهٔ د جامو په غبرګلون «لای»، د سر ویښتانو او ږیرې کې ځاله جوړه کړې وه او پر مخ به ئـې ګزمه کوله. کله به چې ملا د سپږو له آزاره په تنګ راغی نو خپلې جامې به ئـې پیتاوي ته وغوړولې او مضر حشرات به ئـې ښکار کول. یو ځل مې هم ونـهٔ لیدل چې څوک دې ددهٔ پایوازۍ ته راسي. کله به ئـې چې د کالیو مینځلو تکل کاوهٔ نو سپینه قذیفه به ئـې تر ځان راتاو کړه چې د عورت ستر ئـې وسي. هغو زندانیانو به چې د پایوازیو په ورځ خپلې جامې تر لاسه کولې نو هرو مرو د ملا شفقت به ورته کېدهٔ او د سترګو روښنایي به ورکوله. ملا په خپلې خاصې لهجې چې پو هېـدل ئـې ټولو ته ګران ول نورو باندې غږ وکړ «وروره پایوازې دې راغی؟» تا به ګومان کاوهٔ چې غږ ئـې له خولې نـهٔ بلکه له سوږمو وځي. که څه هم ملا صاحب د زندانیانو د کوټې د امام تر شا لمونځ کاوهٔ خو ظاهراً داسې ښکارېدل چې د کوټې د لمانځه له امام سره ئـې چنداني جوړه نـهٔ وه، امام د ګلبدین د حزب اسلامي غړی وو. زما د کوټې د ملګري حاجي نسیم د خیر لاس ګوډ ملا ته اوږد سو او له همدې کبله ول چې ملا به ژر ژر زموږ کوټې ته را روان وو او د خپل د خیر له دعا څخه ئـې موږ نــهٔ بې نصیبه کولو. ډېر وروسته مې له چا واورېدل چې ددغـهٔ فقیر او بې کسه ملا برخلیک د اعدامیانو له یوې ډلې سره تړل سوی وو. که دا خبره رښتیا وي نو خدای دې وبخښي او ارواح دې ښاده وي!

# د تهمتونو باران

د ۱۳۶۱ل کال د غبرگولي د میاشت یوه زښته توده ورځ وه او د دالان زندانیان ئـي د پېتاوي لپاره دباندې ایستلي ول. د ځانښت مهال لمر په هغـهٔ مثلث کې چې مورږ سپورتې کاوهٔ، مثلث ئـي په سرې تبې اړولی وو. زندانیانو د تودخي له لاسه د مثلث د دیوالـهٔ سیوري ته پناه وړې وه. ما له څو تنو نورو زندانیانو سره په تکنده سرې غرمې کې سپورتې کاوهٔ. نیم ساعت لا تېر سوی نـهٔ وو چې د سترگیا او ستوماني احساس راته پیدا سو. د پېتاوي پروگرام مو پای ته ورسېد. کوټې ته نـهٔ وم ننوتلی چې سر مې په تاویدو سو. نیږدې وو چې پر ځمکه ولوېږم. زندانیان مې شاوخوا راټول سول او ټولو ویل چې لمر وهلی دی او د لمر تودوخي خپل کار کړی دی. حالت مې شېبه په شېبه مخ په خرابیدو وو. سرې خولې مې له ټول ځانه څڅـېدلې. یو ډول زړهٔ بدوالی راته راغی او ورپسې مې ټول ځان ته تبې اور واچاوهٔ. هر څومره مې د درملني او ډاکټر غوښتنه وکړه کوم ځای ئـي ونـهٔ نیوهٔ. زه د درد په اور کې کړېدم او سوځـېدم خو د زندانبان د کاڼي زړهٔ راباندې نـهٔ سوځـېدهٔ. د کوټې ملگرو خپله هیڅ ډول مرسته راڅخه دریغ نـهٔ کړه. څلور ورځې وروسته ئـي د زندان ډاکټر ته بوتلم. د «زندان د قصاب» له چلنده به څه نالښت درته وکړم. څو داني ویټامین سي ټابلیټ او دوه ډوله نور ټابلیټونه ئـي راکړل بس. معدې مې هیڅ ډول خوراک نـهٔ مانـهٔ، له همدې کبله د وجود مقاومت مې کرار کرار مخ په ضعیفیدو سو. نیږدې دوه اونۍ مې همداسې تیرې کړې. ناروغي مې لا نـهٔ وه جوړه سوې چې د همدومره دردونو او چیغو په درمند کې یو یوگړی مې غږ تر غوږونو سو. پهره دار زما، د نوم او د پلار د نامـهٔ پوښتنه راڅخه وکړه. د دالان د دروازې تر شا د قوماندني افسر ولاړ وو. افسر هم هماغه پوښتنه وکړه چې پهره دار راڅخه کړې وه. له پوړیو کښته لاړو. نـهٔ پوهېږم چې کومه خبره پېښه سوې یا څه سوي دي. افسر یوهٔ دفتر ته بوتلم. د میز تر شا یو ځوانکی ناست وو. ما ته ئـي د کښېناستلو اجازه را نـهٔ کړه. مخامخ ورته ودرېدلم. پښو مې سستي کوله. د میز پر مخ ټایپ سوې کاغذې پاڼې پرتې وې. پاڼې ئـي په وارخطایي لوستلې. لا لومړې پاڼه ئـي نـهٔ وه خلاصه کړې چې مخ ئـي تور او شین واوښت. بد بد ئـي راته وکتل. په زړهٔ کې مې ویل خدای دې خیر راپېښ کړي. د پاڼې هره کرښه ئـي چې له نظره تیروله نو خښم ئـي په ځلونو ډېرېدهٔ. څیره ئـي د څراغ د لوگي په شان توره اوښتې وه. شونډې ئـي رېږدېدلې. تا به گومان کاوهٔ چې د سترگو په گاټو کې ئـي وینې خوټیږي. بیا ئـي له ډېره خښمه خپلې شونډې وچیچلې. کله چې له خپلې څوکۍ نیمه پورته سو ما فکر وکړ چې اوس به مې ژوندی له ستوني تیر کړي. بیا پر خپلې څوکۍ کښېناست. داسې ښکارېدهٔ چې گڼې غوښتل ئـي له «منطق» څخه کار واخلي. شونډې ئـي خبرو ته خلاصې شوې او وئـي ویل : «خائینه! وطنفروشه! بې ناموسه! جنایتکاره! د سپي زو!......!»

د ځوانکي خادیست د خښم اورغونډارۍ «آتش فشان» د ښکنځلو او سپکو سپورو په ویلو لږ څه غلی سو. ما ته نـهٔ د درېدلو شیمه پاتې وه او نـهٔ د «ښاغلي انقلابي» د تیرې او سپکو سپورو لپاره کومه دفاع. بس غلې غلې مې ورته کتل او نـهٔ پوهـېدم چې ددومره سپکو سپورو د ویل علت په څه کې دی. خادیست ځوانکي په خپلو ځانگړو اکټونو او اداگانو پاڼې زما مخې ته واچولې او وئـي ویل : «دا دی ستا تارتوق، واخله او تر غاړې دې تعویذ کړه، نور خو به د ژوند څکه ونـهٔ کړې.» زړهٔ نا زړهٔ مې پاڼې د غولي له مخې راټولې کړې. بیا مې هم له ځانه وپوښتل چې دا پاڼې د څه دي چې دا ځوانکی ئـي دومره خښمولی او سور اړولی دی؟ ځوانکي غږ وکړ : «سرتیره، بو ئـي ځه!» له پوړیو څخه په ستـمـېدلو ستـمـېدلو

پورته لاړم. تر دې چې غوښتل مې یوه شیبه دمه جوړه کړم بیا وخېږم، او ژر تر ژره ددغو پاڼو له منځه خبر سم. په سرسري کتو پوه سوم چې خاد زموږ د «قانوني محکمې» لپاره چمتووالی نیولی دی. کله چې کوټې ته ننوتلم، د کوټې بندیانو راځخه پوښتنه وکړه چې ولې ئې لاندې بیولی وی؟ لازمه مې ونـهٔ ګڼله چې دا خبره دوی ته ووایم. ومې ویل : «خیر او خیریت وو.» د کوټې بندیانو یو بل ته رډ رډ وکتل. ددوی د کتلو ډول ځانته یوه بله مانا درلوده. تر څو چې ژوندی یم دا صحنه به مې له یاده ونـهٔ وځي. ددې بې اعتمادۍ له کبله راته وجداني عذاب پیدا سو. د کوټې بندیانو راځخه د خپلو دوسیو سرګذشت نـهٔ وو پټ کړی، حال دا چې ما دوی ته هیڅ نـهٔ ول ویلي. دلته ده چې د ولس د اعتماد او د یوهٔ روڼ اندي د اعتماد تر منځ توپیر په ډاګه څرګندېږي.

د هماغې ورځې ماښام راته امکان پیدا سو چې ټولې پاڼې ولولم. دا پاڼې زندانیانو د «صورت دعوی» یا «اتهام نامې» په نامـهٔ یادولې. اتهام لیک د تحقیق له پړاو وروسته د متهم پر وړاندې د «اختصاصي انقلابي څارنوال» له پلوه ترتیب کېـږدهٔ او تورن ته ورکول کېـدهٔ. ظاهراً تورن حق درلود چې د څارنوال د اتهام لیک پر وړاندې خپله دفاعیه جوړه کړي[61].

«انقلابي» اختصاصي څارنوال په خپلې صورت دعوی کې په ما پسې له درواغو ډک او بې بنسټه تورونه یو په بل پسې راټول او تړلي ول. په حقیقت کې زه ئـې د اتهاماتو تر باران لاندې نیولی وم. د څارنوال صورت دعوی زما د تحقیق له پاڼو سره هیڅ سمون نـهٔ خوړ. بیا هم څارنوال په خپل ټول توان سره کوښښ کړی وو چې ما یو «خطرناکه» نفر وښیي. زما نـهٔ اعتراف کول ئـې زما د سر سپارل توب «سر سپردګي» دلیل بللی وو.

دا اتهام لیک په څو پاڼو کې وو. په سر کې زموږ د سازمان پر وړاندې یوه مفصله «اقامه د دعوی» شوې وه. زموږ نولس تنه ملګري ئـې د ساما د مشرتابـهٔ او مهمو کدرونو په نامـهٔ معرفي کړي ول حال دا چې دغو نولس تنو «زما په ګډون» د مرکزي کمیټې غړیتوب نـهٔ درلود. دا نولس تنه کسان دوی ول : انجنیر محمد علي، انجنیر نادر علي دهاتي (پویا)، انجنیر محمد امین، انجنیر زمری صدیق، داکټر عبدالواحد رائین، شاهپور روئین یار قریشي، ضابط ضیأالحق، انیس آزاد، انجنیر میرویس، قاضي احمدضیأ، انجنیر حسین، زبیر احمد، داکټر صدیق جویا، انجنیر داؤود، امین، محمد نعیم ازهر، مسعود، حسین او محمد نسیم (زه). «انقلابي» څارنوال ادعا کړې وه چې دغو نولس تنو د ساما د ټولو سیاسي او پوځي چارو مسؤولیت پر غاړه درلود. دا د انکار ځای نـهٔ دی چې ساما په خپل ټول توان او قدرت سره د روس د نیواکګر ځواک او د ګوډاګي حکومت پر وړاندې وطنپالي او اتلوالي سیاسي او پوځي مبارزې ته لاس اچولی وو. ساما د خپل بنسټ له هماغـهٔ لومړي ورځې د «مرګ یا آزادی» شعار ئـې میدان ته راوایست. خود نولسو تنو پر وړاندې او په ټوله کې زموږ سازمان پر ضد ـ د «انقلابي» څارنوال دغه تورنه ددې په ضمن کې چې له مبالغې ډک ول بلکه زښت ډېر خائینانه او رزیلانه هم ول. د خلق ډیموکراتیک ګوند په ډېرې سادګۍ خپل مخالفین د پردیو د مزدور، اشرار، او جنایتکار په نومونو یادول. د «ساما نولس کسیز ګروپ» هم له دغو تورونو خوندي نـهٔ وو پاتې.

---

[61] ـ هغه مهال د انقلابي اختصاصي څارنوالي رئیس یو مشهور خادیست – پرچمی د حشمت کیاني یا «کیهاني» په نامـهٔ وو چې په ۱۹۹۳ ل کال کې ئـې په کاناډا کې له خپلې کرغېړنې سابقې څخه په انکار کولو، د پناه غوښتنه کړې وه. خو کله چې کاناډا کې افشاء سو، نو له کاناډا وشړل سو او په ۱۹۹۶ل کال کې ئـې په هالنډ کې ځان وژنه وکړه.

د اتهام ليک لومړی برخه په حقيقت کې د ساما پر ضد جوړه شوې وه. ورپسې د ساما د سياسي دفتر، د مرکزي کميټې غړي او د سازمان کدرونه يو په بل پسې اقامـهٔ دعوی سوي ول. د څارنوال صورت د دعوی په داسې ډول جوړه شوې وه چې همدغو نولسو تنو کولای شول د يو بل اتهام ولولي. د خلکو خبره څه چې په ديگې کې ول هماغه په کاسه کې ليدل کـېـدل. د ډيريو همدوسيه ملگرو له اصلي نومونو سره مې آشنايي نـهٔ درلوده ځکه موږ يو بل په مستعارو نومونو پـېـژندل. همدا شان له يو شمير نورو سره خو مې مخکې له مخکې کوم معرفت هم نـهٔ درلود.

د هماغې ورځې په سبا ئـې ما دا پانې ډاکټر عبدالله، ډاکټر کريم، امان الله محمودي، ډاکټر احمد علي او امان الله پيمان ته وښودلې[62]. دا ما ته يوه مجبوري وه ځکه چې د دفاعيو په ليکلو او په محکمې کې ددفاع هيڅ تجربه مې نـهٔ درلودله. په ژوند کې مې ان د يوهٔ ځل لپاره د محکمې او قاضي او څارنوال په چوکاټ کې د چا مخ نـهٔ وو ليدلی، دفاعيه ليکل او دفاع کول خو پر ځای پرېږده. ټولو ته څرگنده وه چې د گوډاگي او لاسپوڅي رژيم او گوند څارنوالي او محکمه هم ددوی د تحقيق د بهير په شان زندانيانو ته د دوسيو جوړولو- او له يوې مضحکې او نمايشي ډرامې پرته بل څه نـهٔ ول.د ۱۳۵۷ل کال د غوايي د مياشتې له هماغه لومړي پيله ول چې د روسانو په لاس روزل شوي د خلق ډيموکراتيک گوند خپله خونړۍ خولـهٔ خلاصه کړه او په سلهاوو زره د افغاني ټولنې سرسر ځوانان او سپين ږيري ئـې فقط د خلقي او پرچمي له پرديپالو سره د مخالفت په تور خپلې گـېـډې ته ننه ايستل، په وحشيانه ډول ئـې وکړول او په خپلو جنايکارو لاسونو ئــې ووژل، ټول خلک د ددغـهٔ گوند او رژيم په ماهيت ښــهٔ پوهـېدل او همدا ددې باعث سوه چې ددوی د څوارلس کلنې خونړۍ او له شرمه ډکې واکمنۍ په لړ کې ددوی هيـڅ ډول هڅې او کوښښ نتيجه ور نـهٔ کړه چې خلک ځانته راکاږي او يا ئــې اعتماد تر لاسه کړي. په هاغه لومړيو کې خو نويو واک ته رسـېـدلو پوچ مغزو خلقيانو د ظواهرو د مراعاتو زحمت ئــې هم ځانته نـهٔ ورکاوهٔ او يوازينۍ ژبه ئــې چې زده وه د تاوتريخوالي او د مرگ ژبه ئـې زده وه او بس. کله چې «شاگرد وفادار» او «قوماندان دلير انقلاب ثور» حفيظ الله امين د خپل استاد «نابغـهٔ شرق» نورمحـمـد تره کي سر وخوړ او په خپله د فرعون پر ځای کښـېـناست، نو غوښتل ئـې چې له دومره وحشت او جنايت څخه د راپورته شوي گند بوی ته د «مصـئـونيت، قانونيت او عدالت» تش په نامه شعار سرپوښ ورکړي. د ۱۳۵۸ل د مرغومي په شپږمې د «مرحلـهٔ نوين و تکاملي انقلاب شکوهمند ثور» په منځته راتگ سره روسانو خپل په لاس روزل سوي او لا غاړه اېښودونکي يا مطيع پرچمي ته وروښودل چې بايد د ظواهرو مراعات وکړي، له همدې کبله پرچمي دولت د خاد له بنسټ اېښودلو سره سم د افغاني کې جي بي د شعبې په توگه «څارنوالي اختصاصي انقلابي» او «محکمـهٔ اختصاصي انقلابي» جوړه کړه چې خپلې واکمنۍ ته اصولي او قانوني رنگ ورکړي. هغو کسانو چې په يوهٔ ډول نـهٔ په يوهٔ ډول له دې «څارنوالي اختصاصي انقلابي» سره سر او کار مونډلی دی تر ټولو نورو خلکو ښـهٔ پوهـېږي چې څومره دا اداره نمايشي او کاواکه وه او د قانونيت او عدالت بڅرکي په کې نـهٔ ليدل کـېـدهٔ.

[62] ـ له ډاکټر عبدالله سره مې څو ورځې په لومړي بلاک کې تيرې کړې. دی اوس په آلمان کې ژوند کوي. د ښاغلي نصير مهرين په وينا، امان الله محمودي اوس په کابل کې اوسـېږي. ډاکټر کريم مې پروسږکال او سږ کال په هالنډ کې وليد. له امان الله پيمان سره د څرخي پلـهٔ په دويم بلاک کې په يوهٔ قفس کې وم. سختې شپې ورځې وې. د شکرې ناروغۍ ډېر خوار او ډنگر کړی وو. د ژوند وروستۍ شپې ورځې ئـې تيرولې او ما ئـې پالنه او بامنه کوله. د زندان مقاماتو د هغـهٔ ددرملنې پر برخه کې هيڅ پاملرنه ونــهٔ کړه. په ډېرې خواشينۍ او دريغ چې نومړي د څرخي پلـهٔ په دويم بلاک کې خپلې سترگې د تل لپاره پټې کړې. يادې ژوندی وي!

آگاه زندانیانو د «اختصاصي – انقلابي» محکمي او څارنوالی پر ماهیت بشپړه خبرتیا درلوده او هیڅ ډول هیله او امید ئـي ورڅخه نــهٔ درلود، خو د رامنځته شوي وضعي په حالت کي مجبوریت اړ ایستلي ول او هم په دې امید چي بالاخره به خپله خبره وکړي او هم کوم غوږ به ددوي خبره واوري، ځکه نو هڅه ئـي کوله چي خپله دفاعیه ترتیب کړي. ددې کار لپاره ما د شته وو او موجودو دوستانو سلا مشورت ته اړتیا لرله. «څارنوالي اختصاصي انقلابي» د سردار داؤود د جزاء د قانون پر بنسټ په شپږ مادو کي زه ګنهګار ګڼلی وم. د ډاکټر احمد علي، پیمان او محمودي د توضیح او تفسیر پر بنسټ، د اتهام لیک په دغو شپږو مادو کي، پینځه مادې ئـي اعدام او یوې مادې ئـي د اوږد مهالي حبس وړاند ویینه کوله. نورو پاتي «نولسو تنو» همدوسیو ملګرو ته مي د اعدام غوښتنه شوې وه.

د څارنوال له سختګیریو مي چنداني ترهورتیا او اضطراب نــهٔ درلود. له دې سره سره چي له یوهٔ رواني جنګ سره مخامخ وم، او د «اختصاصي انقلابي څارنوال» له دومره خبنمـېدونو او اوتو بوتو او اعدام غوښتنو سره سره بیا هم په خپل باطن کي مي یو ډول پټ لذت او خوښي احساسوله. وروسته له دې چي امان الله پیمان اتهام لیک ولوست مخ ئــي راته راواړاوهٔ او وئـي ویل : «د ویاړ وړ ده». له نیکه مرغه د اتهام لیک په هیڅ ځای کي داسي کوم ټکی نــهٔ وو راغلی چي ویلي ئـي وي متهم داسي اعتراف کړی او یا فلانی څوک ئـي قلمداد کړی دی. د خپل وجدان د حکم له مخي وایم چي زما باطني خوښي او رواني رضایت ټول د هماغو همنفسو او همګامو اتلو یارانو له برکته وو. ما له دوی څخه د آزادئ او مقاومت درس لوستی وو، له دې کبله وروسته له دومره شکنجو او وهلو ټکولو هغه ویاړ چي ما ته په نصیب سوی وو مخکي له دې چي زما په برخه وي، دا ویاړ زما ویاړلو استادانو ته ورګرځي. ددوی معنوي حضور وو چي ژبه مي په خیانت او بې ننګی خلاصه نــهٔ کړه.

له هغو کسانو څخه چي ما د دفاعیې په هکله نظر وغوښت مخکي له مخکي مي کومه آشنایي ورسره نــهٔ درلوده. یوازې همدومره پوهېدم چي دغه کسان د کیڼ لاسونو مبارزینو د کورنۍ غړي دي او په زندان کي دننه ددوی ورځنی چلند راته د باور وړ وو. وروسته مي د ډاکټر احمد علي له همدوسیه ملګرو څخه دهغـهٔ په هکله یو شمیر خبرې او ادعاګاني واورېدلې. دا د سازمان پیکار برای نجات افغانستان د سازمان د ملګرو حق او صلاحیت دی چي د بل هر سیاسي تشکیل په شان د خپلو غړو په باب حکم صادر کړي. تر هغـهٔ ځایه چي زه پوهېدم ما ته د هغـهٔ سلا مشورت کوم ګواښ نــهٔ راپېښاوهٔ. زما فکر دا وو چي د نظر غوښتنو په پای کي د ورکړل شویو نظرونو له منځه تر ټولو ښه نظر غوره کړم. زما برداشت دا وو چي هماغسي چي پورته مي هم یادونه وکړه، په « اختصاصي انقلابي محکمـه » کي د دفاع حق یو عوامفریب چل وو ځکه «رفقای مشاور» ټول شیان مخکي له مخکي ټاکلي ول. له ځان سره به مي استدلال کاوهٔ چي که داسي وي نو ولي دې لنډ په لنډه له خپل سازمان او آرمان څخه پرېکنده دفاع ونــهٔ کړم؟ هر هغه څه چي ما د تحقیق په لړ کي خپل منظور ټاکلی وو تر لاسه شوي ول، نور اقدامات بې اهمیته ول. ښاغلو امان الله محمودي او پیمان زما دا نظر مردود وګڼـهٔ. ددوی سلا دا وه چي دفاعیه باید د تحقیق له روحیې سره سمون ولري. اروابناد امان الله پیمان وویل : «تا چي د تحقیق په لړ کي انکار کړی دی، نو ولي د څارنوال د ادعا پر وړاندې بل ډول چلند وسې؟ تر ټولو ښه دا ده چي ټول وارد شوي اتهامات په سړه سینه او منطق رد کړئ. له دې بله لار درته جایزه نـهٔ ده.» ما به ویل چي د تحقیق لړئ دا غوښتل چي په سرټمبګی ځان د حسن چپ په کوڅي ووهم. هغه مهال زما موخه د سازمان د اسرارو ساتل او د سازماني اړیکو سلامتي وه. اوس چي دا شیبه را

رسیدلي چي له خپله آرمانه دفاع، ګوډاګي حکومت او د روس د ښکیلاک د جنایتکارانه اعمالو محکومول خپله راتلونکي دنده ګڼم. امان الله محمودي له ارواښاد ډاکټر عبدالرحمن محمودي څخه یادونه وکړه. د هغه په وینا، فقید محمودي به په همداسي حالاتو کي په بېړه پریکړه نــهٔ کوله او عجله ئــي نــهٔ خوښېدله، بلکه په کارونو کي به ئـي ځیر توب او دقت کاوهٔ. ښاغلي امان الله محمودي راته وویل چي ته اوس احساساتو پسي اخیستی ئـي، نن شپه لاړ سه په آرامه خوب وکړه، سبا په آرام فکر خپله دفاعیه ولیکه. ددهٔ خبره نورو تائید کړه او وئـي ویل همدا نظر پر ځای او عالمانه دی.

به هر کار بهتر درنگ از شتاب　　　　　بمان تا براید بلند آفتاب

په زندان کي دود داسي وو چي د کوټي باشي به متهم ته قلم او کاغذ ورکړ چي خپله دفاعیه ولیکي. هغو زندانیانو چي یا ئـي سواد نــهٔ درلود او یا ئــي د دفاعیي د لیکلو توان نــهٔ درلود بل چا ته به لاړل. په هر پوړ کي یو یا دوه تنه زندانیان به ددفاعیي لیکلو د لیکونکي په توګه شهرت درلود. ځینو دفاعیه لیکونکو به یا له زندانه دباندي په حقوقي دفترونو کي کار کړی وو او یا به له حقوقو با خبره ول، حال دا چي اکثریت ئــي نــهٔ حقوقپوهان ول او نــهٔ ئـي کومه دارالوکاله درلوده، لاکن د مجبورئ له مخي به ئـي هغو کسانو ته چي لیک لوست نــهٔ درلود کله نا کله به له سهاره تر ماښامه کښېناستل او دفاعیي به ئـي ورته لیکلي. دغـهٔ کار ددي ترڅنګ چي له بل چا سره د مرستي او ښرپالني اړخ درلود، دفاعیه لیکونکو ته هم د زندان په شرایطو کي یو ډول سرګرمي وه. ځیني وختونه به ویل کېدل چي پلانی دفاعیه لیکونکی د ډاډ وړ نــهٔ دی، یعنی دا چي له خاد سره اړیکه لري او د متهم محرم اطلاعات مقاماتو ته رسوي او یا د سیاسي دښمنیو له کبله دفاعیه لیکونکی به ، دفاعیه داسي ډول جوړوي چي متهم ته تاوان ورسوي. د شوروي د مخالفینو د ډلو تر منځ اختلافات، د زندان تنګ چاپیریال او له یو بل څخه د بشپړي پېژندګلوئ نــهٔ درلودل ټول ددي لامل شوي ول چي څوک پر چا باندي اعتماد ونــهٔ کړي. حزب اسلامي پر جمعیت اعتماد نــهٔ درلود، جمعیت پر حزب، شیعه ګوندونو پر نورو، او همداسي نور در واخله....

کله مي چي د قفس له باشي څخه د قلم او کاغذ غوښتنه وکړه نو ځواب ئــي راکړ : «صبر وکړه چي له قومندانی ئــي راوړم.» هر ځل به مي چي قلم او کاغذ غوښت نو همدا پلمه به ئــي وړاندي کړه. دري ورځي تیري شوي خو باشي قلم او کاغذ له قوماندانی ته رانــهٔ ووړ. پوهېدم چي باشي له ځانه کوم واک او اختیار نــهٔ درلود. د باشي وخت ضایع کول زما پر وړاندي د خاد یوه بله دغلکاري وه. لنډه دا چي په څلورمه ورځ ئـي راته قلم او کاغذ راووړ.

خپله دفاعیه مي ولیکله. زما دلایل له ډېربو اړخونو سیاسي دلایل ول نــهٔ حقوقي، ځکه زه په حقوق او قانون نــهٔ پوهېدم. همٔاغسي چي د تحقیق په بهیر کي مي سرټیمګي کړي وه دفاعیه مي هم په همدا بڼي او بنسټ ولیکله.

ما لا د خپلي دفاعیي د پاټو وروستی بڼه نــهٔ وه بشپړه کړي چي د خاد افسر زما کوټي ته راغی او دفاعیه ئــي راڅخه واخیستله. وروسته پته ولګېدله چي زما له ټولو اتلسو همدوسیه وو کسانو څخه ئــي دفاعیي اخیستي وي. دا په زندان کي لومړنی ځل وو چي داسي یو کار دي د زنداني په حق کي وسي. معمولاً متهمینو خپلي دفاعیي په محکمي کي د حضور تر مهاله پوري له ځان سره ساتلي. کله به چي بندي د « اختصاصي انقلابي محکمـي » محضر ته ودرېدل نو دفاعیه به ئـي یا خپله ولوستله او یا به ئـي قاضي ته وسپارله. خو زما او زما د ملګرو په حق کي د دفاعیي ضبط نیغ په نیغه د دفاعیي له

ليکلو وروسته وسو او دا په بشپړ ډول له مخکې پلان شوی او استثنائـي کار وو. له دې کار څخه موخه دا وه چې « اختصاصي انقلابي محکمـه» او « اختصاصي انقلابي څارنوالي» دواړه مخکې له مخکې زمور له دفاعي تگلارې او استدلالاتو څخه خبر واوسي او د هغو پر وړاندې ځانونه چمتو کاندي.

# د «اختصاصي انقلابي محکمې» مضحکه

من در این دادگاه برای جانم چانه نمی زنم و حتی برای عمرم...
زه په دې نیاوتون کې د ځان لپاره چنه نـهٔ وهم، ان نـهٔ د خپل عمر لپاره --- «خسرو گلسرخي»

د ۱۳۶۱ل کال د غبرګولي د میاشتې درویشتمه نیټه ماسپښین مهال وو چې راته وویل سول : «کالي دې ټول که». د دریم بلاک له ودانۍ ئـې دباندې وایستلم خو راته ئـې ونـهٔ ویل چې چیرې مې بیایي. هوا توده او آسمان تک شین وو. سر مې آسمان ته پورته ونیو چې د څو شیبو لپاره د آسمان د ښایست لیدنه وکړم. آسمان مې په نظر وړوکی او غمجن راغی کټ مټ د زندان د انګړ په اندازې وړوکی. هر لور ته وسله په لاس ساتونکي ولاړ ول. وضعیت راته عادي نـهٔ ښکاریدهٔ مګر دا راته معلومه نـهٔ وه چې دوی کومې پیښې ته سترګې په لاره ول. «دیګ بخار» د انګړپه یوهٔ ګوټ کې ولاړ وو. د دیګ بخار ددروازې څنګ ته مې ضابط ضیأالحق ولید. لاسونو ئـې لا تر دې دمه د بنداژونو له اسارته خلاصون نـهٔ وو موندلی. زما یو لاس ئـې د ضیأالحق له لاس سره په هتکړۍ که واچاوهٔ. د دیګ بخار شاتینۍ دروازه خلاصه سوه. موږ ته وویل سول : پورته سئ. د موټر دننه په زندانیانو ډک وو. په لومړي سړي چې زما سترګې ولګېدلې زما مبارز او هم رزمه ملګری انجنیر نادر علي دهاتي «پویا» وو. کله چې سترګه په سترګو سوو یوه ترخه موسکا ئـې پر شونډو وغوړېده، بیا ئـې د یوې غمجنې آه او ساړهٔ اسویلي په ایستلو سره وویل : «موږ خو ارزښت نـهٔ درلود، خو حیف په تاسو!» ددهٔ په مقصد پوه نـهٔ سوم. وروسته وختو کې بیا هم راته فرصت مساعد نـهٔ سو چې ددهٔ د همدې جملې په باب مې ورڅخه نورې پوښتنې وکړم چې ولې ئـې داسې وویل. پویا هیڅکله بې جهته خبرې نـهٔ کولې. دا چې ددهٔ دې جملې له کومې موضوع سره تړاو درلود او جرړه ئـې چیرې وه، په افسوس او خواشینۍ چې نـهٔ پوهېږم. په موټر کې مې نولس تنه د سازمان ملګري هتکړۍ په لاس ولیدل. آه چې څومره مې زړهٔ غوښتل چې هر یو ئـې په غیږ کې ونیسم. دومره ضیعف او ستړی ستومانه وم چې ته به وایې کلونه کلونه مې د ناروغۍ په بستر کې تیر کړي وي. پام مې سو چې انجنیر زمری صدیق مې تر څنګ ولاړ دی. مخکې له دې چې سلام و علیک وکړو وئـې ویل : «تـهٔ حق لرې.» ځواب مې ورکړ : «اوس نو ناوخته سوې ده.» ددغو دوه وو لنډو جملو په معنی یوازې زه او دی پوهېدلو. د ساما د سیاسي دفتر او د مرکزي کمیټې د غړو له نیول کېدلو مخکې ما او انجنیر زمري د یوې مودې لپاره په ګډه کار کاوهٔ. د تجاربو د تبادلې په ترڅ کې زما اخیستنه دا وه چې ساما له تشکیلاتي تورم سره مخامخ شوې ده. حال دا چې د کمیت دغـهٔ پاړسوب د سازمان له دننه کیفیت سره سمون نـهٔ خوړ. هغه مهال زما وړاندیز دا وو چې ساما په جدي ډول یوې تشکیلاتي تصفیې ته اړتیا لرله. انجنیر زمري صدیق خپل دلایل درلودل او له همدې کبله ئـې زما له مفکورې سره مخالفت کاوهٔ.

دیګ بخار له سلهاوو ځورونکي کنډوکپر او چمپ و جول وروسته بـرېک وواهـهٔ. په موټر کې ولاړ ټول زندانیان په دې «خوځنده تابوت کې» چې د نفرو له ډیروالي، تودې او زړهٔ تنګونکي هوا څخه په شدت شکنجه شوي ول په بـېړه له موټره

کښته سول. موټر د صدارت د کوټه قلفیو د دروازې مخې ته درېدلی وو، دا هماغه لعنتي ځای وو چې موږ ټولو په کې میاشتې میاشتې د خاد د جلادو شکنجه گرو تر شکنجو لاندې تیرې کړې وې. مؤظف نفر کونجی راواخیستله چې هتکړی زموږ له لاسونو خلاصي کړي. هتکړی ئـې یو په یو خلاصې کړې. موږ ئـې یو یو جلا جلا په کوټه قلفیو کې تقسیمات کړلو. یو ځل بیا دا کار د معمول خلاف وو. هغه کسان ئـې چې د محاکمې په مقصد صدارت ته راوړل د عمومي نظارتخانې په کوټو کې ئـې اچول خو موږ ئـې تجریدي کوټه قلفیو کې واچولو.

زه ئـې په هماغه کوټه قلفی کې واچولم چې د مشهور جاسوس تورن غلام غوث وه او داستان ئـې د «تورن غلام غوث د لومې» تر عنوان لاندې شرحه سوی دی. خو دا ځل د غلام غوث کومه نښه نــهٔ وه. دلته درې تنه نور ځوانان ناست ول. د ځوانانو له سر او وضعې او چارچلنده ښکارېدل چې عادي زندانیان نــهٔ دي. ډېر وخت نــهٔ وو تیر سوی چې ځانونه ئـې راته راوپېژندل. درې واړه ئـې د خلق د ډیموکراتیک گوند د پرچم د څانگې د ولایتي کمیټې غړي ول چې د «گروه کار» د غړي د «سید عظیم گوهري» د قتل د جرم په تور تر تحقیق لاندې ول. دا درې واړه د بلخ ولایت د ولایتي کمیټې مهم غړي ول. د ځوانانو د سازمان مسؤول، د عدل او دفاع د کمیټې مسؤول او ددریم تن مې یوازې نوم په یاد دی چې نظر گل وو. ددې ډلې ډلگی مشر د بلخ د ولایتي کمیټې منشي احد رهنورد وو چې له یو شمیر هملاسو کسانو سره یو ځای د روسانو د مستقیمې لاسوهنې په اثر وروسته اعدام شول.

د هماغې ورځې په ماسپښین ئـې موږ نولس تنه همدوسیه کسان له کوټو دباندې راوایستلو او د کوټه قلفیو د انگړ په یوهٔ وړوکي گوښې گوټ کې ودرولو. دلته مې په نایي «سلمان» سترگې ولگېدلې چې زموږ او د سر ویښتان او ږیرې اصلاح کړي. کله مې چې نایي ولید پوه شوم چې زموږ د سرونو او مخونو د ویښتانو سینگار پر «علني» محکمې دلالت کوي. د صدارت د شکنجه ځای قوماندان او سیاسي مرستیال ئـې له خپلو سرتیرو سره د نایي تر څنگ ولاړ ول. د سر او مخ د ویښتانو دا اصلاح زموږ د غوښتنې پر بنسټ نـهٔ وه بلکه پرېکړه دا وه چې هرو مرو دې زموږ د سر ویښتان را لنډ کړي او زموږ ږېرې دې وخریيي. د نعیم ازهر او شاهپور قریشي په شان زموږ یو شمیر ملگري د خپلو ږیرو له خریلو سره جدي مخالفت وکړ خو د قوماندان او د هغـهٔ د سیاسي مرستیال د عمل شدت ددوی دا مخالفت بې اغیزې کړ. شپه مې په هماغه کوټه کې تیره کړه چې څو میاشتې مخکې یوهٔ ماهر او سرسپارلي جاسوس په کې راته کمین نیولی وو او زما ذره په ذره حرکات ئـې کنترولول او زما رواني حالات ئـې یادداشتول. سره له دې چې اوس ددې کوټې بندیان د خپل مقام او صلاحیت له اړخه په ځلونو له تورن غلام غوثه پورته ول، خو په دې خبره پوهېدم چې د تحقیق د بهیر او له تحقیقه وروسته شرایط له یو بله توپیر کوي. له همدې کبله د صدارت له «لړمانو» ویره تر یوې کچې راټیټه شوې وه. ددې تر څنگ پولس میاشتنی تجربې په خپله رابښودلې وه چې څرنگه د موذي او زهرجنو «لړمانو» نیش خنثی کړم.

د کوټې بندیانو راڅخه ډېرې پوښتنې وکړې. که څه هم ددوی پوښتنې زما له خولې څخه د «خبرو اخیستلو» په منظور نــهٔ وې، خو د مشرانو نصیحت باید هیر نـهٔ شي : «سر له خپل پوخوالې نـهٔ دی مات شوی // سر از پختگی نشکسته است.» پوښتنو ته د ځوابونو حوصله نوره نـهٔ وه پاتې. ما ورته وویل چې په ساما کې د غړیتوب په تور ئـې زندان ته اچولی یم. هغه مهال د بلخ د ولایتي کمیټې غړو دباندې په آزاده هوا کې چکر واهـهٔ. دوی دننه په زندان کې هم دا فکر کاوهٔ چې د بلخ د

ولايتي کميټې برحاله غړي دي. ددوی په ځان کې صبر او زغم مړ شوی وو او يا دا چې ورته اړتيا ئې نـهٔ درلوده. هره شيبه به ئـې د کوټې دروازه ټکوله او په آمرانه غږ به ئې له پهره دار څخه ډول ډول غوښتني کولې. له ظواهرو په څرګنده ښکارېدله چې پهره دار هم له پاسه دستور درلود چې ددغو د سترګو تور ناز پورته کړي. د همدې ورځې په ماښام ددغو نازولو له منځه يوهٔ ئـې له سر دردئ څخه شکايت وکړ. په مجردې چې دروازه ئـې وټکوله پهره دار له کوټې دباندې وايست او له يوهٔ ساعت وروسته له يو شمير درملو سره کوټې ته راننوت. د کوټې دغو بنديانو د سيد عظيم ګوهري له قتله انکار نـهٔ کاوهٔ. دوی له دې کاره اصلاً پښيمانه نـهٔ ول. د «انقلاب ثور و مرحلـهٔ تکاملي آن» څخه ئـې په ښـهٔ انداز او کش دفاع کوله او د انقلابي دولت پر وړاندې هر ډول مخالفت ئـې جرم او جنايت او د زندان او اعدام لايق ګڼـهٔ. له «ملګري کارمل» او د خپل ګوند له نورو مشرانو څخه ئــې په نيکی يادونه کوله او ځانونه ئــې د خپل ګوند او دولت مشرانو ته نـېږدې ښودل. کله مې چې له دوی څخه پوښتنه وکړه «تاسو چې دومره په خپل ګوند او دولت باندې مين او ورته وفاداره ياست او ستاسو مشران ستاسو په صداقت او پاکی ايمان لري، نو ولې ئــې تاسو زندان ته اچولي ياست؟» دوی وويل :« موږ داخلي ملګرو په زندان کې نــهٔ يو اچولي بلکه دا کار زموږ د روسي ملګرو دی. موږ به ډېر ژر له زندانه خوشې سو.»

پوهېدم چې سبا مې ډېره سخته ورځ تر مخ را روانه ده، له داسې مقابلې سره مخ وم چې په کې آزادي به د اسارت، حقيقت به د درواغو، زړهٔ ورتيا به د اسکيرلتوب «زبوني» پر وړاندې له يو بل سره ښکر په ښکر سي. د پريښانی او ترهورتيا سيوری مې پر ذهن باندې خپور وو. له بلې خوا، د غبرګولي د مياشتې د تودوخې زغم هغه هم د تړلې دروازې تر شا سختې کوله. کوښښ مې وکړ چې خوب وکړم خو زما له سترو ستومانه سترګو خوب تښتـېدلی وو. ټوله شپه ويښ پاتې سوم. د سبا ورځې په هکله مې فکر کاوهٔ. د محاکمې چاپيريال مې په ذهن کې مجسم کاوهٔ، دا داسې يوه صحنه وه چې هيڅکله ورسره نـهٔ وم مخامخ شوی. پوهېدم چې د سبا ورځې محاکمه موږ ته د بل آزماينت او سختې مخامختيا ورځ ده. د دغدغې او وسواس په توپان کې ډوب وم چې د مرغيو چرچر د زړه بوږونکې شپې پای اعلان کړ.

د ۱۳۶۱ ل د غبرګولي د مياشتې د ۲۴ نيټې د سهار د اتو بجو په شاو خوا کې ول چې د صدارت د کوټه قلفی پهره دار په تلوار او وارخطايي زما د کوټې دروازه خلاصه کړه. د نورو ځلونو برخلاف ئـې دا ځل زما د نوم پوښتنه ونـهٔ کړه. ما ته ئـې په خطاب کې په آمرانه غږ وويل : «ژر له کوټې راوځه!». د پهره دار تلوار او وارخطايي زموږ پر وړاندې د خدمات اطلاعات دولتي «خاد» د عمل د شدت ښنه وه. کله چې له کوټې دباندې راووتلم، څو تنه ياران مې په انګړ کې درول شوي ول. هغوی ئـې له ما مخکې د صدارت له کوټه قلفيو دباندې راايستلي ول. ما ته وويل شول چې ددوی په کتار کې ودرېږم. څو شيبې وروسته ئـې نور ياران هم راوستل. يارانو په خپلو خوږو موسکا ګانو يو بل ته په پټه هرکلی ووايـهٔ. موږ ئـې ښـهٔ په ځير وپلټلو. د ډيريو همرزمو يارانو سرونه لوړ او پر شونډو ئـې خندا غوړېدلې وه. ماشه په لاس وسلوال ساتونکي هر ګوټ کې خپارهٔ ولاړ ول. خاديستان زموږ ګرد چاپيره تاويدل او له نظره ئـې تيرولو. اورېدلي ئـې ول چې د ساما د مرکزي کميټې غړي او کدرونه محاکمه کېږي، له دې امله همدې خبرې ته ليواله ول چې موږ له نيږدې وګوري. د زندانبانانو او خاديستانو ځيرې تر بل هر وخت نور رټلې، د کرکې وړ او له ښمنه ډکې وې. برعکس «له درو تنو پرته» د ساما د نولس کسيزې ډلې غړو روحيه په صدارت او د څرخي پلـهٔ په زندان کې له څو مياشتنيو شکنجو سره سره بيا هم له غروره ډکه او د ستاينې وړ وه، او دا ځکه چې اکثريتو يارانو د مبارزې ډګر ته له ننوتلو مخکې لا وختي خپل کفنونه اغوستي ول.

هر کس که پا به بادیهٔ عشق می نهد گامِ نخست بایدش اول ز سرگذشت

هرڅوک چې د مینې پر بیدیا گام ږدي، لومړی گام ئـې باید له سره تیرېـدل وي

د هم ځنځیرو یارانو له شونډو موسکا نـهٔ وه لیرې شوې چې د هتکړیو کړیو له یو بل سره لا نـېږدې کړو. «دیگ بخار» بیا هم زموږ د لـېږد لپاره په یوهٔ گوټ کې ولاړ وو. سر مې په تاویدو سو. زنگنونه مې کت کـېدل. موټر ته د پورته کـېدلو توان راکې نــهٔ وو. له دې سره سره مې ځان ټینگ او استوار ونیو. په سختئ مې کولای سوای موټر ته پورته سم. لعنتي نارو غی زما بدني ځواک تش کړی وو. څو دقیقې لا نـهٔ وې تیرې سوې چې دیگ بخار ودرېـد. موږ ته ئـې وویل : «کښته سئ!». د صدارت له احاطې دباندې نــهٔ وو تللي. د خاد ډار او تشویش تر دې حده پورې وو چې موږ په صدارت کې دننه یوازې د څو سوه متري واټن لپاره په سرتړلي موټر کې ولـېږدول سو. هرې خوا ته وسلوالو سرتیرو کمیونونه نیولي ول. خادیستانو په وارخطایئ کښته و پورته منډې وهلې. د ماشیندار په وسلې سمبالو خادیستانو یوه ډله چې شخصي دریشئ ئـې په ځانونو کې وې د یوې ودانئ مخې ته موږ ته سترگه په لار وه. هغوی په آسانئ نـهٔ سوای کولای موږ ته وگورې. موږ ئـې ودانئ ته دننه بوتلو. پښې مو په یوهٔ وړوکي دالان چې تالار ئـې له نورو کوټو سره نښلاوهٔ کښـېښنودلې. یوې سپینې نخي پردې دالان په دوه وو برخو ویشـلی وو. دلته بیا تلاشي سولو. موږ ئـې له سره تر نوکه وپلټلو. ورپسې د یوې ځانگړې برقي آلې وار راغی چې موږ ئـې پرې بدني تفتیش کړلو. دغو ټولو احتیاطونو ددوی د وحشت او ویرې څرگندونه کوله. څرگنده ده چې روسي غلــهٔ او مزدورو گوډاگیانو ئــې ساما جدي گڼله او د یوهٔ پیاوړي او ځانونو ته خطرناک سازمان په سترگو ئـې ورته کتل. ښایي د خاد سنجونه به دا وه چې داسې ونـهٔ سي چې که د ساما فدائـیان له دباندې حمله وکړي.

د سپینې پردې تر شا د دالان په وروستي سر کې کښـېناستلو او له یو بل سره مو خندل او ټوکې ټکالې مو کولې. سرتیري زموږ تر څنگ ولاړ ول. دغـهٔ حالت له څه دباندې یوهٔ ساعته زیات وخت ونیو. بالآخره موږ ته وویل سول چې جگ سو. موږ ئـې دننه تالار ته بوتلو. دا تالار له هماغـهٔ دالان سره نښتی وو چې موږ ئـې په وروستي گوټ کې کښـېنولي وو. په تالار کې له سلو زیات کسان راغلي ول. دوی د گوند غړي او د خاد کارمندان او ددوی کورنئ وې. د صدارت د تحقیق په ریاست کې د خاد له کارمندانو او زندانیانو بل چا معمولاً د ننوتلو اجازه نـهٔ درلودله. د تالار پر اصلي څوکیو برسیره، نورې اضافي څوکئ ئـې هم ایښې وې. داسې ښکارېـدل چې دا د کنفرانسونو یا کومې وړوکي سینما تالار دی چې د صدارت په انگړ کې ئـې موقعیت درلود. د تالار چاپیریال له گڼه گوڼې او شور ډک وو، خو زموږ له ننوتلو سره سم چاپیریال بدل او «میلمنو» سترگې پر موږ نیغې کړې. یو ډول له ویرې ډک سکوت د سالون پر فضا باندې خپور سو. داسې چې ته به وایې ټول برق نیولي وي. د تالار په ښي گوټ کې ستیژ ته نیږدې جلا اوږدې څوکئ ئـې په دوه وو کتارونو کې ایښې وې. موږ ته وویل سول چې پر همدغو څوکیو کښـېنو. زموږ له ننوتنگ سره سم د فلم اخیستلو کمره چالانه سوه. څو دقیقې وروسته له حاضرینو وغوښتل سول چې د «قضایي هیئـت» د راننوتلو په درناوي ټول په پښو ودرېږي. قضایي هیئـت له درو تنو «قاضیانو» جوړو یعنی (ددیوان رئـیس او دهغـهٔ دوه تنه همکاران) او محرر تالار ته ننوتل. حاضرین د هغوی په درناوي په پښو ودرېـدل. د ساما نولس کسیزه ډله - چې د خلق ډیموکراتیک گوند او ورسره اړوند ارگانونه ئـې نـهٔ قانوني گڼل او نـهٔ د درناوي وړ- ، د ډبرې په شان له ځایه ونـهٔ خوځـېده. دا د هغې دستگاه پر وړاندې چې ځان ئـې «اختصاصي انقلابي

محکمه» ګانـۀ زموږ لومړنـی ټکر وو، ځکه دا ډول محاکم هغه جنایتکاره ارګانونه ول چې د خلق د ډیموکراتیک ګوند د واکمنی د کلونو پر مهال ئــې ددې هېـواد په زر هاوو نازولي بچیان په اعدام محکوم کړي ول. زموږ برحقه نافرماني د جیره خورې ګوډاګې دستګاه پر وړاندې د رواني جګړې دوام وو چې پایله ئــې زموږ په ویاړونو او د دښمنانو پر قهر او غضب اوښتله.

د «قضایي جلوس» ریاست د غلام محي الدین عمار پر غاړه وو. نوموړی په ځانګړې ځای کې کښېـناست او دوه تنه ددۀ نور جرمي شریکان ددۀ دواړو خواوو ته کښېـناستل. پر دوی سربیره نور کسان د پردې تر شا ناست ول. د باد پکې شمال پرده ځپې ته وهله او د پردې تر شا پټ کسان ئـې بې پردې کول. نامتو سندرغاړی مسحور جمال هم د «پرده والو» په منځ کې ناست وو. ځرګنده نـۀ سوه چې د هغـۀ مأموریت په څه کې وو.

د قضایي جلوس په پیل کې «اختصاصي انقلابي» څارنوال عبدالرزاق مشفق نولس تنه سامایان حضارو ته ور وپـېـژندل او په عام ډول ئـې ددوی د دوسیو په باب معلومات ورکړل. ددغو نولس تنو نومونه دا ول « د هر یوۀ په باب مې لنډه توضیح تر هر هغـۀ ځایه چې ورڅخه شناخت مې درلود او وروسته له دومره اوږدو کلونو حافظې مې یاري وکړه زیاته کړې ده.»

- محمد نعیم ازهر «د آذر په سازماني نوم، د ساما د سیاسي دفتر غړی، د هرات اوسـېـدونکی، د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي فارغ»

- انجنیر مـحـمـدعلي « د رضا په سازماني نوم، د ساما د سیاسي دفتر غړی، او د خپرونو چارو مسؤول، اصلاً د روزګان له هزاره وو څخه وو چې کورنۍ ئـې کندهار ته تبعید شوې وه خو دی په کابل کې زېـږېدلی وو. د کابل د پولیتخنیک فارغ»

- انجنیر نادر علي دهاتي «د پویا په سازماني نوم، د ساما د سیاسي دفتر غړی او د تشکیلاتو د کمیټې مسؤول، د روزګان له تبعیدي هزاره ګانو څخه وو چې د بلخ د چمتال په ولسوالی کې زېـږېـدلی وو. له مخفي ژوندانـۀ مخکې انجنیر وو.»

- انجنیر میرویس «د ساما د سیاسي دفتر غړی او د پوځي کمیټې مسؤول، په فراه کې زېـږېدلی، د کابل له پولیتخنیک څخه فارغ شوی وو»

- انیس آزاد «د ساما برجسته کدر او د کوهدامن د سیمو مسؤول، په کلکانو کې زېـږېدلی وو، شاعر او لیکوال»

- شاهپور روئـین یار قریشي «د ساما د بنسټ ایښودلو په یولس کسیز کنفرانس کې ئـې ګډون درلود خو څو موده وروسته ئـې له ساما سره پریکون وکړ. د نیول کېـدلو له مهال لږ څه وړاندې له ساما سره ئـې بیا اړیکي ټینګولو ته لیوالتیا موندلې وه. نوموړی د افغانستان د کیڼ لاس د انقلابي او روڼ اندی د غورځنګ له نومیالیو څیرو څخه وو او ددۀ اعدام یوازې دهمدغـۀ نومیالیتوب په پار وو.»

- ډاکټر عبدالواحد رائـین «د ساما د سیاسي دفتر علی البدل غړی، د طب ډاکټر، د زېـږېدلو پلرنی ټاټوبی د لوګر ولایت.»

- انجنیر زمری صدیق «د ساما د سیاسي دفتر علی البدل غړی او د ساما د تشکیلاتو د کمیټې غړی، د زېـږېدلو پلرنی ټاټوبی د لغمان ولایت.»

- انجنیر محـمد امین « د ساما د تشکیلاتو د کمیټې غړی، په اندخوی کې زېـږېدلی او د کابل د پولیتخیک فارغ.»

- انجنیر داؤود « د ساما د ښاري چریکانو د تشکیلاتو غړی، په هرات کې زېږېدلی او د کابل پوهنتون د کرنې د پوهنځي فارغ»

- ډاکټر صدیق جویا «د ساما د تشکیلاتو د کمیټې غړی، په هرات کې زېږېدلی، د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي محصل»

- انجنیر حسین « د ساما غړی، په پنجشیر کې زېږېدلی، د کابل د پولیتخنیک فارغ»

- قاضي احمد ضیأ « د مرکزي کمیټې او د تشکیلاتو د کمیټې غړی، د میدان وردکو د بهسودو په ولسوالی کې زېږېدلی، د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي فارغ»

- حسین «د ساما د خپرونو د کمیټې غړی، د انجنیر محمد علي ورور»

- زبیر احمد « د ساما ښاري چریک، په پنجشیر کې زېږېدلی، د انجنیر حسین ورور»

- محمد امین « د ساما غړی، په پنجشیر کې زېږېدلی»

- ضیأالحق «د ساما غړی، پوځي افسر، په هرات کې زېږېدلی»

- مسعود « د ساما ښاري چریک، په هرات کې زېږېدلی»

- محمد نسیم « زه، د ساما د تشکیلاتو د کمیټې غړی، د پروان په ولایت کې زېږېدلی، ښوونکی»

دا په آزادۍ مین هغه خپلواک انسانان ول چې د روسي سوسیال امپریالیزم د بې شرمه تیري او بې مثاله شرارت او د روس د ټیټو بې ارزښتو ګوډاګیانو پر ضد له مقابلې پرته بله ګناه ئې نـهٔ درلودله. د مرګ لومې ته د همدغي تأریخي وردانګنې، پاڅون، آګاهانه او داوطلبانه درېدل ددې سبب شوي ول چې د قطبي یرګانو او د هغوی د وطني نواله خورو ګوډاګیانو خښم د خپل ځان په بیه واخلي.

وروسته له بیا څارنوال مشفق خپل اتهام لیک ولوست. لاسونه ئې رېږدېدل او ژبه ئې ګونګۍ ګونګۍ کېدله. ددهٔ د اتهام لیک لومړۍ برخه د ساما د سازمان پر ضد وه او بیا ئې د افرادو تورنه یا اتهامات جلا جلا وړاندې کړل. څارنوال مشفق ترتیب شوی متن په سمه د کاغذ له مخې نـهٔ شو لوستلای او کلمات ئې غلط غلط تلفظ کول. دغې وارخطایې درې علتونه درلود : لومړی دا چې په څرګنده ښکارېدل چې دا اتهام لیک بل چا لیکلی دی. دویم دا چې مشفق پوهېدهٔ چې له څه ډول کسانو سره مخامخ دی. او دریم دا چې د اسیرانو لوړې روحیې د ګوډاګیانو په زړونو کې ویره او ډار خپور کړی وو. په ډېره څرګنده توګه ښکارېده چې په لاسونو تړلو اسیرانو پر خپلو «آزادو» دښمنانو برلاسی درلود. دا یوازې موږ نـهٔ وو چې د مشفق د خوار او زار حالت ننداره مو کوله بلکه ناست نندارچیان هم له دې وارخطایې او ترهورتیا اندیښمن او شرمېدلي ول. د ساما پر وړاندې اقامه شوي تورونه دا ول : د افغانستان د خلکو د مشروع دولت او انقلابي واکمنۍ پر وړاندې پاڅون، د خلق د ډیموکراتیک ګوند پر وړاندې له دښمنۍ ډک تبلیغات، د دولت پر وړاندې د خلکو لمسول، د دولتي حاکمیت او دوستو ځواکونو پر وړاندې جګړه، له پردیو «باندنیو» هېوادونو سره اړیکي.... او نور متحد المال تورونه چې ټل به ئې د مخالفو افرادو او ډلو د کارنامو په وروستاړي «پسوند» پسې تړل لکه : «اشرار»، «تروریست»، «آشوبګر»، «اله ګوله پارونکی»، «پردی عامل» او نور.


هماغسي چې موږ په مجموع کې ګوډاګی دستګاه په رسمیت نــهٔ پېـژندله، ددوی تش په نامـهٔ له ځانه جوړ ښکیلاکي نمایشي دسپلین او نظم مو هم په تمسخر ونیو. د څارنوال مشفق د تورونو او اپلاتو پر وړاندې زموږ یاران پورته کېـدل او ددهٔ د درواغجنو تورونو پر وړاندې ئــې اعتراض کاوهٔ. په ځانګړې توګه د ارواښاد قاضي احمدضیأ پریکنده او شدیدو اعتراضاتو چې پر حقوقي احکامو او منطقی استدلالاتو ولاړ او له ډېرې زړورتیا ډک ول له څارنوال او «قضایي هیئـت» څخه لاره ورکه او سخت ئـې وارخطا کړل. ارواښاد قاضي ضیأ د محـمـد داؤود د جمهوري ریاست د دوران د جزاء قانون چې «اختصاصي انقلابي محکمې» له مخې ئـې خپل سیاسي مخالفان مجازاتول تر نیوکو لاندې ونیو. په څرګنده روښانه وه چې د ښکیلاک د نوکرانو د جعل او افترأ وچو، رژیدلو او زیږو پاڼو نـهٔ شوای کولای د آزادی، حق او عدالت د څپاند توپاني سیند مخه ونیسي. کله چې د عبدالمجید کلکاني پر شخصیت ئـې تیری وکړ، د پرګنو زړور بچي انیس آزاد له ځایه پورته سو او په لوړ غږ ئـې وویل : «تاسو چې هر نوم په مجید ږدئ ستاسو کار دی، خو هغه زموږ بې سیاله شخصیت، ملي اتل او زموږ پیشوا وو.» کله چې یارانو د سیاست په اړوند خبرې وکړې او ساما ئـې د یوهٔ سیاسي سازمان په توګه معرفي کړه، څارنوال په خښم او عتاب وویل : « موږ تاسو د سیاسي زندانیانو په توګه نـهٔ پیژنو. تاسو له موږ سره جنایي زندانیان یاست.» بیا هم یارانو د دا ډول «روسي عدالت» پر وړاندې سر ټیټ نـهٔ کړ او په ځواب کې ئــې وویل : « که داسي وي، نو ولې له موږ څخه سیاسي پوښتني کوئ؟ زموږ د دوسیو ټولې پاڼې او زموږ د تحقیق بهیر له سره تر پایه له سیاست سره تړاو لري. پر موږ، ستاسو ددولت د راپرځولو تور لګول شوی دی، او هم مو د روس د نیواکګرو ځواکونو پر وړاندې د مبارزې په اتهام چې تاسو ئـې د هېـواد، ننګ، ولس او ناموس ساتندویان بولئ قلمداد کړي یو.»... ددغـهٔ ټینګ استدلال پر وړاندې، څارنوال او «قضایي هیئـت» ان یوه کلمه ځواب نــهٔ درلود.

د محکمې د تالار په یوهٔ ګوټ کې د چاپ وسایل، کتابونه، مجلې د «ندای آزادي» ګڼې (د سازمان آزادیبخش مردم افغانستان نشراتي ارګان)، د «شهید عبدالمجید کلکاني ویژه نامه» ئـې «مېـلمنو» ته د ننداری لپاره ایښي ول. دا ټول زموږ د محکومیت لپاره د جرمي او اثباتي لاسوندونو په نامــهٔ نومول شوي ول. ښایي حق د «اختصاصي انقلابي محکمې» پر خوا وو ځکه د «خلق» او «پرچم» او د «دیموکراتیک دولت» د واکمنی پر مهال، ددوی تر مشرتابـهٔ لاندې کتاب لوستل، او یا بل ډول فکر کول هرو مرو د مرګ سزا درلودله! د ساما نشراتي مسؤول ارواښاد انجنیر محـمد علي په آرامی او بې ساري مېـړنتوب د ټولو کتابونو، لاسوندونو او چاپي وسایلو مسؤولیت پر غاړه واخیست. د داسي دراندهٔ پیټي د مسؤولیتونو اخیستل کومه ساده خبره نـهٔ وه او موخه ورڅخه دا وه چې د خپلو همرزمو ملګرو د مسؤولیت د پیټي دروندوالی ئــې سپک کړی وي. ورپسي د تورونو وار راغی. څارنوال خپل راغونډ کړي تورونه په داسي بربنډو اغلاطو، بندې بندې ژبې او سکتګی په شرم ولوستل چې ان ددوی راغلو آغلو ښاغلو «میلمنو» هم د ښاغلي مشفق له ډار او ریږد او بې سوادی څخه د شرم زهر له ستوني غړوپول. د تورونو له لوستنګ وروسته به متهم ته وار رسیدهٔ. هر یوهٔ به خپله ترتیب کړې دفاعیه لوستله او په ترڅ کې به ئـې غلام محي الدین عمار او عبدالرزاق مشفق ورڅخه پوښتني کولې یا به ئـې اعتراض کاوهٔ او یا به په ټاکل شوې بې تفاوتی ئـې له څنګه تیر سول. د څارنوال او قاضي تریخ او له دښمنی ډک چلند ددې محکمې د فرمایشي توب بربنډ او څرګند ثبوت او ګواه وو. د قاضي او څارنوال همغږه شدید چلند له یوهٔ اړخه زموږ په ګټه سو. زموږ د یارانو له منځه

دوه دري تنه چي د تحقيق د بهير په اوږدو کي د شکنجه ګرو د فشار او د دښمن د ژمنو تر اغيز لاندې غوليدلي ول د همداسي حالت په ليدلو سره د غفلت له خوبه پاڅېدل او د خپلي تيروتني په ژورتيا باندې لا نور هم پوه سول.

د محکمي يو اړخيز توب له ورايـهٔ د هغـهٔ له نامـهٔ څخه څرګند وو. د «اختصاصي انقلابي محکمي» غړي په خپله د خلق ډيموکراتيک ګوند غړي ول چي د مخالفينو خونړۍ او بې پروا سرکوبي ئـي د خپلو دندو په صدر کي ايښي وه او موخه ئـي له داسي ګوند او دولت څخه دفاع وه چي د ټول پاڅېدلي ملت پر وړاندې په خونړي تقابل کي ولاړ ول. له سهاره تر ماښامه به د پلورل شوي کارمل له ستوني د «تشديد مبارزه بر ضد اشرار» او «اشرار تا آخرين فرد» شعار راوت او دې شعار د روس د مخالفانو او د روسي ضد مقاومت د سازمانونو د جرړو له ايستلو پرته بله مانا نـهٔ درلودله. په داسي حال کي چي يو لک و شل زره روسي نيواکګر سرتيري له خپلو ټولو مرګ زيږونکو وسايلو سره زموږ د هېـواد په وراني او د ولس په قتل بوخت بول، داسي يوې محکمي نـهٔ سوای کولای حقوقي، قانوني او سياسي مشروعيت ولري او ورته ناشوني وه چي بې پَرې پاتې سي او يا دې هم پر عدالت ولاړ حکم ورکړای سي.

زموږ څو تنو يارانو خپلي دفاعيي لوستلي وې چي «عمار» د محکمي د کار د لومړۍ برخي پای اعلان کړ. موږ ئـي بـېرته د صدارت کوټه قلفيو ته بوتلو.دغې دمې شاو خوا يو ساعت وخت ونيو. موږ ئـي بـېرته په ديګ بخار کي د محکمي تالار ته بوتلو. امنيتي ترتيبات هماغسي ول او موږ ئـي بيا په کلکه تلاشي کړو. بيا هم «مېلمانـهٔ» تالار ته راغلل او کښـېناستل. قاضي، مفتي او څارنوال له خپل ارباب «روس» څخه نوي دساتير اخيستي ول. د ساما څو تنو مبارزينو خپل دفاعيات ولوستل. دلته نور د قاضي، مستنطق، څارنوال او شکنجه ګر توپير نـهٔ کېدهٔ. نولس تنه اسير ساماپايان يوې خوا ته او نور معلوم الحاله حاضرين بلې خوا ته. ټول په يوهٔ غږ او يوهٔ لاس زموږ پر ضد راولاړ شوي ول او د روس د رضا په پار ئـي لاسونه پړقول او د هورا ګانو رمباړې ئـي ايستلې. دوی لکه نانځکي په هماغه لار روان ول چي ارباب ورته رسم کړې وه. کله به چي موږ د شکنجه کېدلو په هکله خبرې کولې، نو له ټولو مخکي به قاضي عمار انکار کاوهٔ او ويل به ئــي چي انقلابي دولت او امنيتي ارګانونه په ځانګړې توګه خدمات اطلاعات دولتي هيڅ ځوک نـهٔ دي شکنجه کړي. د صدارت د تحقيق د چارو د عمومي رياست د «پاکو لاسونو» ادعا د داسي کسانو پر وړاندې وه چي لا تر دې دمه ئـي له ځانونو او ارواحو څخه د شکنجو آثارو او نښو داري وهلې. په دې ترڅ کي زبير احمد له ځايه پاڅېد او خپل کميس ئـي له ځانه وايست او پر خپل ځان د شکنجو داغونه ئـي نندارچيانو ته وښودل او ددوی له شرمه ډکه ادعا ئـي لا نوره پسي رسوا کړه. کاري ساعت پای ومونډ. موږ ئـي بيا کوټه قلفيو ته بوتلو. شپه مو د صدارت په کوټه قلفيو کي تيره کړه. په سبا ئـي «د غبرګولي پينځه ويشتمه نيټه» هماغه درامه بيا تکرار سوه. د محکمي په لړ کي د ارواښاد استاد رسول جرئـت ياد منځ ته راغی. کله ئـي چي موږ د سپيني پردې شا ته راوستلو، يوهٔ سرتيري چي د محکمي په جلسي کي حاضر وو موږ ته ځان نـېږدې کړ او پوښتنه ئـي وکړه : « تاسو د کوم جرئـت د نامـهٔ يادونه وکړه؟» ډاکټر عبدالواحد رائـين ځواب ورکړ : «زموږ موخه زموږ ګران ملګری ارواښاد رسول جرئـت وو چي د خلق د ډيموکراتيک ګوند د جنايتکارانو په لاس اعدام سو.» د سرتيري د سترګو په ګاټو کي اوښکي




زبير احمد

راټولي سوې او په خواشینی ئـي ووېل : «هغه زما استاد وو». ډاکټر عبدالواحد ځواب ورکړ : «رې مـۀ وهه وطنداره! نن که دوی مونږ محاکمه کوي، سبا ورځ به د افغانستان خلک دوی محاکمه کړي.»

د غبرګولي د میاشتي د پینځه ویشتمي نیټي د ورځي دویمه نیمایي د ساما د سیاسي دفتر د څلورو تنو هر یو انجنیر نادر علي دهاتي «پویا»، انجنیر محـمد علي، انجنیر میرویس او محـمد نعیم ازهر د محکمي لپاره ځانګړي شوه. نورو ته اجازه ورنـۀ کړل سوه چې په نوموړي «قضایي جلسې» کي حضور ولري. له یادو شویو څلورو تنو پرته، پاتي کسان ئـي د سپیني پردې شا ته بوتلل. د هماغي ورځي په ماسپښین ئـي د «علني» محکمي بهیر پای ته ورسید. سره له دې چې «اختصاصي انقلابي محکمي» د ساما د نولس کسیزې ډلي لپاره د اعدام د سزا پرېکړه وکړه، خو د تأریخ عادلانه حکم دا په ډاګه کړه چې مونږ د ډګر اصلي بایلونکي نـۀ وو.

د ساما د سیاسي دفتر څلورو تنو غړو خپل دفاعیات هم شکله او په یوۀ ډول جوړ کړي ول. دغو څلورو واړو ته چې د لومړي بلاک په جلا جلا کوټو کي اچول شوي ول اجازه نـۀ وه ورکړل شوي چې له یو بل سره وګوري او د خپلو دفاعیاتو په باب له یو بل سره سلا مشوره وکړي. د ځرخي پلـۀ په زندان کي د اړیکي رامنځته کول یا ټینګول کوم آسانه کار نـۀ وو او هر هغه چا چې هغه شرایط لیدلي وي نو پوه به وي چې څنګه دغو یارانو او د کومو ستونزو په ګاللو له یو بل سره اړیکي ټینګ کړي ول. راته ووېل شول چې دغو څلورو مبارزینو، د لومړي بلاک په دالانونو کي د ګرځېدنګ پر مهال د خپلو دفاعیاتو د محتویاتو په باب له یو بل سره سلا مشوره کړې وه. اروابناد نعیم ازهر راته ووېل : « مونږ لا خپل دفاعیات پاکنویس کړي نـۀ ول چي د خاد زندان زمونږ ددفاعیو پاڼي راڅخه واخیستلې.» دغو اتلانو په خپلو دفاعیاتو کي په میړانه او پریکنده ډول د ساما له آرماني، سیاسي او تشکیلاتي حریم او د «سازمان آزادیبخش مردم افغانستان د سازمان» له خپلواکي او انقلابي تګلارې څخه دفاع وکړه، کټ مټ هماغه میرنی دفاع چې دوی د استنطاق او شکنجي په لړ کي له ساما او د نیواکګر روس او د روس د لاسپوڅي ګوډاګي مزدور ګوند پر ضد د ولس له آبرو او پاځون څخه پریکنده کړې وه. له نیکه مرغه چې د محکمي د بهیر ثبت شوي کستونه زمونږ د سازمان د نفوذي کسانو په لاس د خلق د ډیموکراتیک ګوند د واکمنی پر مهال له دولتي راډیو تلویزیون څخه راوایستل سول او د ساما په واک کي ولویدل. د خلق د ډیموکراتیک ګوند د خونړي تخت او تاج له ړنګېدلو وروسته د ساما د مشرتابـۀ د څلورو تنو دوسیي زمونږ د سازمان د مشرتابـۀ لاس ته ورغلي او تر اوسه زمونږ په آرشیف کي خوندي دي.


انجنیر میرویس

شهید انجنیر میرویس د خادیستانو د ناروا او خائـنانه تورونو په باب چې ساما له باندنیو هېـوادونو سره اړیکي لرل ما ته داسي ووېل : «مونږ ورڅخه وغوښتل چې په دې باب دې لاسوندنه وښیي.» محکمي «په ډهلي کي د ناپیيلو هېـوادونو کنفرانس ته د ساما سر خلاصی لیک» د خپلي ادعا د ثبوت لپاره عنوان کړ. زمونږ ملګرو ورته ووېل چې تاسو دا لیک یو ځل ولولئ چې څرګنده سي، او هر څوک چې درواغ وایي مخ تورن دې سي. هغوی دا کار ونـۀ کړ. په همدغـۀ لیک کي زمونږ پر ملي غرور باندې تر اعلی کچې ټینګار شوی وو. فرمایشي محکمي نـۀ سوای کولای ددې لیک په لوستلو

چې ملي آزادی، ډیموکراسی او ټولنیز عدالت ته د ساما د ملي احساساتو او ژمنو څرګندویه وه، خپل مخ بیا تور کړي.»

له همدې کبله ول چې د محکمې چاپېریال په خپله له شدید اضطراب سره مخامخ سوی وو. رئیسه هیئت په خپله په عجیب تنګ ګوټ کې راګیر سوی وو. د همدغهٔحالت تر هورتیا د روسیې په یوې معتبرې ورځپاڼې کې غبرګون وموند. له محکمې څو ورځې وروسته د شهید انجنیر زمري صدیق روسۍ میرمنې، نتاشا، دغه ورځپاڼه د څرخي پله د زندان درییم بلاک ته خپل میړهٔ ته راواستوله چې دورځپاڼې په یوهٔ بشپړ ستون کې زموږ د محکمې بهیر خپور سوی وو. په ورځپاڼې کې راغلي ول چې د ساما مشرتابهٔ غوښتل اختصاصي انقلابي محکمه له بن بست سره مخامخ کړي خو اختصاصي انقلابي محکمه به له خپلې لارې وانهٔ وړي.

هر سامايي اسیر د خپل ورکړل سوي تحقیق پر بنسټ د محکمې پر وړاندې دریځ ونیو. د قضایي هیئت او ددوی د هملاسو ملګرو چلند له موږ سره شیبه په شیبه بدلون وموند. په حقیقت کې هر څه په دوه وو کتارونو کې د یو بل پر وړاندې ولاړ ول. خپلواکي او اسارت، زړورتیا او ډارن توب، هېواد پالنه او هېواد پلورنه، عدالت او ظلم، منطق او سفسطه، آزاد اوسېدل او مزدوری/ ګوډاګي توب. لنډه دا چې په یوهٔ کتار کې د ولس دوستان او په بل هغهٔ کې د ولس دښمنان ولاړ ول. په محکمې کې همدا حاکم چاپېریال په بشپړ ډول څرګنده او برجست وو.

د دیوان رئیس غلام محي الدین عمار نور له ډال و ډیل «طمطراق» لوېدلی وو او د ویلو لپاره ئې څه نهٔ درلودل. یوازې هماغه د هرې ورځې موډ سوې خبرې به ئې تکرارولې : « تاسو د دولت د پرځولو هڅه کړې ده، د امپریالیزم تالي څټي یاست، وسله والو فعالیتونو ته مو لاس اچولی دی، دولتي مالونه مو غلا او لوټلي دي.» خو ساما د یوهٔ ملي، ډیموکراتیک او انقلابي سازمان په توګه د افغانستان پرګنو ته ژمنه کړې وه چې د نیواکګرو روسي ځواکونو او د هغوی د ګوډاګي دولت پر وړاندې په خپل ټول ځواک او امکان به مبارزه وکړي. له همدې امله ساما د روسي امپریالیزم او د روس د تالي څټي دولت پر وړاندې مبارزه ئې خپل ملي او انقلابي دَین ګانهٔ او ویاړ ئې ورباندې کاوهٔ.

هتکړېو یو ځل بیا زموږ لاسونو سره پیوند کړل. زما لاس ئې د انیس آزاد له لاس سره وتاړهٔ. سره له دې چې د «اختصاصي انقلابي محکمې» له پلوه پر موږ د اعدام پرېکړه شوې وه خو د هیڅ چا غاړه او ملا ټیټه او کږه نهٔ وه. هیڅ چا د «اختصاصي انقلابي محکمې» «ترحم» او «عدالت» ته سترګې نهٔ وې نیولې. موږ په جګه غاړه، ویاړ او مېړانې له ودانۍ ووتلو.

د عوامو متل دی چې وايي «خربوزه له خربوزې رنګ اخلي او آدمي له آدمي». له آزادۍ او عدالت دفاع، او د مرګ پر وړاندې د سامايي سربښندونکو بې پروايي ټول یاران په وجد او مستۍ راوستي ول، ان هغوی چې له هماغو لومړیو په لوړو سرونو د محکمې تالار ته نهٔ ول راغلي.

صادق هدایت د مرګ په هکله یو چیرې لیکلي چې : «څومره له ویرې او شور ډک لغت دی دا! په اورېدنګ ئې د سړي زړهٔ سوری کېږي، د انسان له شونډو خندا اخلي، له زړونو ښادي اخلي، د انسان د سترګو له مخې تورتم او غم او په

زرهاوو پرېښنانه افکار تيروي.[63]» خو دلته زه له خاص او استثنايي حالت سره مخامخ سوی وم. ما د غرونو په شان هسک سرونه ليدل چې له مرگ څخه يو گام ليرې ول او د ولاړو پښو له مرگه ئـې په سترگو کې ډار نـهٔ وو. حالت او چاپېريال دومره په احساساتو او هيجاناتو ډک وو چې شرحه او بيان ئـې ددغـهٔ قلم له توانه لوړ دی.

«ديگ بخار» موږ د صدارت د کوټه قلفيو د دروازې تر خولې پورې وليږدولو. له ديگ بخاره ئـې کښته کړو. ضيأالحق دې ته اړتيا نـهٔ درلوده چې په هتکړېو کې ئـې کونجي واچول سي. هغـهٔ خپل ډنگر او نری لاس له کړی څخه ايستلی وو. محافظو افسرانو په خښم ورباندې چيغه کړه. ضيأالحق ورته وويل : «زما گناه څه ده؟ لاسونه مې تاسو رامات کړل، تاسو نـهٔ وينئ چې زما ډنگر لاس ستاسو د هتکړیٔ له کړیٔ څخه وړوکی دی!»

کله مو چې پر انگړ باندې پښه ولگېدله انيس آزاد چې يو عيار صفته او زړور انسان وو د اروابښاد داؤود سرمد دغه تلپاتې او حماسي سرود ئـې په خپل ځانگړي راښکون او شور په لوړ غږ ووايـهٔ :

زخونِ خويش خطی می کشـم بسوی شـفق
چـه خـوب عـاشق اين سـرخی سرانجامم
نـويـد فـتـح شــبستــان دهـم به راهروان
ســرودِ رزمِ پــيــام آوران شـود نــامــم
عـقاب زخـمی ام مــی تـوانـی ام کـشتـن
مگـر محــال بود لحـظــه ای کـنی رامــم
تويی که پشت تو می لرزد از تصورِ مرگ
مـنم کـه زنـدگــی ديــگرســت اعـدامــم

(په خپلو وينو به د شفق پر لور يوه کرښه وباسم، څومره د «ژوندانـهٔ د پای» پر دغـهٔ سوروالي باندې مين يم. «خپلو» هملارو «ملگرو» ته به پر تورتمونو باندې د سوبې زيری وکړم، نوم به مې د سربښندونکو مبارزينو لپاره سرود شي. ټپي گوربت يم، بې شکه چې وژلی مې شې، خو ناشوني ده چې د يوې شيبې لپاره مې ايل کړې. دا تـهٔ ئـې چې ملا دې د مرگ له تصور څخه ريږدي، دا زه يم چې اعدام مې بل ژوندون دی)

همځنځيرو ملگرو له انيس آزاد سره يو ځای دا سرود بدرگه کړ. د اعدام ډار او د دار رسی نـهٔ سوای کولای د سامايي زړورو سترگه وسوځوي. عجيبه فضا رامنځته سوې وه. ددغـهٔ ژوند بخښونکي، له صلابته ډک ترنم ترنگ او ازانگه د صدارت تر تيارو کوټو پورې رسېدهٔ او په کوټو کې د بندو زندانيانو مړاوې روح ته ئـې نوی توان ورکاوهٔ.

عيار دلاور که کند ترک سرِ خويش     از خنجر خونريز و سرِ دار نترسد
کله چې زړور عيار له سره تير شي، له ويني بهوونکي خنجر او د اعدام له رسی بيا نـهٔ ډارېږي

[63] - صادق هدايت، مجموعـهٔ آثار،۳۵ پاڼه، د هما چاپ.

سامايي مبارزين په داسي حال کي د کوټه قلفيو انګړ ته ننوتل چي ياد شوی سرود ئـي پر ژبه وو. کله چي انيس آزاد خپل په زولنو تړلی لاس پورته کړ نو زه هم له هغـهٔ په متابعت اړ سوم چي خپل لاس پورته کړم. نورو هم خپل په هتکړيو تړلي لاسونه پورته کړل. ساتونکو او سرتيرو چي په موږ کي دا شورو ږوږ او مستي وليدله ټول له حيرته لاس په غاښ سول.

کله چي د زندان کوټي ته ننوتم د احد رهنورد همدوسيه ملګرو چي دا صحنـه ئـــي د دروازې له سوريو ليدلي وه ګومان کاوهٔ چي موږ له محکمي برائـت ترلاسه کړی دی. کله مي چي ورته وويل چي په مرګ محکوم سوي يو، يو بل ته ئـــي غلي غلي وکتل او په خپلي ناتوانی ئـي وژل. څه نا څه نيم ساعت د صدارت په کوټه قلفيو کي پاتي سو. موږ ئـي د ټينګو امنيتي تدابيرو په ترڅ کي بيرته د څرخي پلـهٔ د زندان لومړي بلاک ته وليږدولو.

شمه ای از داستان عشق شور انګيز مـاست
اين حکايت ها که ازفرهاد وشيرين کرده اند
[دا زموږ د ميني له شور او ږوږ داستان يو بڅری دی، دا داستانونه ئـي له شيرين او فرهاده کړي دي]

د خلق ډيموکراتيک ګوند او د خدمات اطلاعات دولتي «خاد» شنکجه ګري دستګاه، زموږ سازمان په ملي خيانت او له پرديو سره د اړيکي په لرلو تورناوهٔ، (تـهٔ به وايي چي دوی له هيڅ پردي سره اړيکي نـهٔ لرل)! او د ساما څوارلس تنه د مشرتابـهٔ غړي او کدرونه ئـي په همدې تور اعدام کړل. پر ساما له «پرديو سره د اړيکي» د يوازيني تور لاسوند چي دوی محکمي ته وړاندې کړ د ۱۹۸۱ز کال د فبرورۍ په مياشت کي په ډيلي کي د ناپييلو هېـوادونو د باندنيو چارو د وزيرانو کنفرانس ته د سازمانِ آزاديبخش مردم افغانستان سر خلاصی ليک وو چي متن ئـي د همدغـهٔ کتاب په پای کي لوستونکو، تأريخ او د هېـواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو ته د قضاوت لپاره د ضميمې په توګه وړاندې سوی دی.

# اعدام ته انتظار

د چوغکو او مرغیو د شور او ترنګ سمفوني د تحقیق د ریاست د تیارو کوټو تر تله رارسېدله. د همدغهٔ ترنګ او شور په ترنم کې د زړو کارغانو لوړ او بې خونده غږونه هم اورېدل کېدل چې د قاه قاه په ویلو ئـې د تورې تیارې شپې خبر خپراوهٔ. د صدارت د بڼ د ونو پر وچو او زمان وهلو څانګو باندې د مرغیو راټولېدل یوه ورځنۍ او تلپاتې نښرغانده «پدیده» وه، خو په قفس کې بندو اسیرانو د چڼچڼو او مرغانو شور ماشور په بد شګون نیوهٔ. کله به چې اسیرانو د مرغانو شور واورېـد نو د زړونو درزهار به ئـې ډېر سو، دا ځکه چې زندانیان پوهېـدل چې د شپې په راتګ سره د استنطاق او شکنجې عذاب له سره پیل کېـږي.


د مرغانو او چڼچڼو شور د تحقیق د سختو ورځو په یاد وغورځولم. هغه د چا خبره د مردی او مردی تر منځ یو ګام واټن وو، سختې شپې ورځې وې. فکر مې کاوهٔ چې لا تر اوسه تر تحقیق لاندې یم. پهره دار زما د کوټې دروازه خلاصوي او وینم چې مستنطق ورسره د دروازې په خولـهٔ کې ولاړ دی. مستنطق مې له موړونو ډکې لارې تیروي او د شکنجې کوټې ته مې بیایي. د اسیرانو د شکنجې د چیغو او کوکارو غږونو مې غوږ ته راځي. زه او مستنطق چې یو په تړلو لاسونو او بل وینو ته تږی چې د سترګو ګاټې ئـې په وینو سره دي، راته مخامخ ولاړ دی. د مستنطق نیغې سرې سترګې ددې ځرګندویه دي چې له ما څخه د اقرار اخیستلو پریکنده هوډ لري. هغه نقشه چې مستنطق په ذهن کې جوړه کړې وه په اوبو کې لاهو کیږي او خپل همیشنی توحش د خپلې وسلې د وروستنۍ ګولۍ په توګه کاروي. بې هوښه کیږم او ....

د اسیرې مرغۍ په شان په همدغو خیالاتو کې ډوب وم چې پهره دار دروازه خلاصه کړه او وئـې ویل : «ژر سه کالي دې ټول که.» یاران د کوټه قلفیو په وړوکي انګړ کې درېـدلي ول. په آزاده هوا کې د درېـدلو په قدر هغه څوک پوهېـږي چې د صدارت د تحقیق د ریاست په تنګو نمجنو او تیارو کوټو کې ئـې نفس ایستلی وي. افسوس چې د همداسې «خوندونو» لپاره فرصت د انسان د عمر په شان لنډ وي! څو دقیقې وروسته ټینګو اوسپنینو هتکړیو زموږ لاسونه بیا سره وتړل. هغه څوک چې د «اختصاصي انقلابي محکمې» په حکم په مرګ محکوم شوی وي، نو د ماښام په پیلنیزو شیبو کې ئـې له زندانه ایستل هرو مرو په زړهٔ کې ئـې د مرګ ویره خپروي. په مرګ محکوم زنداني، د هر چا د پښو د ګامونو د هر شرپ په اوریدلو، ددروازې په خلاصیدلو او یا د هغـهٔ د «نوم د لوستلو» پر مهال ټکان خوري، او په ناخود آګاه ډول په ذهن کې مرګ، وینه، جلاد، ګولۍ او خندق تجسموي.

شدید امنیتي تدابیر نیول سوي ول. بیا هم له هماغې تکراري خبرې سره چې د زندانیانو د لیږد رالیږد ځانګړی موټر او له چمپ او جول او کنډو کپر ډک ټکانونه ول، مخامخ وو. په هتکړیو تړلو یارانو د «اختصاصي انقلابي محکمې» له ځرګندې رسوایيې، او ددښمن د ناتوانۍ په باب خبرې کولې او د خاد په دا ډول نندارې ئـې ملنډې وهلې. د تور ماښام آسمان ځکالو «خفاشانو» لا نوي د څرخي پلـهٔ د زندان پر برجونو او مورچلونو خپل وزرونه غوړلي ول چې موټر د څرخي پلـهٔ د زندان د لومړي بلاک د دروازې مخ ته ودرېد. موږ ئـې د همدغـهٔ بلاک د ختیځې څانګې پر دویمو او دریمو پوړونو باندې

وويشلو. زموږ د هر يوهٔ ځای ئـې د جلاد حفيظ الله امين پلويو «خلقيانو» تر څنګ وټاکـهٔ. د برخليک خدای موږ يو ځل بيا د روز ګار له يوهٔ بل بوالعجب سره مخامخ کړي وو. د لوړې له لاسه مې نس درد کاوهٔ. که څه هم د صدارت د تحقيق د رياست مرګونو تور تمو کوټو ته زموږ د سپارلو په هماغو لومړيو شيبو کې چاروا کو «په سخاوت» پهره دار ته دا لارښوونه کړې وه چې : « دوی ښـهٔ وساتئ چې زموږ ميلمانـهٔ دي، هر ډول خواړهٔ او څښاک چې غواړي ورته رائـې وړئ» خو له دې سره سره زموږ د ډلې د يارانو له منځه هيڅ يوهٔ له دغـهٔ «امتياز» څخه ګټه وانخيستله. موږ د دا ډول حاتم طايي ګانو په معنی ښـهٔ پوهېدلو، نو له همدې کبله مو لوږه د داسې «حاتم طايي ګانو» پر منت غوره وبلله. د صدارت په کوټه قلفيو کې د پاتې کيدلو د دوه وو ورځو په ترڅ کې او د روس د تالي څټو د منځتشي محکمې د جلساتو په بهير کې سره له دې چې وږی تږی وم خو بيا مې هم ډوډی ته زړه نـهٔ کيده او اشتها مې نـهٔ درلودله. له ځان سره مې وويل چې نن شپه بايد يو شی وخورم. دا د زندان دود دی چې په همداسې يوهٔ حالت کې پخواني زندانيان د تازه راوړل شويو زندانيانو مرستې ته وردانګي او پالنه ئـې کوي.

له هغې ورځې چې د «اختصاصي انقلابي محکمې» قاضي، غلام محي الدين عمار د خپلو روسي سلاکارانو په دستور د ساما د نولس کسيزې ډلې د اعدام حکم صادر کړی وو لا دوه يا درې ورځې تېرېدلې او تر دې دمه ددغـهٔ تالي څټي ګوډاګي د قلم رنګ لا نـهٔ وو وچ شوی. په مرګ محکوم ساماپان د «حضرت» اسمعيل په شان قربانۍ ته چمتو ول. په دې منځ کې زموږ د يارانو په منځ کې يو شمير په دې باور ول چې زموږ د يو شمير همدوسيه يارانو اعدام به په اوږد مهالي حبس واوړي، حال دا چې يو شمير نورو زموږ پر وړاندې د روسانو او د هغوی د ګوډاګي دولت د پرېکنده دريځ په هکله خبرې کولې. ددې ډلې نظر دا وو چې دا په افغانستان کې د روسانو پاليسي ده چې د ملي مقاومت جرړې وباسي. له همدې کبله دا ددوی د اجنډا په صدر کې ده چې هغه سازمانونه او شخصيتونه تس نس کړي چې په هدفمند او آګاهانه ډول د تريګرو روسي لښکرو پر وړاندې درېدلي دي. د همدوسيه ملګرو په منځ کې د يزدان قل زوی انجنير محمد امين د ځارنوال تر لږو تورونو لاندې راغلی وو. هغـهٔ يوازې د اعدام يوه ماده درلودله. دا هيله کـېدله چې دی به د اعداميانو په کتار نـهٔ وي، له دې کبله ول چې يارانو به خپل پيامونو او سپارښتنې دهٔ ته سپارلې. همدا شان ګومان کـېدهٔ چې انجنير زمری صديق به د خپلې روسۍ ميرمنې د لرلو په دليل د ژوندي پاتې کـېدلو چانس ولري. ويل کـېدل چې د زمري صديق ميرمن هڅه کوي چې له اعدام څخه د خپل ميړهٔ د ژغورلو په باب له خپل روسي امتياز څخه کار واخلي. زه پوهـېدم چې روسان زموږ وينو ته تږي دي او چلند به ئـې زموږ پر وړاندې شديد او خونړی وي. ما ساما او خپل زنداني ياران ښـهٔ پـېژندل. له يو شمير همدوسيه يارانو سره مې د باندې ګډ کار کاوهٔ. کله مې چې يو پر بل باندې راتول ددې ډلې فکري- عملي ظرفيتونو، ددوی موخو او آرمانونو ته کتل باور مې نـهٔ کـېدهٔ چې روسي استبداد دې ددا ډول ځلاندو استعدادونو او شخصيتونو د زغملو طاقت ولري.



انجنير محمـد امين

خپله دا اندېښنه مي له انجنير ميرويس سره شريکه کړه. ښـهٔ مي په ياد دي چي يو ځای په دالان کي ګرځېدلو. کله چي ما ورته وويل : «فکر کوم چي موږ ټول وژني»، نو ځای پر ځای ودرېد. مخ ئـي راته راواړاوهٔ او د سترګو په کرارو کاتو کي ئـي راته وويل : «هيڅ پروا نـهٔ لري، موږ هم د عدالت او آزادۍ لپاره د مبارزې په بهير کي په خپلو زړونو کي ګُوره نـهٔ ده پرې ايښي.» انجنير ميرويس ددې جملي په ويلو زه په دې پوه کړم چي «زموږ مرګ د کومي زاني بڼکه» نـهٔ ده او زموږ وينه هسي وړيا او بې ګټي پر ځمکه نـهٔ لوېږي.

څو ورځي مي په لومړي بلاک کي تيري کړې وې چي زما نوم ئـي ولوست. سرتيري لومړي پوړ ته بوتلم. ددغهٔ بلاک دفترونه او شعبات په لومړي پوړ کي ول. يوې کوټې ته ئـي بوتلم. د مېز تر شا بنې آدم ته ورته يو بد ورګی ناست وو. راته روښانه نـهٔ وه چي له کوم ځايه او کومي اداري څخه راغلی دی، د تحقيق له رياسته، له اختصاصي انقلابي څارنوالی، له اختصاصي انقلابي محکمي يا کوم بل ځايه. له ځيرې ئـي کرکي او رخي سخي «کينه» دارې وهلي او داسي ښکارېدل چي په ژوند کي ئـي له کوم انسان سره هيڅ ناسته ولاړه نـهٔ ده کړې. په آمرانه لحن ئـي زما او زما د پلار نوم راڅخه وپوښتل. بيا ئـي له خپلي دوسيي څخه څو پاڼي راوايستلي. دلته مي د خپلي دفاعيي د پاڼو تر څنګ څو پاڼي فورمي هم وليدلي. د همدغو پاڼو په لاندينيو برخو کي ئـي زما د ګوټي نښي راڅخه واخيستلي. کله مي چي يوازې د ګوتو څوکي په رنګ لمدې کړې او د کاغذ پر مخ مي کښېښودلي، په خښمېدلي غږ ئـي چيغه کړه چي : «لوده! د خپلي ګوټي زړه «دلتا» رنګ کړه او د کاغذ پر مخ ئـي کښـېږده، د دلتا په مانا پوهېږې که نه؟» ددغه «مبتکر» «انقلابي» د داسي چلند پر وړاندې مي له ځانه هيڅ ډول غبرګون ځکه څرګند نـهٔ کړ چي پوهېدم دغهٔ مغرور جاسوسګي زموږ د «ستر شمالي ګاونډي» په مدرسي کي د آدميت درس نـهٔ دی زده کړی. کله چي ددويم پوړ دالان ته راغلم، پوه شوم چي نور ياران ئـي هم په همدې موخي بيولي ول. له ټولو يارانو سره همدا ډول له انساني کرامته ليرې سپک سپور چلند سوی وو.

د ګوتو د نښو له اخيستلو دا څرګندېدله چي خاد ګام پر ګام زموږ وژلو ته چمتووالی نيسي. په بله وينا زموږ د وژلو لپاره «قانوني» مرتبات په لاره اچوي.

د زندان د ادارې له ممانعت سره سره کله نا کله نورو کوټو ته د تګ راتګ چانس تر لاسه کېدهٔ. ددې ترڅنګ، په ټاکلو وختونو کي په دالانونو او د بلاک په انګړ کي تګ راتګ د زندانيانو تر منځ ليدني کتني ته لاره برابروله. په زندان کي ول چي موږ د حفيظ الله امين پلويان له نيږدو او ډېر ښـهٔ وپيژندل. ددوی له فردي خصوصياتو نيولي بيا ددوی تر ډله ييزې هغو پورې، او هم ددوی له خپلي منځي ډل بنديو نيولي بيا ددوی د پوهي او آګاهی تر کچي او له تيرو مهالونو سره ددوی په چلند او تفکر ښـهٔ پوه شولو. هيله مند يم يوه ورځ فرصت راته تر لاسه شي ترڅو خپلي اخيستني او جاجونه په دې اړوند د کاغذ پر مخ وليکم.

د لومړي بلاک د ختيځي څانګي يو شمير زندانيان ئـي د بلاک لويديځي څانګي ته وليږدول، زه هم په همدې ډله کي وم. دا مي لومړی ځل وو چي د بلاک لويديځه څانګه وينم. ددې څانګي کوټي د ختيځي څانګي تر هغي لويي وې. له همدې کبله ول چي په هره کوټه کي به ئـي د ختيځي څانګي د کوټو پر تلي ډېر بنديان اچول. همدا شان د هر پوړ تشنابونه ګډ او عمومي

دالان ته ئـي لاره درلودله. سره له دې چې د زندان اداري په دغو ورځو کې قيودات وضع کړي ول خو بيا هم د ختيځې څانگې په پرتلې دلته يو څه آزادي ډېره وه. د زندان د خاد شعبې په هرې کوټې کې خپل جاسوسان ځای پر ځای کړي ول. بدمرغو جاسوسانو به د زنداني وړوکي خبره او هر خوځښت د استخباراتو او د بلاک د قومانداني تر غوږونو رساوۀ. زموږ په کوټې کې د منځني عمر يو سړی وو، نوراني، پاک، اوږده ږيره ئـي درلوده او په درواغو ئـي د پرهيزگارئ ادعا هم کوله. ويل ئـي چې صاحب منصب وو. قران به ئـي لوست او د پينځو وختونو د لمانځـۀ تر څنگ به ئـي نفلي لمونځونه او تهجد هم نـۀ قضا کول. د کوټې يوه بل بندي دی راته راوپيژندۀ او ددۀ له ناشريفه مسلک څخه ئـي خبر کړم. ددغـۀ رياکاره، غلچکي زاهد د رسوا کولو او له مخ څخه ئـي د نقاب ليرې کولو لپاره يو چلوټه زما ذهن ته راغله. کله چې غوښتل ئـي زما له خولې خبره وباسي ځان مې په ناداني او ناپوهي وواهـۀ او غلط معلومات مې ورته ورکړل. جاسوس فکر کاوۀ چې زه ددۀ د قرآن لوستنگ او د ددۀ د «مبارکې ږېرې» ښکار سوی يم. دۀ ته مې ددرواغو يو داستان له ځانه جوړ کړ. ما ورته وويل چې : «زه په همدغو نيږدې وختونو کې نيول سوی يم. درې مياشتې مخکې پاکستان ته لاړم او وسله مې راوړه،» حال دا چې زما له زنداني کيدلو لس مياشتې تيرېدلې. راپورچي خيال کاوۀ چې کوم ساده بدانگ لوده مجاهد ئـي گوتو ته لويدلی دی. دۀ په خوښې او رضايت زما خبرو ته غوږ نيوۀ او په ډېر مهارت ئـي خپلې پوښتنې کولې. د زندان د استخباراتو شعبې دوه ورځې وروسته وغوښتلم. د ميز پر مخ څو داني په غوټو ډکې لندې لښتې پرتې وې. د خاد افسر لښتو ته گوته ونيوله او وئـي ويل : «دغو ته ستاسو په وطن کې څه وايي؟» زه غلی شوم. خپله پوښتنه ئـي په خښم او عتاب تکرار کړه. ومې ويل : «څوک ئـي لرگي او څوک ئـي لښتې بولي.» خاديست وويل : «په دې خو پوه سوې، خو ودې نـۀ ويل چې دا د څه لپاره په کار راځي؟» زه چې ددۀ په موخې پوهېدم، څه مې ونـۀ ويل. دۀ هم خپلې پوښتنې بيا تکرار نـۀ کړې. د شعبې چاپيريال کې د څو شيبو لپاره چوپتيا خپره سوه. د خاد افسر دا چوپتيا ماته کړه او وئـي ويل : « ولې داسې کارونه کوې؟» ورته مې وويل : «کوم کارونه؟» ددفتر مسؤول په عصبانيت ځواب راکړ : «ته په خپله پوهېږې». زه چې د موضوع په بيخ پوهېدم ومې ويل : «زه پرې څه پوهېږم.» خاديست نـۀ غوښتل په خپلې ژبې اصله موضوع راوړي. ما ټينگار وکړ. هغـۀ له ناچارئ وويل : «زموږ همکاران ځوروې. که دې بيا دا کار وکړ نو له خپله ځانه به گيله کوې.»

.

په زرهاوو ځله شکر چې ماجرا همدلته پای ته ورسيده. خپلې کوټې ته راوستل سوم. «عابد» سري په ټيټ سر راته وکتل او هيڅ ئـي ونـۀ ويل. څو دقيقې لا تيرې سوې نـۀ وې چې هغه ئـي زموږ له کوټې دباندې وايست او بلې کوټې ته ئـي بوت.

همدلته ول چې له موسی «مشهور په هزاره موسی» سره آشنا سوم. موسی د هغو زندانيانو له ډلې څخه وو چې د ۱۳۵۸ل کال د مرغومې د شپږمې نيټې له «عمومي عفوې» وروسته هم له زندانه خوشې سوی نـۀ وو. موسی خورا مهربان، له صميمته ډک، زيارگالی، لوړ همته او مقاوم انسان وو. څوک ئـي پايوازئ ته نـۀ راتلل. دۀ به تشنابونه او دالانونه پاکول او زندانيانو به په بدل کې ورته يو لږ شمير پيسې ورکولې.

په لويديځې څانگې کې ډېر پاتې نـۀ سوم. بيا ئـي ختيځې څانگې ته وليږدولم. پهره دار د کوټې دروازه پرانيستله. په کوټې کې د لنډې ږيرې خاوند يو سړی ناست بود. آرام او په طبيعت سوړ وو. کله چې د کوټې دروازه وتړل سوه له ځايه پورته سو او لاس ئـي راکړ. وئـي ويل چې نوم ئـي عبدالکبير دی. د غرمې د ډوډئ وخت وو. يو بل سره مو په گډه ډوډئ وخوړله

او بیا مو غوري وکړي. د خبرو په ترڅ کې پوه سوم چې دی هماغه معلم عبدالکبیر «مشهور په استاد کبیر» دی چې د ګلبدین په مشرتابـهٔ د حزب اسلامي له لوړ پوړو کدرونه څخه وو. اتفاقاً دی هم د همغو زندانیانو له ډلې څخه وو چې د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي له شپږ.مې نیټې وروسته نـهٔ وو خلاص سوی[64].

د همدې ورځې له ځاښت مهال وروسته ئـې دی بلې کوټې ته بوت. زه یوازې پاتې سوم، خو له نیکه مرغه دغه یوازیتوب ډېره موده نـهٔ وو. د همدې ورځې په ماښام ئـې بلې کوټې ته بوتلم داسې کوټه چې د «امین د بانډ» غړو په کې ژوند کاوهٔ.

[64] ـ استاد کبیر د پروان ولایت د خلازیو له کلي څخه وو. وروسته وروسته ورسره ډېر آشنا سوم.ډېره موده وروسته مو سره ډېر وخت د یو بل تر څنګ تیر کړ. په خپلې فکري تګلارې او غوره شوي تګلوري باندې ټینګ ولاړ وو. په ځان او کړوړو کې ئـې صبر او زغم لیدل کیدل. آرام او صبور وو. ورزش ئـې نـهٔ قضا کاوهٔ. کتابونه ئـې لوستل او عربي صرف او نحوه ئـې په زندان کې زده کړل.

# له یارانو سره په قفس کې اوسېدل د ګلبڼ تر چاپېریال ښکلی دی

یوه ورځ له څاښت وروسته ئې زموږ د نولس تنو سامایانو نومونه ولوستل، د زندان اداري موږ ته ددغهٔ سفر موخه څرګنده نهٔ کړه. په همداسې یوهٔ حالت کې د مرګ له تصوره پرته به بل کوم شي زموږ ذهنونو ته لاره موندلې وای؟ د ساما نولس کسیزه ډله د لومړي بلاک ددویم او دریم پوړ په ختیځې برخې کې بندې وه. هماغسې چې مخکې وویل سول ددې څانګې ټولې کوټې د حفیظ الله امین د ډلې «خلقیانو» ته ځانګړې شوې وې. زموږ یاران ئې ددوی په منځ کې ویشلې ول. کالي او اسبابونه مو راټول کړل او له دالانه دباندې ووتلو. غالب ګومان دا وو چې موږ اعدام ته بیایې. ښهٔ مې په یاد راځې چې قدوس غوربندي خپلو خلقیانو ته مخ واړاوهٔ او وئې ویل : «ددوی مرګ یوه ملي ضایعه ده!»

موږ ئې له لومړي بلاکه، دریم بلاک ته ولیږدولو. له یوهٔ ځایه و بل ځای ته د زنداني لیږدول په پیچلو «تشریفاتو» کې ترسره کېدل. په دې خبره یوازې هغه کسان ښهٔ پوهېږي چې د زندان جهنم او د زندانبان بې رحمي ئې تجربه کړي وي. بیا هم د تلاشي، چاڼولو او ورسپارلو له پړاوه تیر شوو. لنډه دا چې زموږ په برخه لیک کې ئې د همدغهٔ بلاک دریم پوړ ټاکلی وو. د یوې لویې دروازې شا ته مو دمه ونیوله، د پولادي دروازې پر غاړه لوی دروند قفل ځړېدهٔ. کله چې دروازه ئې خلاصه کړله ومو لیدل چې کوټه په بشپړ ډول تشه ده. نهٔ نالیچې وې نهٔ چپرکټ. ددې ترڅنګ دا کوټه دونې مرداره وه چې د ناستې کوټه نهٔ بلکه د کثافاتو یو انبار وو. غنو هرې خوا ته خپل نري مزي غځولي ول. موږ ته وویل شول چې همدلته اوسئ. لستوڼې مو رابډ وهل او خیرنه کوټه مو پاکه کړه. زموږ پر سرونو او مخونو دومره دوړې او خاورې ناستې وې چې د یو بل مخونه مو نهٔ پیژندل. موږ ته ئې خیرنې او خوسا څیرې څیرې نالیچې او له خاورو دوړو ډکې کمپلې راوړې. نهٔ پوهېږم چې ولې د زندان مقاماتو پریکړه کړې وه چې د ساما نولس کسیزه ډله تر یوهٔ چت لاندې ځای پر ځای کړي. ښایې غوښتل ئې موږ د نورو له سترګو لیرې وساتي. په هماغهٔ حال کې انجنیر نادر علي «پویا» په خوښمن رضائیت وویل : « څونې ښهٔ سول!». انجنیر امین د اعتراض په ډول وویل : «زندان د شکر کولو ځای نهٔ دی.» نادرعلي وویل : «همدومره چې د یو بل تر څنګه یو دا هم یو لوی غنیمت دی، که په زندان کې اوسو یا د اعدام تر رسی لاندې». دا لومړی ځل وو چې له میاشتو میاشتو شکنجو او تجریدي کوټو وروسته نولسو تنو هم رزمو یارانو د یو بل تر څنګ د ناستې او خبرو کولو اجازه موندلې وه.

لږ وخت وروسته ئې له موږ سره د زندانیانو یوه شل کسیزه ډله چې ډېریو ئې وړوکې وړوکې غوټې «بغچې» له ځان سره درلودې یوه ځای کړه. ددوی له وړکیو غوټو او رنګ بایللو جامو څرګندېدل چې دوی د ټولنې زښت بې وزلې خلک دي. کله مو چې اړیکې ورسره ونیول وئې ویل چې «اعدامیان یو»، په دې مانا چې ټول اعدامیان ئې په یوې کوټې کې سره راغونډ کړي ول چې د وژلو ځای ته ئې وړل آسانه وي. داسې برېښېدله چې دوی ګڼې له بیلابیلو اسلامي تنظیمو سره اړیکې لري.

زموږ د نولس کسيزې ډلې ورزش نــۀ قضا کېـدۀ. شته کتابونه به مو لوستل او له يو بل سره به مو تبادله کول. زموږ خبرې اکثرأ پر سياسي محور راڅرخېدلې. د هغې لاري په سموالي باندې چې غوره کړې مو وه او تر دې ځايه پورې ئـې رارسولي وو د بڅري په اندازې شک نــۀ درلود. معمولاً په هرو پينځلسو ورځو کې به يو ځل د کورنيو غړو د سرتيرو په لاس پاکي جامې رالېږلې. پر يو بل راټول وو د عوامو متل زموږ له حال سره بشپړ سمون خوړ چې وايي « له يارانو سره مرگ جشن دی».

د ورځنيو چارو د لا ښـۀ سمبالولو لپاره ياران په څلورو ډلو وويشل شول يا د زندانيانو په اصطلاح څلور انډيوالی مو واچولې، په دې ډول چې بې پايوازان دې د پايواز لرونکو تر پوښښ لاندې راسي. هره انډيوالي پر يوۀ دسترخوان راټولـېدله. دا لومړي ځل وو چې نولس تنه سامايان په زندان کې د يو بل تر څنگ کښېـناستل. د ټولو له څېرو څخه خوښيو پلوشې خپرولې. د ټولو په منځ کې نادر علي پويا راضي ښکارېدۀ.

يوه څه موده سوې وه چې کورنی مي زما خبر نــۀ وو اخيستی. له يارانو سره پر يوۀ دسترخوان کښېـناستم او هر څـۀ چې دوی خوړل، ما هم خوړل. انيس آزاد به تل راته ويل چې که کوم شي ته اړتيا ولرم دۀ ته ووايم. ددې لپاره چې د کمی احساس ونــۀ کړم د پيسو او د انډيوالی د سمبالولو چارې ئـې ما ته راسپارلې وې. يارانو نــۀ غوښتل چې زه دې لوښې پريمينځم او يا دسترخوان وټکوم او يا ئـې پاک کړم. د يارانو په منځ کې لږ داسې څوک به ول چې د «دنيا پر جيفې» زړۀ وتړي او خپلې پيسې او جامې او خوراک له نورو سره ونــۀ ويشي. دا ډول مرستې يوازې د سامايانو په کړی پورې نــۀ رالنډېـدلې، بلکه د مقاومت ټولو ډلو همدا کار کاوۀ.

ويل شوي چې انتظار تر مرگ لا سخت وي «الانتظار اشد من القتل». ما دا خبره د خپل ځان په ټولو ذراتو لمس کړه. اروابناد علي دشتي په خپل کتاب «ايامِ محبس» کې ليکي : « د اعدام تر رسی لاندې يوه شپه اوسېدل د زرو کالو د سيند د تر څپو لاندې تريخوالي سره برابرې کوي». موږ ته چې د مرگ لپاره مو د انتظار هره شيبه شميرله زمان پرته له دې بله مانا نــۀ درلودله. يوازينی امتياز مو چې درلود دا وو چې د يو بل تر څنگ مو تر دې دمه نفس ايست. بله خبره دا چې دښمن هم موږ داسې نــۀ وو انگېرلي چې گڼې موږ د کوم «بوټي له بيخ» يو چې د زندان کوټو کې ئـې اچولي وو. د خپلې غوره کړې لارې پر حقانيت باور او د خپلو همرزمو يارانو د زړونو د ضربان اوريدل هغه څه ول چې د زندان رنځ او د مرگ د انتظار عذاب ئـې يو څه لږ کاوۀ. ښايي سعدي شيرازي زموږ حالت ښـۀ درک کړی وي چې ويلي ئـې دي :

دمی با دوست درخلوت به از صد سال درعشرت
من آزادی نـمی خواهـم که با يوسف به زنــدانــم

«له دوست سره په خلوت کې اوسيدل تر سل کلن عشرت ښـۀ وي، کله چې له يوسف سره زندان کې اوسم نو آزادي څه کوم»

هغوی چې د استنطاق په بهير کې نــۀ ول توانيدلي چې د تحقيق د لارې له موږونو روغ رمټ ووځي د خپلو يارانو پر وړاندې ئـې د شرم او گناه احساس کاوۀ. د تحقيق په لړ کې ددوی د ضعفونو پر وړاندې د يو شمير يارانو غبرگون ډېر توند

او سخت وو. دغو يارانو د تحقيق په بهير کي ضعفونه يوه نـهٔ بخښل کـېـدونکي گناه بلله، ان دا چي ځينو ويل چي عاملان بايد تحريم سي. نورو په دې کي صلاح ليدله چي ددوی پر وړاندې دې بايد له گذشت او ميراني کار واخيستل سي. د يارانو په منځ کي «پويا» دا ډول سخت چلند تر نيوکو لاندې ونيوهٔ. دی په دې باور وو چي وچ او سخت چلند ددې پر ځای چي گټور وي، تاوان ئـي ډېر دی. دهٔ ويل : «تاسو په خپل دې ډول چلند سره چي عاقبت مو ورته نـهٔ دی سنجولی، تيروتلي کسان خپله په خپل لاس ددښمن لمن ته ورغورځوئ، او دا کټ مټ هغه څه دي چي خاد ئـي له خدايه غواړي. که له تيروتونکو سره بد چلند وکړو دوی ته بله لاره نـهٔ پاتي کـېږي مگر دا چي خپل ځان له يوې مخې ددښمن لمن ته وغورځوي. او په دې سره دښمن کولای سي له دوی څخه زموږ پر ضد کار واخلي. پايله دا کـېږي چي موږ خپله په خپل لاس خپل ملگری ددښمن خولې ته وراچوو حال دا چي زموږ موخه بايد ددوی ژغورنه وي.» يارانو د پويا سلا مشورې ته د تسليم سر ټيټ کړ. سره له دې چي هغه مهال ځوان وم، وينه مې توده وه او له داسې کسانو سره سهيدنه «مدارا» مې د ملگرتوب، مبارزې او مقاومت له لارې سره په ټکر کي گڼله، خو وروسته وروسته په تجربې پوه سوم چي د پويا عالمانه خبرې تر کومې کچې پر ځای او د واقعيت پر بنسټ وې. د زندان تجربې ما ته دا درس راکړ چي تيروتلي کسان نه بايد داسې لغته وخوري چي لا نور هم د خيانت او بدنامۍ په خوسا ډنډ کي ډوب شي. که موږ هره ناروغي د جراحۍ تر تيغ لاندې يوسو نو موږ ته د مرگ په حال کي له يوهٔ ټوکر ټوکر بدن پرته بل څه نـهٔ پاتي کـېږي. دا هغه ښـهٔ درس وو چي ما له پويا څخه زده کړ. يوازې ستر انسانان دي چي ستر فکرونه په خپل سر کي روزي.

موږ ئـې په ورځ کي د يوهٔ ساعت لپاره له کوټې دباندې ايستلو. په «مثلث» کي دننه گرځـېدلو، ځينو به منډې وهلې. سره له دې چي موږ ټول سره يو ځای وو خو موږ ته يو بل ښـهٔ فرصت هم وو چي د عملي مبارزې په لړ کي د تيروتنو پر جرړو خبرې وکړو. که څه هم يارانو يو شمير مسايل تر بحث لاندې ونيول خو د بې تجربگۍ، نازک حالت ، زموږ موقعيت او پر ژوند باندې د اطمينان نـهٔ شتون هغه څه ول چي له دغه فرصته اړينه گټه وانخيستل شوه. موږ ونـهٔ وسو کولای چي د مسايلو په هکله په بنسټيز او منسجم ډول له يو بل سره خپل نظرونه تبادله کړو او اړيني پايلې ورڅخه واخلو، چي په ډله کي ئـې د ساما د تشکل څرنگوالی، د تدارک دوره، په هغـهٔ مهال کي شته د نظرتکې، هغه عوامل چي موږ ئـې په لومه کي راگير سولو او په ملي او انقلابي پاڅون پورې اړوند موضوعات راتلل. افسوس افسوس چي زموږ ياران د ناويل شويو خبرو او پټو رازونو له درمندونو سره يو ځای تر خاورو لاندې لاړل.

د زندان اداري په همدغـهٔ وخت کي يو شمير ملگري وغوښتل. دغه ډول غوښتل او وړل د يو شمير د گنگوسو د زيږون لامل شول. د يارانو په کړی کي ويل کـېدل چي دولت د ساما د مشرتابـهٔ له غړو څخه د همکارۍ غوښتنه کړې ده او ملگري همدا اوس ورسره خبرې اترې کوي. ما له پويا وغوښتل چي په دې باب دې رڼا واچوي. ښـهٔ مې په ياد دي چي موږ دواړو د «پنجرې» گردچاپيره گرځـېدلو. کله مې چي ورته وول : « په دې صورت کي چي داسې ليدنې کتنې رواني وي نو خو ما همداسې يوه گنگوسه اورېدلې ده»..... ما لا بله جمله نـهٔ وه ويلې چي پويا هغه په خپلې دې جملې بشپړه کړه : «زه په تيارهٔ اړخ کي پاتي نـهٔ شم.» ورته مې وويل «باالکل همداسې ده». پويا يو شيبه چوپ سو. لومړی ئـې په آرامۍ د خلق ډيموکراتيک گوند له پلوه د همداسې يوې غوښتنې د واقعيت په باب خبرې وکړې». پويا وويل : «تر اوسه ئـې له موږ څخه څو څو ځله غوښتنه کړې چي خپله پښيماني اظهار کړو او خپله تگلاره تر نيوکو لاندې ونيسو. خاديستانو ويلي چي دا کار به

د تلویزیوني مرکو له لارې عملي وي.» تر دې ځایه پورې پویا په آرامۍ خبرې وکړې. خو کله چې خپل او د یارانو دریځ ئې اعلاناوهٔ، یو ناڅپه په ولولو راغی او د خبرو بڼه ئې شیبه په شیبه ترخه او تونده کېدله. پویا د خپلو خبرو په لړ کې وویل : « روسان او پرچمیان دا ډول غوښتنې له هر چا څخه کوي چې د خپلو تبلیغاتو بازار تود وساتي، خو، مسئله په دوني سادګۍ هم نــهٔ ده. دلته د ولس او پرګنو د ناموس خبره ده، د زمریو د ټاټوبي وقار دی چې د روسانو د نیواک په منګولو کې دی. زړهٔ دې داړه اوسه چې ملګري به دې هیڅکله دا تأریخي خیانت ونــهٔ کړي. مونږ به هیڅکله د خپلو شهیدانو سپیڅلې وینې تر پښو لاندې نــهٔ کړو.»

پویا راستمن او صادق سړی وو. هیڅکله ئې د دوستانو او ملګرو پر وړاندې له دوه مخی کار نـهٔ اخیست. مقابل لوري ته ئـې خپله خبره په صداقت او صمیمت کوله. ما وربانديې ډېر ډاډ درلود. د خبرې او ژمنې تر منځ ئـې تل همغږي وه. په دې سره ما ته بله پوښتنه پاتې نـهٔ وه چې ورڅخه وپوښتم. نور بشپړ داړه سوم چې ددښمنانو په زهرو لړلی غیشی به په خپل ځای ونـهٔ لګېږي. ډېر مهال وروسته مې د پویا ددوسیې پاڼې ولوستلې او دداسې میړنی زړور مبارز ټینګښت او شهامت ته مې د درناوي سر ټیټ کړ چې څنګه ئـې د خاد د مستنطق خلاصه خوله ورماته کړې وه. دا ده له پویا څخه د روس د تالي ځټي دولت هڅې او د هغـهٔ غاښ ماتونکی ځواب :

*ښاغلی نادر علي!*

*آیا د تحقیق د بهیر په رعایت سره، په دې شرط چې له خپلو پخوانیو اعمالو څخه پښیمانه اوسئ،چمتو یاست چې د «ساما» د باند د جنایت او کړو وړو په باب او هم د مائـو انحرافي فکر د جمعي اطلاعاتو له لارې د خلکو غوږ ته ورسوئ که څنګه؟*

*په دې باب خپله پرېکړه ووایاست.*

د مستنطق لاسلیک

*ښاغلیه!*

*زما برخلیک په دا ډول وو چې د سازمان آزادیبخش افغانستان غړی شم. زما لپاره د خپل دریځ په پام کې نیولو سره به د شرم ځای وي چې که د خپل غږیتوب سرچینه له تیروتنې ډک غوراوی او بد مرغه تصادف وګنم. د پورتنی مقدمی پر بنسټ، په «ساما» کې له خپلې ونډې او غړیتوبه د خپل توان په حد کې پښیمانه نـهٔ یم. تر هغـهٔ ځایه چې ما ته راڅرګنده ده «ساما» په ټوله کې او زه هم ورسره، د مائـو له افکارو سره کومه له ژمنو ډکه لیوالتیا او د خاطر تعلق نـهٔ لرم. دا مسئـله مې یوازې د تأریخ د سیاسي قضاوت په حضور کې د توضیح په پار وکړله.*

*په درناوي*

*نادر علي*

د ولت جمهوري دموكراتيك افغانستان

صدارت عظمی

ریاست عمومی خدمات اطلاعات دولتی


مدیریت عمومی (          )

111

| جواب | پوشتنه | نمبر |
| --- | --- | --- |
| محترما<br>[illegible] بر ترتیبی بوده که [illegible] آنها [illegible]<br>مردم افغانستان [illegible] برای [illegible]<br>[illegible] علاوه در [illegible] عضویت [illegible]<br>[illegible] اجتناب و [illegible] ...<br>[illegible] ... [illegible] عضویت [illegible]<br>[illegible] ... [illegible]<br>[illegible] ... [illegible]<br>[illegible] ... [illegible]<br>[illegible] ... [illegible]<br>[illegible] ... [illegible]<br>با احترام [illegible] | [illegible] بادرنگ<br>ریاست [illegible] صاحب<br>[illegible] تحقیق<br>[illegible] اعمال [illegible]<br>[illegible] پناه [illegible]<br>[illegible] و اعمال<br>[illegible] و [illegible] اعمال<br>[illegible] اطلاع<br>[illegible] اطلاعات<br>[illegible]<br>[illegible]<br>[illegible] اعلام [illegible] | |

وروسته بیا خبر سوم چې پر پویا سربیره، انجنیر میرویس، انجنیر محمد علي او محمد نعیم ازهر څخه ئې هم همداسې له شرمه ډکه غوښتنه کړې وه. یو ځل مې له انجنیر میرویس څخه پوښتنه وکړه چې د تلویزیوني مرکې لپاره د دولت د غوښتنې او د ملګرو د پښیمانۍ خبره چیرته ورسیدله؟ میرویس یوازې یوه لنډه جمله وویله : «که ټوله نړۍ روسان او پرچمیان وبخښي، موږ ددې لپاره هغوی نـهٔ بخښو چې دوی آغا صاحب وژلی دی.» له «آغا صاحب» څخه ددهٔ موخه ارواښاد عبدالمجید کلکانی وو. دا وې د آزادۍ او خپلواکۍ د دنګو قامتونو په زنګون کولو لپاره د روسانو او د هغوی د مریېو تالي څټو نوکرانو ناکامې او له شرمه ډکې هڅې!

په دغـهٔ یو ساعت کې چې موږ ته ئـې اجازه راکړې وه موږ به په مثلث کې ګرځـېدلو او سپورت به مو کاوهٔ. هوا زښته ډېره توده وه، زموږ له ټوله ځانه خولې بهـېدلې. د زندان ادارې د یوهٔ لنډ وخت لپاره د یو شمیر کتابونو د لرلو لپاره اجازه ورکړه چې زندانیان ئـې له خپلو پایوازانو وغواړي. دا موږ ته یو لوی غنیمت وو. د همداسې کتابونو په لړ کې «مثنوي معنوي»، د «حافظ دیوان»، د رضا براهني «طلا در مس»، روسي داستانونه او یو شمیر په انګلیسي ژبې کتابونه راتلل. دا کتابونه به لاس په لاس کـېدل او ټولو یارانو ورڅخه ګټه اخیستله. نعیم ازهر به د «طلا در مس» د ادبیاتو او نورو ادبي سبکونو په هکله مالومات ورکول. ډاکټر عبدالواحد رائـین هوښیار، نازک فکره، نازک خیاله او د شوخ طبعیت خاوند وو. دهٔ به په خپلو خوږو خوندورو خبرو ټول خندول او خوشحالول. شاهپور روئـین قریشي به په ځانګړې وقار په یوهٔ ګوټ کې ناست وو او ډېرې لږ خبرې به ئـې کولې. دنګه ونه ئـې درلوده او هډَوَر سړی وو. سپورت سره ئـې چنداني علاقه نـهٔ درلوده. په مثلث کې دننه به په درندو او سوکه سوکه ګامونو ګرځـېد. د خبرو پر مهال به ئـې په خپله ګوته کې د سرو زرو کړۍ تاووله.


ډاکټر عبدالواحد

دهٔ به د خپلې بې ګناهۍ په باب خبرې کولې؛ دی ئـې د ساما د سازمان د غړیتوب په تور راوستی وو خو دهٔ به ویل چې داسې یوه ادعا حقیقت نـهٔ لري.

یوه ورځ ئـې ما ته د خپل زړهٔ راز ووایـهٔ. له ساما سره ئـې د پیوستون او پریکون په هکله خبرې وکړې. دهٔ ادعا کوله چې د ساما د تشکل له پیله ئـې له ملګرو سره همکاري کړې ده خو د مباحثاتو لړۍ دی دې پایلې ته رسولی چې نور نـهٔ شي کولی له ساما سره همکاري وکړي ځکه د یو شمیر دوستانو له افکارو او برداشتونو سره موافق نـهٔ وو. له همدې کبله ئـې له هماغه لومړیه له ساما څخه واټن ونیوهٔ. دهٔ یوازې په همدغو وروستیو کې بیا غوښتل چې د ساما له مرکزیت سره خبرې اترې وکړي چې د خاد له پلوه ونیول شو.

انجنير ميرويس ستړی ستومانه ښکارېدۀ. خپل ډېر وخت ئـي په چوپتيا کې تيراوۀ. هغه د خپل کرکټر له اړخه هم آرامه سړی وو. تر هغـۀ وخته پورې ئـي خبرې نـۀ کولې که دې ورڅخه څه نـۀ ول پوښتلي. انجنير ميرويس د درک خاوند، د قلم او مطالعې اهل او پر سياست ئـي پياوړې احاطه درلودله. کله دې چې ورسره خبرې پيلولې نو هغه مهال پوهېدلې چې له عالم او مالوماتو ډک سړي سره مخامخ ئـي.

انجنير محـمد علي کولای شم د بې سارو انسانانو په کتار کې وشمارم. ما له دۀ څخه صبر او زغم زده کړل. دی مؤمن او صادق انسان او په خپل دود او لارې ټينګ ولاړ سړی وو. د خپل ځان په هکله ئـي ځکه ډېر لږ څه ويل چې خپل برخليک ئـي د خپل سازمان له برخليک سره غوټه کړی وو. هميشنی وسواس ئـي دا وو چې «د سازمان کار به څنګه سي؟» او يارانو به تل ورته په يوې مهربانې موسکا ځواب ورکاوۀ. سپورت ئـي نـۀ قضا کاوۀ او نور خلک ئـي سپورت ته هڅول. نيک چلنده او صميمي انسان وو. ما هيڅکله ددۀ په تندي کې د ستړيا نښې ونـۀ ليدلې. هماغسې چې د تحقيق په بهير کې ددۀ مقاومت بې سارى وو د مبارزې د لوړو ژورو او د زندان د سختيو پر وړاندې دی بې سارى وو. ددۀ زورتيا کولای شو ددۀ د تحقيق د متن له مخې وانګيرو، ددۀ د تحقيق پاڼې د ساما لاس ته رسيدلې دي او د ساما په آرشيف کې خوندي دی :



انجنير محـمد علی

*لومړۍ پوښتنه : لطفاً واضح کړئ چې هره مياشت مو څومره حق العضويت ورکاوۀ؟*

*ځواب : نـۀ وايم*

*دويمه پوښتنه : څه سبب دی چې تاسو په رښتيا ويلو نـۀ قايله کـېږئ؟*

*ځواب:ستاسو پر وړاندې يو ځواب : نه*

*دريمه پوښتنه : /زما/ پر وړاندې يا زما د ملګرو پر وړاندې، واضح کړئ.*

*ځواب : ستاسو ټولو پر وړاندې.*

*څلورمه پوښتنه : سازمانـي هيڅکله دروغ نـۀ وايي اوس چې تاسو دروغ واياست واضح کړئ؟*

*ځواب : دا دروغ نـۀ دي.*

هرگز چنين سری را تيغ اجل نَبُرّد کاين سر ز سر بلندی بر ساقِ عرش سايد

«هيڅکله به داسې سر تيغ پريک نـۀ کړي چې له ډېرې سرلوړی، سر پر عرش موښي»

لاندې تاسو د انجنير محـمد علي د تحقيق ۱۲۰ پاڼه ګورئ

ورق ۱۲۰

تقدیم میکنم

۱۲۰

[illegible] راجع به شما زیاد [illegible] چه بوده [illegible]
[illegible] بیرون افتید؟

در مقابل شما [illegible] جواب [illegible]

س: چطور که شما که [illegible] قاتل نبوده [illegible]

در مقابل همه شما [illegible]

[illegible] در مقابل [illegible] در مقابل [illegible] دروغ [illegible]

[illegible] شما زمانی هیچگاه دروغ نگفته بودید
دروغ [illegible] و دروغ شما زیاد [illegible]

ابدا دروغ نیست.

د قاضي احمد ضیأ په هکله به څه ووایو؟ داسي انسان کولای شو د انقلاب آبرو او عزت ونوموو. که د ساما د مشرتابـهٔ دا ځوان غړی ژوندی پاتي شوی وای هیڅ شک نـهٔ شته چي دی به د افغانستان د ملي او انقلابي پاڅون یوه ستره هیله وای. قاضي ضیأ د خپلو خبرو پر مهال په خپلو ځیرکو او تیزو کاتو به مقابل لوري ته کتل او په ډېري حوصلي به ئـي خبرو ته غوږ نیوهٔ. اوریدونکی به ددهٔ د قوي منطق او خواږه کلام تر کوډو لاندې راغی. قاضي ضیأ به له حجت پرته خبره نـهٔ منله. د رودکي په تعبیر : «مادرِ آزادگان کم آرد چنین فرزند.»

ضابط ضیأالحق مي په یاد راځي چي په خپل نري قامت، ډنگر اندام او په بنداژ کي پیچل شویو لاسونو سوکه سوکه دیخوا ایخوا گرځېدهٔ. کله به ئـي چي له چا سره خبرې کولې نو خپل ستومانه سترگي به ئـي د اوریدونکي سترگو ته نیغي کړې. هغـهٔ به د «انجنیرانو د جبهې[65]» په هکله قصي کولې او د مورچل د نامتو کسانو نومونه به ئـي اخیستل. ضیأالحق د جنرال قادر پر وړاندې له خپل فزیکي ټکر څخه قصه کوله، هماغه جنرال قادر چي وروسته ئـي د غوایي په کرغیړنـي خونړۍ کودتا کي کوټلې ونډه واخیستله او ددفاع د وزارت مقام ته ورسید. د خپل نیول کېدلو دردناکه او ترخه پېښه ئـي راته داسې وویله : «یو هېـدم چي خاد زما د نیولو لپاره راځي. ځان مي تگ ته چمتو کړ. بوټان مي واغوستل او په کور کي کښېناستم. کله چي د انگړ دروازه وټکـېـدله دروازه مي خلاصه کړه. خادیستانو پوښتنه وکړه : ضیأالحق کور کي دی؟ ورته مي وویل: زه په خپله یم او تاسو سره تگ ته چمتو یم. هغوی په تعجب سره یو بل ته وکتل. په حقیقت کي خپله په خپلو پښو زندان او اعدام ته راغلم.»

ضیأالحق د خپلو لاسونو د ماتېدلو ترخه قصه په دې ډول وکړه : «د صدارت د تحقیق د ریاست مستنطقینو راباندې ډېر فشار راووړ چي خپله قفل شوې خوله خلاصه کړم. پرله پسې به ئـي د شپو له پلوه شکنجه کولم خو د خادیستانو جسمي شکنجو دوی ته کومه گټه نــهٔ رسوله. یوه شپه نیمایي شپه وه چي بیا ئـي د شکنجي کوټي ته بوتلم. د صدارت د تحقیق د ریاست د رئـیس جنرال غني په گډون څو تنه خادیستان او یو روسي سلاکار ناست ول. جنرال غني چي مخکي هم شکنجه کړی وم له ځایه پورتـه سو او په گواښنجنه ژبه ئـي راته وویل : « ستا د کورنـی ټول غړي مو راوستي دي. که اعتراف ونـهٔ کړې هغوی به ستا د سترگو مخ ته شکنجه کړو.» د جنرال غني خبرې مي چنداني جدي ونـهٔ نیولې او هسې ډارول مي وانگیرل. جنرال غني وویل : « روښانه ده چي د خپلې کورنـی پروا هم نــهٔ لرې؟» د تحقیق رئـیس یوهٔ خادیست ته اشاره وکړه. خادیست لـه کوټي دباندې ووت. پینځه دقیقي لا نـهٔ وې تیرې شوې چي د ماشومانو او ښځو چیغي مي غوږو ته راغلې. ددغو چیغو او کوکارو په اورېدلو مي زړهٔ سخت په درد راغی او درد مي څو چنده نور زیات سو. گومان مي کاوهٔ چي زما ټوله کورنـی ئـي تر شکنجو لاندې نیولې ده. رواني حالت مي د کرکیچ په منگولو کي پریوتلی وو. ځمکه او آسمان راباندې تور تم شول. د ژغورنې په فکر کي وم. له ځان سره مي ژمنه وکړه چي مړ به سم خو خپله ژبه به په خیانت

---

[65] ـ په ۱۳۵۸ل کال کي یو شمیر سامایانو د هرات په ختیځ کي دا مورچل سمبال کړ. که څه هم ددغـهٔ مورچل نوم «د انجنیرانو جبهه» نـهٔ وو خو خلکو په همدغـهٔ نامـهٔ پیژنده. دلیل ئـي دا وو چي ددغـهٔ مورچل ډیري کسان انجنیران ول. ددې جبهې مشري اروابښاد انجنیر کریم پر غاړه درلوده او سیاسي مسؤول ئـي اروابښاد ماما غلام محمد وو. د انجنیرانو جبهې وکولای سول څو کلي د «خلق او پرچم» د گوډاگي دولت له ولکې آزاد کړي. ډېر وخت له نـهٔ وو تیر سوی چي دا جبهه د ډیریو نورو ځایونو په شان له دوه وو خواوو، دولتي ځواک له یوې خوا او د شیر آقا چونغر تر مشرۍ لاندې د بدنامو ملیشو او له بلې خوا د جمعیت اسلامي د ډلو له لورې تر برید لاندې راغله. د همدغو بریدونو او یرغلونو په پایله کي د جبهې گڼ شمیر پوځي او سیاسي کدرونه ووژل شول او جبهه تس نس شوه.

خلاصه نــهٔ کړم. د دوبي د ګرمی په خاطر د تحقیق د کوټې د کړکی یوه پله خلاصه وه. په یوهٔ ټوپ مې ځان له کړکی لاندې واچاوهٔ. یوازې د ښیښو د ماتیدلو غږ مې واورېد. او پر ځمکه ولګېدم. زه ئـې څلور سوه بستري روغتون ته ولیږدولم. ما کوښښ کاوهٔ چې ځان له پاسه په ککره وغورځوم خو افسوس چې داسې ونــهٔ سول. ځان مې له درې پوړو لاندې غورځولی وو خو مړ نــهٔ سوم. یوه موده مې په روغتون کې تیره کړه.... دوه ویشت ورځې مې لوږ تږ «غذایي اعتصاب» وکړ. خادیستانو هڅه کوله چې زما لوږ تږ مات کړي خو ما ویل چې ترڅو د خپلې کورنی یو غړی ونــهٔ وینم هیڅ شي ته به خولــهٔ ورونــهٔ وړم. هماغه وو چې یوه ورځ ئـې د دریو یا څلورو دقیقو لپاره زما ورور د صدارت انګړ ته راوست. د هغهٔ په لیدلو مې زړهٔ ټول او لږ څه کرار سو.»

ضابط د شپې له پلوه مخکې له دې چې بیدهٔ سي، ممیز ئـې پریولل او هغه به ئـې په یوهٔ کوچني مرتبان کې له لږ اوبو سره اچول. پر سر به ئـې یو کاچوغه ځواک – شربت ورزیات کړ. سهار وختي له سبا ناري مخکې به ئـې هغه په یوهٔ ګیلاس کې واچاوهٔ او په ډېرې مینې به ئـې ماته په لاس کې راکاوهٔ.


انیس آزاد زړور مبارز او انقلابي شاعر به په خپلې هماغه ښکلې عیارانه ادا د ارواښاد عبدالمجید کلکاني د حماسي ژوند له سرګذشت څخه قصې کولې. څنګه ونیول سو او څومره شکنجې ئـې وزغملې او همداسې ئـې راته ویل. خپل نوي شعرونه به ئـې موږ ته ویل. د پایوازیو په ورځو به یوهٔ ګوښې ګوټ ته لاړ او خپلې جامې به ئـې په پټه لټولې. میرمنې به ئـې لنډ مطالب ورته د نخي ټوکر پر مخ لیکل او په ډېر مهارت به ئـې د کالیو په استرونو کې ورته ځای پر ځای کړي ول. همدا شان انیس به خپل تازه اشعار او پیامونه د خپلو خیرنو جامو په ولونو کې ګنډل او خپلې میرمنې ته به ئـې لیږل. ما لیدل چې انیس له دې راکړې ورکړې څومره خوښ وو.

زموږ د کوټې په ګوټ کې یوه بله وړوکې کوټه وه چې دروازه ئـې قفل کړې وه. ددروازې له پولادینو میلونو څخه د کوټې منځ ښکارېدهٔ. په دې کوټه کې ئـې د سرتیرو دریشی انبار کړې وې .انیس د دریشیو په لیدلو چورتي سو او بیا ئـې وویل : « که له دغو دریشیو څخه یوه دریشي مې ګوتو ته راسې د تیښتې چانس راته سته دی.» ما ورته وویل : «دا څنګه ممکنه ده؟» وئـې ویل : «د پایوازیو په ورځو ګڼه ګوڼه ډېره وي، سرتیري له دباندې د زندانیانو پاکې جامې راوړي او له زندانیانو څخه د هغوی خیرنې جامې اخلي او بیرته ئـې کورنیو ته ورسپاري. تــهٔ زما د سرویښتان راته وخریه چې له سرتیرو سره همرنګه سم. زه له دغو دریشیو څخه یوه ئـې اغوندم، د کالیو غوټه په لاس کې نیسم او له زندانه دباندې وځم.»

پلان په زړهٔ پورې ښکارید، خو څنګه مو کولای سوای چې دریشي له دې وړوکې کوټې څخه دباندې راوباسو؟ څو ورځې مو په دې هکله فکر وکړ چې که څه ومومو چې په مرستې ئـې دا جامې له دې کوټې راوباسو، خو ولیدل سول چې په زندان کې ان یوې کوچنی هیلې ته رسېدل ناشوني ده. دا هیله هم د نورو هیلو په شان لولپه سوه. د هماغې وړوکې کوټې منظره، د سرتیرو دریشی، د انیس آزاد نقشه جوړول او تیښتې ته د هغـهٔ د لیوالتیا مې لا تر اوسه له ذهنه نــهٔ لیرې کیږي.

نادر علي «پويا» د ښتي ډېرې ساده ژوند بڼي په لرلو يو بي ريا انسان وو. که ورسره مخامخ شوی وای نو تا به گومان کاوه چې له کوم جدي او تونـد مزاجه سړي سره مخامخ ئې، خو همدا چې ورسره آشنا سوې، هلته به دې د هغـه سادگي، صداقت او سپيڅلتيا ليدلی وای. هيڅکله ئې له دوستانو سره رسمي چلند نـه کاوه. ما ته به ئې ويل : «انډيواله راواخله د شمالي دوه درې سندرې راته ووايه چې زړه مې ډېر تنگ سوی دی.» ما به ورته ويل : «پويا صاحبه! کاشکي مې ښـه غږ درلودای.» دهٔ به ټينگار کاوه «هي بابا!ووايه سړيه څه کوې» ما نـه سوای کولای د هغـه فرمايش پر ځمکه واچوم. پويا به خپل ښی لاس زما پر لاس کښېښود او ويل به ئې :«راځه چې زور ازمايي وکو». خو دهٔ به زما لاس پر ځمکه څملاوهٔ او ښـه د زړه له زوره به په کړس کړس کړس په خندا سو.

نادر علي دهاتي «پويا» سره له دې چې يو عالم انسان وو خو هيڅکله به ئې داسې چل نـه کاوه چې خپله پوهه او علميت د چا مخ ته راوباسي. کتاب به ئې د ژوند ملگری وو. زنگانـهٔ له سره نـهٔ ليرې کېدهٔ. ډېرې وختونه به په مطالعې کې ډوب وو. که مې د مطالعې پر مهال ورڅخه د کوم شي پوښتنه کوله په تندي کې به ئې غوټه راپيدا سوه. له مطالعې وروسته به په فکرونو کې ډوب ننوت. ورڅخه به مې پوښتل : «پويا صاحبه! کوم څه دې زده کړل که نه؟» يو سوړ اسويلی به ئې له زړه راوايست او په نرمی به مې ځواب راکړ : « پوهه خو په ډېر کتاب لوستنگ نـهٔ ترلاسه کېږي. ددې لپاره چې پوه سئ نو لږ تر لږه بايد درې څلور کاله پرله پسې مطالعه وکړئ. افسوس چې د آدمي چا ته عمر کفاف نـهٔ ورکوي.» ورڅخه به مې پوښتل : « د لږ تر لږه پوهې لرل په کومو مسايلو کې رانغښتل کېږي؟» ځواب به ئې راکړ : « انسان بايد د اوږدو کلونو لپاره رياضي، ادبيات، تأريخ، سياست، الهيات، فلسفه او اقتصاد ولولي، له دې وروسته ښايي د عِلِم له اَسرارو څخه به په کوم بڅری پوه سي، دا په خپله درې څلور سوه کاله عمر غواړي. له همدې کبله ده چې آدميزاد دنيا ته نادان راځي او نادان له دنيا څخه ځي.» بيا به ئې خبرې طنز ډوله سوې او موږ به ئې د پوهې او مطالعې اهميت ته رابللو.



انجنير نادر علي دهاتي

يوه شپه د يارانو مجلس ښـهٔ تود وو او هر چا له دېخوا اېخوا قصې کولې او يا به ئې بل ملگري سره د کومې موضوع په هکله خبرې کولې، چې په دې حال کې پهره دار زموږ کوټې ته راغی. د ټولو له منځه ئې يوازې پويا له ځان سره بوت. ياران ټول غمجن سول. غيابت ئې اوږد او نور پسې اوږد سو. پوه سو چې څه خبره سوې ده. په خپلو منځو کې به مو ويل اعدام ته ئې نـهٔ وي بيولی. زموږ کوټه د دالان په وروستي سر کې وه او په دې ډول مو کولای سوای د پنجرې د ميلونو له کتار څخه دالان وگورو. له يوهٔ ساعته وروسته مو وليدل چې په دالان کې درېدلی دی. ټول ياران د پنجرې څنگ ته ودرېدل. پښې ئې لوڅې او وېښتان ئې گډ وډ سوي ول. پوه سولو چې د زندان د خاد دفتر وهلی دی. د لاس په اشارې مې ورڅخه د پښې په باب پوښتنه وکړه. دی چوپ ولاړ وو او غبرگون ئې ونـهٔ ښود. ددهٔ دا حالت ټول نا آرامه او قهرولي

ول. نــۀ پوهېدلو څه وکړو. په دې شيبه کې د «زبير احمد ورور» انجنير حسين بې صبره سو او موږ ته ئــې په خطاب کې وويل : «نور څه شي ته منتظر ياست، نور نو له څه شي ډارېږئ؟ موږ خو اعدام ته سترګي په لار يو.» يو ناڅاپه ئـې خوله په چغيو او ښکنځلو خلاصه کړه : « اې بې ناموسانو! موږ تاسو ته اخطار درکوو چې که تر بل نيم ساعت پورې زموږ ملګرى خوشي نــۀ کړئ موږ ټول به لوږ تړ «اعتصاب» وکړو.» نورو يارانو هم احتجاج وکړ. د پهره دار بې ګټو ګواښونو او اخطارونو و نـۀ سواى کولاى موږ غلي کړي. پهره دار له ناچارى لاړ او د زندان ادارې ته ئـې خبر ورکړ. نيم ساعت لا تير سوى نــۀ وو چې پويا کوټې ته ننوت او لنډ په لنډه ئـې سګريټ پر شونډو کښېښود او وئـې لګاوۀ. د زندان د خاد آمر پويا په دې وهلى ډبولى وو چې ولې دې په زندان کې دننه شور ماشور جوړ کړى وو؟ موږ هيڅکله پوه نـۀ سو چې ولې خاد په داسي يوۀ حالت او شيبې کې پر پويا داسي بې ځايه پلمه ونيوله.

د پويا په راتګ سره له هغـۀ سره د زندان د ادارې په باب زموږ ښېښم ځکه کرار کرار سوړ سو، ځکه چې زموږ موخه تر لاسه سوې وه او تر دې پورته مو بل څه نـۀ سواى کولاى. په رښتيا هم چې «رينه «دَرَوش» او سوک سره برابر نــۀ دي.»

# «د لیډرانو کوټه»

له دې پېښې وروسته ډېر ژر بل ځای ته زموږ د کډې کولو امر وسو. موږ ئـې د «مخکينۍ کوټې له پاسه» د څلورم پوړ کوټې ته بوتلو چې د «لیډرانو» (رهبرانو) د کوټې په نامـهٔ يادېدله، ښايي دا کوټه ئـې ددې لپاره د ليډرانو د کوټې په نامـهٔ يادوله چې په نښه او غوره شوي زندانيان ئـې دلته راوړي ول. دا کوټه تر ستوني په زندانيانو ډکه وه. د ټولو انقلابي سازمانونو غړو او پلويانو چې زموږ سازمان په کې هم راتـهٔ - موږ ته د ملګرتوب په چاپيريال کې ښـهٔ راغلاست ووايـهٔ. ډاکټر فخرالدين شهيد زموږ د هر يوهٔ جلا جلا خبر اخيستـهٔ. ددهٔ له مينې او خلوص ډک چلند او خالصانه خدمات د ټولو زندانيانو په حق کې وو. موږ همدلته، زموږ د سازمان په ګډون د انقلابي سازمانونو له کدرونو سره آشنا سولو.

په دې کوټه کې د چپرکټ ځرک نـهٔ لګېدهٔ. زندانيان د لويې کوټې د غولي پر مخ د يو بل تر څنګ ناست ول. د ناستې ځای نــهٔ وو. تازه راغلو هڅه کوله چې ځانته ځای ومومي. کله چې د مير علم «چې له زندانه دباندې ورسره آشنا وم» سترګې په ما ولګېدلې مخې ته ئـې رامنډه کړه او له ځان سره ئـې بوتلم او خپل څنګ کې ئـې راته ځای راکړ. دلته مي پام سو چې پويا د تشناب د دروازې تر څنګ ځای نيولی دی. ورته ورغلم او غوښتنه مي ورڅخه وکړه چې زموږ څنګ ته دې راسي خو دهٔ زما خبره ونــهٔ منله. ډاکټر مير فخرالدين د ډېرو ستونزو له ګاللو وروسته پويا ته قناعت ورکړ چې يوهٔ مناسب ځای ته لاړ سي.

په کوټه کې د زندانيانو شمير تر دې حده وو چې مجبور وو خپلې څپلې تر نالیو لاندې کېښـېږدو او بالښت ئـې جوړ کړو. په همداسې يوهٔ حالت کې د انساني طبيعت له مخې طبعاً ټوکې ټکالې هم کـېږي. د دريم بلاک افسر قربان سعيد چې زموږ د ځای پر ځای کولو مسؤول وو (او د زندان د اکثرو افسرانو په شان «ماشيني» او بې سواد وو» د ځای د تنګوالي په خاطر فرمان ورکړ چې : «دوه نالۍ/توشکې د درو نفرو لپاره!» بصير بد روز ته چې د قربان سعيد بې شعوري څرګنده وو په ټوکو وويل : «ضابط صاحبه! نـهٔ شي کېـدای چې درې تنه په دوه وو نالیو بيدهٔ سو؟» قربان سعيد په چيغو وويل : «نـه! څه چې زه وايم. يوازې دوه نالۍ د درو تنو لپاره[66]» په دې توګه، موږ مجبور وو داسې بيدهٔ سو چې د يوهٔ پښې د بل سره ته راسي.

د «ليډرانو په کوټه کې» د بيلابيلو کينډ لاسو او ښي لاسو ګوندونو او ډلو نيږدې دوه سوه تنه چې بيلابيل سياسي، او د ژوندانه سلک او چلندونه او ايډئـولوژيک نړۍ ليدونه ئـې درلودل بنديان ول لکه : د حکمتيار د حزب اسلامي غړي، د جمعيت اسلامي، اتحاد اسلامي، حرکت انقلاب اسلامي او نور؛ همدا شان د انقلابي سازمانونو غړي او کدرونه لکه : پيکار برای نجات افغانستان، سازمان رهايي افغانستان، سازمان انقلابي وطن پرستان واقعي «ساوو»، ګروه اخګر او سازمان آزادیبخش مردم افغانستان «ساما».... د زندان د ميلو تر شا ژوند، چار چلند او د انسانانو معاشرت او راکړه ورکړه تر دباندې له زندانه توپير لري. دا دواړه چاپيريالونه له يو بله بېل دي. د زندان دننه او له زندانه دباندې معيارونه له يو بله بېل دي. زنداني نـهٔ شي کولی د جګړې د ډګر تقابل دننه زندان ته راوړي. هغوی چې له زندانه دباندې د يو بل وينو ته تږي ول

---

66 - په ۱۳۶۱ل کال کې د دريم بلاک د قوماندان نوم شير آقا وو او د بغلان ولايت له کومې اړوندې سيمې څخه وو.

نن په زندان کې دننه د یو بل تر څنګ ناست دي. دا په دې مانا نـهٔ ده چې د دوه وو متقابلو لوریو تر منځ کرښې زندان ته له راتګ سره سم نور بیخي له دننه او دباندې ونړېږي، بلکه دا په دې مانا ده چې په زندان کې دننه معایر او ضوابط ځانګړي دي. زندان د مبارزې او هڅې د پای په مانا نـهٔ ده بلکه د هغه دوام دی، یوازې بڼه ئـې دلته توپیر مومي. کېدای شي د زندانیانو سیاسي – فکري دریځونه له یو بله بېل یا ان متضاد وي. همدا شان د قضایاوو او مسایلو پر وړاندې د افرادو شخصي سلیقې او اخلاق کېدای شي له یو بل سره موازي، مختلف او یا په نیغې کرښې سره یو ځای ولاړ نـهٔ سي. له دې ټولو تضادونو او بېلابېل تیاوو سره سره ټول زندانیان مجبور دي تر یوهٔ چت لاندې سره کښېـني او د یو بل تر څنګ ژوند وکړي.

د ساما د نولس کسیزې ډلې په باب باید ووایم چې هغوی هر چیرې، او په هرې شیبې او موقع کې ټولو ته د خپلې لارې حقانیت، تفکر، شایستګی، لیاقت، زړورتیا، پوهې او ښو اخلاقو بېلګې ښودلې. هغوی نـهٔ څېله کښېـناستل او نـهٔ ئـې دروازې د هر چا پر مخ خلاصې پرېښودلې. د «لیډرانو د کوټې د اکثریتو زندانیانو» د حبس موده ټاکل سوې وه حال دا چې نور خپلو اعدامونو ته سترګې په لاره ول.

په دې کوټه کې پر ډاکټر میر فخرالدین، استاد دوست محـمـد (د اخګر له سازمان څخه)، استاد صالح (د پیکار له سازمان څخه)، غلام فاروق حقبین (د ساما)، اسحق جبران (د ساما)، بصیر بد روز (د ساما)، کبیر توخي (ساوو)، ډاکټر حمید سیماب (ساوو)، محسن وارسته (جبهه متحد ملي)، استاد عبدالله (د اخګر له سازمان څخه)، عارف فرحت (ساما) سربېره د کېنې لاس د سازمانونو غړي هم ول.

له اسحق جبران سره د ۱۳۵۹ل کال د غبرګولي په میاشت کې آشنا سوی وم. دی مې د فولاد په مستعار نامـهٔ پېژاندهٔ. له زنداني کېدلو مخکې مې په یاد راځي چې له سره تر پایه انرژي وو. په بې ساري شوق او مینې ئـې کار کاوهٔ. شپه او ورځ به ئـې نـهٔ پېژندله او د ساما د تشکیلاتي بنسټ د ټینګښت لپاره به ئـې په مینې منډې ترړې وهلې. کله مې چې دی په زندان کې ولید، ډېر ستړی، ستومانه او رنځور ښکارېدهٔ. عمر دې اوږد وي. (د ژباړونکي یادداشت : اروابناد اسحق جبران د ۲۰۱۸ز کال د مارچ د میاشتې په شپږمې نېټې د کاناډا د تورنتو په ښار کې وفات سو او په همدغـهٔ ښار کې خاورو ته وسپارل سو.)

له ډاکټر فخرالدین او بصیر بد روز [67] سره مې له زندانه دباندې پېژندګلوي درلوده. یو وخت یو شمیر سامایي مبارزین په یوهٔ کالـهٔ کې راټول سوي ول. زموږ په منځ کې یو نا کراره ځوان هم ناست وو. دی مې دلته د لومړي ځل لپاره لیدهٔ. په هنګري کې جوړه یوه تومانچه ئـې هم په لاس کې وه. څو ځله ئـې کښته او پورته کړه. زړهٔ مې نور طاقت ونـهٔ کړ. ورته مې وویل : «ګرانه! له تومانچې سره لوبې مـهٔ کوه.» بیا ئـې ما ته مانا داره مانا داره وکتل خو څه ئـې ونـهٔ ویل. ډېر وروسته پوه سوم چې دی میر فخرالدین نومیـدهٔ. په ډېر لنډ وخت کې ئـې له ځانه خپل ذاتي جوهر وښودهٔ او د یارانو پاملرنه ئـې ځانته

---

[67] ـ بصیر بدروز د حفیظ آهنګرپور ورور دی. حفیظ آهنګرپور مخکې د طاهر بدخشي تر مشرۍ لاندې له «محفلِ انتظار» سره همکاري درلوده. کله ئـې چې له «محفل انتظار» سره اصولي اختلاف پیدا کړ نو له مجید کلکاني سره نیږدې سو. کله چې حفیظ او څو تنه یاران ئـې (په ۱۳۵۷ل) کې د دهمزنګ په زندان کې ووژل سول (د ورور په ګډون ئـې بد روز) نور ملګري ئـې د ساما له تشکیلاتو سره یو ځای سول.

ورواړوله. ډاکټر فخرالدين پريمانه انرژي، د سازمان او سمبال فوق العاده توان او بې سارې زړورتيا ئــې درلوده. يوه شيبه به په آرامه نــۀ وه. له انقلابي مبارزې پرته بل کار ئــې په رسميت نــۀ پيژاندۀ. دی د ۱۳۵۸ل د کب په مياشت کې له هماغـۀ کورڅخه نيول سوی وو چې عبدالمجيد کلکاني او الله مـحـمـد «د پردل ورور» ورڅخه نيول سوي ول. د حبس د مودې له تيرولو وروسته له زندانه خوشي سو خو د کابل د پل سرخ په سيمې کې ووژل سو. مړينه ئــې ستره ضايعه بولم. نوم دې تلپاتې وي.

د ۱۳۵۸ل په ژمي کې ما د يوۀ سامايي په کور کې مخفي ژوند درلود چې يوه ورځ ماسپښين پردل «مستعار نوم ئـې شاه مـحـمـد د کوهدامن د آق سرای د کلي اوسيدونکي»، بصير بد روز راته راوست او را وئـې پيژاندۀ. زه او پردل د يوۀ کار د ترسره کولو لپاره دباندې ووتلو. واوره په وريـدو سوه. د لارې په اوږدو کې پردل د بد روز د سياسي سوابقو او خصوصياتو په باب ما ته مالومات راکړل او راڅخه وئـې غوښتل چې وئـې ساتم. ساما، بدروز له کابله د شمالي کلي ته ددې لپاره ليږدولی وو چې هم به د خاد له منګولو څخه خلاص وي او هم به په سياسي چارو کې له موږ سره مرسته وکړي. بد روز يوه موده زموږ تر څنګ تيره کړه، وروسته د «بې رابطې ملګرو د تنظيمولو لپاره» يعنی له ساما سره د خپلو ملګرو د اړيکي په باب کابل ته راغی. له اوريدلو ګنګوسو داسې ښکاري چې دی چا په ګير ورکړی دی، او د کابل ښار د خيرخانې په سيمه د خاد له پلوه ونيول سو.

کله مې چې د استاد دوست محمد سترګو ته کتل، استاد عبدالرزاق او استاد عبدالبصير «بهرنګي» به مې په ياد راغلل. بهرنګي او رزاق دوه ورونه ول چې په يوۀ کور کې ئـې ژوند کاوۀ خو له دوه وو بيلابيلو سازمونونو سره ئـې اړيکي لرل. استاد رزاق د خلقيانو په لاس او بهرنګي د اخوانيانو په لاس ووژل سول. استاد دوست محمد له استاد عبدالرزاق سره ملګری او همکفره وو. هر کله به چې د بهرنګي ليدلو ته ورتلم نو هرو مرو به له استاد دوست څخه ياددونه کېدله. هغه مې د همدغو دوه وو مبارزو، او په نامـۀ نيکو ورونو په کور کې ليدلی وو.

د «همدغـۀ کتاب له مصحح او منتظم» ډاکټر حميد سيماب سره زما ددوستی او آشنايي سرچينه د «ليډرانو» له «همـهغې کوټې» څخه پيل سوه. يوه ورځ مې پويا لاس ونيو او وئـې ويل : «راځه چې تا يو بل چا ته وروپيژنم.» په کوټه کې د زندانيانو شمير او ګڼه ګونه تر دې کچې وه چې ددومره انسانانو له منځه تيريدل ګران کار وو. په سختی د کوټې نيمايي ته ورسيدلو. د منځنی ونې يو سړی چې ږيره ئـې تراښلې او سر او وضع ئـې منظمه وه له ځايه راپورته سو او په ډېرې مينې ئـې د ښه راغلاست په ويلو روغبړ وکړ او د خپلو ذره بيني عينکو له منځه ئـې ماته په ځير ځير وکتل. پويا وويل : «دی حميد جان دی!» زه لا د بلې جملې اوريدنګ ته سترګې په لاره وم چې پوه سم چې حميد جان څه کاره دی، له کوم سازمان سره اړيکه لري؟ پويا د انتظار خلاف يوازې وويل : «ډېر شريف انسان دی.» د پويا همدا جمله ماته کافي او بس وه چې پوه سم د ډاکټر سيماب په باب څه ويل غواړي. سيماب يو ولسي، عالم، هېـوادپال، د پياوړي قلم خاوند، د لوړ فرهنګ خاوند انسان دی او ملګري ورباندې خورا زيات ګران دي. سيماب د ژوندانـۀ د بټې پريمانه لوړې ژورې ليدلي دي او د څرخي پلـۀ په زندان کې ئـې شپې ورځې په مقاومت او سرلوړی تيرې کړي دي. له هغې ورځې چې پويا ما ته حميد سيماب را وپيژاندۀ دا دی اوس څه دباندې ديرش کاله تيريږي خو ما تر دې دمه د لومړي ځل ليدلو خاطره لا نـۀ ده هيره کړې. د

سیماب یو آهن چادري بکس وو چې د بسترې پر یوهٔ گوټ ئـي لنگر اچولی وو، هغه مي لا تر اوسه په یاد دی. کتابونه، کاسي، د چای ترموز او هغه گیلاس ئـي چې ورباندې اینبی وو لا تر دمه مي په یاد دي. د خپلې نالیچې پر مخ ئـي تل یوه پاکه روی جایي وه، دا مي هم له ذهنه نـهٔ ده وتلې. ددغـهٔ خواخوږي او گران ملگري په هر ځل لیدلو د هماغو ورځو خاطرات راته ژوندي کیږي، یوازې د اور پر ژیو ناست پتنگان دداسي درد او سوز د درک توان لري. دذهن له لوحي څخه دداسي خاطراتو هیرول آسانه کار نـهٔ دی. څنگه کولای سم د سیماب زښت مؤدبانه چارچلند او د پویا «حمید جان» ویل له یاده وباسم؟ خوښ په دې یم چې ما او سیماب دواړو له هماغسې ورځې او له هماغسې ځایه نیولې تر نن پورې د آشنایيی د پیل حرمت په درنښت ساتلی دی. له ډاکټر سیمابه مي وغوښتل چې د بې مرگه شهید نادر علي دهاتي «پویا» په باب خپله خاطره د همدغې لیکنې لپاره ولیکي. سره له دې چې د سیماب خاطره دومره اوږده نـهٔ ده خو ما ته د یوهٔ کتاب ارزښت لري : د مولانا جلال الدین محمد بلخي په وینا :

سخن چو نیک نگویی هزار نیست یکی سخن چو نیک گویی یکی هزار بود

دا دی دلته د نادر علي دهاتي «پویا» په هکله د ډاکټر سیماب خاطره کټ مټ رانقلوم :

استاد نسیم رهرو، هغه یار چې زه به هر چیرې او هر چا ته چې آرمان او ژمنې ته ددهٔ د وفا او ټینگښت په لوړ مقام کې گواهي وغواړي، گواهي به ورکړم، راځخه غوښتي چې د تلپاتي ژوندي اتل اروابناد نادر علي پویا په باب خپل خاطرات ولیکم. کاشکې پویا مي لا نور هم پیژندلی وای او ډېر وخت مي ورسره تیر کړی وای چې ډېره پیژند گلوي مي ورسره پیدا شوې وای، او کاشکې حافظه مي تر اوسنی هغې یو څه ښه وای چې ددهٔ په هکله مي ډېر او لا په ځیر لیکلي وای، دریغ له دې او هم له هغې.

نادر علي پویا مي نـهٔ وو لیدلی، خو ددهٔ په هکله مي ډېر اورېدلي ول. که مي ذهن خطا نـهٔ وي وتلی ۱۳۶۱ل کال وو. زه له یو شمیر نورو زندانیانو سره – چې په هغوی کې زموږ همگامه همځنځیر او همژمني یاران هم ول – د څرخي پلـهٔ د زندان د لومړي بلاک ددویم پوړ په لویدیځې خانگې کې وو او د ژوندانـهٔ پـهٔ شنـهٔ بن کې زموږ د عمر له ونې څخه پاڼې یو په یو په رژېدلو توییدلې. د څرخي پلـهٔ په قفسونو کې راگیرو بندیانو ته څرگنده، د ترهورو او له هیبته ډکو شپو وروځو کې، یوه ورځ د تړلو کوټو پولادي دروازې خلاصي شوې، یو شمیر نومونه ولوستل شول او امر ورکړل شو چې «کالي مو ټول کړئ»؛ دغـهٔ امر په ټوکېدلو زړونو کې، د یوهٔ ناڅرگند برخلیک پر لور د زمهریر د باد شان د ترهورتیا او اضطراب تورې څپې خپرولې. د نومونو په منځ کې زما نوم او د یو شمیر نورو یارانو نومونه هم ول. موږ ئـي له لومړي بلاکه واویستلو او ددریم بلاک پر لور ئـي وخوځولو. کله چې هلته ورسېدلو او د نوموړي بلاک په څلورم پوړ کې په نوي قفس کې ځای پر ځای شوو پو شولو چې د اوو شپیتو تنو له منځه چې له لومړي بلاک څخه راوړل شوي وو ډیري ئـي د مرگ تر حکم لاندي ول. د روس پرستو هېـواد پلورو پرچمدارانو د زندان ساتلو معموله تگلاره دا وه چې په اعدام محکوم شوي زندانیان به ئـي د «اختصاصي انقلابي محکمې» د مسخره بیدادگاه د مرگ له صادر شوي حکم څخه نـهٔ خبرول او کله به ئـي یو ناڅاپه یو په یو نومونه ولوستل او دا کسان به ئـي بوتلل خو وروسته به پوه شولو چې هغوی په ناراتلونکي سفر لیږل

شوي دي، کله به ئـي ددغو اعدامیانو غټه شمیره د وروڅو او اونیو په اوږدو کې د زندان له نورو برخو راټول کړل او په یوهٔ ځای کې به ئـي په یوهٔ قفس کې واچول، دا کار ئـي ددې لپاره کاوهٔ چې له یوې خوا دوی د امید او نومیدئ د برزخ په مرګوني موږ کې وساتي او له بلې خوا ئـي غوښتل په ورته وخت کې د نورو کسانو رنځ چې برخلیک ئـي ټاکل شوی وو ژوندی وساتي، د دویمې ډلې یو شمیر کسان به ئـي په لاس را ټول او غوره کړل او د «بې سرنوشتانو» له ډلې سره به ئـي یو ځای کړل؛ په دې سره به ئـي دوی د خدای په امانئ تر ورځې پورې سره یو ځای وساتل او یوه ورځ به ئـي دا نا بې وسان د اعدام ډګر ته بوتلل، او ژوندي پاتې کیدونکو به د اعدامیانو په بیولو سره د مرګ مخ او څیره څو ګامه وړاندې ولیدله او له اعدامیانو سره د خدای په امانئ دروند پیتی به ئـي د خپلې روح په ژور تل کې احساس کاوهٔ؛ د ګوډاګیو پرچمدارو د واکمنئ موخه دا وه چې ژوندي پاتې شوي باید پوه شوي وای چې د روس له سوسیال امپریالیزم او د هغوی له بومي کونګریو او سپیانو سره دښمني څومره لویه دردناکه «تـېروتنه» ده. دا چې موږ ئـي د همداسې یوې موخې لپاره درییم بلاک ته بیولو، او د دوبې په هغو تودو ورځو کې ئـي زموږ نومونه لوستل، نـهٔ پوهـېدلو، وروسته کله چې برخلیک خپله لاره پرانیستله موږ د همداسې نقل او انتقال په دلیل پوه شولو.

په قفس کې له ځای پر ځای کـېدلو څو ورځې وروسته یوه بله ډله ئـي راوړه، داسې ډله چې د ځینو څیرې آشنا وې او د ځینو نومونه آشنا ول. دوی د سازمان آزادیبخش مردم افغانستان «ساما» د مرکزي کمیټې غړي ول. د همفکرئ او همسنګرئ پیوندونو موږ، د یوهٔ سیند د څو څانګو د اوبو په شان چې په یوهٔ لور په بهیدو وي، سره یو ځای کړلو او د زندان د زښتو ډېرو سختو شرایطو په شتون کې سره سره د ټولو زړونه د یو بل په لیدلو خوښ او ښاد سول. که څه هم موږ دوې اونـي له یو بل د زړه له تله د مینې په ګډ چاپیریال کې خبرې اترې درلودې خو ډېر ژر ددښمن «په بد ورګي حاتم طایي سخاوت پوه سو چې څنګه په انزوا کې ساتل سوي یاران په دومره سخاوت سره یوځای کوي او بیا ئـي له منځه یو شمیر د ابد لپاره ورڅخه اخلي»، که څه هم تر پایه مو د یوې ښې پایلې لپاره یوه ګونګه هیله درلوده، خو وروسته پوه سوو چې د برخلیک ټاکل شوی حکم دا وو چې یاران به د هـېواد او د خپلې لارې او آرمان مینه د لامکان تر لوړو څوکو پورې ورسوي ځکه «د مینې لوبې د دار له رسئ پورته بله پوړئ نـهٔ درلودله.»

زندان داسې ځای دی چې کولای سئ د خپلو همځنځیرو او شاو خوا کسانو شخصیت، ایمان او آرمان په لوڅو سترګو وګورئ. شک نـهٔ سته چې ټولو هغو کسانو چې زندان لیدلی دی د ډېرو له ادعاوو ډکو کسانو له سپکوالي ډک حقارت او بې ایماني لیدلې ده خو له بلې خوا د هغو کسانو د شخصیت پرتم، آرمان، ایمان او وفا هم لیدلې ده چې په هماغـهٔ ژوندانـهٔ کې اسطوره ول او په خپل مرګ ئــي د کبریا ستنې لړزولې دي. نادر علي پویا د همداسې پرتمین شخصیت خاوند انسان وو. یارانو زه پویا ته ور وپـېژندلم. په خپلې لوینې او تودې مینې ئـي لاس راکړ او غیږ کې ئـي ونیولم. ډېر ژر مو له یو بل سره انس ونیو، داسې انس چې فکر مو کاوهٔ کلونه کلونه مو له یو بل سره ناسته ولاړه کړې ده. تر دې به بل څه کـېدای سوای اوسي؟ موږ خو ټول د عشق د مسلخ او معبد هملارې لارویان وو – زموږ تر منځ توپیر دا وو چې پویا او یاران ئـي له هماغو نیکو سپیڅلو څخه وو چې «د عشق په مسلخ کې یوازې له نیکو پرته بل څوک نـهٔ وژني» او موږ هغه « ډنګر صفتي بدورګي» وو چې په هغـهٔ معبد کې د قرباني لیاقت مو نـهٔ درلود. خو د همدغو نیکو او سپیڅلو په منځ کې پویا تر نورو توپیر درلود. پویا داسې پرتم او وقار درلود چې که هر څوک ورسره آشنا سوي وای نو ددهٔ د وقار او پرتم مقناطیسي جاذبه ئـي

ډېر ژر احساسوله. د سترو انسانانو په کهکشان کې چې هر یو ئـې اسطوره وو، ددې کهکشان ستورې شول او ما د زندان په شرایطو کې ورسره د جلاد تر تیغ لاندې د شخصي پیژندگلوی شرف او ویاړ درلود، خو ددغــهٔ پرتم او وقار د مقناطیسي جاذبې عیني ساحه مې د دوه وو تنو په وجود کې د زړهٔ او روح په تل کې احساس کړې ده : یو ئـې همدا نادر علي پویا وو او بل ئـې هغه څوک وو چې د روس پرستو جلادانو تر شکنجې لاندې ددهٔ د ایمان او مقاومت حماسه ان د خاد ددوزخ جلادانو ستایلې ده : دی ارواښاد تلپاتې بشیر بهمن وو. له پویا سره د خبرو اترو لپاره دوی اونۍ ډېر لنډ وخت وو! له هغو ورځو څخه دا دی درې لسیزې تیریږي او پر خاطراتو باندې مې د هیرجنتیا دوړې پرتې دي، خو د نادر علي پویا دوې خاطرې به زما په ذهن کې زما د مرگ تر شیبې پورې هماغسې ځلانده او روښانه پاتې وي او ما ته به د هغـهٔ د ځلاند او دراندهٔ شخصیت بیلگه او شاخص وي :

یو دا چې ما له ځان سره یو شمیر کتابونه درلودل چې تر هغه مهاله فارسی ته نـهٔ ول ژباړل شوي او یا ډېر لږ د لیوالو کسانو لاسونو ته ورغلي ول نو له دې امله کم پیدا کتابونه او لږ لوستل شوي ول. له هغې ډلې څخه یو ئـې د «آلماني ایډئـولوژی» کتاب یا د کار مارکس د نړۍ لید لومړنی بنسټ وو چې په کې ځوان مارکس د لومړي ځل لپاره د انسان او نړۍ د بدلون لپاره خپل فلسفي تیزسونه په خام او مبتدي ډول قید کړي ول. دا کتاب پویا ولید او سره له دې چې خبر شوی وو چې دا کوټه به ورته د اعدام له ډگره مخکې د ژوندانـهٔ وروستنی تمځای وي، دا کتاب ئـې راڅخه وغوښت. باور مې نـهٔ کېدهٔ چې پویا دې په داسې مرگوني ترهناک چاپیریال کې دا کتاب ولولي چې هره شیبه ددې امکان وو چې د مرگ ډهلونه به ورته وړغول شي - او هم په داسې حال کې چې اوږدهٔ پرله پسې ساعتونه به ئـې په کوټه کې له شته کیڼ انقلابي «شعلـهٔ جاوید» غړو سره د تیرو مسایلو او ورڅخه د راپاڅیدلو راښکونونو او اړیپیچونو په هکله خبرې اترې کولې – او څوک دې وکولای شي د مارکس په پیچلي بیان او لوړو مانااوو دې د پوهنتون د کتابتون په آرام چاپیریال کې ولولي او درک او هضم ئـې کړي. خو پویا ثابته کړه چې له بلې مصالح جوړ شوی وو، تا به ویل چې اعصاب ئـې ددهٔ د بنسټ او تن په شان له پولادو جوړ شوی وو. هماغه کتاب ئـې په څو لنډو ورځو کې په ژور لید او کرارۍ ولوست، او ان تر نن پورې که مې په خپلو سترگو نـهٔ وای لیدلای او ورپسې مې په دې باب ورسره خبرې نـهٔ وای کړې، نو نـهٔ به مې په خپلو سترگو باور درلود او نـهٔ پر خپلې خاطرې.

دویمه خاطره مې د پویا د حوصلې او زغم په باب ده. سره له دې چې زما د سیاسي ودې ځانگړو شرایطو، د شعلـهٔ جاوید له نسبه د انقلابي مبارزې د بهیر له حب و بغض، راښکونونو او اړوپیچونو لیرې ساتلی وم خو له داسې یوهٔ سازمان سره د اړیکې په تور زنداني شوی وم چې په تیرو وختونو کې ئـې له «ساما» سره د سیاسي اړیکو له اړخه اړوپیچ او خړپړتیا درلودله. یوه ورځ له پویا سره د خبرو په لړ کې مې له ساما سره د سیاسي اختلافونو یو شمیر ټکي مطرح کړل. دا دی له هغـهٔ مهاله اوس درې لسیزې تیریږي خو د پویا ځواب داسې وو چې په یادولو ئـې تر نن پورې زما پر تندي د حیا خولې راماتې سي؛ په یاد مې راځي چې څنگه مې د ښوونځي د ابجد لوستونکي زده کوونکي ماشوم په شان دا خبره مطرح کړه او پویا د یوهٔ دراندهٔ ښوونکي په حوصلې لکه چې ساده زده کوونکي ته تیر درسونه ور په یادوي، او پرته له دې چې له درناوي ډک چلند څخه ئـې د بځرکې په اندازې کوم شي کم سي او یا ئـې په څیره او غږ کې ناسهمندي «ناشکیبایی» راڅرگنده سي بدیهیات او ساده موضوعات ئـې راته یو ځل بیا توضیح کړل. زما چې پام خپلې تیروتنې ته اوښتی وو، مخکې له دې چې

ددهٔ د توضیح تر اغیز لاندې راسم ددهٔ لوینې او سترواليي راباندې ټینګه اغیزه وکړه او هلته پوه سوم چې کاله نا کله یوازې ستر انسانان دي چې د وړوکو نزاکتونو په رعایت پوهېږي.

هغه ورځې او هغه خاطرې به د وخت په تیریدلو، په ډېرو لیرې مهالونو کې د یادونو په آسمان کې له نظره کرار کرار لیرې سي خو د نادر علي پویا او د پویا په شان د سلهاوو نورو سترو انسانانو لاره او آرمان به تلځلانده، تلپاتي او ښادمنه وي، هغه ورځ چې هېواد او هېوادوالو ته د خپلواکۍ او سمسورتیا زیرى راوړي- دا ورځ به راځي- خو ښايي نـهٔ زموږ په ژوند او روزګار کې –د نادر علي پویا او ددهٔ په شان د شرف د پرتمنیو انسانانو سپیڅلي ارواحي به ورته د ابدیت له دنګو څوک موسکا کوي.

یاد دې تلپاتې او پرتمین وي

حمید سیماب

کاناډا – آټاوا

۲۰۱۰ز کال د جنورۍ د میاشتې ۱۲ نیټه

* * *

زما د پيژندګلوۍ کړۍ کرار کرار پراخېدله. له بیلابیلو سیاسي – پوځي ډلو او افرادو سره مې پيژندګلوي ترلاسه کوله. ډول ډول بحثونه، چارچلندونه، اخلاق، سليقې او تحليلونه مې وليدل او واورېدل. داسې زندانيان مې وليدل چې د هېواد او پرګنو ددښمنانو پر وړاندې د مخامخ مبارزې او جګړو له تودو ډګرونو څخه راوړل شوي ول. د زندانيانو په کتار کې داسې کسان هم ول چې ټولې غورې باتې ئې يوازې د زمرې د پلـهٔ په ښکار کې رالنډېدلې. متعصب اخوانيان مې وليدل چې ځان او خپله ډله ئې د ټول جهاد د وياړ بې رقيبه څښتنان ګڼل. دا هغه شرير کسان ول چې کړوړو او چار چلند ئې په زندان کې دننه د هېواد په اصيلو بچيانو په ځانګړي ډول په ملي انقلابي سازمانونو پورې اړوندو روڼ اندو باندې عرصه تنګه کړې وه. د يوهٔ زنداني له پلوه د بل زنداني په حق کې ځورونه او ستم په حقيقت کې په زندان کې دننه د «بل زندان» د رامنځته کولو حيثيت درلود. ما له دغو ټولو زده کړل. که ما د زندان د سختيو پر وړاندې خپلې هڅې او کوښښونه نــهٔ وای کړي، نو زما د عمر د کتاب ځينې پاڼې نابشپړې پاتې کېدلې او د ژوندانـهٔ د ځنځير کړۍ تيتې او يا ورکې پاتې کـېـدلې.

د زندان عذاب راسره دوني مرسته وکړه چې تر يوې کچې د انسانانو له فکري، سياسي او رواني اوډنګ او جوړښت سره آشنا سم. له داسې کسانو سره مخامخ سوم چې د «زندان دننه شخصيت» ئې د دباندې له هغـهٔ سره له ځمکې تر آسمانه توپير درلود.

د زندان رنځونو زما صبر او زغم ته ځلا ورکړه. له همدې کبله ده چې د زندان رنځونه راته له زده کړو ډک او «سپيڅلي» ګڼل کېږي. زما باور دا دی چې ژوندن په سختيو او بلاګانو کې خپل رښتونی مفهوم او مانا مومي.

> «هغه ژوند به څه په کار راسي چې په کې د مينې د سوز کوکارې، د بېلتانـهٔ ژړاوې، د تنازع شور او د تزاحم آه او واويلاوې نـهٔ وي؟ هغه سيند به له کومه د راښکون ننداره ولري چې اوبـهٔ ئې د اوبخوړلو

کانو له منځه په دباو، ساندو او شور تیرې نـهٔ شي او د خپل بهیر په موړونو او کړلیچونو کې ځګنې نـهٔ شي او د خپلو پرله پسې نارو سورو په کړس کې له لوړه لاندې راو نـهٔ غورځـېږي؟ هغه سیند به څه ښایست ولري چې خپلې ځګنې ځپې د مستانه نعرو په شور کې د سیند د غاړې پر ډبرو ونـهٔ وهي؟ هغه محبوبه به څه دلربایي ولري چې خښم ونـهٔ کړي، حسوده نـهٔ وي او د خپل قهر او غضب ځپیړه زموږ پر مخ آشنا نـــهٔ کړي (علي دشتي ایام محبس) »

موږ پوهېدلو چې وژل کـېږو، له دې امله هر چا به خپل پیام، یادګا او سپارښتنه کوم ډاډمن سړي ته ورکوله. ما هم خپل د لاس ساعت چې د صدارت د کوټه قلفیو د پرله پسې خلق تنګیو له لاسه ئـې خپل توان له لاسه ورکړی وو او له خوځښت پاتې وو میرعلم ته ورکړ چې له خپل خلاصون وروسته دې زما د نښې په توګه زما کورنی ته وسپاري. دا ساعت زما د یوهٔ ګران ملګري د لاس نښه او یادګار وو چې نـهٔ مې غوښتل له ما سره یو ځای تر خاورو لاندې لاړ سي او یا د کوم جلاد د لاس زینت وګرځي. میرعلم زما ددې کار په لیدلو لکه بت بې خوځښته ودرید، ته به وایې چې وینه ئـې په ځان کې وچه سوې وي او د سترو ستومانه او کم نورو سترګو له منځه ئـې راته چوپ وکتل. هیڅ کلمه ئـې په ژبه رانغله او زړهٔ نا زړهٔ ئـې له مرګ مخکې دا یادګار راځخه واخیست او یوهٔ ګوټ کې ئـې کښـېښود. ګومان مې نـهٔ سي چې دا ترخه خاطره دې زموږ دواړو له یاده ووځي.

هماغسې چې ډاکټر سیماب په خپلې پورتنۍ لیکنې کې ګواهي ورکړه نادر علي «پویا» په همدې کوټې کې ډېرې وختونه به ئـې کتابونه لوستل. کتابونه به ئـې دومره په تندې، لیوالتیا او مینې لوستل ته به وایې چې د کوم کتابتون په تالار کې ناست دی. په زندان کې دننه مباحث او جدلونه په لاره لوېدل. انیس آزاد به موږ ته خپل تازه شعرونه لوستل. وروستني شعرونه ئـې د ګلبڼ د ګلانو په شان غوړېدلي ول. زبیر احمد به په خپلو خوږ ټوکو ټکالو د یارانو پر شونډو موسکا غوړوله او د زندان زړهٔ تنګی چاپیریال به ئـې بدل کړ. دی دومره د خوښ طبیعته انسان وو چې که چا نـهٔ پیژاندهٔ نو هرو مرو به ئـې ویل چې دی د څو ورځو لپاره زندان ته میلمه راغلی دی. آذر «نعیم ازهر» به د شعر او ادبیاتو په هکله مالومات ورکول. یو شمیر همرزمه یاران په سګریټو روږدي ول خو په یوې ژمنې ئـې سیګریټ خوشې کړل....

# هغوی ئــې ووژل او زه ئـې په مرگ کې مړ سوم

آرد هـوای نـای مـرا نـالـه هـای زار
جز ناله های زار چه آرد هوای نای
(مسعود سعد سلمان)

د ۱۳۶۱ل کال د وږي د میاشتي اولسمه نیټه د چهارشنبې ورځ وه چې د دریم بلاک یو افسر کوټې ته راغی. په لاس کې ئـې د نومونو اوږد لیست وو. زندانیانو په بې وسی یو بل ته له مانا ډک وکتل. یوۀ په خپل معصومانه لحن وویل : «خدای دې خیر کړي. بیا نومونه لوستل کېږي. له دې لیسته د وینو بوی راځي.» لومړني نومونه چې ولوستل شول زموږ د ډلې ول. د نولس تنو همدوسیه یارانو له منځه د پینځلس تنو نومونه په دې لیست کې ول : انجنیر نادر علي دهاتي، انجنیر محـمدعلي، انجنیر میرویس، محـمد نعیم ازهر، انجنیر زمری صدیق، ډاکټر عبدالواحد رائـین، انیس آزاد، شاهپور قریشي، انجنیر محـمد امین، زبیر احمد، قاضي احمد ضیأ، ډاکټر صدیق جویا، ضیأالحق، انجنیر داؤود او محـمد نیسم «زه لیکوال». کله چې د نومونو لوستنگ پای ته ورسید دستور ورکړل سو چې خپل کالي ټول کړو. موږ ټول پوهېدلو چې د ژوندانـۀ وروستي تمځای ته ورسېدلو. پر ټولې کوټې باندې د غم باران ورېدۀ. موږ د خپل برخلیک پر لور روان وو خو د هغو یارانو او دوستانو تر پښو لاندې د ویر او سوگ گلیم غوړیلـدلی وو چې له موږ سره په دې سفر کې نـۀ ول. د هغو همرزمانو چې د حبس موده ئـې ټاکل شوې وه موږ ته په هردم شهیدی کتل. ددغو یارانو غم او ویر مې ځکه درک کولای سوای چې دښمن د څرخي پلـۀ په وحشتځای کې زما په سلهاوو هېـوادوال او زما د لارې ملگري زما له څنگه بوتلل، دباندې ئـې وایستل خو بیرته هیڅکله رانغلل. ددغـۀ بیلتانـۀ درد او داغ زما په ویرځپلي زړۀ کې د تل لپاره دروند دی. دا ډېر ستر درد دی، زه د انسانیت په لوړ انساني قاموس کې هیڅ داسې کلمه او ټکی نـۀ شم موندلای چې دا درد دې ورباندې شرحه سي. کله مو چې یو بل ټینگ په غېږ کې ونیول او په سترگو کې مو یو بل ته وکتل، نو یارانو ته مې یوازې یوه سپارښتنه درلودله : موږ به هغه مهال کرار او آرامه مړۀ سو چې زموږ لارې ته دوام ورکړئ. د خدای په امان ملگرو!

ما به امید وفای تو گذشتیم زجان　　　　　دوستان را مبراز یاد و فراموش مکن
(موږ ستا د وفا په هیلې له ځانه تیر سولو، دوستان دې له یاده مـۀ باسه او مـۀ ئـې هېـروه)

زندان ساتونکي کونجۍ د دروازې په قفل کې تاو کړه. د کوټې د اوسپینیي دروازې غمجن غږ وخوت. د بلاک پوړیو ته نیږدې په دالان کې دننه د دروازې مخې ته ودرېدلو. پویا له خپله جیبه د سیگریټو ډبی راوایست. بیا ئـې مخ هغو یارانو ته

چې سیګریټ ئـي خوشي کړل تاو کړ او وئـي ویل : «راځئ چې دا  وروستي سیګریټ سره یو ځای ووهو.» په خپل لاسونو ئـي سیګریټ دانه دانه وویشل او یو یو ئـي روښانه کړ.

ضیاألحق چې ماتـو لاسونو کې کوږ جوش خوړلی وو، په کړس کړس وخندل، سر ئـي پورته ونیو او یو بې کلمې سرود ئـي ووایـهٔ : لالا لا... ما چې ورسره ډېر انس او الفت درلود ددې سرود په مانا پوهېـدم او پوهـېدم چې غواړي په بې ژبې، ژبې وایي :« زموږ مرگ به زموږ پر دښمن وخاندي!»

کله چې د لومړي پوړ دالان ته ننوتلو ومو لیدل چې د قاضي ضیأ پلار چې په پام کې وه هماغه ورځ له زندانه خلاص سي، د دیوال په ډډه کې ولاړ دی. سترگې ئـي د خپل زوی پر سترگو ولگېدلې او په ترهوري ژبې ئـي وپوښتل : «تاسو چیرې بیایي؟» قاضي ضیأ د سر په اشارې پوه کړ چې دا به ئـي ورسره وروستی دیدن وي. هو! پلار په هماغه ورځ له زندانه آزادېږي او زوی ئـي پولیگون ته بیول کېږي. په هاغه ورځ د زوی او پلار سترگو په سترگو کـېدل د خلق د ډیموکراتیک گوند تر ولکې لاندې د افغانستان د ملت د وضعیت یوه عامه بیلگه وه: د روس د سوسیال امپریالیزم تالي څټو د پرگنو مبارز زامن پولیگون ته لیږل تر څو د « غوایي پرتمین انقلاب» د «افغانستان ولس آزاد او سر لوړی کړي (!)»

د دریم بلاک د خاد مسؤول ددې غمځپلي منظرې ننداره کوله. آیا دده د احساس او وجدان کوم رگ ئـي لا تر اوسه ژوندی وو؟ نـهٔ پوهیږم چې ولې ئـي موږ بیرته هماغې کوټې ته ولیږلو. پهره دار قاضي ضیأ دباندې راوایست. کله چې بیرته راغی ورڅخه مې وپوښتل : «څه خبره وه؟» ځواب ئـي راکړ : «خپل پلار مې ولید.» (!). دا یوازینۍ پیرزوینه وه چې د زندان مقاماتو د یوهٔ زنداني په حق کې ترسره کړه، له دوی څخه ددومره پیرزوینې هیله لا نـهٔ کـېدله.

ځاښت مهال راورسـېد. سرتیري جار وواهــهٔ : «قروانه چې مرش مرش!» د غرمې ډوډۍ چمتو سوه خو اکثریتو زندانیانو لاس ورنـــهٔ ووړ. د ماسپښین دوه یا درې بجې وې چې د ساما پینځلس تنه ئـي بیا له کوټې راوایستل. زندانیانو لاسونه آسمان ته ددعا لپاره پورته کړل. د نورو کوټو له کړکیو هم لاسونه د ټکان په ډول ښوربېدل. موږ ئـي له دریم بلاکه د لومړي بلاک پر لور وخوځولو. «لومړۍ درجه احضارات» نیول سوي ول، او ماشینگڼ په لاس سرتیري د بامونو تر شا پراتـهٔ ول. موږ د مخابرې دستگاه اورېدله چې په پرله پسې ډول ئـي دا بهیر په شفرونو د مقاماتو تر غوږونو رساوهٔ. موږ په کتار کې په یوه لیکه خوځول شوي وو. زموږ تر شا د پینځوس مترو په واټن د اعدامیانو بل کتار په لاره اچول شوی وو. د دریم بلاک د خاد آمر ډاکټر واحد ته وویل : «ډاکټر صاحب! کالي دې وړلای شي یا مرسته درسره وکړم؟» ډاکټر واحد ځواب ورکړ : «ولې ئـي نـهٔ سم کولای، ملا خو مې نـهٔ ده ماته.» لومړي بلاک ته ننوتلو. د څرخي پلـهٔ د محبس عمومي قوماندان زموږ مخې ته راغی[68]. په لومړي بلاک کې د عوامو په خبره ان میاشی هم نـهٔ وو. یوازې د خاد افسرانو او سرتیرو دیخوا ایخوا منډې وهلې او د مخابرې دستگاه پرله پسې پیامونه تبادله کول. د لومړي بلاک ختیځه خوا ئـي تشه کړې وه. موږ ئـي په دوه وو کوټو کې وویشلو. څو نورې کوټې ئـي نورو هغو اعدامیانو ته تشې پرېښودلې وې چې زموږ په کتار پسې راتلل. د غولې

[68] ـ د څرخي د زندان د عمومي قوماندان نوم خواجه عطا وو. دنگه ونه او پیاوړی هیکل ئـي درلود. ویل کیدل چې نوموړی د «کابل د شمال» د کوهدامن د شکر درې څخه دی او په رزمي سپورټونو پوهیدهٔ.  دا خبره عامه وه چې خواجه عطا د «خاد د رئیس» ډاکټر نجیب له نیږدې کسانو څخه وو. وروسته بیا عبدالرزاق عریف «د چاریکار» له ښاره او غورځنگ «له لوگره» په وار او یو بل پسې د څرخي پله د زندان عمومي قوماندان شو.

پر مخ فرش نــهٔ وو. د موضوع د مالوموملو لپاره مو د خاد له افسره د فرش غوښتنه وکړه. په سپین سترګی ئـې وویل : «ډېر نــهٔ پاتې کـېږئ» پوه شولو چې د خپل ژوندانه وروستی شیبې د دښمن په منګولو کې تیروو او د تل لپاره د اسارت له عذابه خلاصـېږو. اوسپنینه دروازه موږ پسې وتړل سوه. یوازې د پښو د ګامونو او د کوټو د دروازو د تړل کېدلو او خلاصیدو غږونه مو اورېدل. نیم ساعت تیر سو چې د لومړي بلاک قوماندان شمس الدین پنجشیری کوټې ته رادننه سو. په لاس کې ئـې رسمي لیکونه او خط کشي سوي لیستونه ول، داسي لیست چې د روڼ اندو او په آزادۍ مینو پتنګانو نومونه په کې په نښه سوي ول، د آزادۍ د لارې هغـهٔ میرنـي او زړور چې مریبي او ارباب دواړو ددوی شتون د خپل ځان امنیت ته جدي ګواښ ګاڼـهٔ. قوماندان شمس الدین پنجشیري له ټولو څخه د هغـهٔ نوم او د پلار نوم پوښت او «له تور لیست» او «د مرګ له مکتوبونو» سره به ئـې پرتله کول. لاسونه ئــې رېږدېدل، خو کوښښ ئــې کاوهٔ چې د لاس په رېږد باندې ئـې څوک پوه نــهٔ سي. په همدې شیبې کې مې د شهید داؤود سرمد د شعر بیت د ذهن په مناره کې - او یقین لرم چې د ملګرو په اذهانو کې هم - په انګازو شو :

تویی که پشت تو می لرزد از تصورِ مرګ　　　منم که زندګی دیګرست اعدامم

«تــهٔ ئــې چې د مرګ له ډاره دې ځان ریږدي　　　زه یم چې اعدام مې بل ژوندون دی»

د زندانیانو په منځ کې دا ګنګوسه خپره وه چې شمس الدین پنجشیری د «اعدام د ډلګي» غړی هم دی. پنجشیري به د خونړي لیوهٔ په شان نومونه لوستل، انسان به ئـې تښتاوهٔ او بیا به په بل پسې راغی. د کوټې دروازه به وتړل سوه او له لسو یا پینځلسو دقیقو وروسته به بیا راغی او بل عزیز به ئـې وایست. زما وار راورسـېد. قوماندان زما نوم او زما د پلار نوم و پوښتل. له ځایه پورته سوم او تګ ته چمتو وم. پنجشیري په ځیر کاغذونو ته وکتل او وئـې ویل : «صبر چې نوم دې پیدا کم.» له ما پرته نور ټول ئـې وایستل. دا چې دا یوازیتوب څومره اوږد سو یوازې د کائیناتو رب پرې پوهـېږي، ځکه ما ته زمان نور خوځښت نــهٔ درلود. یوازې زمان نـهٔ بلکه هر څه راته له خوځښته پاتې ول. کوټې نور ځای نــهٔ راکاوهٔ. حس مې کاوهٔ چې تر پښو لاندې مې اورونه غرغړاندې وهي. دیوالونه یو بل ته نیږدې شوي ول. د کوچنی کوټې د غولي پر مخ مې ګرځـېدل پیل کړل. ما ته د موضوع درک او پیدا کول ناشوني سوي ول. یو ناڅاپه مې پام سو چې د نادر علي «پویا» بَیک د کوټې په ګوټ کې هیر سوی دی. د بَیک له پاسه د مولانا د مثنوي کتاب ایښودل سوی وو. هغه مې راپورته کړ. زړهٔ مې غوښتل له ځان سره ئـې واخلم. خو حیف! په دې شیبې کې مې ماغزو مې کار وکړ او یوه نقشه مې طرحه کړله. د کوټې دروازه مې وټکوله چې پوه سم د یارانو برخلیک تر کومه ځایه رسیدلی دی. څوک رانغلل. بیا مې دروازه ښه ټینګه وټکوله. د کوم سرتیري «یا هم د کوم افسر» د پښو درب مې تر غوږونو راغی. په لوړ او اوږد غږ ئــې ته به وایې چې غږ ئـې د څاه له منځه راځي وویل : «څـه خبببببره ده؟» ومې ویل : «دلته د چا بَیک له یاده وتلی دی.» په دالان کې یو غوږ بوږنونکی غږ په انګازو سو. «غلی کښینه! نوره دروازه ونـهٔ ټکوې!» د دروازې شا ته لاړم او غوږ مې د دروازې په پلنې اوسپنې کښـېښود. څه شی مې لاس ته رانغلل. د دوازې پورتنی برخې ته ئـې د پینځه ویشت په شلو سانتیمترو پلنوالي ښیښه نیولې وه. د ښیښې پر مخ ئـې له دباندې سور رنګ موښلی وو. د رنګ شوې ښیښې په یوه برخه کې د چنچنې له سترګو وړوکی یو خراښکی لیدل کـېـدل کـېدهٔ. هماغـهٔ خراښکي باندې مې سترګو کښـېښودله چې په دالان کې روان بهیر تر پام لاندې ونیسم. په وینو لړلی زړهٔ مې د سټک په شان په اوسپنیني دروازې لګېدهٔ. یوازې مې د دالان ډېره وړوکې ساحه

لیدای سوای. تر دې دمه لا ګڼه ګوڼه پای ته نـــهٔ وه رسېـدلې. د «ګلبدین د ګوند غړی» نجیب چې د ژوندانـهٔ په وروستیو ورځو کې ئـې په زندان کې د تکلم توان له لاسه ورکړی وو، د دالان په منځ کې ولاړ وو. قوماندان او د قوماندان همکارو ملګرو ورسره خبرې کولې. ظاهراً نجیب پښه بنده کړې وه چې لاړ نـــهٔ سي خو نورو ورته تسل ورکاوهٔ چې کوم ګواښ ورته نـــهٔ سته او تګ ته ئـــې راضي کاوهٔ. قوماندان او ملګرو ئـــې ولیدل چې تسل کومه ګټه نـــهٔ لري نو منګولې ئـې ورواچولې او په کشیدو کشیدو ئـې له ځان سره بوت. دا چې ولې نجیب تر هغې شیبې پورې مقاومت وکړ نـــهٔ پوهېږم. د غیر سامایي د اعدامیانو د ډلې تر څنګ مې پر نجیب سربیره د هغـهٔ همدوسیه عبدالرحمن هم ولید چې له قوماندان سره له دالانه تیرېـدهٔ. نور کسان مې په نومونو نـــهٔ پیژندل. داسې ښکارېـدل چې ښکار نور پای ته رسیدلی دی. « د مرګ له توپان وروسته د آرامۍ فضـا» د دالان پر دروازو او دیوالانو واک چلواوهٔ، دا هماغه کرکجن دالانونه ول چې د وړي د میاشتې د اولسمې نیټې له پیښې مخکې او وروسته د همداسې وېرژړلو پېښو شاهدان ول. یوازې د هېـواد پلورو د ګوند، د پرچم د څانګې د واکمنۍ په لړ کې زما اتل همسنګره ملګري لکه سید بشیر بهمن، استاد مسجدي هدایت، یونس زریاب، استاد لطیف محمودي، انجنیر ځلمی، سلطان، عبدالوهاب، شفیع، نعمت الله حباب، سید کبیر او .... د هېـواد پلورو د همدغو تیارو دالانونو له منځه په ټینګو ګامونو او لوړو سرونو د مرګ پر لور دانګلي ول. د وړي د میاشتې د اولسمې د پیښې د جنایت د قربانیانو په اصلي شمیرې یوازې او یوازې په خپله قاتلان پوهـېږي.

نـــهٔ پوهـېږم چې څومره وخت مې ددغـهٔ روحي غم او دباو په ټینګو منګولو کې تیر کړی وو چې د کوټې دروازه خلاصه سوه. سرتیري چې د خبرو کولو توان ئـې له لاسه ورکړی وو چې د سر په اشارې ئـې پوه کړم چې پورته سم. روحیه ئـې مړاوې وه. ښایي د هېـواد د نازولو بچیانو مرګ ددهٔ بیدهٔ وجدان ویښ او دی ئـې پریښنانه کړی وو. د دالان د وتنګ دروازې پلو ته وخوځـېدم. محافظ غږ کړ چې : «هغه پلو نـهٔ! دې پلو!» د یوې کوټې دروازه ئـې خلاصه کړه. نعیم ازهر یکې یوازې ناست وو. د کوټې دروازه راپسې وتړل سوه. نعیم چوپ وو او په غمځپلو سترګو ئـې راته وکتل او بیا غلی سو. دغه چوپتیا دوه درې دقیقې وغځـېدله. وروسته ئـې د پیښې پوښتنه وکړه او نور هیڅ. د نعیم په لیدلو مې زړهٔ یو لږ څـهٔ تسل سو. یو ساعت تیر سو او وروسته ئـې موږ د همدغـهٔ بلاک دریيم پوړ ته ولیږدولو. د کوټو دروازې د معمول خلاف ټولې خلاصې وې. د دې پوړ زندانیان په آزاد ډول له یوې کوټې بلې کوټې ته تګ راتګ کاوهٔ. د کوټو په منځ کې د شطرنج تختې ئـې ایښې وې. په دالان کې د زندانیانو لپاره رنګه تلویزیون ایښودل سوی وو او تلویزیون خپروني خپرولې. د چپرکټونو پر مخونو نوې نالۍ او نوي کمپلونه او پاکې روی جایي ګانې «چې د زندان د دوران تر پایه ئـې په حسرت کې وسوځـېدلو!) غوړېـدلې وې. له دې ټولو حاتم طایي ګانو په حیرت تللي وم. د زندانیانو په منځ کې ان یوهٔ ئـې له موږ دوه وو تنو سره سلام علیکي ونـــهٔ کړه. له ظواهرو داسې برښـېدل چې د زندان ټولو زندانیانو ته ویل شوي ول چې خپل حد دې وپـېژني او «له خطرناکو کسانو سره دې تماس» ونـــهٔ نیسي. په حقیقت کې موږ ئـې په قرنطین کې ساتلي وو، دا کټ مټ هماغه حالت وو چې د زندان په لسو کالو کې زما په حق کې ترسره سول. خو له دې سره سره داسې کسان ول چې خبرې مو ددوی له خولو واخیستلې او افشاء ئـې کړله چې له مرکزي زندان څخه د ژورنالیستانو د کتنې په پار ئـې د لومړي بلاک دویم او دریم پوړ پسولل او پاک کړی دی. د زندان مسؤلینو او لوړ پوړو چارواکو همدغو میلمنو ژورنالیستانو ته ویلي ول چې دولت یوازې په همدغـهٔ شمیر سیاسي زندانیان لري او پاتې نور حرفوي جنایتکاران دي! ددوغو دوه وو پوړونو اوسیدونکي له نورو

بلاکونو څخه په لاس راتول شوي کسان ول. دوی هغه «لړمان» ول (په زندان کې دننه زندانیانو دا ډول کسان د جاسوس په نامـهٔ یادول) او د زندان اداري کولای سوای وربانديې اعتماد وکړي. دغو شرف بایللو د زندان د مقاماتو په ګټه او د زندانیانو په تاوان جاسوسي کوله، دوی ئـي دلته راوړي ول چې وواييي چې په زندان کې هرڅه سم دي او هیڅ ډول رنځ او کړاو نـهٔ سته. دغه ډول چل ول او عوام فریبۍ د خلق د ډیموکراتیک ګوند د سیاست یوه نـهٔ بیلیدونکې برخه وه او داسي یو دود سوی وو چې ددې ګوند د شرمناک ژوند تر پایه پورې ئـي دوام درلود.


اتــهٔ ورځې مو په دې پوړ کې د زندان د اتو پیړیو په سختۍ، رنځ او کړاو تېرې کړې. هره ورځ د وړوکې کړکۍ څنګ ته کښـېناستلم او انګړ کې ګرځـېدونکې هغه زندانیان مې په دې هیلې له نظره تیرول چې که د خپلو یارانو کومه نښه په کې ومومم. سترګې مې سترې ستومانه کېـدلې. سبا به مې بیا سترګو خپل ملګري څارل. پوهـېدم چې له دې کاره کومه ګټه نـهٔ تر لاسه کېږي، خو ناکراره زړهٔ مې په دې بې ګټې تجربې پسې په راښکون کاږلم.

اتمه ورځ وه چې د زندان اداري خپل تحایف بیرته واخیستل. نور نو هغو کسانو ته دا امتیاز پای ته رسیدلی وو چې د کم ارزښتو امیتازاتو لپاره ئـې خپل ضمیر پلورلی وو او په خاړپوڅو ئـې ورته منډې وهلې. جاسوسان ئـې بیرته خپلو پخوانیو ځایونو ته بوتلل. زه او نعیم ئـې دریم بلاک ته هماغه پخوانی کوټې ته تسلیم کړو. د سابقه زندانیانو له منځه مو کوم څوک ونـهٔ موند. یوازې اروابناد استاد سلطان احمد د «پیکار برای نجات افغانستان د سازمان د مشرتابـهٔ غړی» زموږ ښـهٔ راغلاست ته راغی او په حیرت ئـې موږ ته وویل : «دا څه وینم؟» هغه مو په لنډ ډول له پیښـې خبر کړ. منګ او هک حیران ودرید. نـهٔ ئـې کومه خبره وکړه او نـهٔ ئـې کومه اوښکه توی کړه. اوږې ئـې په رېږدېدو سوې، تا به ویل چې نور ددغـهٔ غم پیټي تاب نـهٔ لري.

نور نو ژوند ما ته د بوسو په اندازې ارزښت نــهٔ درلود. د ملګرتوب په مدرسې کې د مرګ له قافلې شا ته پاتې کېـدل مې د خپل شأن زیب نــهٔ ګڼلـهٔ. د یارانو د مرګ او ویر غم ان د یوې شیبې لپاره نـهٔ خوشي کولم. عقل حکم کاوهٔ چې «هغوی به » ونــهٔ ګورم، خو لیونی زړهٔ مې له عبثو هڅو نـهٔ ستړی کېدهٔ او ما به هره ورځ د زړهٔ په فرمان د پنجرې د میلونو له شا د ورکو شویو یارانو د موندلو په هیلې د سترو ستومانه زندانیانو ګرځـېدا او څیرو ته په غلچکو کتل. دغـهٔ کار د زندان تر وروستیو ورځو دوام وکړ. اوس هم د عادت له مخې دغـهٔ کار ته د لوی زندان د وړوکې کړکۍ، ددومره میلونو، خنجرونو او غیشو له شا، د لالهاندې دنیا لور ته په نومیدو سترګو دوام ورکوم. سترګې مې توِلې لارې لارې سې، خو تول هغه کسان چې په لاره ګرځې زه «ددوی» تینګ او چابک ګامونه نــهٔ سم لیدلای.

بارفیقان زخود رفته سفر دست نداد     سیر صحرای جنون حیف که تنها کردیم

# دوه لالهانده، دوه بې کسه او دوه یوازې




د شهید ازهر په لاس لیکل شوې لاس ـ نښه

یوۀ دوست ته تر ټولو ښــۀ ډالۍ هماغه خوږې او نــۀ هېرېدونکې خاطرې وي.
شهید ازهر «په خپل خط»

د ۱۳۶۱ل کال د ورې له میاشتې څخه نېږدې یوه میاشت تېرېدله. زه او نعیم دواړه په کړېدلو داغلو زړونو او ټپي ارواحو د دربیم بلاک په څلورم پوړ کې خپل مرگ ته سترگې په لار ناست وو. پاڼې رژوونکې مني د مظلومو ونو پاڼې لوټلې او د تلې د میاشتې وچ او سوځنده سړښت د دوبي پر تودخې کرار کرار برلاسی کېــدۀ. د شاو خوا غرونو غماز او سوړ باد د بتخاک او څرخي پلـۀ تر غمځپلو دښتو پورې رارسېدۀ او د شپې له پلوه زموږ کوټې ته د بې ښیښو پنجرو له لارې راننوت چې زما ډنگر او ناروغه ځان چې اعدام ته ئـې شیبې شمارلې او نفس ئـې ایست په بیرحمی په متروکو ووهې. زما روغتیایي حالت ورځ تر بلې بدتره کېدۀ. ویرژړلي آسمان به له یوې مخې د اوښکو سیندونو وبهول. زموږ له بدمرغه بخته ان زموږ د کوټې بام په آهن څادر نـۀ وو پوښل سوی. د بام سمنټونو به د باران هر څاڅکی له ستوني تیر کړ او بیا به ئـې زموږ پر سرونو د گولۍ په شان وویشت. له یوې جوړې نازکو جامو پرته مې بل څه نـۀ درلودل. نـۀ مې پیسې درلودې او نـــۀ پایواز. خو د عامو خلکو خبره چې د هر تور تم په تیارو کې کولای سو یوه سپینه کرښه ومومو.

به هنگام سختی مشو نا امید کز ابر سیه بارد آب سپید

«د سختۍ پر مهال مـۀ نومیده کیږه، ځکه له تورو وریځو رڼې او ورېدونکې دي»

د کوټې باشي مو د کاپیسا له ولایت څخه وو، زما د حال او احوال پوښتنه ئـې وکړه. د قصو په لړ کې څرگنده سوه چې نوموړی زما شهید ورور مولوي محمد قاسم ئـې پېژاندۀ او تر اوسه ورته درناوی لري. زما ورور خپل ډېر ژوند د کاپیسا

په ولایت کې تیر کړی وو. له دغې آشنایيې وروسته، زما پر وړاندې د باشي په چلند کې بدلون راغی. یوه ورځ ئـې راته وویل : «که کومه ستونزه ولرې راته ووایه». له ځان سره مې فکر وکړ چې همدا ماته یو ښه شیبه ده چې له دوستانو څخه مرسته وغواړم. کله نا کله زندانیانو ته دا حق ورکول کېدهٔ چې خپلې جامې او اسباب له بلې کوټې یا بل بلاک څخه وغواړي. ددې کار طرزالعمل داسې وو چې زنداني به د بلاک د قوماندانۍ په عنوان عریضه ولیکله. که قوماندان د بلاک موافق وو نو سرتیري به د هغه اجناس او کالي ورته راوړل او څښتن به ئـې سپارل. باشي ته مې وویل : «د خپل یوهٔ وطندار په نامـهٔ یوه پرزه ګۍ لیکم چې د چای یو ترموز، جاکټ او څو افغانۍ راته راولیږي. په لاره او چاره ئـې ته په خپله پوهېږې.» باشي راته قلم او کاغذ راوړل. میرعلم ته مې یو لنډ لیک ولیږهٔ او یوه ځانګړې نښه مې په کې ولیکله. دا هغه رمز وو چې یوازې زه او میرعلم ورباندې پوهېدلو او بل څوک پرې خبر نـهٔ وو. دوه ساعته وروسته، سرتیري زما د ملګرو له پلوه راته د چای ترموز، جاکټ او یو څه نغدې پیسې راوړې. ما په یوهٔ غیشي دوه مرغۍ وویشتلې، هم مې خپله اړتیا پوره کړه او هم مې له خپل ژوندي پاتې کیدلو یارانو ته خبر ورکړ.

دې کوټې ته زموږ له راتګه دوې اونۍ نـهٔ وې تیرې سوې. یوه نیمایي شپه وه چې ما او ازهر ته وویل سول : «کالي مو ټول کړئ». په خپلو منځو کې مو وویل چې دا دی وار مو راورسېد. له کوټې دباندې ووتلو. سرتیري په دالان کې ودرولو او په خپله له پوړیو کښته لاړ. نیم ساعت وخت ئـې ونیو چې بیرته راغی. په هر حالت کې چې وي انتظار ډېر سخت دی او تر ټولو سخت ئـې د مرګ ګنګ انتظار دی. سرتیري له ځان سره بوتلو او د دویم پوړ یوې عمومي کوټې ته ئـې وسپارلو. د کوټې باشي وویل : «راسئ! زه غرغره یي، تاسو غرغره یان». ازهر راته په کټلو کټلو وویل : «ګومان کوم چې موږ پیژني.» ومې ویل : « تجربه راته وایي چې د شپې په دې نیمایي کې عادي زنداني له یوې کوټې څخه بلې کوټې ته نـهٔ بیایي.» اکثریت زندانیان بیدهٔ ول. کله چې ورځ سوه، نو د ورځې په هماغو لومړیو شیبو کې زما ګران ملګری استاد زکریا د غاښونو د برس کولو په پلمې تشناب ته راغی او اړیکه ئـې راسره ونیوله. د هغـهٔ په لیدلو خوښ سوم او زما په نیم ژواندي بدن کې یوه تانده روح وغوړېدله. د ځان او د یارانو د برخه لیک په هکله مې ورته لنډ مالومات ورکړل. حالت ئـې زښت ډېر خراب سو او له خبرو کولو پاتې سو. په پای کې ئـې وویل : «شکر چې تـهٔ خو ژوندی ئـې.» څو شیبې وروسته ارواښاد سلطان «سازماني نوم ئـې ناصر وو» راڅرګند سو او په خپلې همیشنۍ خندا ئـې ونازولم. ددغو دوه وو یارانو حضور زما د غمونو پیټی یو څه سپک کړ. موږ د خلکو په منځ کې له یو بل سره خبرې نـهٔ کولې، نورو خلکو ته مې داسې ښودله چې ګنې له یو بل سره نــهٔ پیژنو. ډېر ژر د زندانیانو په منځ کې ګنګوسه خپره سوه چې زه او نعیم د «مرګ له سفره» راستانـهٔ سوي یو. له دې وروسته موږ د زندانیان په منځ کې د خلکو خبره «نقطـهٔ نیرنګي» شولو. تقریباً داسې څوک نــهٔ ول چې موږ ونــهٔ پیژني او زموږ له غمځپلي داستانه خبر نــهٔ اوسي. ما ته په تجربې دا خبره جوته سوه چې مقاومت په خپله اتوریته زېږوي. هر هغه څوک چې د ظلم، تیري او بې عدالتۍ پر وړاندې ودرېږي د درناوي او تکریم وړتیا لري. ما لیدل چې ډېرو زندانیانو زموږ په حق کې له زښت ډېر لطف او مینې کار اخیست. له بلې خوا د اورپکو افراطیونو او د جواسیسو له ځور او اذیت څخه د یوې شیبې لپاره خوندي نــهٔ وو.

یوه شپه سرتیري زما نوم ولوست. په نیمه شپه کې د «نوم لوستنګ» ځانګړې مانا درلودله. زندانیان له خوبه پاڅېدل. د ټولو مخ زما پلو ته وو. څوک راته غمجن وو او چا به په خپل حال د وینو کانګې کولې. کله چې د خاد د اطلاعاتو شعبې ته

ننوتم نو د خاد د افسر د سپکو سپورو له ویلو او بې مانا خبرو پوه سوم چې د زندان اداره په دې کار سره له یوې خوا غواړي د زندانیانو روحیه ماته کړي او له بلې خوا پر ما روحي عذاب ډېر کړي. د زندان د کارمندانو دا نـهٔ خوښـېدل چې زنداني دې د انسان د اولاد په شان د حیثیت او وقار ښتن واوسي. له هغې مینې او درناوي څخه به ددوی زړهٔ پرک په چاودیدو راغی کله به چې یوهٔ زنداني و بل زنداني ته خپله مینه او درناوی څرګنداوهٔ. لنډه دا چې، د زندان د اداري کرغیرن سیاست د زنداني بې خاصیه کول او له ټولو انساني اوصافو او خصایلو د هغـهٔ تشول ول.

زه به د خاد د لنډغرو د رزیلانه توطـئـو او ددوی د لعن او طعن په باب چې د خپلو غلاوو د علني کیدلو په جرم زندان ته لویدلي ول، څه ووایم؟! دا غملیک ځانته جلا داستان لري چې اوس ئـې د پیلولو فرصت نـهٔ دی.

د پنجرې «قفس» باشي یو بریتو ځوان وو چې خلکو به ورته د تورن خطاب کاوهٔ. ویل کـېدل چې نوموړی د قلعـهٔ قاضي له سیمې څخه دی. ظاهراً ئـې د پنجرې د زندانیانو په کار کې لاسوهنه نـهٔ کوله. ګنګوسه سوه چې بې سرنوشته زندانیان دوییم بلاک ته لـېږدول کـېږي. زندانیان په دې خوښ ول چې نور زندانیان په دویم بلاک کې پر چپرکټ بیدیږي. طبیعي خبره ده چې د زندان په ډېرو سختو شرایطو کې تر ټولو لږ امتیاز ته هم د چا زړهٔ ښـهٔ کـېږي. له بلې خوا، د زنداني نړۍ تنګه او تکراري ده. زنداني له تکراري څېرو او بې خوځښته چاپیریال څخه بیزاره وي. له همدې کبله ده چې زنداني هر لیږد او بدلون ته چې ښایي په کې د ښـهٔ والي زیری پروت وي، زړهٔ ښـهٔ کاوهٔ.

دوییم بلاک ته د لیږدولو ورځ راورسـېده. په پرله پسې کتارونو کې د اسیرانو کاروانونه وخوځول سول. دې کډې ټوله ورځ دوام وکړ. د یوهٔ دوزخ له منځه ئـې دباندې راوایستلو او بل دوزخ ته چې متروکه او آسمان «هماغه رنګ» وو وسپارلو.

له هغو کسانو څخه چې د حبس موده ئـې ټاکل سوې وه - د بې سرنوشتو زندانیانو په بیلولو څرګنده شوه چې پر موږ به لا نور سخت مقررات او شرایط پلي سي. لومړی څو ورځې خو د ځای پر ځای کـېدلو او د بې نظمی له کبله د زندان د استخباراتو لړم صفته جاسوسان («د زندانیانو» په تعبیر فشنګچیان) په موږ پسې نـهٔ ګرځـېدل او موږ ته نـېږدې نـهٔ شول. وروسته کله چې د زندان اداره د اوضاع پر کنترول برلاسي سوه د ځورونو، رواني شکنجو او د توطـئـو زهرجنو نیښونو زموږ ستړې ستومانه روح تر برید لاندې ونیوله. ما او نعیم به اکثراً پر یوهٔ دسترخوان ډوډۍ خوړله. د کاسو او ګیلاس د پریوللو پر مهال به مو له یو بل سره شخړه وه. د نعیم علمي، سازماني قدر او منزلت او د هغـهٔ د عمر د لویوالي په پام کې نیولو سره ما ته اړینه وه چې داسې کارونه ما باید کړي وای خو هغـهٔ به تر ما مخکې منده کړه او لوښې به ئـې پریولل. کله نا کله به تر دې کچې شخړه تونده سوه چې کاسې او ګیلاسونه په ورځو ورځو ناپریوللي پاتې کـېدل. د نعیم چای او شیریني ډېر خوښ ول. دا هغه څه ول چې اکثراً په زندان کې د کم پیدا کیمیا په مانا ول. ما په ټوکو د «کلیم» د وچو شیدو د ډبې پر مخ چې زموږ شیریني دانی وه په ریحاني یا څرګندو ټکو ولیکل : « د چای ښبلو پر مهال یوازې یو دانه»! د چای ښبلو پر مهال به د نعیم لاس بې اختیاره د شیریني پر لور اوږد سو خو هر کله به ئـې چې سترګې پر لیکنې ولګـېدې لاس به ئـې لیرې کړ او بیا به ئـې په خپلې خوږې خندا کې ویل : «څه وکم، استاد راباندې جیره بندي جوړه کړې ده». ( د زندان اداري) به کله نورو جلا کوټو ته ولیږدولو. موږ به ئـې له یوې کوټې څخه بلې ته چې غم – پیټی به مو پر اوږو وو ددې لپاره


لیږدولو چې د سادیستانو انسان ځورونکي، له رخې - سخې او کینې ډک زړونه تسل ومومي. زه هیڅکله له خپل زنداني کیدلو ګیله نـهٔ لرم او هیڅکله مې نـهٔ دي ویلي او نـــهٔ وایم چې زه هیڅکاره وم او د سړک له مخې ځنځیر او زولانه سوی زندان ته لویدلی یم. خبره د خاد د سرې خورو او د زندان د ځان- پلورل شویو جاسوسانو له غیر انساني، له کینې ډک چارچلند، دنائت او سپکتوب دی چې زما په حق کې ئـې ترسره کړې دي.

زه په ډېرو سختو او ځوروونکو شرایطو کې وم. ما ته لویه تکیه او د زړهٔ تر ټولو قوت زما همځنځیر او د لارې ملګری نعیم ازهر وو چې په خپلو عالمانه خبرو او له لوییني ډکې مینې ئـې زما د زړهٔ پر ټپونو پټۍ اینښودله.

کله ناکله به نعیم جان ویل : «که اختیار زما په لاس کې وای چې د ژوند او مرګ تر منځ کوم یو غوره کړم، زه مرګ غوره کوم.» ددې خبرې په اورېدلو به مې غمجن زړهٔ خوړین سو او زړهٔ به مې په درد راغی. ما به د اعتراض په ژبه ورته وویل : «نعیم جانه! داسې مـهٔ وایه! د زندان کړاو د مبارزې د رنځونو یوه برخه ده، باید صبور او مقاوم اوسو. هر کله چې مرګ راغی، هغه خو هرو مرو منو.» نعیم جان به لنډه موسکا وکړه. ددې موسکا مانا دا وه چې بدخشان ته ولې لعل وړې؟ ما به په سرټمبګی خپلې موعظې ته دوام ورکړ او ویل به مې :« په دې کې شک نـهٔ سته چې زندان د عذاب او رنځ ځای او سور تنور دی، مګر موږ مجبوره یو دا اور وزغمو. ښایي د یوهٔ مبارز لپاره تر ټولو آسانه لاره د مرګ غوره کول وي، خو موږ خو آسانه لاره نـهٔ ده غوره کړې.».... نعیم د کوم دلیل له وړاندې کولو پرته به ویل : «ښه نو، زه خو همداسې فکر کوم. رستاخیز[69] هم زما په شان وو.»

نعیم آرام او مؤدب انسان وو، ډېرې لږ خبرې ئـې کولې. که اړتیا نـهٔ پېښېدله خبرې به ئـې نـهٔ کولې. ډیرې وختونه به د خپلو افکارو، او باطني احساساتو په ځپاندې نړۍ کې بوخت وو. زموږ خلک وایي: «د هر چا چې بام لوی وي، واوره ئـې هم ډېره وي.» له همدې کبله ددهٔ غم او سودا په ساما کې ددهٔ د مهمو مسؤولیتونو اندازې لوی وو. کله نا کله به، ددهٔ خبرې نـــهٔ کول، او په خپل ځان کې ډوبېدل به له حده ووتل. هڅه مې کوله چې نوموړی له دې حالته دباندې راوباسم. یوه موضوع به مې رامیدان ته کړه، د بېلګې په توګه پوښتنه مې ورڅخه کوله چې : «نعیم جانه! موسیقي اورې؟» سره له دې چې چرت او فکر ئـې کوم بل ځای کې بند وو، ځواب به ئـې راکړ چې:

- ولې نه، مګر نـهٔ دې دي اورېدلي چې موسیقي د روح غذا ده؟
- د کوم هرمند غږ دې خوښیږي؟
- د حمیرا او ظاهر هویدا
- ولې دې ددوی غږ خوښ دی؟
- ددې لپاره چې ددوی د غږ «طول موج» ډېر دی


محمد نعیم ازهر

[69] ـ دلته موخه نامتو سید عبدالاله رستاخیز د ډیموکراتیک نوین «شعلـهٔ جاوید» د بهیر له روڼ اندو دی. دی د هرات له ولایته وو د «تره کي – امین» په دَور کې د «خلقي» جلادانو په لاس ابدیت ته ولیږل شو. روایت دی چې کله ئـې رستاخیز پولیګون ته بیوهٔ، رستاخیز په اتڼ کولو روان وو او پر ټولو اعدامیانو ئـې غږ کاوهٔ چې «آیا د همداسې یوې ورځې لپاره مو چمتوالی نـهٔ وو نیولی؟»

بيا به مي خبره شعر او شاعري ته واړوله. نعيم از هر شعر او ادب ته ليواله وو او لاس ئـي په دې ډګر کې بر او لوړ وو، او کله کله به ئـي د حافظ پر يو شمير غزلونو تبصره کوله. د بېلګې په توګه ويل به ئـي : (شيرازي حافظ د خپل ديوان د پيل بنسټ د يزيد بن معاويه د شعر په يوهٔ بند ايښی دی. کله چې پر حافظ نيوکه ونيول سوه نو حافظ په خوب کې وويل :«يو ځُر وو چې د خټو په ډنډ کې پروت وو، راپورته مې کړ او پاک مې کړ.» د هغـهٔ په وينا د يزيد د غزل لومړی بند داسې دی : «ادر کاسا و ناولها الا يا ايهاالساقی»، او حافظ په دې بڼه اړولی دی : «الا يا ايهاالساقی ادر کاسا و ناولها».) په هغـهٔ کال او هغـهٔ حال کې د حافظ دديوان پر لومړۍ مصرعې داسې بحث ما ته له راښکونه ډک وو او زده کړه مې ورڅخه وکړه.

همدا شان نعيم به د خپلو مطالعاتو له غورچاڼ څخه راته روايت کاوهٔ: ستر واک ګوډ تيمور چې د سمرقند او بخارا واکمن وو د شيراز له نيولو وروسته ئـي حافظ ځانته راوغوښت او ورته وئـي ويل : «تا په کوم حق ويلي چې :

اګر آن ترک شيرازی به دست آرد دلِ ما را
به خال هندويش بخشم سمرقند و بـخارا را

[که هغه شيرازۍ تورکۍ مې زړهٔ لاس ته راوړي، نو زه به ئـي هندو شين خال ته سمرقند او بخارا ډالۍ کړم]

د سمرقند او بخارا اختيار او واک خو زما په لاس کې دی، تـهٔ څه کاره ئـي چې د خپل يار لپاره زما د پادشاهی له قلمروه بخشش کوې؟» د شيراز رند چې زړې جامې ئـي په تن کې وې، په ځيرکۍ ځواب ورکړ چې : «ای د عالم سلطانه! د همدغـهٔ بخشايش په پاره ده چې همدا مې ورځ ده.»

په ايټاليا کې ئـي د خپل تحصيلي دوران په زړهٔ پورې داستانونه راته ويل؛ او هم به ئـي د ايټاليا له کېنڼ لاسونو سياسيونو سره د خپلې آشنايۍ قصې کولې. په خورا خوږه او ځانګړې خوندرې ژبې به ئـي قصې کولې، په ايټاليا کې په کوم محفل کې د ګډون پرمهال حاضرينو په دهٔ پورې په دې خندلي ول چې ولې شراب نـهٔ څښي....

يوه موده مو له ډګروال عبدالشکور او ددهٔ له همدوسيه استاد قادر خان سره په يوې کوټې کې تيره کړه. له دوی سره مې آشنايي له همدغـهٔ ځايه پيل سوه. دواړه د سازمان پيکار برای نجات افغانستان د غړيتوب په تور زنداني سوي ول. ډګروال شکور ټينګ، صادق، صميمي او په انقلابي لارې او دود ولاړ سړی وو او دغه ښـهٔ والي ئـي سبب کېدهٔ چې د کينو مبارزينو کورنۍ ورته په درنده سترګه وګوري.

ما او نعيم جان ډېر له قادر خان «مشهور په سرمعلم» سره نيږدې والی درلود، له هغـهٔ سره به کښېناستلو، بحث به مو کاوهٔ او هم به مو خندل. ما له استاد قادر خان سره څه نا څه ډېره موده په دويم بلاک کې تيره کړه. نوموړی يو له نامتو روڼ اندو څخه وو او پريکنده کيڼ لاسی دريځ ئـي درلود. د هغـهٔ صميمت او مهربانۍ به هيڅکله له ياده ونـهٔ باسم.

زموږ تر څنګ يو ځوان زنداني وو چې ټولو د نطاق په نامـهٔ ياداوهٔ. د کابل پوهنتون محصل او د پغمان د اورياخيلو اوسيدونکی وو، له همدې کبله ئـي اورياخيل تخلص کاوهٔ. هر ځل مې چې د اورياخيلو کلمه اورېدله نو اروابښاد استاد

عزیزالله مې په یاد راتـهٔ. استاد هم د پغمان د اوریاخیلو وو. د هغـهٔ نامتو او شریف انسان په پار مې د اوریاخیلو د نامـهٔ زښت ډېر او دروند درناوی کاوهٔ. ددغـهٔ ځوان له خبرو پوه سوم چې دی هم د استاد عزیزالله له نیږدو خپلوانو څخه دی. له همدې کبله مې له دهٔ ځوان سره د زړهٔ لیوالتیا ډېره سوه. هغـهٔ به هم خپله د زړهٔ مینه موږ ته په خپلو کړو وړو کې راښودله او د پتنګ په شان زموږ ګرد چاپېره تاویدهٔ. له ما او ازهر سره د اوریاخیل نیږدیوالی پر اخوانیانو ښـهٔ ونـهٔ لګېد. دی ئـې له موږ سره له ناستې ولاړې منع کاوهٔ خو دغـهٔ ځوان د اخوانیانو ګواښونه هیڅ وګڼل او خپله اړیکه ئـې له موږ سره پریک نـــهٔ کړه.

# د ګډ غم د يارانو ياد

د اروا پوهني پوهانو غم داسې يو حس تعريف کړی چې تل تر تله پاتې کېږي. بلژيکي څېړونکي وايي :« په انسانانو کې نولس ګوني احساسات : غم، ښادي، کرکه، کريابې، حسادت، آرامي، ليوالتيا، ستاينه، ګناه، سترس «رواني فشار»، غرور، ګنګستوب، عصبانيت، لمسول، ترحم، سپکاوی، ويره، شرم او بلوساک «انزجار» ځانګړی عمر لري. ددوی په منځ کې غم ۱۲۰ ساعته تر ټولو ډېر پاتې کېدونکی حس دی، خو ښادي يوازې ۳۶ ساعته عمر لري، د يوه دوست د له لاسه ورکولو غم د نورو احساساتو لکه شرم، تحير او خپګان په پرتله۲۴۰ ځله زيات د عمر اوږدوالی لري. پرله پسې پيښې د انسان غم لا زياتوي او معمولاً خلک اوږد مهال ته اړتيا لري چې ورباندې غلبه وکړي.[70]»

د زندان رنځ او عذاب کولای سو يوه مخروط ته تشبيه کړو چې هر څومره چې له رأس څخه کښته د قاعدې پر لور لاړ سئ هماغومره ددغه رنځ او کړاو لمنه لا پسې پراخيږي او درنديږي. د زندان د لومړيو ورځو د دردونو حجم د زندان د پای د وروستيو ورځو د غم او کړاو له پيټې سره برابر نـهٔ دی. د زندان عذاب د واورو د پاغوندو د خوځښت په شان دی چې په واورو د پوښل شوې ځمکې پر مخ درومي او له هر تاو سره لويږي او لا پسې لوييږي. ددغو رنځونو يوه برخه ستا او بله ئـې د نورو رنځونه دي. کله چې تـهٔ د نورو کړاو او رنځ په سترګو وينې نو خپل درد به دې ځکه هېـر سي چې انسان ددې حق نـهٔ لري چې يوازې له خبره درده ناښت وکړي. که داسې وای نو انسان د انسانيت له کړۍ څخه دباندې وت.

تو کز محنت ديگران بی غمی نشايد که نامت نهند آدمی

(تـهٔ چې د نورو له کړاوه بې غمه ئـې نـهٔ ښايي چې ستا نوم دې د انسان کښښـېودل شي)

آيا دا درته ممکنه ده چې ته تر شکنجې لاندې د يوهٔ زنداني کوکې او چيغې واورې او ستا په زړهٔ کې هيڅ تير نـهٔ سي؟ د زندانيانو د سترو ستومانو او غمجنو څيرو او د ماتو غاړو ليدل د انسان زړهٔ کبابوي. د مستطنقيو فرعون مآبانه چلند او تکبر کټ مټ لکه سوهان دی چې د زنداني جسم او روح سولوي. هيڅ وجدان به يو سالم وجدان نـهٔ وي چې د خپلو هېـوادوالو له ډله ييزو او پرله پسې اعدامونو څخه ئـې عذاب نـــهٔ وي ايستلی. کله چې ستا همفکره او د يوې لارې ملګری چې له ځانه پر تا ګران دی او ستا له څنګه ئـې د اعدام لپاره پوليګون ته بيايي، - ته سل ځله – نه، نه، - په زرهاوو ځله ورته وژل کېږې...

د عوامو متل دی چې وايي : د آدمي زهر آدمي ليرې کوي. ددې خبرې سموالي مې په ځلونو ځلونو په تجربې ليدلی دی. هر کله به چې زما پر خوارځواکو اوږو باندې د غم د پيټي دروندوالی ډېرېـدهٔ نو هرو مرو مې له خپل کوم ګران ملګري سره ويشلی دی.

---

[70] - مقاله «د بيلابيلو احساساتو د پاتې کيدلو موده » «دانستی های زندګي» وبسايت http://webaran./ blogfa.com

غمی کان با دل نالان شود جفت          به همسالان و هم حالان توان گفت

دا ځل هم زنداني یارانو په خپلې لوېینې زما مرستې ته راودانګل او زما د زړهٔ پر ټپونو باندې پټۍ کښېښودلې. د یوې لنډې مودې لپاره ئـې زه له نعیم جان څخه جلا کړی وم او د دویم پوړ یوې عمومي کوټې ته ئـې بیولی وم. په کوټې کې د یارانو په لیدلو مې سترګې روښانه سوې. په هغـهٔ حالت کې چې زه وم ما ته هیڅ شي دومره ارزښت او ښـهٔ والی نـهٔ درلود چې د یوهٔ یار لیدل او خوږ مجلس ئـې وو. ددغو ګرانو زندانیانو په منځ کې مې څو تنه پیژندل او له یو شمیر سره تازه آشنا سوم. کله چې کوټې ته ننوتلم د دوستانو په سترګو کې د خوښې بریښنا په ځلیدو سوې. میرعلم تر نورو ټولو راوړاندې سو او زه ئـې له ځان سره بوتلم. دوستان راپورې راټول سول. په لنډ وخت کې ټولو وپېـژندلم. اتفاقاً د کوټې یو ډېر شمیر زندانیان د کین لاس د سازمانونو غړي ول. ټول دوستان «له استثنا پرته» زما په لیدلو خوښ سول. هغه څه چې پر ما راغلي ول دوی خبر ول. له همدې کبله ول چې د مهربانی او شفقت تود لاس ئـې راته ډېر غځاوهٔ. ددغو دوستانو له انډیوالی او زړهٔ سواندۍ ډک چلند به هیڅکله له یاده ونـهٔ باسم. که ددغو دوستانو پر ځای او په موقع مرسته او مهرباني راسره نـهٔ وای، په ډاډ ویلای سم چې حالت به مې لا خوار او زار سوی وای.

زما د ژوندانـهٔ د خوږو خاطراتو او خوښیو په منځ کې یوه هم له همدغو یارانو سره مصاحبت او د زړهٔ خوالـهٔ وو. که له دغو دوستانو سره د آشناییۍ سعادت راته نـهٔ وای په نصیب سوای نو د خاطراتو کتاب به مې بشپړ نـــهٔ وای. ددغو یارانو د هر یوهٔ په وجود کې دومره ښـېګڼې راټولې سوې وې چې هره یوه ئـــې ما ته یوه بیلګه وه. ما له دغو دوستانو ډېر شیان زده کړل. تجربې او فکري پانګې مې زیاتې سوې. خپلې کمبودۍ او تیروتنې مې اصلاح کړې. باید ووایم چې زما پر وړاندې د دوستانو له سپیڅلتیا او مهربانۍ ډک نیک چلند ددوی د لوړې سیاسي او اخلاقي روزنې استازیتوب کاوهٔ.

یوه ورځ د صابر عدن تر څنګ ناست وم. په ونه دنګ، په څیرې ښکلی، په فکر پوه، عالمه او ټینګ ځوان وو. «اختصاصي انقلابي محکمې» په متوسط حبس محکوم کړی وو. سره له دې چې ورسره مې کومه مخکینۍ آشنایي نـهٔ درلوده، خو له ما سره ئـې تود او د ملګرتوب ډک چلند وکړ. د چای ګیلاس ئـې راته په لاس کې راکړ او پولیګون ته زما د همدوسیه ملګرو په هکله ئـې پوښتنې وکړې. داستان مې ورته شرحه کړ. حالت ئـې بدلون وموند. رنګ ئـې والوت. خوله ئـې وچه سوه او نور له پوښتنو پاتې سو. دومره نا آرامه سو ته به وایې چې رښتوني ورونه ئـې ورته وژلي دي. دا زموږ وروستی دیدن وو. هغه ئـې دریيم بلاک ته بوت. د چا له خولې مې واورېدل چې نوموړی له زندانه له خوشې کیدلو وروسته سمدستي د کومې توطـئـې له کبله په یوې ترافیکي پېښه کې ووژل سو. روح دې ښاده وي!

انجنیر شکور خرم خیل زموږ د هېـواد د روڼ اندانو یو نیک نومی روڼ اندی دی. له هغـهٔ سره هم په دویم بلاک کې آشنا سوم. خرم خیل زړهٔ سواندی، د همت خاوند، مهربانه او هېـواد پال انسان دی. د نوموړي تر ټولو ښـهٔ صفت دا وو چې تل به ئـې د دوستانو او ملګرو مرستې ته وردانګل. زه د هغـهٔ د مینې پوروړی یم. روغتیا ئـې غواړم!

ډاکټر ابوذر د نیکو اخلاقو، د تیز هوښ او زغم ځوان وو، دومره به ئـې مینه کوله ته به وایې چې کلونه کلونه ئـې پېـژنې.

جوهر کوهدامنی د ښکلي دنګي ونې ځوان وو چې اوږدهٔ بریتونه ئې درلودل. آرام او په وقار به پر خپل چپرکټ ناست وو او سګریټ ئې وهل. لږ خبرې به ئې کولې او ډېرې وختونه به په فکرونو کې ډوب تللی وو. له سپین سرې مور پرته ئې بل څوک نـهٔ درلودل. ددوستانو د خبرو له مخې، ځوان ورور ئې شهید سوی وو. د خپل ورور له مرګه خبر نـهٔ وو. له دې سره سره غمځپلی او ویرجن ښکارېدهٔ. هیڅ چا ته ئې د خپل د زړهٔ راز نـهٔ وایـهٔ. څوک وربانديې نـهٔ پوهېدل چې په ډک غمجن زړګې کې ئې څه دي. ما به چې کله ورسره خبرې کولې، نو خپل غمونه به ئې یوې خوا ته کښېښودل او د ملګرتوب په لطف به ئې خبرې راسره پیل کړې. له هغهٔ څخه مې هیله کوله چې ورزش پیل کړي. موسکی به سو او هیڅ به ئې ونـهٔ ویل. هڅه مې وکړه چې سیګریټ خوشې کړي خو بریالی نـهٔ سوم. دوه کاله مخکې یوهٔ دوست له کابله زنګ راته وواهـهٔ او د موټر په یوهٔ ټکر کې ئې د جوهر د مرګ خبر راکړ. ددې خبر په اورېدلو مې په زړهٔ کې اور بل سو او خاطرات ئې زما په ذهن کې ژوندي سول. د مالوماتو له مخې نوموړي د مرګ تر وروستي سلګۍ پورې د روزګار په فقر او تنګسي کې ژوند وکړ خو خپل او د خپلو یارانو عزت، پت او تأریخ ئې لیلام نـهٔ کړ. یاد دې تلپاتې وي!

له سمیع جان او ورور ئې اروابښاد قادر سره په همدې کوټه کې مخامخ سوم. دوی نیک چلند، د ښو اخلاقو خاوندان، صمیمي، آرامه، مهربانه، راز ساتونکي، د لږو خبرو ځوانان ول، ملګري وربانديې ګران ول. ددوی همدا نیک خصال ول چې په بند د را ایسارو یارانو په زړونو کې ځای ومومي. قادر او سمیع دواړه د خپلو بندونو د مودې له بشپړولو وروسته له زندانه خوشې سول. سمیع جان چې خدای دې ورته اوږد عمر ورکړي اوس ژوندی دی خو په دریغ او افسوس چې مشر ورور ئې قادر د تورمخو او بلد چلندو په لاس وتښتول سو او تر اوسه ئې لا څرک نـې لګېدلی. یاد دې تل پاتې وي.

سلیم ظفر د خپل نامتو او مبارز شهید ورور استاد نور علم صوفي زاده یو یادګار وو. استاد نور علم د شهید عبدالمجید کلکاني یو له وفادارو یارانو څخه وو چې د پرګنو ضد «خلقیانو» په لاس ئې د شهادت جام پر سر راواړاوهٔ. نوم دې تل پاتې وي! ددغهٔ ستر انسان ویرځپلي کورنۍ زموږ یارانو ته ارزښتمند خدمات تر سره کړي دي. سلیم جان چې د خپل ورور د میراني نښې په ځان کې لري د زندان دوره ئې په میراني او سرلوړۍ تیره کړه. د زندان د شپو ورځو خاطراتو ته چې له دهٔ سره مې په زندان کې تیرې کړي دي ارزښت ورکوم.

د ډاکټر حلیم رکین نوم مې د زندانیانو له خولې اورېدلی وو. نوموړي د ۱۳۶۱ل کال د دویم بلاک د زندانیانو په عمومي اعتصاباتو کې مهمه ونډه درلوده. ډاکټر رکین له یو شمیر زندانیانو سره د اعتصاب د مشرۍ او په لارې اچولو جرم تحقیق ته بیول سوی وو. له تحقیق او ددوسیې له بشپړېدو وروسته دهٔ ته او څو تنو نورو ته اضافي حبس ورکړ سوی وو. له رکین سره چې زموږ کوټې ته نوی راوړل سوی وو ما لنډې خبرې وکړې. د دومره ډېرو کړاوونو له ګاللو وروسته ئې ان په تندې کې یوه تروه کرښه هم ښکاره نـهٔ سوه. زموږ له آشنایيۍ لا ډېره موده نـهٔ وه تیره سوې چې نوموړی ئې زموږ له کوټې وایست. نیکمرغي دې ورسره مل وي!

کاکا خال محمد هغه انسان وو چې د حفیظ الله د استبدادي واکمنۍ پر مهال زنداني سو او د مرغومي له شپږمې وروسته هم له زندانه خوشې نـهٔ سو او په زندان کې پاتې سو. د زندان سختیو او د روزګار لوړو ژورو او ترخو شپو ورځو ددهٔ دنګه

ونه کړه نـهٔ کړه او د کاڼي په شان د توپان په زړهٔ کي ودرېد. نوموړي په لومړيو کي سواد نـهٔ درلود، خو په زندان کي ئـي نـهٔ يوازې ليکل لوستل زده کړل بلکه سياسي کتابونه ئـي هم ښـهٔ پريمانه ولوستل او ځان ته ئـي د مطالعي د خاوند او آگاهی تر کچي وده ورکړه. نوموړي له کتاب، علم او مطالعي له سره مينه درلوده او له ملگرو سره به ئـی سياسي مباحث کول. له سياسي مباحثو څخه ددهٔ موخه حقيقت موندنه او نورو ته زده کړه ورکول ول. ياد دې ژوندی وي!

متين پنجشيری په خپل توند خوی او سپينو خبرو نامتو وو. ټينگ، قاطع او بې ډاره سړی وو. نـهٔ سم کولای مينه ئـي له زړهٔ وباسم.

د قاضي راتب ورور فرهاد فقيري چي دومره ډېر عمر ئـي نـهٔ درلود تنکی ځوان وو، هوښيار، په ايمان سمبال، مدبره او د خوشحاله خـُلق څښتن وو. ددهٔ ټوله کورنی د سياسي فعاليتونو په جرم او د روسانو له گوډاگي دولت سره د مخالفت په تور زنداني شوې وه. ما يوه ورځ هم فرهاد ونـهٔ ليد چي ددهٔ پر مخ او څيرې باندې دې د غم او يأس دوړې ناستي وي.

موسی عسکريار ځانگړی ذوق او خاصه سليقه درلوده. د کارل مارکس په تقليد ئـي خپله ږيره او وېښتان اوږدهٔ پرېښودلي وو. تل به ئـي خپله ږيره ږمنځوله. په پرق به خنديدهٔ. د خندا د کړس غږ به ئـي تر ليرې ځايونو ورسيد. د کپيتال کتاب به ئـي پر زنگانـهٔ ايښی وو او لوست به ئـي. په ټوکو به مي ورته وويل : «استاد جانه! کوم شی دې ورڅخه زده کړل يا موږ ته ځان ښيي؟» دی به په کړس وخنديد او وبه ئـي ويل : «څنگه ښـهٔ پوهېږې!» له زندانه دباندې يو ناڅاپه مړ سو او مرگ ئـي راباندې درونـد پريوت. روح دې ښاده وي!

تورن پُردل مي د ښوونځي له مهاله پېـژاندهٔ. موږ دواړه د آقـتـاش په لومړني ښوونځي کي وو خو دی له ما په لوړ ټولگي کي وو. له هماغو لومړيو ئـي ورزش ته ليوالتيا درلوده او د ښوونځي د واليبال د ټيم پيژندل شوې او فعاله څيره وه. د ښوونځي ټولو زده کوونکو دی پېـژاندهٔ او درناوی ئـي ورته درلود. په ياد مي راځي چي د ښوونځيو د واليبال په سياليو کي تل ښـهٔ ځلېد او موږ به ورته په شور او ږوږ د لاسونو چکي کولې. له شپږم ټولگي څخه له فراغت وروسته عسکري ښوونځي ته لاړ او صاحب منصب سو. کله به چي ددهٔ د چپرکټ له څنگه تيرېدم په ټوکو به ئـي راته ويل : « وطنداره! راپورته کېږې يا له زوره کاره واخلم؟» ورته به مي وويل :« تـهٔ خو پهلوان ئـي، د چا زور په تا رسېږي.» مخامخ به ورته کښېـناستم او د ښوونځي د دوران د ښو ورځو او د ششدرک د خاد د شکنجو له ناښادو ورځو يادونه به مو کول.

شيرين آغا مشهور په قصاب د ميرگي له ناروغی څخه کړېدهٔ. د خوښی ځای دی چي دا ناروغي ئـي هماغلته زندان کي خاورو ته وسپارله او روغ رمټ راووت. د اطرافي خاد مدير حاجي سخي دغـهٔ زړور زنداني ته دومره برق ورکړی وو چي د ميرگي ناروغي د ددهٔ له ککرې والوتله. شيرين آغا يو سرښندوی، زړور او د يارانو خدمتگار ځوان وو. مستنطق د تحقيق په لړ کي ورته يو ډله ييز عکس ښودلی وو چي دی اعتراف ته اړ باسي. شيرين آغا همدغـهٔ عکس ته چي دی خپله هم د يارانو په منځ کي په عکس کي ښکاريده لاس واچاوهٔ، د مستنطق له لاسه ئـي واخيست، عکس ئـي خولې ته واچاوهٔ، وېي ژوهٔ او له ستوني ئـي غړوپ تير کړ. دی په خپله وايي چي مستنطق دی له ستوني ټينگ نيولی وو چي ژول سوی

عکس ددهٔ ستوني راوباسي خو بريالی نــهٔ سو او دهٔ لا وختي خپل نس ته رسولی وو. څرګنده ده چې دداسي «ګستاخۍ» په بدل کې ددهٔ شکنجي دوه ځله نورې زياتي سوې او څور او کړواو او سپکي سپورې خو بې شميره وې.

انجنير رحمت درونـد او غلی پر خپل ځای کښېـناسـتـهٔ. شريف او د لوړ وجدان انسان وو. نرم طبيعت ئـې درلود. هيڅکله ددهٔ له خولې تونده او سخته خبره نـهٔ اورېدل کـېده. ددهٔ مهرباني پر ټولو خپره وه.

انجنير بصير مې په ياد راځي. چپرکټ ئـې د چپرکټونو تر منځ راهرو کې وو. د چپرکټ په پاسنی طبقه کې بيدهٔ کـېدهٔ. هر کله به چې له ښنګه ئـې تير شوم موسکی به سو او په صميميت به ئـې وويل : « انډيواله! راځه چې يو ځای چای وڅښو.» سياسي خبرې ئـې خوښې وې او په ځير به درته غوږ وو. يارانو به ورسره ټوکې کولې چې په قهر ئـې کړي، خو دهٔ به خندل او څه به ئـې نــهٔ ويل.

استاد عبدالرسول او استاد ميراحمد د دويم بلاک د «فلز کاری» په کارګاه کې کار کاوهٔ. دوی ئـې نوي زموږ کوټې ته راوستلي ول. استاد رسول د ژوندانـهٔ په بټی کې پوخ شوی او د روزګار سرې تودې ئـې پريمانه ليدلې وې.

يوه موده مې له عتيق الله نائـب خيل سره تيره کړه. هڅاند، د استعداد او نزاکت خاوند انسان وو. هڅه ئـې کوله چې انګليسي ژبه زده کړي. ددهٔ له زندانه د خلاصون ورځ مې په ياد راځي. خپل کتابونه او وسايل ئـې له ځان سره يو نـهٔ وړل او ټول ئـې پر ملګرو باندې وويشل.

له خپل ګران يار ولي جان سره په زندان کې آشنا سوم. زموږ دوستي او صميمت لا نور زيات سو. له نيکه مرغه چې دا دوستي تر نن پورې هماغسي ټينګه ولاړه ده.

د کابل د قلعـهٔ قاضي له اوسـېدونکي نثار سره په زندان کې آشنا سوم. نوموړی صبوره، آرامه انسان وو او د نيکی او دوستی پاس ئـې درلود. خپل ورونه ئـې د افغانستان د آزادئ په لاره کې له لاسه ورکړي ول.

د آزادئ د لارې د يوهٔ روڼ اندي او مترقي انسان په توګه د انجنير خليل نوم مې کلونه کلونه وړاندې تر غوږو سوی وو. هغه مې د لومړي ځل لپاره د ګلبهار د نساجی د کارګرانو په لاريون کې ليدلی وو. بل ځل ليدنه مو په زندان کې وسوه. انجنير خليل مې د استعداد خاوند، آګاه، د نزاکت او مهربانئ ډک ملګری وو. زندان ئـې په وياړ او سر لوړی تير کړ. له زندانيانو سره ئـې انساني او نيک چلند درلود. افسوس چې د شکنجو او د زندان پريمانو دردونو وځاپـهٔ او مرګی ئـې ډېر ژر ورتـه راغی او دی ئـې له موږ واخيست. ارواح دې ښاده وي. معراج الدين د ملي پرمختلونکي غورځنګ يو صديق او راستمن لارروی وو. دغـهٔ ګران يار خپله مبارزه د څلويښتمي لمريزې لسيزې د مترقي او آزادئ بخښونکو غورځنګونو له دورانه راپيل کړه. له هغه مهاله چې د ټولنيزو ظالمانه او زړو اړيکو په بنسټيز بدلون ئـې باور پيدا کړ تر نن پورې ورباندې هماغسي ټينګ ولاړ دی او يو ګام ورڅخه نـهٔ دی ليری سوی. د ظاهر شاه د سلطنت او د سردار داؤود د قلابي جمهورئ پر ضد، بي عدالتی، ستم، زبيښاک او جهالت پر وړاندې ئـې په ميړانه مبارزه وکړه. د ظاهر شاه د واکمنی پر مهال زندان ته

ولوید خو بیرته خوشي سو. د غوايي د کودتا له بریا وروسته چې پایله ئـې د «خلق» او پرچم په مستبدانه واکمنی واوښتله نوموړي مخفي ژوند ته مخه کړه. د روسانو د تیري او دروسانو د مزدورو گوډاگیان پر ضد د مبارزې د سنگر په لاره کې ئـې خپل سر په لاس کې واخیست او ویاړونه ئـې وگټل. کله چې ساما ضربه ولیدله دی ونیول سو. له زندانه له خوشي کېدلو وروسته بیا ونیول سو. ټول ټال ئـې د څرخي پلـۀ په زندان کې اتـۀ نیم کاله تیر کړل. معراج الدین د انقلابي مبارزې په لاره کې ټینگ او له ایمان او اعتقاده ډک میړنی مبارز دی. نوموړی د ښکیلاک او زبېښاک او بې عدالتی له منگولو څخه د پرگنو د ژغورنې پر بنسټیزو ارزښتونو ټینگ ولاړ سړی دی. د زندان دوه دورې ئـې په سر لوړی او میړانې تیرې کړې. خادیستانو اوږدې او غیر انساني شکنجې ورکړې. نوموړی د گوتو په شمار کسانو له منځه دی چې تر پایه ئـې مقاومت وکړ او د شکنجه گرانو په زړۀ کې ئـې د «هو ویلو» داغ تر پایه پرېښود. د څو میاشتینیو زور آزمایلو په ډگر کې دا معراج الدین وو چې د آزمایښت له بټۍ څخه بریالی او سرلوړی راووت. مستطنق د دۀ د ایمان او عظمت پر وړاندې یو ډوب شوی وابښـۀ وو او د ناچارۍ له مخې ئـې معراج الدین ته وویل : «کاشکې ما هم په خپلو صفوفو کې ستا په شان لس تنه درلودل!» معراج الدین د زندان کلونـه په ډېرو سختیو تیر کړل. له فقر او تنگسې سره ئـې گوزاره وکړه خو د خواست او طلب لاس ئـې هیڅ چا ته اوږد نـــۀ کړ. زه شاهد یم چې یو شمیر زنداني دوستانو ورته د مرستې وړاندیز کاوۀ خو د خپل تحسین وړ مناعت او قناعت په لرلو ئـې دا مرستې نـــۀ وه منلې.

زما او د میرعلم آشنایي له پخوا وختونو څخه وه او زموږ تر منځ اعتماد، د تجربو پر ستنو ولاړ اعتماد وو. لا تر اوسه مې هغه ورځ په یاد راځي چې په یوۀ کور کې د یارانو له یوې ډلې سره ناست وو. میرعلم له یوۀ بل دوست سره د یوۀ مأموریت پر لور وخوځېد. یو ساعت وروسته نوموړی دوست یوازې بـېـرته راغی. مخکې له دې چې څوک ورڅخه پوښتنه وکړي دۀ وویل چې : «انډیوال ئـې ونیوۀ». ومو ویل : «څه خبره ده؟» ځواب ئـې راکړ چې : «د تلاشي په پوستې کې ئـې کښته کړ.» میرعلم څو غیر قانوني کاغذ ـ پاڼې له ځان سره درلودلې. یارانو وویل : «باید همدا اوس له دغـۀ کالـــۀ ووځو.» خو څوک له کالـــۀ ونـــۀ وتل. دا چې موږ ښـۀ کار وکړ یا بد، هغه بیله خبره ده خو زه پوهېدم چې که تر شکنجې لاندې دړې وړې هم سي خپل ملگری په گیر نـــۀ ورکوي. له نیکه مرغه چې له میرعلم څخه زما پیژندنه او شناخت سم وخوت. میر علم ئـې په پرله پسې ډول تر سختو شکنجو لاندې ونیو خو دۀ خپله خولـۀ خلاصه نـۀ کړه. ددۀ د مینې او محبت تود احساس مې په زړۀ کې تلپاتې دی. سلامتي دې تل په نصیب وي!

زه او څارنوال عبدالله یوه موده د یو بل تر څنگ وو او په یوۀ دسترخوان مو ډوډۍ خوړله. زما څنگ ته د هغه حضور زما پخوانیو خاطراتو ته ځلا ورکوله او د خیالونو مزي مې ډېرو پخوا وختونو ته ځغلول. د جبل السراج د عشق آباد کلي به مې په سترگو کې تجسم وموند، هغه سیمه چې مینې ودانه کړې وه او د استاد عبدالبصیر بهرنگي، استاد عبدالرزاق او استاد شیر احمد په شان په مینه کې سپیڅلو کسانو ورته سرلوړي ورکوله. څه د برکت وختونه ول! ددغـۀ مینه پال ځای له کوڅو او د هرې لویشتې له منځه د مینې، یارۍ، مبارزې او محبت تاند بوی پورته کېدۀ. هغه سیمه چې په خپلې لمنې کې ئـې نوموتي مبارزان وروزل او د کمال تر لوړې پورې ئـې پورته کړل. بهرنگي به مې په یاد راغی. هغه څوک چې په عشق آباد کې وزېږېد، د عاشقانو له کاروان سره ئـې لارې ووهلې او د عشق په لارې کې ئـې سر ورکړ. یاد به ئـې تل ژوندی ساتم! آیا دی هماغه څوک نـۀ وو چې په زړورتیا د ستم او ستمپالو پر ضد ئـې سرښندویه مبارزه پیل کړه او په همدې لارې کې د

ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې و جنګېد؟ آیا دی هماغه نــهٔ وو چې د انقلابي مبارزې ډېوه ئـې د ښار او لیرې پرتو کلیو په تورتم کې د پرتو باندې او کوڅو په منځ کې بـَلنده کړ؟

شپږ کاله مخکې د جبل السراج، عشق آباد ته یو ځل لاړم. ددې ځای له هر دیواله ویر او ماتم وَرېـدهٔ. د یارانو له شتونه پرته راته عشق آباد سوړ، کرخته، زړهٔ تنګی او ویرژړلی په نظر راغی.

څارنوال عبدالله د بصیر او رزاق د اکا زوی دی. د ځوانی پر مهال وو چې نوموړی د همدغو دوه وو سترو شهیدانو د افکارو او اخلاقي ښـېګڼو تر اغیز لاندې راغی. کرار کرار ئـې سیاست ته مخه کړه او ددوی د لارې او فکر پیروي ئـې وکړه تر دې چې پېښه ئـې زندان ته راوکاږل سوه. د خاد د شکنجه ګرو پښو ته ئـې زنګون ونــهٔ واهـهٔ او اعتراف کول ئـې ځانته شرم وګڼــهٔ.

د پغمان ډاکټر خلیل او فرید هم د زندانیانو په ډله کې ول. فرید یو ټینګ او د نزاکت خاوند ځوان وو. ددهٔ خوږې او له پوهې ډکې خبرې مې له یاده نــهٔ وځي. د ډاکټر خلیل تورې لنډې ږیرې مې په ذهن کې نقش موندلی دی. زښت ډېر مهربانه انسان وو. زندانیانو به ورڅخه صحي مشورې غوښتلې.

***

د یوې مودې له تیرېـدلو او لالهاندیو وروسته ئـې یو ځل بیا دې کوټې ته راوستلم. د کوټې ترکیب ګډ وډ کړی وو. د زندانیانو په منځ کې هیڅ څوک راته آشنا نــهٔ ول. د کوټې هر ګوټ ته مې چې کتل د یارانو نـهٔ هېرېـدونکې څـېرې او د هغوی خوارهٔ خاطرات به مې په نظر راتلل. د کوټې باشي زما ځای د یوهٔ چپرکټ په پاسني پوړ کې وټاکـهٔ. ددې چپرکټ په لاندني پوړ کې یو سړی وو،ښایي د پینځوسو کالو په منګ به وو او ویل ئـې د کابل د فاضل بیګ له سیمې څخه دی او د پشتون کافي د هټۍ څښتن دی. ویل ئـې چې د بیت الله شریف زیارت ته تللی دی. له ما څخه ئـې وغوښتل چې خپل ځایونه سره بدل کړو. ما ئـې غوښتنه ومنله. نوموړي له نورو زندانیانو سره چنداني راشه درشه نــهٔ درلوده. د کوټې په «پره جنبه بازیو» کې ئـې ونډه نــهٔ اخیستله. په خپل ځای به ناست وو او نخودي رنګه پیښاوري پټو به ئـې تر ځان تاوواوهٔ. د پوهې او کاکه ګۍ ادعا ئـې کوله خو لیک لوست ئـې نــهٔ سو کولای. دا چې منظور ئـې له کاکه ګۍ څخه څه وو او څه تعریف ئـې ورته درلود، یوازې خدای پوهېږي.

ظاهراً هر زنداني په څلورویشتو ساعتو کې درې ګیلاسه جوش کړې اوبـهٔ حق درلود. وچ چای او بوره ئـې باید خپله درلودای. چایدار باشي «هغه چا چې زندانیانو ته به ئـې جوش اوبـهٔ راوړې» اوبـهٔ په یوې پلاستیکي کوزړۍ کې خوټولې او په وار به ئـې په زندانیانو ویشلې او ددې کار په بدل کې به زندانیانو ورته د اونۍ یو څو روپۍ ورکولې. د زندان اداري د څه دباندې دوه سوه تنو لپاره دوې آبګرمۍ په پام کې نیولې وې. له همدې کبله ول چې زندانیانو به تل له دې بابته سرټکونې درلودې. کاشکې دغه درې ګیلاسه اوبـهٔ هم تل زندانیانو ته رسـېدلې. د عوامو خلکو خبره «نیک بخت» ته به رسـېدلې او «بد بخت» ته به نـهٔ. د نورو زندانیانو په پرتلې به د کوټې د «جاسوسانو» او د «اوقیانو» د جوشو اوبو ونډه زښته ډېره وه.

همدا شان هغه چا چې پیسې درلودلې نو د ډېرو پیسو په ورکولو به ئـې چایدار باشي خپل کړی وو او د چایونو ترموزونه به ئـې تل ډک ول.

زموږ د کوټې چایدار باشي واسع نومـېـدۀ او ویل ئـې چې د کاپیسا ولایت له اړوندو سیمو څخه دی. دی د ګلبدین له ګوند سره د اړیکي په تور زندان ته لویدلی وو. له فقر، تنګسي او بې پایوازۍ څخه ئـې سر ټکاوۀ، خو له دې سره سره د غرور، کرکي او تکبر زهر ئـې د وجود په رګونو کې غرغړې وهلې. ددۀ په ناروغ او ناتوانه ذهن کې لا تر دې دمه د اسلام، د روس د تیري، جهاد او مقاومت ان یوې کلمې ځای نـۀ وو موندلی. له دې سره سره ئـې ځان عقل عالم او د معرکې د ډګر اتل بالـۀ. زه تر آخره پوه نـۀ سوم چې له ما سره ئـې د مخالفت دلیل په څه کې وو. ښایي کوم چا یا یو څو کسانو زما پر ضد پارولی وو. څو تنه ول چې ځانونه ئـې د کوټې اوقیان او مشران بلل. دوی له کرکې خپرولو، نفاق اچولو، د تعصب او پرې جنبې له خپرولو پرته بل کار نـۀ درلود. د اخوانیانو د کار چلند همداسې وو چې خپله به د «خیر پر غونډی» کښـېـناستل او تر ټولو جاهل کسان به ئـې د خپلو سیاسي مخالفانو پر ضد په ځانګړې توګه د ملي او مترقي افکارو روڼ اندو پرضد پارول.

په زړۀ پورې خو لا دا ده چې زموږ د کوټې چایدارباشي د خپل چایدارباشي توب په «منصب» او «مقام» هم ډېر غره وو. هیڅ داسې ورځ به نـۀ وه چې د غالمغال او چیغو غږ ئـې د چا غوږ ته ونـۀ رسـېـږي. تل به له خوارو او فقیرو او بې پایوازو زندانیانو سره په تکبر او کړس کې وو خو د پیسه لرونکو زندانیانو او جاسوسانو پر وړاندې به ئې لکه د خوارې ذلیلې ګیدړې په شان لکۍ ښوروله. دۀ ته دا نوم بې ځایه نـۀ وو چې د کوټې زندانیانو چایدارباشي واسع د «لکۍ باشي» په لقب ونوموي.

په ځلونو کې مې کوښښ وکړ چې له واسع سره مې اړیکې نیکې کړم خو ددۀ د خانتمایي او ځانغوښتنې او وروسته پاتې ذهنیت له کبله مې دا هیله تر سره نـۀ سوه. ددۀ خپله ناپوهي او یا د اخوانیانو پارول ددې سبب کـېـدل چې ډېري وختونه ما ته جوش اوبـۀ رانـۀ وړي. یوه ورځ سهار وختي ئـې په قصد زما د چای ترموز مات کړ. دې په پلمې پسې ګرځـېـدۀ چې زما ګریوان ته لاس واچوي. ما دا ټولې جفاګانې د «سپیڅلو رنځونو» په کتار کې وشمیرلې او صبر مې غوره کړ.

کله چې چایدار باشي زما د چای ترموز مات کړ نو ما د جوش اوبو د ساتلو لپاره بله وسیله نـۀ درلودله. خپله د جوشو اوبو ونډه مې په پلاستیکي بدنۍ کې چې له ځان سره مې هر وخت تشناب ته هم وړله، اچوله. د پښتون د کافي ښتن راته وویل : « خپله د جوش اوبو ونډه زما په ترموز کې واچوه.» ددۀ له کرم څخه خوښ سوم او د خدای شکرونه مې پر ځای کړل. نوموړي لوی ترموز درلود. ددې ترڅنګ چې حاجي به چاریدار باشي واسع ته د اونۍ پیسې ورکولې، یو څه نورې اضافي پیسې به ئـې هم ورته ورکولې. ښاغلي چایدار باشي به په همدې لړ متاع زړۀ خوښ کړی وو او په زړهاوو غوړه مالیو به ئـې د حاجي خدمت کاوۀ او ددۀ ترموز به ئـې تل له چایه ډکاوۀ. کله چې ما ددۀ دومره غوړه مالی او ځانپلورنه او ټیټ سر او دنائـت ولیدل نو حیران به پاتې سوم چې انسان تر کومې کچې سپک او ټیټ هم کـېـدای سي.

ځیني وختونه د قرواني خوراک له اره د خوړلو وړ نـۀ وو او یا به زندانیانو د ناروغۍ له کبله نـۀ سوای کولای د زندانیانو د قروانی خواړه وخوري نو له همدې کبله دې ته اړ کـېـدل چې چای او ډوډۍ وخوري. دلته ول چې چای موږ ته یو اړین

توکی وو په ځانګړي ډول د سهار له پلوه مور له یوې ټوټې وچې کلکې ډوډۍ او یوۀ ګیلاس چای پرته بل څه نــۀ درلودل. له حاجي صاحب څخه مې چای غوښت. هغــۀ به ویل : «که له ترموز څخه یو ګیلاس چای کم سي نو د ترموز ټول چای سړېږي.» دۀ به ډک ترموز، د ترموز د ډکولو تر بل وار پورې هماغسې ساتــۀ او بیا به ئــې توی کړ خو په ما ئــې لوریینه نــۀ راتلله. کله به چې د ترموز ډکولو بل وار راغی نو بیا به ئــې زړۀ نا زړۀ غږ کړ چې : «معلم صاحبه! ګیلاس دې را دې خوا که چې چای درته واچوم.» ما به په ځواب کې ورته ویل : « حاجي صاحبه! د چای ترموز دې سړېږي.» بیا به ئــې په «کاکه ګی» وویل : «هسې خو چای چپه کوم.» (بهل این را که نګنجد نه به بحث و نه سرود.)

د کوټې د باشي نوم سید امیر وو. ددۀ کرغیړن مسلک، د خاد کارمند وو. ویل به ئــې د تیکواندو ورزش کوي. له ځانه راضي او خانتما مغرور ځوان وو. مخکې د تنکیو ځوانانو د کوټې باشي وو، د تنکیو ځوانانو لویه کوټه زمونږ د کوټې تر څنګ وه. د زندان ادارې څه د باندې دوه سوه تنکې ځوانان په یوې کوټې کې راټول کړي ول. یوه ورځ د سید امیر او تنکیو ځوانانو تر منځ کومه شخړه رامنځته سوه. تنکیو ځوانانو په ډله ییز ډول ورباندې یرغل وروور او ښــۀ ئــې په ماړۀ نس ډبولی وو. باشي په وینو ککړ او مات سر په داسې حال کې چې خپل ټپونه ئــې څټل وتښتــېد. باید وویل سي چې اکثریت باشیان هغه کسان ول چې په اخلاقي مفاسدو ککړ کسان ول. هر باشي له ځانه یو مرستیال او څو تنه «چوکره» درلودل. «پله بین» او «فرصت طلب» کسان به د باشي ګرد چاپېره راټول سول. باشي دنده درلوده چې ټول زندانیان تر نظر لاندې وڅاري او د کوټې د منځ ټول جریانات قوماندانی او د خاد شعبې ته راپور ورکړي.

د باشیانو په منځ کې تر ټولو مشهور باشي یو څوک وو چې څیره ئــې زاړۀ کوږ «کفتار» ته ورته وه او حاجي سلام نومېدۀ. نوموړي زښت ډېر صلاحیت او اعتبار درلود. زندانیانو دی د یوۀ بد اخلاقه او بدکاره سړي په نامــۀ پېژاندۀ. ویل کېدل چې باشي سلام له هغو زنداني هلکانو څخه جنسي ګټه پورته کوله چې ړېره ئــې نــۀ وه راغلې. د درییم بلاک یو بل باشي چې ډېر صلاحیت درلود صوفي بلل کېدۀ او که مې له یاده نــۀ وي وتلې نوم ئــې احد وو. توره ږیره ئــې درلوده. ویل کېدل چې د ګلبدین د ګوند کوم قوماندان وو. نوموړی ئــې په اعدام محکوم کړی وو خو دۀ د زندان استخباراتو ته دومره خدمت کړی وو چې ان سرتیري ورڅخه ډارېدل. کله چې دی ئــې اعدام ته بیوۀ باور ئــې نــۀ کــېدۀ. هغه د سترګو د لیدلي حال شاهدان چې ددۀ د بیولو صحنه ئــې په سترګو لیدلې وه وایي چې صوفي اعدام ته د بیولو پر مهال بې هوښه سو او پر ځمکه پریوت. نوموړی ئــې په هماغــۀ حالت کې موټر ته واچاوۀ او پولیګون ته ئــې بوت. د صوفي احد د کار عاقبت د شیخ برصیصا د ژوند د پای په شان وو[71].

باشي سید امیر او حکیم پغمانی دواړه یو ځای کښېستل او همکاسه ول. حکیم وړوکي جثه درلوده او له ورزش سره ئــې مینه درلوده او ویل ئــې چې له زندانه دباندې ئــې غیرنیوونکی وو. ددې تر څنګ ئــې ځان ستنګ او کاکه هم نیوۀ. په دغو ورځو کې د زندان ادارې باشیانو ته دستور ورکړی وو چې د پایوازیو په ورځ دې د زندانیانو کالي ددویم ځل لپاره تلاشي کړي. سید امیر هم نوموړی دستور ویښته په ویښته پلی کاوۀ. پهلوان حکیم په دې کار خوښ نــۀ وو. یوه ورځ ئــې باشي ته

---

[71] - شیخ برصیصا هماغه شیخ وو چې دوه سوه او شل کاله ئــې د خدایتعالی عبادت وکړ او د خدای له بندګي او د ډېر عمر له تیرولو سره سره د ابلیس وسوسې ټول ایمان ئــې پوپنا کړ.

وویل : «د بندي مخي ته د هغـهٔ د جامو بیا تلاشي کول د ځوانمردئ له دود څخه لیرې کار دی. د زندانیانو تور سرو په کالیو ئـې لاس وهلی دی، اوتو کړي ئـې دي، کت کړي ئـې دي. بندي د خپلو جامو له پاسه ولاړ او ته ئـې په کالیو لاس وهې او لټوې ئـې. دا کار د کاکه ګی خلاف دی. راځه دا کار مـهٔ کوه.» سید امیر د پهلوان حکیم دا مشوره ومنله او د زندانیانو د جامو له پلټلو ئـې لاس واخیست.

# هغه، د وينو درياب له ځان سره واخيست

۱۳۶۲ل کال وو. ما او نعيم جان د دويم بلاک ددرييم پوړ په ۲۴۵ کوټې کې شپې ورځې سبا کولې. د زمان عقربې د غوايي د کودتا پر محور خپل پينځم خونړی دَور بشپړاوه. لاسپوڅي ګوډاګي دولت د «انقلاب برگشت ناپذير» د کليزې لپاره چمتووالی نيوه. «انقلابي دولت» به معمولاً دداسې ورځو د لمانځنې په وياړ د «وينو جشن» جوړاوه او د خپلې شومې تأريخي وندې لمانځنه به ئې کوله. تورن «د دويم بلاک عمومي باشي» کوټې ته راغی. د استعلام له مخې ئې په لوړ غږ زموږ دواړو نومونه ولوستل. له کوټې دباندې ووتلو. د زينو په منځ کې باشي ودرېد او په ټيټ غږ ئې استعلام ولوست. ما تر سترګو لاندې د استعلام محتوی او متن ولوست. د استعلام د ښي لاس په ستون کې ليکل شوي ول : «قوماندانې بلاک اول، دوم و سوم! از موجوديت اسامیان هريک محمد نعيم ولد غلام حيدر و محمد نسيم ولد محمد يوسف به صورت عاجل و مستند اطمينان دهيد.» (د لومړي، دويم او درييم بلاک قوماندانيو! د هر يوه محمد نعيم د غلام حيدر او محمد نسيم د محمد يوسف د زوی له موجوديت څخه ژر تر ژره او په مستند ډول ډاډ راکړئ.) سرور (د دويم بلاک قوماندان د هرات له ولايته) د استعلام د ځواب ليکلو پر مهال له موږ څخه پوښتنې وکړې. کله مو چې ورته وويل موږ د ساما له  نولس کسيزې ډلې څخه يو، په فکر کې ډوب سو. کله چې بيا خپلې کوټې ته راغلو نعيم راڅخه وپوښتل : «ددې استعلام په هکله څه فکر کوې؟» ما په ټوکو ورته وويل : «زموږ په غاړه کې ئې اچوي.» هغه هم په دې باور وو چې دا مو د وژل کېدلو دوييم ځل دی.

د خطر زنګ نور په کړنګېدو راغلی وو. نعيم وويل : «غواړم ږيره مې لږ لنډه کړم.» د ماما قندهاري وړوکي بياتې مې واخيستله. نعيم ازهر په کراری خپله ږيره لنډه کړه. د ژوندانـهٔ وروستی ټوکې، خاطرات او خبرې ئې راسره کولې. نعيم په همدغـهٔ حالت کې خپل ډېر لوړ او حماسي شعر «الا دريای خون، دريای خون» ووايــهٔ. نعيم په دې شعر کې د امپرياليستي شوروي د ځمک سوځوونکي لښکر د نيواک پر وړاندې د افغانستان د پرګنو او د افغانستان د آګاه بچيو د زړور، ميړنې او رښتوني مقاومت ځلانده انځور کښلی وو. ددښمن شرارت او نيرنګونه ئې افشأ او د خلکو بې ساری سربښندوی مقاومت ئې په ډېر ښکلي ډول ستايلی او د هغـهٔ ملاتړ ئې کړی وو. شاعر په دې باور وو چې بايد په هغـهٔ سپيڅلي محراب کې د سجود او درناوي سر کښېښودل شي چې د هېـواد د خپلواکی لپاره د اتلانو د وينو سيند بهېـدلی دی. نعيم به تل راته ويل چې که زما په لاس کې وای چې د ژوند او مرګ تر منځ يو ئـې غوره کړم، زه مرګ غوره کوم. له همدې کبله ئـې په شعر کې د وينو له درياب څخه غوښتې ول چې ژر تر ژره دې، دی له ځان سره بوځي. ازهر،  په زندان کې څو شعرونه ويلي ول او ما ته ئـې راکړل چې وئـې ساتم. په زندان کې په داسې شيانو د ساتلو شديد ممنوعيت وو او هم ددې لپاره چې دا اشعار ددښمن لاس ته ونــهٔ لوېږي نو هغه مې د چپرکټ په ميل کې چې منځ ئـې تش وو واچول. دا د پټولو يوازينی ډاډمن ځای وو چې زندانيانو ورڅخه کار اخيست. په زرهاوو افسوسو بايد ووايم چې د چپرکټ له منځتشي ميل څخه ددې اشعارو په بيرته رااېستلو کې مې ټولې هڅې په اوبو کې لاهو شوې او ټولې لوڅې پوڅې مې بې ګټې وختلې. او په دې توګه د «الا دريای

خون دریای خون» شعر او د نعیم ازهر نور اشعار د خلق د ډیموکراتیک ګوند د فرهنګي ظالمانه استبداد او د روس د امپریالیسم د ښکیلاکګر سیاست قرباني شول. نعیم د ساما د مشرتابـهٔ غړی وو، خپل لوړ تحصیلات ئـې په اقتصاد او بانکدارۍ کې د کابل په پوهنتون کې پای ته رسولي ول. نعیم ازهر شاعر، مبارز، ژمن لیکوال او آګاه سیاستوال وو. نعیم ولسولپالی روڼ اندی وو چې د ادبیاتو، ټولنپـېـژندنې، اقتصاد، سیاست، تأریخ او فلسفې په ډګر کې ئـې پراخ مالومات درلودل. غلی او د لږو خبرو سړی وو. که څا ورسره خبرې نـهٔ وای کړی نو هیڅ به ئـې ګومان نـهٔ کاوهٔ چې په دومره ساده ژوند او خاکسارۍ کې دې په دهٔ کې دونې ستر فضیلت او پوهه موجوده وي. ازهر په زندان کې چوپ وو او ګوښي توب ئـې غوره کړی وو. که څوک ئـې نـهٔ پـېـژندل نو ورسره چنداني تود چلند ئـې نـهٔ کاوهٔ. د هرات د ولایت څو تنه د حزبي کمیټې غړي «د حفیظ الله امین خلقي پلویان» زموږ په کوټې کې بندیان ول[72]. د هغوی د پرله پسې بلنو په اسیَـت نعیم ددوی چېرکټ ته ورغی او خبرې ئـې ورسره پیل کړې. یوهٔ ئـې د نعیم په باب وویل : «ماشاء الله! نعیم جان څوني پوه انسان دی. موږ هیڅکله ګومان نـهٔ کاوهٔ چې دی دې دومره عالم او آګاه اوسي.» کله چې ما د نعیم د هم‌ولایتي دا خبره دهٔ ته بیا تکرار کرده، نعیم وخندل او په آرام لحن او خندنۍ ژبې ئـې وویل : «موږ ئـې ډېر ناوخته وپـېـژندلو!»

ازهر هغه انقلابي او هـېـوادپال شاعر وو چې ټول اشعار ئـې د ټولنې له روانو او ملموسو واقعیتونو څخه راپورته شوي ول. له دهٔ را پاتې اشعار نـهٔ یوازې د افغانستان د بې وزلو او اسیرو پرګنو د دردونو او مصیبتونو څرګندوی دي بلکه له هنري اړخه د مقاومت په ادبیاتو کې ئـې ښت لوړ دریځ او مقام لري. ازهر هغه شاعر نـهٔ وو چې د کارغانو او چنچڼو په شان د ارتجاع او ښکیلاک د دسترخوان د ډوډۍ په خځوځو وځري او د آزادۍ او اسارت له رنځه بې خبره اوسي، او یا تر هغې بدتره، ځان په بې خبرۍ ووهي. هغه مهال چې ددهٔ هـېـواد او ټاټوبی د روس د سرتیرو تر خونړیو پښو لاندې کـېـدهٔ، نعیم په میراني او له ډاره پرته د خپل ولس د غږ لپاره راپورته سو او غږ ئــې وکړ :

وطن ای که ګردید پای وسرت — لګد کوب سُمِ ستورانِ روس

وطن ای که بسَـتند دسـتِ ترا — به زنجیر جبرِ تزاران روس

[اې هـېـواده! ښنګه ستا سر او تن د روس د آسانو تر څوو لاندې راغی- اې هېـواده! ښنګه ئـې ستا لاسونه د تزاري روسانو د جبر په ځنځیر وتاړهٔ]

نعیم داسي څوک نـهٔ چې یوازې په ګوړه ګوړه ویلو خپله خولـهٔ خوږه کړي او یا هم داسي د تورو او باټو له کسانو څخه نـهٔ وو چې پورته سر کښېـني او دی دې شعار ورکوي او نور دې سرونه او وینه ورکوي! نعیم یو مخکښ جنګیالی او سرښندویه مبارز وو چې له خپلو ګرانو یارانو سره د ملي مقاومت د ډګر په متن کې دننه په لوړ قامت او میراني ودرېد او د ژوند تر وروستی سلګۍ پورې ورته ودرېد. دی د سازمان آزادیبخش مردم افغانستان د سیاسي دفتر غړی وو هغه سازمان چې د غوایي د میاشتي د کودتا د تورتم له ماښامه وروسته د هـېـواد د مور مخې ته سوګند یاد کړ چې :« موري! ستا په اتل

[72] ـ پرچمیانو دا کسان د «امین د باند» له اصلي بدنې څخه جلا کړي او د نورو زندانیانو په منځ کې ئـې ځای پر ځای کړي ول. محمود نالان، فضل احمد، خیرخواه، فیاض، یاسر، پیکارجو او سید احمد شاه د هغو کسانو له ډلې څخه دي چې په ډلې پورې ئـې اړه درلوده. د حفیظ الله امین د پلویانو بله ډله له کندهار څخه وه. یوهٔ ئـې سیلابي تخلص کاوهٔ، زما په ګومان نوم ئـې سید محمد وو. ویل کـېـدل چې نوموړی د جلاد امین د خونړۍ واکمنۍ پر مهال د کندهار ولایت د کومې ولسوالۍ ولسوال وو.

پالي سپيڅلي لمن مي دي سوگند وي، ستا د زامنو په سوريو سوريو ټټرونو، ستا د لوټ شويو او نړېدلو ښارونو او کليو په سرو مورچلونو او ستا د غچ اخيستونکي خښم په فرياد مي دي سوگند وي تر څو چې ستا درنده او پاکه لمن مي د ښکيلاک او د هغۀ د گوډاگي رژيم له گند څخه پاکه کړې نـۀ وي خپله وسله به پر ځمکه کښېـنـږدو. (شبنامه « فاجعه است يا حماسه؟») او ورپسي په لنډ وخت کي زموږ پر هېـواد باندې د روس د زبر ځواک له لښکري تيري او د هېـواد له نيواک وروسته د «يا مرگ يا آزادي» د شعار په پورته کولو په لوړ غږ اعلان وکړ چي : «موږ به د هېـواد سپېـڅلي لمن د روس د ښکيلاک د ننگ له ټکي څخه په خپلو وينو پريمينځو (شبنامه «در سنگر اعتصاب ببر انقلاب خفته است») (پريک دې شي هغه ژبه چي د امپرياليسم د تيري پر وړاندې چوپ پاتې شي (شبنامه «روس اشغالگر د سراشيبی رسوايی و تباهی»)

نعيم ازهر د مبارزې دډگر آزمويل شوی جنگيالی وو چي د مبارزې او مقاومت له کړليچونو سخته ډېرينه لاره ئـي له هماغو لومړيو سنجولي وه. دی ډېر ښـۀ پوهـېدۀ چي د آزمايښت يو سخت او ټينگ ډگر ئـي مخکي دی. نعيم د دښمن له لومي او داني نيولي د اعدام تر رسۍ پورې بې خبره نـۀ وو. له همدې کبله ئـي د افغانستان ولس ته ډاډ ورکړ چي :

به ما ننگ و نفرين تاريخ بود — اگر راه سازش بگيريم به پيش
نه از بيم زندان وعفريت دار — خيانت بورزيم به ياران خويش

نعيم ازهر هغـي ژمني ته چي له سازمان، يارانو او ولس سره ئـي کړې وه، پاليالـه «وفاداره» پاتي سو. نعيم د تحقيق په لړ کي چي د غوښې او چړې د زور آزمايلو ډگر وو، په صدارت کي د دې پوښتني «ستاسو نظر د مجيد کلکاني په هکله څه دی؟» په ځواب کي په ايمان او اخلاص د هماغـي ژمني پر بنسټ چي کړې وه، وليکل : «زما له نظر مجيد کلکاني په ټوله مانا يو انقلابي دی او مرگ ئـي يوه ستره ضايعه گڼم.» («نقل د ازهر له دوسيې څخه»). نعيم له سره تېر، فدايي او سرښندوی وو چي له مرگ څخه ئـي ويره نـۀ درلودله. هيڅ کله مي په ياد نـۀ راځي چي ددۀ له خولي مي د بې ايمانی، ضعف او يا تسليمۍ ته د ليوالتيا بوی راغلی وي. نعيم د نورو اتلانو په څېر، د آزادۍ، ډيموکراسۍ او ټولنيز عدالت سپيڅلي آرمان د خپلو دندو په سرلوحو کي ايښی وو. د هغـۀ د هيلو په لښتليک «جدول» کي د شخصـي ژوندانـۀ مادي هستيو او د ځان په باب د فکرکولو خبرو ځای نـۀ سوای نيولی. هغـۀ باندې خپله ميرمن او بچيان گران ول خو د آزادۍ او د خپل انساني آرمان غوره کول ئـي له هيڅ شي سره نـۀ معاوضه کول. نعيم د خپل ژوند په وروستيو ورځو کي خپل د لاس ساعت د خپل د ښار يوۀ اوسيدونکي ته د يادگار په ډول ورکړ چي کورنۍ ته ئـي ورسوي. ددنيا له مال او هستۍ څخه ئـي همدا يوازينۍ «پانگه» وه چي ددۀ بچيانو ته په ميراث پاتي کېـدله.

ساعت نيږدې د ځانښت مهال درې بجې ښودلې. د نعيم په گډون يو شمير زندانيان بيدۀ ول. نوم ئـي ولوستل سو. ټول بيدۀ کسان له خوبه پاڅـېدل. زړۀ مي ټکان واخيست. دی يوازينی څوک وو چي بايد خپل کالي ئـي ټول کړي وای. کله چي ما ددۀ کالي ټولول د مخ يوه هينداره ئـي وه چي شا ته ئـي د خپلو درې تنو وړکو ماشومانو عکس اينودل شوی وو، هينداره ئـي ما ته راکړه. دۀ نـۀ غوښتل چي د ماشومانو عکس ئـي د نامرده ناځوانه پوچ اندي دښمن لاس ته ولويږي. ددې مسؤوليت له منلو مي ځکه ډډه وکړه چي د يوۀ بڅري په اندازې مي د خپل ځان د ژوندي پاتي کېـدلو په هکله کوم ډاډ نـۀ درلود. ددۀ د

جامو بکس مې تر دالان پورې يووړ. سره له دې چې نعيم نوی له خوبه پاڅېدلی وو روحيه ئې دومره لوړه وه چې ټولو د حيرت ګوته چيچله. ازهر ليواله وو چې ددهٔ بکس له ځان سره وساتم. ورته مې وويل چې زه هم درتلونکی يم.

چه ضرور است کشی رنج وداعم بيدل          ميروم من به مقامی که تو هم می آيی

دی مې په غېږ کې ټينګ ونيو او مخ مې ورته ډېر ښکل کړ. نعيم په لوړه غاړه او ټينګو ګامونو د پوليګون په لور روان وو او په رنګ او مخ کې ئې د يوهٔ وړوکي بڅري په اندازې کوم بدلون نــهٔ ښکارېدهٔ. تر پوړيو پورې چې رسېدهٔ دوه ځله ئــې شا ته وکتل او دواړه ځله ئــې راته بريمنه موسکا وکړه.

زما ګران دوست ښاغلی رحمت آريا چې په هماغه ورځ له موږ سره په هماغه کوټه کې وو د هغې ورځې خاطره په دې ډول په ياد راوړي :

«د ماسپښين درې بجې وې چې يو ناڅاپه د «محمد نعيم د غلام حيدر د زوی» نوم ولوستل سو. د محمد نعيم د نامـهٔ په لوستلو ټول زندانيان يو ناڅاپه له ځايه پورته او په پښو ودرېدل. نعيم ازهر په موسکا و متانت راته وويل : «انديواله لکه چې بيايي مې». قاري عبدالقادر چې د قرآن حافظ وو د اسلامي دود له مخې ورته د سترګو رانجــهٔ راوړل او ورڅخه وئــې غوښتل چې خپلې سترګې تورې کړي. د ټولو زندانيانو سترګې له اوښکو ډکې وې. ټولو زندانيانو له هر ډول فکري اختلاف پرته د پنجرې تر عمومي دروازې پورې صف تړلی وو او ژړل ئـې. يوازې دی وو چې پر شونډو ئــې موسکا وه او هر يو ئــې په غېږ کې نيوهٔ. له دې ستر انسان او مبارز سره دا زموږ د ديدن وروستی شيبې وې. ازهر پوهــېدهٔ چې اعدامېږي خو ددهٔ په مغرورو سترګو کې له مرګ څخه د ويرې کومه نښه ونــهٔ ليدل سوه او هره شيبه ئـې په ميرانه په وړې موسکا تيروله، او دا ځکه چې دی په دې باوري وو چې د آزادۍ ونه يوازې او يوازې د آزاديپالو په وينه خړوبيدای سي.»

«آذر» ئــې راڅخه واخيست. ددهٔ وروستني شعر «الا دريای خون دريای خون» مې په غوږونو کې انګازې خپرولې. د «وينو ددرياب» تر غاړې ولاړ وم او ددې توپاني درياب غړاندو څپو ته مې کتل. يوازينی کار مې کولای سوای صبر وو خو زما د صبر کاسې ددومره ستر وير ګنجايش نور نــهٔ درلود. په يوهٔ ګوښې ګوټ کې مې دومره وژل چې نور مې په سترګو کې د اوښکو چينې وچې سوې. وروسته له دې چې د بادار په فرمان د نوکر خونړيو لاسونو د نعيم ځان واخيست، د پرچمي خونړي دولت اختاپوت او د هغـهٔ د خاد دستګاه تصميم ونيوهٔ چې د نعيم بې ځانه جسد ددهٔ کورنۍ ته وسپاري. د هغـهٔ په دليل نــهٔ پوهېږم ځکه د خلق د ډيموکراتيک ګوند او ددوی د شرمـېدلو اربابانو د سري وژنو په سترې او پراخې لړۍ کې دا يوازينی مورد وو چې د يوهٔ هېـواد پال او مبارز جسد ئـې ددهٔ کورنۍ ته «ډالۍ» کاوهٔ[73]. تر هغـهٔ ځايه چې مالومات

---

[73] ـ د نعيم ازهر د اعدام په باب ډول ډول خبرې ويل شوې دي. مؤرخ ښاغلی نصير مهرين د يوهٔ ليک د راليږلو په ترڅ کې ليکي :«يو تن چې د ازهر سپيڅلی جسد ئـې د څرخي پلـهٔ له زندانه واخيست په هامبورګ کې دی، د فايق له کورنۍ څخه دی. ازهر له غاړې ځړول شوی دی يو وصيت ليک ئې هم ليکلی وو، خو دی ئـې پرينـښـود چې تر پايه ئـې ورسوي.»

په لاس کې لرو، د نعیم نیږدې خپلوانو له لوړ پوړو پرچمیانو سره پیژندګلوي درلوده او د دهٔ د خپلوانو د همدغو هڅو او لالهاندیو په پایله کې وه چې د نعیم اعدامول ئـې ځنډولي ول مګر ژغورنه ئـې ناشوني وه. د همدغو لالهاندیو او هڅو په پایله کې وه چې نعیم جان ته په استثنایي ډول له اعدامه مخکې دا چانس ورکړ شوی وو چې خپل وصیت لیک ولیکي «که څه هم داسې ښکاري چې دهٔ ته ئـې له اولنیو دوه وو کرښو پرته د نورو لیکلو اجازه نـهٔ وه ورکړې» او بیا ئـې جنازه ددهٔ کورنۍ ته ورسپارلې وه.


* * *

د وخت او زمان څرخ په ناښت پر مخ روان وو. زه د اور پر غونډۍ ناست وم. زما ټول فکر او حواس د دروازې پرانیستلو، د سرتیري غږ او یا د خاد د کارمندانو غوږ پوڅو ته څک وو. د چا په لاس کې به چې د «مرګ د قاصد» لیست وو نو د «وینو په دریاب کې » د ډوبېدو لپاره مې چمتوالی نیوهٔ. میاشتې تیرې سوې او په دې مودې کې د ډېر نورو «وږلو وږلو» شاهد وم.

په دوییم بلاک کې وم چې یوه ورځ ئـې زما دوه تنه ګران دوستان فاروق فاراني او احمد راتب فقیري زموږ کوټې ته راوستل. تر دې دمه مو له یو بل سره پېـژندګلوي نـهٔ درلوده. ددوی له سترو ستومانو ځانونو او ارواحونو څخه لا تر دې دمه د شکنجې د آثارو او د سیستماتیک رواني فشار نښې نـهٔ وې تللې. فاروق فاراني، نعیم ازهر یاد کړ او له هغـهٔ سره د خپلو وروستیو خاطراتو یادونه ئـې وکړه. یا لویه خدایه! زمانه په خپل لستوني کې څه بوالعجبې ګانې نـهٔ لري! فاراني تش لاس نـهٔ وو راغلی. د آشنایۍ سوغات ئـې راته وښود. د شیریني دانې پر مخ لیکل شوي ول : «د چای له هر ګیلاس سره یوازې یوه دانه!»

---

کله چې د نعیم ازهر له ورور – رسول ازهر- سره مې ټیلیفوني خبرې وکړې، نو د نعیم ازهر، له غاړې ځړولو خبره ئـې رد کړه خو د وصیت لیک خبره ئـې تائید کړه. نوموړي وویل :«کله چې دوستان د نعیم جان د جنازې د تسلیمېدلو لپاره د څرخي پلـهٔ زندان ته لاړل، دغه وصیت لیک ددهٔ د جسد تر څنګ ایښودل شوی و.» له ښاغلي رسول ازهر څخه مننډوی یم چې په خپل همیشني لطف ئـې دا وصیت لیک راته راولیږهٔ چې خپور ئـې کړم.
رسول ازهر د خپل ورور د اعدام پر مهال په افغانستان کې نـهٔ وو او وایي چې نعیم په برقي شاک اعدام شوی دی. هغو کسانو چې د نعیم ازهر جسد له نیږدې لیدلی دی وایي چې د نعیم د غاړې او زړهٔ ته نیږدې برخو کې ئـې یو شمیر داغونه لیدلي دي.
د «خلق» او «پرچم» رژیم په اعدام محکوم زندانیان په ګولیو په شهادت رسول. په وروستیو کلونو کې په زندان کې ګنګوسې خپرې شوې چې خاد په اعدام د محکوم شویو زندانیانو له ځانه وینه باسي او د «څلور سوه بستریز» او د خدمات اطلاعات دولتي روغتونونو ته ئـې ورکوي.



ورقه وصیت محمد نعیم ولد غلام حیدر ساکن هرات!

۱- از هیچکس مدیون و بالای کسی قرض هم ندارم

۲- بعد از من خانمم [illegible] شوهر [illegible]

۳- سرپرستی اولاد هایم برادر کلانم احمد شاه نماید

۴-

د از هر په قلم لیکل سوی دا وصیت لیک چې ددهٔ د جسد تر څنګ وموندل شو

(د محمد نعیم د غلام حیدر د زوی وصیت لیک – د هرات اوسېدونکی!

یو - له هیڅ چا څخه پوروړی نهٔ یم او نهٔ مې پر چا پور دی.

دویم – له ما وروسته، زما د میرمن خوښه چې «بل» وادهٔ کوي که نه.

دریم – زما د بچیانو پالنه او سرپرستي دې زما مشر ورور احمد شاه وکړي.

څلورم –
لاسليک – د ازهر د ګوتې نښه- وکتل شوه)

او دا زه وم چې د «دوى» د هرې خاطرې، هرې موسکا، هرې ټوکې، هر حکايت او ګام په اورېدلو هره شيبه ذره ذره اعدامېدلم.

اوس، ډېر کلونه وروسته، هر کله چې د خپل ګران دوست په ياد د «شاعرې» ميرمن حميرا د «لحظهٔ خدا حافظي» ترانه اورم، اعدام ته د نعيم د تګ شيبې مې په سترګو کې مجسمې سي. په ياد مې راځي چې ددهٔ د جامو بکس او لوازم مې د دوييم بلاک تر دالان پورې يوړل. کله مې چې ټينګ په غېږ کې ونيو، يو بل ته مو په نوميدئ وکتل. بيا ئې په سرې سينې او متانت پر پوړيو ګامونه کښېښودل. مخکې له دې چې زما له نظره پناه سي، سر ئې راتاو کړ او د خپلو سترګو ورستى ديدن ئې راته ډالۍ کړ. ياد دې تلپاتې وي!

* * *

زما د زندان دوست، عالم او فاضل استاد فاروق فاراني له نعيم ازهر څخه خپله خاطره راته په داسې ډول وويله :

د څلويښتمې لمريزې لسيزې د روڼ اندئ د غورځنګ دور وو. دا هماغه لسيزه ده چې د ډيموکراسى د لسيزې په نامهٔ پېژندل کېږي. دا د خوځون او د مخ په ودې شور او ږوږ وخت وو او په لړ کې ئې د هغهٔ مهال د سياسي بهيرونو په منځ کې د (ډيموکراتيک نوين «شعلهٔ جاويد») سياسي بهير تر ټولو پراخ بهير وو. ما هم له نورو زرهاوو تنو سره خپله راتلونکي او هيلې د همدغهٔ بهير د لارې په اوږدو کې ليدلې. که ددغهٔ بهير پرمختګونو موږ خوشحالولو خو ناتوانيو ئې غمجنولو.

په همغو کلونو کې په ښارونو او ولاياتو کې چې د خپلو همرزمو ملګرو د کارونو پوښتنې مو کولې د هرات په ولايت کې ددې سياسي بهير د مخکښانو په منځ کې زموږ غوږونو ته د نعيم نوم (چې وروسته د «ازهر» تخلص ورسره وتړل سو) راتهٔ. دا له نعيم ازهر سره زموږ لومړنۍ آشنايي وه. وختونه تير سول او له ځان سره ئې باب او ناباب بدلونونه راوړل. د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ د ۲۶ نيټې کودتا، د ۱۳۵۷ ل کال د غوايي د مياشتې د اوومې کودتا، د شوروي تيرى، د بيلابيلو سازمانونو منځته راتګ، د جهادي تنظيمونو سرطاني زيږون، د خلق د ډيموکراتيک ګوند او د هغهٔ د خاد د دستګاه ناتار او غوبل...

۱۳۶۰ ل کال وو چې سازمان آزاديبخش مردم افغانستان «ساما»، د نوې واکمنۍ په ګدئ د ملت دښمنه ګوډاګي رژيم له پلوه ضربه وخوړله. سختې ورځې وې، هره ورځ د افغانستان د سياسي ټولنې تر منځ او د هېواد د ملي ډيموکرات اپوزيسيون په هکله تراخهٔ خو په عين حال کې له ابهامه ډک خبرونه خپرېدل. ما په بل سازمان کې فعاليت درلود. د همداسې خبرونو تعقيبول چې زموږ د سرګذشت او برخليک د انځور اړخونه ئې څرګندول ماته انديښنې رامنځته کولې. په همدغهٔ وخت کې

ول چې يو ځل بيا مې د ساما د مشرتابـهٔ د غړي نعيم ازهر نوم ځکه تر غوږونو شو چې د هغـهٔ د نيول کېـدلو په باب يو شمير خبرې اترې مطرح وې. ددغـهٔ رزمنده سازمان د مشرتابـهٔ د غړو تر څنګ د نعيم ازهر نيول کېـدلو زموږ زړونه او روح را ټپي کړه.

د ۱۳۶۲ل کال ژمی وو چې زموږ سازمان هم ضربه وخوړله او د همدغـهٔ کال د کب د مياشتې په څلورمې نيټې ونيول شوم. د نيول کـېـدلو څو لومړۍ ورځې په دارالامان کې په پينځم رياست کې بندي وم او وروسته ئـې صدارت ته راوستلم. خاد تر دې دمه په صدارت کې لا نــهٔ وم پـېـژندلی، خو زما په نيول کـېـدلو پسې وروسته ول چې خاد پوه سو چې خپل ښکار ئـې منګولو ته ورغلی دی. زما موخه دلته د اروابناد نعيم ازهر خاطره ده او هغه څه به ياد کړم چې ددهٔ په هکله زما په خاطراتو کې راپاتې دي.

زه ئـې په صدارت کې په دويم پوړ کې يوې څلور کسيزې کوټې ته بوتلم. ددې کوټې له وړوکي کړکۍ څخه د آسمايي غر او د کابل ولايت او صدارت تر منځ لوړې ودانۍ ښکارېدلې. د همدې برخې په انګړ کې په ځانګړې توګه دروازې ته نـېـږدې، د کوټه قلفيو لس کوټې چې په يو پوړيز ډول ودانې شوې وې ښکارېدلې. نـهٔ پوهيږم کومه ورځ وه چې ددغو لسو کوټو له منځه ئـې يو شمير کسان چې ړيړې ئـې رسيدلې وې او د کب د مياشتې د سړو له اسيـَته ئـې ځانونه تاو نيولي ول دباندې کړل. ما ونـهٔ شواى کولاى کومه څيره تشخيص کړم خو وروسته پوه سوم چې له ډېريو دغو عزيزانو سره مې آشنايي او له نيږدې دوستي درلودله. دغه کسان ئـې چې له دغو لسو کوټو قلفيو څخه رادباندې کړي ول د ساما د مشرتابـهٔ غړي ول چې ظاهراً ددوى دشکنجو او استنطاق بهير پاى ته رسيدلی وو او د تورو ورځو لپاره د څرخي پلـهٔ زندان ته لـېـږدول کـېـدل.

ددغو مبارزانو له وړلو څخه لا څو دقيقې نـهٔ وې تيرې شوې چې زما نوم ولوستل شو او راته وويل سول چې تګ ته ځان چمتو کړم. څو دقيقې وروسته د لاتين د (F) توري ته ورته له يوهٔ تيارهٔ دالان څخه تير سوم، ددغـهٔ (F) له کښتني ټکي څخه دويمې څانګې او ددې برخې وروستي ټکي يعنې لسمې شميرې کوټې ته ولېږدول سوم او ددې کوټه قلفی بدورګې اوسپنينه دروازه ئـې چې هيبتناکه غږ ئـې درلود راپسې وتړله. د (F) ډوله جوړښت هرې څانګې پينځه کوټې درلودلې، هرې کوټې خپلې شاتينی برخې کې يو وړوکی تشناب - يو فرشي کموډ او يو د اوبو نل درلود. کوټې ته د ننوتلو په لومړيو شيبو کې مې احساس وکړ چې د کوټې د لوخ غولې مخ يوازې د يوې اسنفجي توشکي په اندازې ارت وو، په کوټه کې يوه اسفنجي نالی، يوه کمپله چې له ما څخه د مخيکنې زنداني تودوخه ئـې تر هماغې شيبې پورته ساتلې وه موجوده وه. کوټه د ګور په شان تور تم وه. د رڼا لپاره ئـې ان د يوهٔ سوري په اندازې ځاى يا کړکۍ نـهٔ درلوده. فکر مې کاوهٔ چې تاريکي د همدې کوټې نـهٔ بـېـلـېـدونکې اړخ دی. خو زما فکر سم ونـهٔ خوت، څو ساعته وروسته برق راغی، او دغـهٔ لعنتي برق د بريښنا له عمومي قطع کـېـدلو پرته تل د لړم په شان د زنداني په سترګو کې نيښونه وهل.

څو ورځې وروسته مې سترګې په يوهٔ نوم ولګـېـدلې چې د مجيد کلکاني په ښکلي او آشنا خط او کتابت د ديوال پر مخ کـېـندل شوى وو خو د ليکنې مخ رنګمالي شوى وو. دغه نوم په داسې ځاى کې وو چې که کله زندانبانان راتلل او دروازه ئـې خلاصوله نو د پرانيستل شوې دروازې شا ته له سترګو پنا پاتې کـېـدهٔ. د ساما د مشرتابه د غړي اروابناد نادر علي

پویا او د پیکار د سازمان د غړي ارواښاد سلطان احمد نوم په نورو ځایونو کې په سترګو کېږي. د ارواښاد داؤود سرمد د شعر یو بیت هم ددیوال پر مخ وو. څو ورځې وروسته مې پام سو چې ددې کوټې د اوسپنیني دروازې د اضافي اوسپنو په استر کې چې د دروازې د ټینګولو لپاره نښلول شوی وو، د ورځپاڼې یوه ګونجې شوې ټوټه لیدل کیدله چې ښایي له نم څخه د ساتنې لپاره هلته پټه ایښودل شوې وه. کاغذ مې راوایست او پرا مې نیست، ومې لیدل چې په منځ کې ئې څو داني آسپرین ګولۍ وې او په ګوښه کې ئې په اصطلاح د صدارت د روغتون له پلوه لیکل شوي ول : محمد نعیم د غلام حیدر زوی. له دې چې په تیرو څو ورځو کې ئې ددغه قبر له منځه د تحقیق او شکنجې لپاره بیولم نو د زندانیانو له وضعې او د بیلابیلو دوسیو په باب د پرچمي – خلقي دولت د خاد د شکنجه ګرانو د تورو او باتو او ځان ستاینو په اړخونو خبر شوم. له دې کبله ما ته جوته سوه چې هغه زنداني چې له ما مخکې په دې کوټه کې وو او د څرخي پلـۀ ته لیږل سوی وو د ساما د مشرتابـۀ له غړو څخه، له نعیم ازهر پرته بل څوک نـۀ ول.

ظاهراً زما د تحقیق بهیر پای ته ورسید. ظاهراً ددې لپاره وایم چې د تحقیق د بهیر دورانونه مې څو موده وروسته بیا تیر کړل. له یوۀ کال او څو میاشتو وروسته ئې د څرخي پلـۀ ته بوتلم، د لومړي بلاک، لویدیځې څانګې ښي لاس وروستۍ کوټې ته. زما د کوټې مخامخ زما تلپاتې همرزمه ملګری احمد راتب فقیری چې تقریباً ټوله کورنۍ ئې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول زنداني شوې وه، اسیر وو.

د ۱۳۶۲ل کال د غوایي میاشت وه چې نوي زندانیان ئې راوړل. په هغه کوټه کې چې زه وم، د فراه له ولایته یو هَډَور ځوان عبدالله هم راسره وو چې لمر وهلي څیرې ئې عمر پوخ ښکاره کاوۀ. عبدالله عقلي تأخُر درلود. د اعدادو په منځ کې ئې یوازې ۳۱ او ۴۱ پېژندل او مالوم نـۀ وو چې ولې ئې له دغو اعدادو مرسته غوښتله. دۀ د « نړۍ په هېوادونو کې» ایران، زاهدان، فراه، کابل او افغانستان پېژندل او سره له دې چې په کابل کې هم وو خو د ویاړ په مقام کې به ئې ویل چې «زه افغانستان ته تللی یم او هلته مې «ترشک» (داسې ښکاري چې په فراه کې خلک رومي بانجانو ته ترشک وایي) پلورلي دي». له دې چې د اعدام ټکی ئې ډېر تر غوږونو شوی وو نو ویل به ئـې « څومره به ښـۀ سي چې ژر مې اعدام کړي چې ژر تر ژره خپل کور ته لاړ سم او وادۀ وکړم.» د خاد جهنمي دستګاه داسې یو انسان چې اصلاً له سیاست او جګړې څخه د یوۀ بڅري په اندازې خبر نـۀ وو د سیاسي مجرم په نوم پولیګون ته د اعدام لپاره بوت.

زه او عبدالله په کوټه کې وو چې دوه نوي زندانیان ئې زموږ کوټې ته راوستل. یو ئـې یو نیمه بربنډ سړی وو چې ویل ئـې د پاکستان دی، یا هم لیونی وو او یا ئـې ځان په لیونتوب وهلی وو. بل زنداني یو سړی وو چې له څیرې د متفکر انسان په شان وو او څه نا څه اصلاح سوې ږیره ئـې درلوده. ډنګر او ونـۀ ئـې په منځنې قد وه. له راننوتلو سره سم ئـې لومړی سلام راکړ، زما خوا ته راغی چې لاس راکړي. ددۀ په درناوي له ځایه پورته سوم، یو بل ته مو د سترګو مه سې لاسونه ورکړل. نوموړي د زندان د عاداتو برعکس، د لاس ورکړنګ پر مهال ئـې خپل نوم راته ووایـۀ. «نعیم». د څو جملو له ویلو وروسته ددۀ له لهجې راته جوته سوه چې باید دهرات له ولایته وي. د نعیم نوم، هراتۍ لهجه او ددۀ مؤدب چلند درې واړو زه یوې پایلې ته ورسولم : دی باید نعیم ازهر وي. خو د ساما د مشرتابـۀ غړي چې نعیم ازهر هم له هغې ډلې وو ټول تیر دوبی له ابدیت او تأریخ سره یو ځای سوي ول!...؟ ماته په رښتیا هم ډېره عجیبه بریښیدله. مجبوره سوم چې د زندان له دود څخه په

تیري کولو دی وپوښتم تر څو ددې راز غوټه پرانیزم. پوښتنه مې وکړه چې تاسو د ۱۳۶۰ل کال د کب په میاشت کې د صدارت د کوټه قلفیو په لسمي کوټې کې نـهٔ واست، وروستی کوټه؟» وئـي ویل :« هو سمه ده زه هماغلته وم.» بیا مي ورته وویل چې «که څه هم د زندان دود کې دا سمه نـهٔ ده چې دوه نا آشنا زنداني دې ډېر ژر د یو بل په هویت پوه سي، خو زه اړینه گڼم چې تاسو ته ووایم زه فاروق فاراني د ..... سازمان د مشرتابـهٔ غړی یم. که تاسو نعیم ازهر یاست، او له هغې چې له تاسو وروسته زنداني سوی یم، ستاسو په هکله له زندانه دباندې یو شمیر خبرې مطرح شوې وې چې باید ئـي تاسو ته ووایم. په ډېرې لیوالتیا ئـي وهڅولم چې ورته هغه څه ووایم چې زه وربادې خبر وم. ددې لپاره چې بیا مي خپله انگیزه ورته ښه جوته کړي وي ورته وویل : «فکر کوم چې تاسو ئـي زموږ کوټې ته په تیروتنې راوړي یاست. له دې کبله مخکې له دې چې ددوی پام خپلې تیروتنې سي او یا تاسو له دې کوټې څخه وباسي، له وخت څخه په گټه اخیستنې تاسو ته باید هماغه اړینې خبرې وکړم.» نعیم په متانت او آرامی مگر په عین حال کې د یوې ترخې موسکا په ترڅ کې وویل : «فکر نـهٔ کوم چې دوی دې تیر وتلې وي، زه ئـي دلته د اعدام لپاره راوړی یم او په لوی لاس ئـي دې کوټې کې چې تاسو یاست اچولی یم، ځکه ستاسو د سترگو له مخې زما وژل چې تحقیق مو لا تر دې دمه نـهٔ دی بشپړ شوی، په خپله یوه رواني ضربه ده.» او هماغسې چې ثابت شول، نعیم ازهر حقه خبره کړې وه او سخت رواني گوزار مې وخوړ.

هغه له ما سره په کوټه کې وو. د څه دباندې لسو ورځو په لړ کې مو ددهٔ ورور رسول ازهر په باب چې زما دوست وو، ددهٔ او زما د کورنی په باب، د خپلو سازمانونو په هکله، د تأریخ، سیاست او ادبیاتو په باب خبرې وکړې. له یو بل سره ښـهٔ صمیمي سوو. هغـهٔ خپل شعرونه راته وویل او د «کشتي کجا، قایق کجا» ترجیح بندې ئـي په ترنم کې وایـهٔ. له یو بل سره د اوسیدو او خبرو له کبله مو توان تر لاسه کړی وو او ددې تولو په منځ کې به مو د تورتم په ویره کې او د مرگ تر سیوري لاندې فکاهیات هم ویل او ټوکې به مو کولې او تر دې اندازې به مو وخندل چې له سترگو به مو اوښکې راغلې.

دی خپل اعدام ته منتظر وو. په هغو شیبو کې چې ازهر به د خپل اعدام او د ساما د نورو مبارزینو د اعدام په باب خبرې کولې زه به چوپ سوم. نوموړی د ساما د مشرتابـهٔ د ډلې له اعدام څخه، چې د تیر کال په دوبي کې اعدام شوي ول، په کوم دلیل ئـي اعدام ځنډول شوی وو خو اوس د خاد انسان دښمنه دستگاه او د خلق - پرچم رژیم ئـي د اعدامولو لپاره پولیگون ته سپاري.

د غوایي د میاشتي د پنجشنبي ورځ وه، د ورځي داسي مهال وو چې د مخکنیو اعدامونو د مهال د وژلو د تجربې له مخې هیڅ چا فکر نـهٔ کاوهٔ ورپسي راغلل او له ځان سره ئـي بوت. ورته ئـي وویل : «تاسو د څو دقیقو لپاره قوماندانی ته راسئ.» دی ولاړ او هاغه څو دقیقې لا تر اوسه نـهٔ دي بشپړې سوې او هیڅکله به بشپړې نـهٔ سي. ما اوربـدلي دي چې له رسی زیندی سوی جسد ئـي ددهٔ کورنی ته ورسپارلی دی. نعیم ازهر د ابدیت پر لور لاړ. ما وویل چې لاړ، خو زما دا خبره اشتباه ده. نـه هغه نـهٔ دی تللی، له موږ سره دی او په مقاومت کې له موږ سره یو ځای ساه اخلي. سوگند خورم چې ......
فاروق فاراني ــ د ۲۰۰۶ز کال د اکتوبر اتمه نیټه

* * *

# اووهٔ میاشتې او یولس ورځې

د نعیم ازهر له شهادته وروسته نور یوازې پاتې شوم. نامراده او ناځوانه روزګار د نورو غملړلو پیښنو منګولو ته وسپارلم، داسې پیښې چې د ځرخ غاښونو ئـې زما د تن رګ رګ دړې وړې کړل. کاشکې مې کولای سوای د زندان د دوران د ټولو غملړلو پیښنو سرګذشت د قلم په ژبې بیان کړی سم! درمندان او له درد سره آشنایان پوهېږي چې د زندان د ټولو غصو او غمونو لیکل نـهٔ یوازې اویا منه او ان تر هغـهٔ لا ډېر کاغذ غواړي بلکه د زړهٔ شیمه او توان هم غواړي.

د زندانیانو چلند راسره په بیلابیلو ډولونو وو. د زندان خادیستانو، د کوټو په منځ کې جاسوسانو او د اسلامي تنظیمونو اورپکو راسره د بد ترینو چلندو په منځ کې تر ټولو بد چلند پیل کړ. په اخواني اورپکو ډلو پورې د تړلو کسانو د چلند بڼه راسره سړه او فرعون مآبانه وه. دا یوازې زه نـهٔ وم چې ددوی د غضب تر غیشي لاندې راغلی وم، بلکه هر هغـهٔ روڼ اندي چې ددوی له قالبي برداشتونو او یو اړخیز سیاست سره خلاف وو، ددوی د کرکې او شماتت په لیست کې راتلل. هغو کسانو چې زندان لیدلی ددې شاهد دي چې د فیل له دماغه لوېدلي دغه اورپکي له خپلي ډلې تپلي پرته، ان د نورو جهادي تنظیمونو کسان هم په هیڅ شمارل.

یوه شپه دولتي تلویزیون د ساما د نولس کسیزې ډلې د محکمې د بهیر ځینې برخې خپرولې. د پروګرام تورمخو برنامه لیکونکو په خپلو مزدورانه اداګانو او مسخرو طنطنو د سامایي شهیدانو په حق کې په زرهاوو بې ځایه تورونه او سپکې خبرې په کار وړلې، دا هغه شهیدان ول چې وینې ئـې لا وچې سوې نـهٔ وې. د تلویزیون د پردې پر مخ هغه سترې ستومانه ځیرې لیدل کېدلې چې د صدارت په نمجنو او تیارو کوټو کې ئـې شکنجې لیدلې وې. جاعلو برنامه جوړونکو ددوی د خبرو یو شمیر برخې د خپلې برنامې د چاشنې په توګه ځای پر ځای کړې وې. زما په زړهٔ کې د وینو سیلابونه په غرغړاندو ول. نـهٔ سم کولای د خپلې وضعې هماغه حالت په هیڅ ډول کلماتو کې دلته را انځور کړم. د کوټې دننه خادیستانو ددې بې مرګه شهیدانو په مرګ په کړس د خوښی خنداوې پیل کړې. مکتبي اخوانیان او دودیزو پیروان ئـې د خادیستانو له دې مسابقې ځخه شا ته پاتې نـهٔ سول. هغوی ته دې خبرې اهمیت نـهٔ درلود چې دوی د هېـواد د ژغورنې لپاره د روسانو په دستور وژل سوي ول. په داسې مواردو کې زموږ موضع او دریځ او منطق له اخوانیانو سره توپیر درلود. هر ځوک چې د مشترک دښمن په لاس اعدامیدهٔ، هغه موږ خپل ګڼـهٔ او له اعدامه وروسته ئـې زموږ له سترګو خوب تښتـېدهٔ او ډوډۍ ته مو خولـهٔ نـهٔ وروړله. په یاد مې راځي په اسلامي تنظیمونو پورې اړوند په اعدام محکوم ځو تنه زندانیان ئـې زموږ له کوټې وایستل. زه لکه مار د درد او غم له لاسه تاویدم او کړیدم. یو زنداني راته راغی او وئـې ویل : «دا دومره ویر دې د څه لپاره نیولی دی؟ ځو تنه لومړنان ئـې اعدام ته بوتلل او تـهٔ ورته دونې د ځیګر وینې خورې؟» ما له دغـهٔ سړي سره توده راسه درسه درلوده او ددهٔ درناوی مې پر ځان واجب ګڼـهٔ. خو ددغـهٔ غیر اخلاقي او غیر منصفانه حکم له اورېدلو سره سم مې ددهٔ له دوستۍ ځخه نور زړهٔ او لاس دواړه واخیستل.

د کينې لاس د کورنۍ د غړو تر منځ اړيکي او همکاري توده او له صميميته ډکه وه. البته يو لږ شمير کسان هم ول چې د عوامو په خبره اوبـهٔ ئـې د نورو له اوبو سره په يوهٔ ديگ کي نـهٔ خوټـېـدلي. زه په خپل حق کي د دوستانو د هر يوهٔ له زړهٔ سوي او له مسؤوليت سره غبرگ چلند هيڅکله نـهٔ هيروم. د سازمان پيکار برای نجات افغانستان د مشرتابـهٔ د غړي اروابناد استاد سلطان او د خپل گران دوست شکور خرم خيل، د سامايي يارانو او د نورو کينې لاسو سازمانونو مينه به د قيامت تر ورځې پورې هېـره نـهٔ کړم. د کينې لاس د کورنۍ د غړو تر څنگ، عادي او شريفو کسانو او هم د اسلامي تنظيمونو غړو زه له خپلې همدردۍ څخه نـهٔ يم برخې کړی.

که مي ذهن تيروتنه نـهٔ وي کړي ۱۳۶۲ل کال وو. زه د دويم بلاک په ۱۷۵ کوټې کې وم. د څرخي پلـهٔ د زندان ددويم بلاک قفسونه د چا خبره تر ستوني ډک ول. هغې کوټې چې د ديرشو يا څلويښتو کسانو گنجايش درلود هلته ئـې څه دباندې دوه سوه زندانيان د خښتو په شان ټول کړي ول. هر دوه پوړيزه چپرکټ کې دوه وو تنه زندانيانو ته ځای ورکاوهٔ. تازه راوړل سوي بنديان مجبور ول چې د کوټې د غولي پر مخ بيدهٔ سي. د بنديانو د بدن حرارت کافي وو چې کوټه په خوټـېـدو راسي. کله به مو چې نفس ايستـهٔ نو د قفس ککړې هوا به زموږ سرې ځورولې. د کوټې دننه له ستونزه او بې نظميو به څه ووايم؟ د تشناب، د ځان پريوللو، د جاسوسانو توطـئـې، چپرکټ ته د کښته پورته کېدلو، خوب.... ستونزې د صدارت د تحقيق د رياست د مستنطقينو له شکنجو څخه کمې نـهٔ وې. کله به مو چې غوښتل د کوټې کړکۍ گانې پرانيزو چې کوټې ته تازه هوا راسي، چيغې او کوکارې به پورته شوې. داسې کسان هم ول چې په عصبانيت به ئـې چيغې ووهلې چې : «وه وروره څه کوې؟ کړکۍ مه خلاصوه، نـهٔ پوهـېږې چې تودوخه د بندي د ځان ملم «مرهم» ده؟»

د کوټې دننه د ډېرو زندانيانو گڼه گوڼې په خپله له زندانه دباندې د نيول نيولو د لوړې کچې څرگندونه کوله. د نفر راوړه او نفر يوسه ستونزه ټولو زندانيانو ته د يوې پيښې په توگه يو ډول په زړهٔ پورې توب هم وو. له زندانه دباندې اخبار به مو د تازه راوړل سويو زندانيانو له خولو اورېدل. کله به چې «نوي ميلمانـهٔ» کوټې ته راتلل، نو نور زندانيان به ورپورې راټول سول او ددباندې د حالاتو په باب به ئـې ورڅخه پوښتنې کولې.

يوه ورځ ئـې څو تنه زموږ کوټې ته راوړل. ددوی په منځ کې ښاغلي فاروق فاراني او احمد راتب مشهور په قاضي راتب هم ليدل کـېـدل. ما له دوی سره حضوري پيژندگلوي نـهٔ درلوده، خو ددوی نومونه او سازماني تعلقات مې د زندانيانو له خولو اورېدلي ول. قاضي راتب ئـې له کوټه قلفيو راوستی وو. روغتيا ئـې د پرله پسې شکنجو او رواني فشارونو له کبله سخته زيانمنه سوې وه. خپل چپرکټ مې ورته خوشې کړ او په خپله د کوټې د غولي پر مخ پريوتلم. راتب او فاراني دواړه زما له دې اقدام سره موافق نـهٔ ول. ما له راتب څخه هيله وکړه چې زما وړانديز ومني. فاراني راته وويل : « که زموږ په خاطر تاسو ته د بڅرې په اندازې تاوان ورسيږي موږ خپل ځان نـهٔ سو بخښلای.»

سم مې په ياد نـهٔ دې چې د همدې ورځې په سبا ئـې ول که بله ورځ چې پايوازانو خپلومحبوسينو ته جامې راوړلې. د زندانيانو په ژبه چې د پايوازۍ ورځې وې او په دغو ورځو کې ئـې له کورنيو څخه پاکې جامې او نغدې پيسې ترلاسه کولې. د زنداني پايواز به د زندان د لوړ ديوال تر شا – تـهٔ به وايې چې د قاف د غرهٔ تر شا ولاړ دی- د محبوس جامې او يو

څه نغدې پیسې مؤظف افسر ته سپارلې. مؤظف افسر به دا جامې له تائید او تلاشی وروسته یوۀ سرتیري ته ورکړې چې زنداني ته ئې ورسوي. زما له کورنی څخه کوم خبر او احوال رانغی. انتظار مې اوږد او لا پسې اوږد سو. سره له دې چې ما له داسې نــۀ راتللو سره عادت کړی وو خو دا ځل مې اندیښنه ډېره زیاته سوه. ماسپښین ناوخته وه چې ددویم پوړ سرتیري پهره دار راباندې غږ وکړ. کله چې ورته ورغلم وئــې ویل : «مور دې وختي له شنــۀ سهاره تر اوسه ددروازې تر شا ولاړه ده. ورته ئې ویلي دي چې موږ په دغــۀ نامــۀ کوم بندي نــۀ لرو. سپین سرې بیچاره په ژړا ژړا وایي چې زوی مې هرو مرو وژل سوی دی. زما زړۀ ستا پر مور ډېر وسوځېد او هغې ته مې ډېر تسل ورکړ چې دا خبره حقیقت نــۀ لري. زه ئې پهره دار یم. هره ورځ ئې وینم.».....

کله چې د مور د ژړا په باب ئې راته وویل، ویني مې په خوټېدو راغلې. مؤظف پهره دار د رحیم په نامــۀ یو سرتیری وو چې د کابل په بي بي مهرو کې ئې ژوند کاوۀ. ښــۀ هـَـدَوَر، کاکه ډولی او ورزشکار سړی وو. ټولو به د پهلوان په نامــۀ یاداوۀ. پهلوان ته ورغلم چې خپل اعتراض ددۀ تر غوږونو ورسوم. زما روحي حالت ډېر وړې سوی وو. شکایت مې په توندې او شدیدې لهجې ورته وواېــۀ. څو دقیقې لا نــۀ وې تیرې سوې چې یوۀ سرتیري زما نوم ولوست او وئـې ویل : «راځه چې تــۀ ئې د خاد شعبې ته غوښتی ئې.» زه ئې د استخباراتو «خاد» شعبې ته بوتلم چې د شعبې آمر په کې راته سترګه په لاره وو. کله چې د امر سترګې راباندې ولګــېدلې له ځایه پورته او رانـېږدې سو. د خاد آمر له مقدمې پرته راڅخه وپوښتل : «تــۀ معلم نسیم ئې؟» ورته مې وویل : «هو». وئـې ویل : «ولې دې په دالان کې شور ماشور جوړ کړی وو؟» ورته مې وویل : «شور ماشور مې نــۀ دی کړی، یوازې مې له پهلوانه وپوښتل چې ولې زما پایواز ته د رد ځواب ویل سوی دی.» آمر دستور ورکړ چې پهلوان دې ورته حاضر کړل سي. پهلوان وویل : «شور ما شور ئې نــۀ دی کړی، له ما ئې وپوښتل چې د کوم دلیل له مخې ئې پایواز ته د رد ځواب ورکړ سوی دی.» د پهلوان ځواب د خاد د آمر خوښ نــۀ سو. په خښمـېدلو سترګو ئې پهلوان ته وکتل، داسې چې غیشی ئې په خاورو کې موښتی وي، ځکه نقشه خو ئې دا وه چې ښــۀ مې وډبوي. د خاد آمر د «اختصاصي انقلابي محکمې» د قاضي په مقام او د فعال مایشا د امپراتور په صلاحیت فرمان ورکړ چې: «تر ثاني امره پورې ئې کوټه قلفیو ته یوسئ او پایوازي ئې قطع کړئ.» زه ئې نیغ په نیغه کوټه قلفیو ته بوتلم، ان تر دې چې ما ته ئې اجازه رانــۀ کړه چې خپله مختصره اثاثیه له ځان سره واخلم. د ۱۷۵ کوټې زندانیانو ګومان وکړ چې ما پولیګون ته بیایي. خدای خبر چې له دې اسیـَـته زما پر یارانو او دوستانو څومره غصه او غم تیر سوی وو!

دویم بلاک په دوه وو پوړونو کې جوړ شوی وو. هر پوړ په دوه وو برخو ویشل کــېدۀ : عمومي کوټې او کوټه قلفی. د هرې برخې تشنابونه جلا ول او دالان ته ئې لاره درلوده. په همدغو شپو ورځو کې دغه دوی برخې «عمومي کوټې او کوټه قلفی» ئې په لرګینو دیوالونو له یو بله جلا کړي وې. دلیل ئې دا دی چې د کوټه قلفیو زندانیان د نورو له انظاره پټ وساتي. د کوټه قلفیو د کوټو پنجره ډولې دروازې ئې په پرېړو برستنو پوښلې وې. په هرې وړوکې کوټې کې ئې دوه پوړیزه چپرکټونه ایښي ول. په دغو چپرکټونو کې پر یوۀ ئې ډاکټر عبدالمحمد درمانګر «د ویني څښونکې حفیظ الله امین د دوران د باندنیو چارو د وزیر مرستیال» وو، پر بل ئې د هزاره میشتو سیمو یو هـېوادوال او دریم ئې د اتلسو کالو په منګ یو تنکی ځوان بیدېـدۀ. ما ته وویل سول چې پر څلورم چپرکټ ځای ونیسم او بیدۀ سم.

د کوټې چاپیریال ترینگلی وو. په کوټه کې راسره د غمځپلو او غمجنو زندانیانو ځیرو هم زما روحیه تر خپلې اغیز لاندې راوستله. له ډاکټر درمانگر سره مخکې په لومړي بلاک کې آشنا سوی وم. نوموړي د غوايي له کودتا مخکې د عامې روغتیا د وزارت په وقایوي طب کې کار کړی وو. د خپل ځان او خپلو ملگرو روغتیا ته ئې ډېره پاملرنه کوله. د کوټې نور زندانیان ئې هم هڅول چې ورزش قضا نــهٔ کړي او شخصي حفظ الصحه په پام کې ونیسي.

په کوټه قلفیو باندې ئې شدید او ټینگ محدودیتونه او مقررات وضع کړي ول. د زندان د اداري له دستور سره سم موږ حق نـهٔ درلود چې په لوړ غږ خبرې وکړو. که زموږ غږ زموږ له کوټې دباندې چا اوریدلی وای مجازات کېدلو. کله به چې تشناب ته تللو نو محافظ به موږ سره ځنگ په ځنگ روان وو او اجازه ئې ورکوله چې شا و خوا ته وگورو. محافظ یوازې دوني بلد وو چې تکرار په تکرار وویلې : «خپلو پښو لاندې ځای ته گوره!»  دغې لنډې خو زړهٔ سوراني جملې موږ په داسې ماشین بدلولو چې کنترول ئې د ساتونکې په لاس کې وو. خو د زندانبان له همدومره سختیو سره سره بیا هم زندانیانو به په خپلو ماهرانه چلونو له نورو زندانیانو سره اړیکې نیولې.

ډېر ژر پوه سوم چې یو شمېر په اعدام محکوم شوي زندانیان ئې همدې برخې کې ځای پر ځای کړي دي. یوازې همدا خبره ماته کافي وه چې رنځ او عذاب مې دوه ځله نور زیات سي. زموږ د کوټې تنکی ځوان بندي زما د چپرکټ په پاسني پوړ کې بیدهٔ کېدهٔ. نوموړي، ډاکټر درمانگر ته ویلي ول چې «اختصاصي انقلابي محکمې» ورته د اعدام سزا ټاکلې ده، خو له دې سره سره ئې هیله درلوده چې د خپل عمر د لږوالي له کبله به له اعدامه بچ سي. له دې کبله ئې د خپل د مخ ویښتان چې هرکله به راشنــهٔ کېدل، دهٔ به شکول چې «تحت سن» ښکاره سي.

یوه ورځ ماسپښین وو چې د «نفر کشي» لیست ولوستل سو. موږ خپل لنډ او سوځېدلي نفسونه په گوگل کې ټینگ ونیول. چا سونگ نـهٔ واهــهٔ. هر چا له خپل برخه لیکه ډار درلود. هر نوم به چې لوستل کېدهٔ گومان مې کاوهٔ چې ورپسې نوم زما دی. ما ځان په قرباني کې شمېرلی وو. په خواشینی چې د همدغـهٔ نامراده تنکي ځوان نوم په همدې لیست کې وو. هغه ئې بوت او ....

له هر «کشتار» وروسته، د زندان اداري د کوټو د زندانیانو ترکیب بدلاوهٔ. موږ ئې بیا وویشلو. زه ئې د همدغـهٔ پوړ «دویم پوړ» د دالان بل لور کوټه قلفیو  ته بوتلم. ددې کوټه قلفیو د وړوکو کوټو دروازې ئې هم په پرېړو برستنو پوښلې وې. له دې کاره موخه دا ده چې د کوټو زندانیان د نورو کوټو له زندانیانو سره ونـهٔ گوري او پوه نـهٔ سي چې په دالان کې څه تیرېږي. زما د کوټې یو بل زنداني عتیق عالمیار ( خلقي «د صدیق عالمیار ورور») وو چې څو ورځې مې ورسره د لومړي بلاک په یوې کوټې کې تیرې کړې وې. دویم تن ئې د مزارشریف له ښاره بصیر نومېدهٔ. څو ورځې وروسته ئې یو بل په ونه دنگ ځوان چې هاشم نومېدهٔ، د پکتیا له ولایته وو او د خاد کارمند وو له موږ سره یو ځای کړ.

سره له دې چې هاشم او بصیر دواړه له زندانه دباندې پرچمیان او د خاد کارمندان ول خو بیا هم د دواړوغوایان په یوۀ آخور کې نــۀ څړېدل. هاشم ساده او سوړ سړی وو خو بصیر غوړه مال او چالاک وو. د بصیر دا کار خوښېدۀ چې هاشم د خلکو خبره مضمون جوړ او مسخره ئـې کړي.

ددالان باشي چې ددې برخې د اداري مسؤولیت ورته سپارل سوی وو یو خانتما او په زړۀ تور سړی وو. د زندان د ساتونکو د رضائـیت د تر لاسه کولو لپاره ئـې هر ظلم او ناروا ئـې چې له لاسه کېدل له موږ څخه نــۀ سپمول. باشي زما په کوټه کې راسره بندي بصیر سره هم پیژندګلوي درلوده. ددغـۀ بد طینته سړي له سترګو څخه کینې او شرارت داري وهلې. له بسه چې چلند ئـې له عتاب او خښم ډک وو ان نـۀ مې غوښتل ددۀ مخ ته لا وګورم. کله به ئـې چې موږ ته چای یا خواړۀ راوړل یا به ئـې تشناب ته بدرګه کولو نو زموږ د سپکاوي لپاره به ئـې په سلهاوو پلمې په خپلو لستونو کې ساتلې وې. دا پر یوۀ زنداني باندې د بل زنداني ظلم او ستم دی چې «دغـۀ په دوه وو پښو ځاروي» له چا نــۀ سپماوۀ.

زموږ د کوټې تر څنګ د صادق په نامـۀ یو ځوانکی وو چې د دالان باشي ورسره سُر او پُس درلود. هر کله به چې باشي بصیر ته راتـۀ نو دا ځوانکی به ئـې له ځان سره راووړ. د بصیر په وینا، صادق له زندانه دباندې د خاد کارمند وو. کله به چې زندانیان بیدۀ سول نو دی به ئـې د شپې ناوخته له کوټې دباندې وایستـۀ او د پهره دار کوټې ته به ئـې بوت. ځوانکي ډېـر ښـۀ غږ هم درلود. په ټیټ غږ به ئـې سندرې ویلې. زما کوټه دویمه شمیره کوټه وه چې د عمومي دالان د ننوتنګ دروازې ته نیږدې د پهره دار د کوټې په چم ګاونډ کې وه. ما ته خو بې خوبي له مخفي ژوندانـۀ په میراث پاتې وه او په شپو شپو به مې خوب مې سترګو ته نــۀ راتــۀ نو ددۀ سندرو ته به مې غوږ نیوۀ. د هغو سندرو له منځه به چې دۀ ویلې دوه ئـې لا تر اوسه زما د ذهن په آرشیف کې ځای پر ځای پاتې دي :

| | |
|---|---|
| می پرست ایجادم نـشۀ ازل دارم | همچو دانـۀ انگور شـیشه در بـغـل دارم |
| معنی بلند من فهم تند می خواهـد | سیر فکرم آسان نیست کوهم وکتل دارم |

سندرغاړي به ډېر کلمات غلط تلفظ کول. د بېلګې په توګه ویل به ئـې :« می پرسی جانم نشـۀ ازل دارم.» دویمه سندره دا وه :

| | |
|---|---|
| بیـا شب های مــهتاب است تو ای ماه یگانــه | مـکن دیگر بــهـانه |
| شهادت می دهد چشمت که دیشب مست بودی | قدح در دست بودی |
| نــمی دانـم تــک و تـنها کـجا میـری شبـانه | مــکن دیگر بهــانه |

ددې سندرې اورېدلو زه د خپلو خاطراتو ډکې نړۍ ته کاږلم. ماته ئـې د سپینې سپوږمۍ هغه شپې په یاد راوړلې چې له خپلو همزولو ملګرو سره به د غمنو د درمند ګرد چاپېره راټولیدلو او شپیلۍ به موږ غږولې. د مخفي ژوندانـۀ د دوران د سپینې سپوږمۍ شپې به مې په یاد راغلې چې له یارانو سره به مې سفرونه کول او د سپوږمۍ رڼا به زموږ د سفر خړنج «مُخِل» وو. د اروابناد استاد عبدالبصیر بهرنګي ځلانده او جذابه څیره به مې مخې ته ودرېدله چې په جبل السراج د خلکو په لهجې به ئـې ویل : «کمی صبر کنیم که مـَـه تــَوی بګذره/ لږ دمه وکړۍ چې سپوږمۍ لاړه سي». د سپوږمۍ د رڼایيی مزاحمت به


هغه مهال ډېرېدهٔ کله چې د یوهٔ دوست کورته د ننوتلو تکل مو کاوهٔ. د سپوږمۍ روڼايي به ټول ځایونه روښانول، او ویره مو درلوده چې نــهٔ سي دا کور تر تعقیب لاندې نــهٔ وي. په داسې حالت کې زموږ د محاصره کېدلو او تباهۍ ګواښ ډېر متصور وو. د احتیاط له مخې به په یوهٔ ګوټ کې سترګه په لاره شولو چې د سپوږمۍ روښنايي له کوڅې او د انګړ له ورهٔ څخه تیره سي. د سپوږمۍ د شپو پر مهال چې روڼایيی به ئـې هر لور ته خپروله موږ د ونو له ډډو او څنګه تیریدلو او د ونو له سیوري څخه په ګټه اخیستنې به مو ځانونه ستر او اخفا کول. د مني په فصل کې به کله چې تر ونو لاندې تـېرېدلو نو د ونو رژیدلو وچو پاڼو به زموږ تر ګامونو لاندې غږ جوړاوهٔ او د شپې چوپتیا به ئـې ماته کړله. د یارانو په منځ کې به بهرنګي مخفي کارۍ او پټپټاني ته ډېره پاملرنه کوله. په ناخوښۍ به ئـې ویل : «که په همدغو شا و خواوو کې څوک اوسي نو پوهیږي چې د شپې له خوا پر دغـهٔ لاره څوک تګ راتګ کوي او بیا به زموږ د تګ راتګ مسیر افشأ سي.» د شپې د تورتم په زړهٔ کې په ویالو کې د بهیدونکو اوبو شرشر به تر هرې بلې موسیقۍ ښـهٔ ټنګ ټکور جوړ کړی وو. د ونو د ښاخونو ښکلي نڅا به مو لیدله چې د باد له چلیدلو سره سم به ول په ول تاوییدلې. د چونګښو زړهٔ راښکونکي آرکستر به مو اورېدهٔ او خوندونه به مو ورڅخه اخیستل. په یاد مې راځي چې څنګه به د وریجو د پټیو له تنګو پولو څخه تیرېدلو. کله نا کله به مو پښه وښـوېدله او کولنځۍ به په اوبو کې ولوېدلو. تازه کارو او نا بلدو کسانو به په ډېریو وختونو کې دا تیروتنه کوله. کله ناکله به په کوم خطرناک او له موږونو کړلیچونو ډکو ځایونو کې زموږ د پښو شرپا اورېـدل کېدله او بیا هم دلته هماغه بهرنګي وو چې په خپلي ځـُلق تنګۍ به ئـې زموږ پام زموږ تېروتنې ته راواړاوهٔ. کله نا کله به اړتیا کېدله چې لاسي څراغ روښانه کړو. د لاسي څراغ رڼا به مو د لاس په ورغوي وپوښله ترڅو لږه روښنايي ئـې خپره سي. کله به زموږ د لارې په اوږدو کې کومه ویالــهٔ راغله او باید د ویالې له سره مو ټوپ وهلای وای. د ټوپ وهلو لپاره واټن به تقریباً هر چیرې برابر نــهٔ وو. په داسې حالت کې به کوم ملګری مو اوبو ته ولویدهٔ. اکثریتو هغو بزګرو چې موږ ته پناه راکوله ساده ژوند ئـې درلود. ددوی په کورونو کې به ځان پریولل نـهٔ میسرېـدل. له دې کبله به زموږ ځان پریولل به له اونۍ اونۍ وروسته تر سره سول. موږ ته د ځان پریوللو تر ټولو ښـهٔ وخت د شپې له پلوه د سفر پر مهال وو. موږ په وار اوبو ته ننوتلو او په هغـهٔ صابون به مو ځانونه پریولل چې په جیبونو کې به مو له ځان سره ګرځاوهٔ.

یوه شپه د یوهٔ کالـهٔ له څنګه تیرېدلو. له بالا خانې څخه د موسیقي غږ راتــهٔ. راډیو (یا ټیپ ریکارډر) د آصف جبل السراجي دا سندره خپروله :

| | |
|---|---|
| بیا هوا خوری بریم به سیلِ ګلبار | یا به ګلغندی بریم سیلِ چاریکار |
| روز جـمعـه مـیلهٔ پـغـمان اس | چــهــلستــون و دارالامــان اس |
| دریای پنــجشیر آبش روان ا س | فابــریکـــهٔ نــساجـــی چالان اس |
| کاریګر هـا ســویــش روان اس | بیا به ګلغندی بریم سیل ارغـوان |

اروابناد عادل «استاد باشي محمد، د پروان ولایت له سید خیلو» وغوښتل چې د څو شیبو لپاره دمه سو او د آصف سندرې ته غوږ سو. یارانو هم ورسره ومنله. عادل د یوې سړې آه په ویستلو وویل : « ددوی له بیغمو زړونو ځار! نیږدې ده چې موږ له دغو خبرو څخه نور بې غمه سو. فکر کوم چې دا شیان د واقعیت په نړۍ کې هیڅ خارجي وجود نــهٔ لري.»

باشي محمد د سيد خيلو د ليسې يو نيک نومی او لايق استاد وو. دی مې له ښخوا وختونو پېژانده. په ۱۳۵۱ل کې د کابل له عالي دارالمعلمينو څخه فارغ او د سيد خيلو په ليسې کې د ښوونکي په توګې مقرر سو. په دې ليسې کې ددهٔ تقرر ماته زښته خوشحالي راکړه ځکه کله مې چې ددهٔ لياقت او عالي اوصاف ليدل نو ددهٔ د ملګرتوب ارمان مې په زړهٔ کې پالهٔ. د سياست کړۍ ته د دهٔ د راکاږلو لپاره مې ورسره په ځلونو ځلونو خبرې وکړې خو هر ځل به ددهٔ له سکوت او يا خوږې موسکا سره مخامخ سوم. يوه ورځ مې چې په دې هکله ورسره خبرې کولې له خولې ئې دا جمله راووتله : « موږ په داسې نړۍ کې ژوند کوو چې د درياب کبان ئې قهوه څښي او انسانان ئې له لوږې مري.» د همدې جملې په اورېدلو مې زړهٔ مې له خوښۍ په درزېدو سو. ما دا جمله د اقتصاد د علم په يوهٔ کتاب کې لوستې وه او دا کتاب زموږ د ډلې د تشکيلاتي کړۍ د زده کړو له موادو څخه وو. په خبرې ئې پوه سوم چې نوموړی هم زموږ له ملګرو سره تشکيلاتي اړيکه لري. دغه ډاډ زما د لا خوښۍ لامل سو. استاد باشي محمد د خپل فطري استعداد او هڅو په برکت په لنډ وخت کې د سياسي آګاهی او فعاليت په برخه کې د پرمختګ له پوړيو ته ځان ورساوهٔ. خپل د فراغت وختونه ئې بې ځايه نـهٔ تېرول او په شدت او ليوالتيا ئې پريمانه کتابونه لوستل، ان تر دې کچې چې ددهٔ نـهٔ ستړې کيدونکي هلې ځلې د نورو يارانو لپاره سرمشق شوې وې. د غوايي له کودتا وروسته ئې مخفي ژوندانـهٔ ته مخه کړه او د پروان ولايت د بنسټيزې کميټې غړيتوب ئې تر لاسه کړ او ددې کميټې يو فعال غړی شميرل کېدهٔ. د نرم خوی، زغم، اصولو او صادقو انسان وو. دا ګران يار په ۱۳۵۹ ل کال کې د روسانو او د ګوډاکي حکومت د ګډو ځواکونو د يوهٔ جنايتکارانه کمين په ترڅ کې ووژل سو. ياد دې تلپاتې وي!



استاد باشي محمد «عادل»

خاطرات او د يارانو ياد مې په ذهن کې تيريدل او د حسرت اوښکو مې لمن لمدوله. صادق به په اونۍ کې دوه يا درې ځله د پهره دارنو کوټې ته لاړ او سندرې به ئې ويلې. هر ځل به زما د خيالاتو مارغهٔ له يوهٔ کلي څخه بل کلي ته، او له تنګو لارو به کوم ځنګل او له يوې جونګړې به بلې جونګړې ته وزرونه غوړول او تر يوې يوګړې ونې لاندې د يارانو د راټوليدلو ځانګړی ځای به ئې زما په نظر کې مجسم کړ چې زموږ د ليدلو کتلو ګډ ځای وو.

خاطرت يا له خوشحالۍ ډک او يا د غمونو ګوډي وي، کله د انسان د رنځ او ناآرامۍ سبب ګرځي او کله هم انسان ته د ملګرتوب لاس په سخاوت اوږد کړي او له يوازې توبه ئې باسي.

په کوټه قلفيو کې د زندانيانو د شمير ډېروالي د ډيرو نيول نيولو ښکارندويي کوله او له بلې خوا د هغو کسانو د ځای پر ځای کولو ځای وو چې د «اختصاصي انقلابي محکمې» له پلوه د اعدام په سزا محکوم شوي ول. څو ورځې تيرې سوې چې پينځم تن ئې هم له موږ سره يو ځای کړ. هغـهٔ ته به ئې د تورن خطاب کاوهٔ او د بدخشان له اوسيدونکو څخه وو. څه نا څه پينځه ديرش کاله عمر ئې درلود. ويل کېدل چې نوموړی د اردو افسر وو چې له مجاهدينو سره د همکاری په تور زنداني سوی وو. دا ځوان ئې د تحقيق پر مهال دومره شکنجه کړی وو چې خپل اعصاب ئې له لاسه ورکړي ول. اوږدو ويښتانو او پلنې ږيرې ئې څيره غير عادي او ويروونکي جوړوله. څرګنده وه چې په مياشتو مياشتو ئې نه ول لمبلي. سږې ئې له

سر او له ږیرې کښته پورته تللې. جامې به ئـې لمدې کړلې او خوسا بوی به ئـې ټول ځورول. دا یو اړتیا وه چې دې ستونزې ته د حل لاره ومومو. موږ د ددۀ د سر د ویښتانو او د ږیرې د خریلو لپاره وسایل نــۀ درلودل. د څرخي پلـۀ د زندان په کوټه قلفیو کې د ږیرې د پَل یا تیغ درلودل جرم ګڼل کـېـدۀ. بصیر له باشي سره د پیژندګلوۍ له لرلو څخه په ګټه اخیستنې د ږیرې خریلو تیغ چمتو کړ. عتیق عالمیار نوموړی تشناب ته دننه بوت. د تورن بنچري «ژولیده» ویښتان ئـې وخریل او وئـې لمباوۀ. تورن د شپې له پلوه کرار بیدۀ سو. په سبا ئـې هاشم او بصیر ځای ئـې بدل کړ او له کوټې ئـې دباندې وایست. د هماغې ورځې په ماسپښین د دروازو د تړل کیدلو غیر معمولي غږ تر غوږو سو. پوهـېـدلو چې کومه بلا رانازله کېـدونکې ده. د دویم بلاک عمومي باشي دالان ته راغی. په لوړ غږ ئـې په اعدام د محکومو کسانو نومونه ولوستل. هر نوم چې لوستل کـېـدۀ فکر مې کاوۀ چې ورپسې نوم زما دی. انتظار چې په هر حالت کې وي سخت دی، خو تر دې ډېر سخت کار چې په ان په خولـۀ ویل ئـې ګران دي دا دی چې تـۀ دې د خپل مرګ د انتظار شیبې په خپله وشمیرې. د زندان اداري به په لوی لاس د اعدامیانو لیست په دالانونو کې په لوړ غږ په جهر وایـۀ. له دې ټیټ فطرته کار څخه موخه دا وه چې د زندانیانو روحیه دړې وړې کړي او نور د لیوۀ د دادړو له شکولو وډار کړي. په دې لیست کې د تورن نوم هم ولوستل سو. له نورو کوټو څخه ئـې نور کسان هم وایستل. زه او عتیق یوازې پاتې سو. دروازې ئـې وتړلې. ما په ځلونو ځلونو د «مرګبار/ مرګوني» اصطلاح په کتابونو کې لوستې وه خو دا مې څوم ځل وو چې حس مې کړه. مرګ له هر لوري وَرېـدۀ او له ځمکې او آسمان څخه د وینو بوی راتـۀ. له خپل ځانه، له کوټې، له دالانه، له پولادي میلونو لنډه دا چې له هر څه ډارېـدم. ته به وایې تالنده او تندر لویدلی دی او زه ئـې په منځ کې پاتې وم. زموږ ددالان مخامخ یو بل دالان وو چې په یوۀ کې ئـې کلکانی سلطان بندي. وو. له دې چې د پنجرو پورتني برخې ئـې په برستنو نــۀ وې پوښلې، کله به چې د پورتني پوړ په چپرکټ کې کښـېناستم نو د اروابناد سلطان کوټه به راته ښکاره سوه. کله ناکله به که شرایط راته مساعد سول یو بل ته به مو لاسونه ښورول. څېرې سمې د تشخیص وړ نــۀ وې او اصلاً له یاده مې وتلې ول چې په مخامخ پنجرې کې سلطان دی. د پنجرې له هاغه بلې خوا یو لاس په خوځښت راغی. هو، دی په خپله وو. ما د لاس پورته کولو وس نــۀ درلود. همدومره مې پوه کړ چې تر اوسه ژوندی یم.

شپه راغله. دومره توان راکې نــۀ وو چې د ډوډۍ خوا ته لاس وغځوم. کرۍ شپه مې خوب ونــۀ کړ. د خپلې کوټې له نورو زندانیانو سره مې یوه کلمه خبره ونــۀ کړه. ددې فاجعې د قربانیانو په دقیق شمیر هغه کسان پوهـېـږي چې د قربانیانو سترګې او لاسونه ئـې له اعدامه مخکې وتړل. ویلای سم چې زموږ د کوټه قلفیو د څه دباندې د سلو تنه زندانیانو له منځه نیمایې پاتې ول. دا شمیر یوازې زموږ ددالان شمیر وو، نور دالانونه پر خپل ځای پریږده چې هلته څه حال وو.

له دغـۀ ویروونکي «کشتار» وروسته ئـې یو ځل بیا د زندانیانو تبدیلی پیل کړې، له دې کوټې بلې ته او له یوۀ بلاکه بل بلاک ته. زه ئـې د لومړي پوړ کوټه قلفیو ته ولـېـږدولم. د لومړي پوړ کوټه قلفی د زندانیانو په ګڼه ګوڼه تر ستونې ډکې وې. د هرې کوټې دننه ئـې له پینځو تر اوو تنو زندانیان اچولي ول. نور زندانیان په یوۀ دالان کې چې د U د توري بڼه ئـې درلوده بیدۀ کـېـدل. د زندانیانو ډېروالی ددې لامل سوی وو چې د زندان اداره وکولای سي د زندانیانو په شدید کنټرول او څار کې عاجزه پاتې سي. له دې چې د کوټه قلفیو دروازو د تړل کیدلو امکان نــۀ درلود موږ کولای سوای دالانونو ته راووځو او وګرځو. هیڅ داسې اونی به نــۀ وه چې یوه ډله یو نه سي او پر ځای ئـې بله ډله رانـۀ ولې. په دې ګڼه ګوڼه کې

مې څوک نـهٔ پېژندل چې خبرې اترې ورسره وکړم. زما په نوې کوټه کې پينځه تنه ول هر يو : انجنير حبيب الرحمن، د انجنير حبيب الرحمن پلار او انجنير نجيب. د انجنير نجيب پلار ته به ئـې د سناتور صاحب خطاب کاوهٔ. انجنير نجيب چې د سناتور خوريي کېـدهٔ يو پلن مخی، د خوش خوی او د قصو ويلو څوان وو. دوی درې واړه د افغانستان د هزاره ميشتو سيمو اوسېـدونکي ول. څلورم تن جانعلي نومـېدهٔ چې دی هم هزاره وو او له سناتور او ورسره بدرګه ډلې سره ئـې پېژندګلوي درلوده. پينځم تن زه وم. څلور تنه پر چپرکټ بيدهٔ کېـدل او زه د کوټې د غولي پرمخ. په زندان کې تعامل دا وو چې که چپرکټ تش نـهٔ وو، نو نوی راغلی بندي به د غولي پر مخ بيدهٔ کېـدهٔ. کله نا کله به ئـې شپږم او اووم تن هم په دې کوټه کې چې د يوازې يوهٔ زنداني لپاره جوړه شوې وه ځای پر ځای کړل.

سناتور او ملګري ئـې د يوهٔ دسترخوان ګرد چاپيره راټولـېدل. ما هم له دوی سره د همکاسه کېـدلو له کبله څکه بخښنه وغوښتله چې د زندان په خوراک او جيرې باندې مې بسنه کوله. کله چې سناتور وپوښتل چې ولې چای نـهٔ څښم، پلمه مې وکړه چې چای زما پښتورګو ته تاوان رسوي. د پايوازۍ اونی هم تيره سوه. د کوټې زندانيانو وليدل چې ما ته چا کالي رانـهٔ وړل. کله مې چې خپلې جامې پرته له صابون پريوللې، سناتور خبره جدي ونيوله. نور دداسې درانده سپين روبې پر وړاندې د پلمو جوړول مناسب نـهٔ وو. ما ورته خپلې ستونزه له سره تر پايه وويلې. د ډېر غم له لاسه د سناتور اوښکې توی سولې. څو شيبې چوپ سو او بيا ئـې په ملامتې ژبې راته وويل : «تـهٔ د حبيب په شان زما زوی ئـې، دا شرم دی چې موږ دې پيسې ولرو او تـهٔ د بې پايوازۍ له لاسه وکړيږې.». ورته مې وويل : «سناتور صاحبه! تاسو لوبينه لرئ خو زه دداسې حالاتو لپاره روحي چمتووالی لرم.» زما ټينګار نوره کومه ګټه ونـهٔ کړه. سناتور له لاسه ونيولم او د خپل تر څنګ ئـې د خپل دسترخوان پر څنډه کښېـنولم. څو ورځې مو سره په ګډه ډوډۍ وخوړله. د سناتو، انجنير حبيب الرحمن، انجنير نجيب او جانعلي ترحم او انسانيت به هيڅکله هير نـهٔ کړم.

په دې کوټه کې زما لا دوې اونی تيرې شوې وې چې يوه ورځ ماسپښين ګڼ شمير زندانيان ئـې دالان ته راوړل. ددوی په منځ کې ارواښاد سلطان کلکانی هم وو. کله چې سترګه په سترګه سولو، د يو بل په ديدن د خوښی له لاسه په جامو کې نـهٔ ځاييدلو. سلطان په خپلې ذاتي هوښياری يو شمير نغدې پيسې راته راوړاندې کړې. ورته مې وويل : «دوني بيړه د څه لپاره؟ اوس خو له يو بل سره يو ځای يو.» سلطان د خپلې هميشنی خندا په لړ کې وويل : «انديواله، په زندان څه اعتبار په کار دی؟» نيم ساعت لا تير سوی نـهٔ وو چې بيا د کډې کولو نغاره وډنګول سوه او يو شمير ئـې له کوټه قلفيو وايستل او سلطان ئـې په منځ کې وو. هيڅ څوک نـهٔ پوهېدل چې برخليک به ئـې په کوم لور له ځان سره الوزولی وي. کری شپه مې کولمو تاو خوړ چې ښايي سلطان به د تل لپاره ونـهٔ وينم. زما د ټولو هيلو تومنه دا وه چې د دباندې ايستل سويو کسانو په منځ کې څو تنه عادي خلک او څو تنه د خاد کارمندان هم ول. ښـهٔ مې په ياد نـهٔ دي چې سناتور او ملګري ئـې د استنطاق لپاره او يا «اختصاصي انقلابي محکمې» ته بوتلل، زه ئـې هم بلې کوټې ته وليږدولم. د نوې کوټې زنداني راسره، قدير نومـېدهٔ او دويم تن ئـې يو درونډ سپين ږيری وو. دوی دواړه د پنجشير ول. سپين روبی پنجشيری ساده، صادق، زړور او دنيا ئـې ليدلې وه. له سهاره تر ماښامه به ئـې د خپل ژوند د سرګذشت په باب خبرې کولې. څو ورځې وروسته ئـې يو ځل بيا دالان د زندانيانو د کثرت له لاسه چاودېـدلو ته نيږدې شو. اکثريتو زندانيانو به له يو بل سره ښـهٔ معاشرت کاوهٔ، يو بل سره به ئـې خندل، خو ما له چا سره د خبرو حوصله نـهٔ درلودله.

يوه ورځ په دالان کې ګرځېدم. يو ځوانکی راته رانيږدې سو او د ستړي مه سې لاس ئـې راکړ. ځان ئـې راته د فرهاد په نامـهٔ راوپـېژاندهٔ. ويل ئـې چې د کابل د ششدرک اوسـېدونکی دی. نوموړی په نورو ورځو کې هم زما ليدو ته راغی. ويل به ئـې چې پلار ئـې په يوهٔ «افغان – ژ» سفارت کې مأمور دی. دا ځوان مدعي وو چې داستان ليکي او شعر وايي، له استاد واصف باختري سره دوستي او آشنايي لري، مجيد کلکاني ته ئـې د «پرستش» تر حده درناوی درلود او ددهٔ مرګ ئـې د افغانستان ملت ته يوه نـهٔ جبيره کېـدونکي ضايعه بلله او د هغـهٔ په وصف او د مقام د درناوي په پار کې ئـې لنډ داستانونه او اشعار هم ويلي دي... د خپلو خبرو په ترڅ کې به ئـې کله ناکله يو ځغلنده شعر هم ووايـهٔ او ويل به ئـې چې دا ئـې خپل شعر دی. يو ځل ئـې راته وويل : «تا خو د خپل ځان په هکله هيڅ هم ونـهٔ ويل.» ورته مې وويل :« زه شعر ته ليوالتيا لرم. خپل شعرونه دې راته وايه.» ښـهٔ مې سترګو ته ځير سو او وئـې ويل : «زه د روان پـېژندنې په علم کې مطالعه لرم. ستا په سترګو کې ځينې اسرار لولم.» زموږ د کوټې مخامخ په دالان کې څو تنو زنداني خاديستانو هم ځای نيولی وو. فرهاد به خپل ډېري وختونه له دوی سره زنګون په زنګون تيرول. يوهٔ خاديست چې دنګه ونه او اوږدهٔ ويښتان ئـې درلودل ځان د مجلس مير او مشر ګڼـهٔ. ليدل کيدل چې ښـهٔ شتمن سړی هم دی. نوموړي به کنټ سيګريټ وهل او شيک جامې ئـې اغوستلې. خپلو هم مسلکانو ته به ئـې هم دم په دم سيګريټ وړاندې کول. خپل دوه نيم ليتره جاپاني ترموز له هيل والا چای ډک کړی وو او د روسي چاکليټو له پاکټ سره به ئـې يو ځای تر خپل لاس لاندې ايښودل او خپلو هم مسلکو او هم نشينو کسانو ته به ئـې د چای او چاکليټ تعارف هم کاوهٔ. کله به چې ترموز تش سو چايدار باشي به ددهٔ چوپړ ته راورسيد او تر موز به ئـې ورته ډک کړ. ځينو باندې چې خيټه ګرانه وه او يو شمير غوړه ماړان به ددې ښاغلي ګرد چاپيره تاويدل. شتمن خاديست به دوی په ناز او نخوت ورته ښـهٔ راغلاست ويل او چای او چاکليټ او سيګريټ به ئـې ورته وړاندې کول. يوازې ددغـهٔ ښاغلي د يوې اونی د سيګريټو مصرف زما تر کلني لګښت لوړ وو. په ياد مې راځي چې د پايوازۍ په يوه ورځ سرتيري زما پريولل شوې جامې او سل افغانۍ نغدې راته راوړې. مياشتې تيرې سوې وې چې کورنی راڅخه خبر نـهٔ وو اخيستی. پيسو ته مې تينګه اړتيا وه. له بلې خوا، پوهېدلم چې زما د کورنی لپاره د سلو افغانيو چمتو کول کوم آسانه کار نـهٔ دی. غيرت مې دا خبره ونـهٔ منله چې دا پيسې زه په جيب کې کښـېږدم. پيسې مې بيرته وليږلې او خپلې ميرمن ته مې داسې وليکل : « پر ما ګراني خوبانې! پيسو ته اړتيا نـهٔ لرم. هغه له سرتيري بيرته واخله او بچيانو ته څه شي ورباندې واخله. په دالان کې ناستو خاديستانو بل کار نـهٔ درلود مګر دا چې د «شورا ګانو په هـېـواد» کې له خپلو عياشيو داستانونه ووايي، غليظه ټوکې ټکالې وکړي او په پرک وخاندي. کله به چې کومه مسافر وړونکي الوتکه د څرخي پلـهٔ د محبس له پاسه تيريدله نو د الوتکي ويرونکی غږ به زموږ غوږونو ته راتـهٔ. «د الوتکي د غږ په اوريدلو به ئـې ويل جان جان!». يوه ورځ فرهاد ورڅخه د «جان جان» ويلو دليل وپوښت. د مجلس مير په وياړ او رضائيت وويل : «دا د ايرفلوټ الوتکه ده چې روسيې ته ځي. د شوروي اتحاد په خاطر مې دا الوتکه خوښـېږي.»

رواني وضعيت مې ورځ تر بلې له بده پسې بدتره کېـدهٔ. زموږ د کوټه قلفيو په دالان کې د پروان د ګلبهار له سيمې څخه يو ځوان وو چې خلکو به ورته ډاکټر ويل. ويل کېـدل چې نوموړی د سازمان رهايي افغانستان غړی دی. نوموړي زما ستړيا او بې خوبي په خپلو سترګو ليدله. ورته مې ويلي ول چې زما پايوازي ئـې قطع کړې ده او په جزايي ډول کوټه قلفي سوی يم. د نوموړي سپارښتنه دا وه چې د ورځې له پلوه په دالان کې دومره وګرځم تر څو د ستړيا له کبله مې نور زنګنونه کټ

سي، پرته له هغې به له پښو ولوېږم. ددغـهٔ له احساسه ډک ځوان سپاربښتنو راسره چنداني مرسته ونــهٔ کړه. جسمي توان مې کرار کرار مخ په تحليل روان وو.

زه ئـې د دالان له يوې ډډې ځخه بلې ډډې ته ولیږدولم. د کوټې بندي راسره د ګلبدين د حزب اسلامي يو چريک وو، کاراټه باز او د کابل د پغمان له ولسوالۍ ځخه وو. دی مخکې له مخکي خبر وو چې د ساما په ارتباط زنداني سوی يم. دويم تن ئـې د خاد کارمند وو. ځوان چريک په لومړيو ورځو کې د مجيد کلکاني ستاينې او صفات کول چې څه يو انسان وو او حيف چې په ډېرې ناځوانۍ ئـې وواژهٔ.... څو ورځې وروسته ئـې يو ناڅاپه نظر يو سلو اتيا درجې بدلون وموند. دغو دوه وو تنو به له سهاره تر ماښامه مجيد ته سپکې سپورې ويل او ښکنځل به ئــې کول. ما بله چاره نــهٔ درلوده مګر دا چې غاښ پر غاښ کښېږدم او له الف تر يا ورته څه ونـهٔ وايم. ځوان خاديست د زندان د اطلاعاتو د شعبې په دستور کاراټه باز چريک زما پرضد پاراوهٔ. کله ئـې چې وليدل چې له کانې غږ خيږي له ما نــهٔ، د ځورولو - ښې ته ئـې بدلون ورکړ. کاراټه باز چريک د سټنګې او لومپنې اکټونو ته مخه کړه او په پلمې پسې ګرځـېدهٔ چې فزيکي ټکر ته لاره هواره کړي. ما خپل صبر او احتياط له لاسه ورنــهٔ کړ او ددغو توطـئـو د لومو کې ښکار نــهٔ سوم.

خلک وايي چې په هرې تيارې پسې روڼايي ده. يوه ورځ خاديست ځوان او کاراټه باز چريک په خپلو منځو کې په کومې خبرې سره وران سول. دا، تـهٔ وايه او زه وايه ددوی تر منځ وغځـېدله او خبره ئـې لاس او ګريوان ته ورسيدله. پهره دار دواړه واخيستل د زندان ادارې ته ئـې بوتلل او په پای کې زما له کوټې وايستل سول او بلې کوټې ته ئـې بوتلل. خبر سوم چې هغه کاراټه باز ځوان ئـې ورپسې اعدام ته بوت. دهٔ به ويل : « زه خو هسې هم اعداميدونکی يم، خو تر هغو چې ژوندی يم د شعله يانو پر ضد به جهاد وکړم.»

يو ځل بيا ئـې د حجرو زندانيان سره تغيير و تبديل کړل. زه ئـې منځني ديوال ته نـېږدې کوټه قلفيو ته بوتلم. ددې ځای ګڼه ګونه تر هغـهٔ پخواني ځای زياتې درلود کمی نــهٔ. ددې برخې اړيکه له عمومي کوټو سره د لرګين ديوال په مرسته همداسې قطع وه. د لومړي پوړ د کوټه قلفيو شرايط د دويمو او دريمو پوړونو په پرتله لا بدتره او زړه تنګوونکی ول. ددې ځای کوټې او دالانونه تيارهٔ، نمجن او ګنده ول. له هر لورې بوی پورتـه کـېدهٔ. تر ټولو بدتره خو ئـې لا دا چې د خَسـَکو رَمو کوټه قلفی ډکې کړې وې. هيڅ چا د شپې له پلوه د خسکو له لاسه خوب نــهٔ سوای کولای. موږ د خسکو له وژلو پرتـه بل کار نــهٔ درلود. د کوټې ديوالونه د خسکو په وينو سرهٔ سوي ول. تر دې چې تا به ويل ديوال سور رنګ سوی دی.

يوه شپه، نيمه شپه وه چې دوه تنه ئـې زموږ کوټې ته راوستل. له ځيرو سترو ستومانه او حواس ئـې پريښانه او ګډ وډ ول. د زندانې دباندې ايستل هغه هم د شپې په نيمايي کې خالي له ډار او اضطرابه نــهٔ وي. دغو دوه وو تنو پاکې جامې په ځانو کې درلودې او سر او وضع ئـې سمبال ول. ما نو له عادي سلام عليکې پرتـه بل څه نـهٔ سوای کولای. له يو بل سره ئـې قصې کولې او ښه په خپلو منځو کې تاوده ول. ما هم دوی ته د نيږدې ورتللو يا کيدلو کومه ليوالتيا نــهٔ درلودله. د مخکښ او کلاسيک شاعر شهيد بلخي دغه بيتونه مې پر چپرکټ په پنسل ليکلي ول :

اگر غم را چُو آتش دُود بوُدی    جهان تاریک بودی جاودانه
درین گیتی سراسر گر بگردی    خردمـندی نـیابـی شادمــانه

[که غم د اور په شان لوگی درلود، نو ټوله نړی به د تل لپاره تورتم وای – که له سره تر پایه ددې جهان وگرځي نو هیڅ هوښیار به خوشحاله ونـهٔ مومي.]

ددوی له منځه د یوهٔ سترگي ئـي په لیکني ولگـېدلي او په چوپه خولــهٔ ئـي ولوستله. راځخه ئــي پوښتنه وکړه : «دا چا لیکلي دي؟» ورته مي کړل : «ما لیکلي دي.» وئـي ویل : «ښــهٔ دی چي ځواب دې هم ورته لیکلی دی.» دغه لنډې خبرې اترې د نورو خبرو اترو لپاره یوه کړکی سوه. ددوی، یو ئـي له ننگرهاره او بل ئـي د کابل له بي بي مهرو څخه ول، راته ئـي ویل چي د گلبدین په حزب اسلامي پورې تړلي دي. دوی دواړه د مالیي چارو په وزارت کي مدیران ول. ددوی له چلنده ښکارېدل چي د تربیت خاوندان دي، په ځانگړې توگه ننگرهاری مدیر ډېر مؤدب، له معاشرت او وقاره ډک انسان ښکارېدهٔ.

***

له هغي شیبي چي د څرخي پلـهٔ د زندان د دویم بلاک د اطلاعاتو د شعبي آمر بي موجبه پلمه جوړه کړه او په خښم ئـي زما د کوټه قلفي کیدلو فرمان ورکړی وو، اووهٔ میاشتي او یولس ورځي تیرې سوې وې.

د آدمیزاد عمر چنداني ډېر اوږد نــهٔ دی چي د کوټه قلفیو په سرهٔ تنارهٔ کي دې اووهٔ میاشتي او یولس ورځي په هماغسي حالت کي تیرې کړي. په دې مودې کي دومره ستړی او رنځور سوی وم چي تا به ویل کلونه کلونه مي د ناروغی په بستر کي په خوار او زار حالت کي تیر کړي وي. د کوټو سخت او طاقت سوځوونکي شرایط، بي پایوازي، بي پیسي توب، یو شانتي غیر صحي خواړهٔ «قروانه»، «د هرې شیبي اعدام» د مرگ ویره، له آزادې هوا او لمر څخه محرومیت، له جاسوسانو سره په یوې کوټې کي اوسیدل، له رخي سخي او کیني ډک کسان، توطـئـه گر کسان چي له لغازو او طعنو، سپکو سپورو، کنترو او کنایو او زما پر سیاسي مشرانو له لفظي تیرې پرته بل کوم کار ئـي نــهٔ درلود. دغو ټولو زما روح او جسم دواړه د شنیدلو تر بریده رسولی وو. زه له یوهٔ یو اړخیز رواني جنگ سره مخامخ وم چي ان د ځان ددفاع حق مي نــهٔ درلود.په حقیقت کي زما نړی یوې خواته سوې وه. ښکنځل مي اورېدل چوپ به سوم، سپکیدلم به- زغمل مي، د نورو خلکو خبرې به مي اورېدلې خو ما د ویلو حق نــهٔ درلود، د جفا د کاڼو باران راباندې وَریـدهٔ خو ما ان یوه آه نـهٔ سوای ایستلای... د نعیم دا خبره به مي په ځلونو ځلونو سترگو ودرېدله چي ویلي ئـي ول : «که اختیار مي په لاس کي وای چي د زندان او مرگ تر منځ یو ئـي غوره کړم نو زه به مرگ غوره کړم.» نور پوه سوی وم چي ولې نعیم مرگ تر زندانه غوره گڼــهٔ. داسي مي احساس کاوهٔ چي اوږې مي نور ددوني درانده پیټي د وړلو توان نــهٔ لري. ځان مي دداسي تکي تنها مسافر په شان احساساوهٔ چي په سوځنده دښتي کي ستړی ستومانه او د خپل ژوند- ژواک وروستۍ سلگۍ وباسي. ما یو ځل نـهٔ بلکه سل ځله مي د مرگ لپاره ددې معرکي د خلاصونوال او دریمگړي په توگه هیله کړی دی. د کورنۍ غړي مي په دغو اوو میاشتو او یولس ورځو کي د صدارت او د څرخي پلـهٔ د زندانونو د تړلو دروازو تر شا په هردم شهیدۍ ناست ول که

وکولای سي له  خپل ورک سوي څخه کومه نښه ترلاسه کړي... او هر کله ئـي چي د پلورل شوي زندانبان له خولې د «دلته نشته» وحشتناکه کلمه اورېدلي نو په زهرو لړلی خنجر ددوی په زړونو ننوتلی دی.

خوشم ز سنگِ حوادث که استخوانِ مرا          چنان شکست که فارغ ز مومیایی کرد

# د کالیو انبار ته ئـې اور واچاوهٔ

د ۱۳۶۳ل کال د ژمي یوه ورځ له ځانښت مخکي مهال وو. زه ددویم بلاک ددریم پوړ په یوې عمومي کوټه کې وم. د خاد افسر کوټې ته راغی او هغه کسان ئـي چي د چپرکټونو په پاسني پوړ کې ول راکښته کړل. د کوټې باشي ته ئـي دستور ورکړ چي هیڅ چا ته دې د چپرکټ په پاسني پوړ کې د ناستې اجازه ورنـهٔ کړي. دا لومړی ځل وو چي داسي یو دستور ورکول کېدهٔ. زندانیان پوهېدل چي کومه مهمه خبره پېښه سوې ده. زما تلوسناک ذهن او تجربې حکم کاوهٔ چي که هر څه پېښېږي نو باید له بلاکه دباندې وي. د پولادي میلونو له شا مي دباندې وکتل. په انګړ کې څوک نـهٔ لیدل کـېدل ځکه زندانیان ئـي له دباندې تګه محروم کړي ول. د بلاک شاو خوا ته مي په ځیر وکتل. هلته لیرې مي پام سو چي د دویم بلاک د دیوال هاغه بله غاړه له یوهٔ ګوټ څخه چي د دوه وو دیوالونو تر منځ واټن کې (هماغه ځای چي هلته ئـي د سونا حمام جوړ کړی وو او د روس او خاد افسرانو هلته حمام کاوهٔ)، سرتیري له لومړي بلاک څخه بېلابېل اجناس او اثاثیه راوړي او هلته ئـي اچوي. زموږ د کوټې موقعیت په دې ډول وو چي هغه سیمه مو سمه لیدای سوای. هغه مهال چي زه په لومړي بلاک کې وم د یو شمیر زندانیانو له خولې مي تبصرې اورېدلي وې چي د لومړي بلاک تر آهن پوښونو لاندې یو شمیر لوازم او اثاثیه لکه کالي، عسکري دریشی، بوټونه، کتابونه، بیکونه، او پریمانه بسترې انبار سوي دي. ددغو زندانیانو باور دا وو چي دا د هغو زندانیانو مال او اسباب دي چي د خلق د ډیموکراتیک ګوند د واکمنی د بیلابیلو پړاونو په لړ کې د واکمنو په ناپاکو لاسونو اعدام سوي ول. یو شمیر زندانیان لا مدعي ول چي د شپې له پلوه له هماغه ځایه عجیب و غریب غږونه اورېدل کیږي او ځانګړې روښنایي ئـي لیدلي دي.

له دې مخکې یوه ورځ د عبدالوهاب په نامـهٔ یو زنداني راته راغی او وئـي ویل : «ناروغه یم.» ورته مي وویل څه ناروغي لرې، وئـي ویل : «تبه لرم، خوب نـهٔ لرم.» عبدالوهاب یو بې وزلې خوار ځوان وو چي په لومړي بلاک کې ئـي جارو کشي کوله. له ما سره د تبې ضد یوه ګولی وه هغه مي ورکړه. په سبا ئـي بیا راغی او له خپلې ناآرامی ئـي شکایت وکړ. داسي ښکارېدل چي کوم دروند پېټی ئـي پر ګوګل باندې پروت دی او غواړي چا ته ئـي ووایي. جاروکش د کوټو، تشنابونو، دالانونو د پاکولو تر څنګ، د خاد د صاحب منصبانو دفترونه هم پاکول. کله کله د بلاک د قوماندانی او د اسختباراتو د ادارې له پلوه شاقه کارونو ته هم بیول کـېدهٔ. زندانیانو ګومان کاوهٔ چي دا سړی د کوټو راپورونه د زندان مقاماتو ته وړي، له دې کبله زندانیانوورباندې اعتماد نـهٔ کاوهٔ. جارو کش عبدالوهاب خپله قصه راته داسي وکړه :

«قوماندانی د کار کولو لپاره وغوښتلم. راته ئــي وویل چي جامي ګودام ته یوسه. د لومړي بلاک ټول بندیان ئـي په کوټو کې واچول او دروازې ئـي قفل کړلې. له لاندني پوړ څخه مو د زندانیانو بکسونه او بَیکونه واخیستل او د لرګینو پوړیو له لارې

پورته لاړو. هلته مې داسې شيان وليدل چې خداى دې نـهٔ کافر ته ورښيي او نـهٔ مسلمان ته. په سلهاوو بيکونه، دريشۍ، کتابونه او عکسونه او جامې او پانې خرې خرې پراته وتل. تر څو چې زه ژوند يم دا صحنه به له ياده ونـهٔ باسم. ټول شيان ئـې سر پر سر کواړۍ او کوټ کړي ول. ډيري پوپنکو وهلې ول او د جولا په تارونو ډک ول. ورڅخه د وينو بوی راتـهٔ. سږی ئـې له ليدلو ډارېـدهٔ. تا به فکر کاوهٔ چې په زرهاوو شهيدان هلته ناست دي او ټول د انسان پر مخ خاندي. دا ټول د هغو زندانيانو کالي ول چې اعدام شوي ول. کله چې زما کار خلاص سو، صاحب منصب راته وويل : «پام کوه چې څه شی چې دلته وليدل حق نـهٔ لرې بل چا ته ووايې.».....

کله مې چې د لوازمو او اسبابو د راوړلو صحنه وليدله د جاروکش وهاب وحشتناکه داستان مې په ذهن کې راويښ سو. ما ته قضيه روښانه وه. د هغو شهيدانو د پنډوکيو او اسبابو انبار ليرډول کـېـدهٔ چې خلقي – پرچمي انسان وژونکو د تل لپاره د ژوندانـهٔ له نعمته بې برخې کړي ول. د کوټې د باشې په ګډون اکثريتو زندانيانو د وړوکو کړکيو له شا دا صحنه ليدله. د «جرمي مدارکو» د ليرد لړۍ پای ته ورسيدله. پر «انبار» ئـې پترول وشيندل او اور ئـې ور واچاوهٔ چې د جنايت د قربانيانو هيڅ نښه نوره پاتې نـهٔ سي. شنه لوخړه هوا ته پورته سوه، داسې لوخړه چې تا به ګومان کاوهٔ چې دا د انسان غوښې او هډونه دي چې په دې اور کې سوځي. ستر ناورين روان وو. اور په ساعتونو غرغړاندې وهلې او تودوالی ئـې زموږ تر داغدارو سينو رارسيد. زړهٔ ګی مې داسې درَزيدهٔ ته به وايې چې ټوله نړۍ ورسره درَزيږي. د هغو سلهاوو مبارزو په ياد ولويدم چې د خلق د ډيموکراتيک ګوند جلاد خونړي ساطور ورڅخه سرونه پريک کړي ول. د زندانيانو د «وړلو» هغه ترخې شيبې مې راپه ياد سوې چې په معنی داره لحن به ئـې اعدامي ته ويل : «کالي دې ټول کړه!». احساس مې کاوهٔ چې زموږ د شهيدانو اجسادو ته ئـې بيا اور اچولی دی. دا ډول اور اچونه کلاملاً بل ډول وه.

# ما ايوبي صبر درلود

د لوټمارو او غلو روسانو او د هغوی د وطني ګوډاګيانو پر وړاندې زمو د پرګنو له غروره ډک مقاومت ورځ تر بلې لا پراخ اړخونه اخيستل. د ښکيلاک نيرنګونو او په رسواييی کې رسوا ترينو ادا ګانو نور کوم خريدار نــهٔ درلود. نړیَ خوړونکو کرملين والو او ددوی ګوډاګيو مرييو - چوپړيانو بيا هم په ليونتوب په هوا کې ډزې کولې. د «برژينف د مرييي» له ستوني «د تشديد مبارزه بر ضد اشرار» فرمان اعلام سو. بادار او مرييی دواړه په دې باطل فکر کې ولويدل چې د ولس د جګړې پر مورچلونو او د مخالفانو د خونړي سرکوب لپاره د ناپالم، نورو بمبونو او د اور د اندازې زياتوالی ښايي وکولای سي د افغانستان د ملت استقلال غوښتونکی پاڅون به تس نس او دړې وړې کړي. له همدې کبله د رژيم استخباراتي او پوځي دستګاوې لا پسې مغروره او ليونې سوې. په يوې وړوکې تيروتنې به ئــې په حق او ناحقه ددې ټاټوبي بچيان په ځنځيرونو وتړل او زندان ته به ئــې واچول او د يو شمير برخليک به ان تر پوليګونه ورسيد. په همدې لړ کې د څرخي پلـهٔ زندان زموږ. دېرو او ګڼ شمير هــېــوادوالو «کوربه» سو. زموږ کوټه (دويم بلاک دريم پوړ ۲۴۵ شميره کوټه) د نورو کوټو په شان د ارهټ د سلواغې په شان ډکه او تشــېدله. د مالوماتو له مخې د څرخي پلـهٔ د زندان په قفسونو کې څه دباندې دېرشو زرو بنديانو ساه ايستله او ساه ئــې ورکوله.

هغه څه چې د خاد په څوګونو رياستونو، د تحقيق د چارو په رياست، د څرخي پلـهٔ په زندان او د ولايتونو په زندانونو کې ددې هــېـواد پر بچيانو تير سوي دي له دردمند قياسه پورته خبره ده. په خواشينی بايد ووايم چې ددغو جناياتو پر انبارونو باندې د سکوت، درواغو او د اسنادو د تباه کولو دومره پريړه پرده غوړول سوې ده چې پريږوالی ئــې په خپله تر جنايت لا پرېږ دی. زه په خپلو دغو قصو چې زما د سترګو ليدلی حال دی او په خپل ځان مې احساس کړي دي يوازې ددې پردې پر يوهٔ وړوکي ګوښي ګوټ لاس راکاږم او دوړې او خاورې ئــې ليرې کوم.

په همداسې وحشت او لاس او ګريوان کيدلو سره سره هغه شيبه مې په ياد راځي چې زموږ د کوټې دروازه خلاصه سوه. څو تنه «ميلمانــهٔ» ئــې راوستل او ما ئــې په منځ کې ناصر «سلطان» وليد. سلطان مخامخ راته راغی او په څرګندې مينې ئــې غيږ راکړه. ددهٔ له دغــهٔ حرکته مې تعجب وکړ ځکه له دې مخکې کله چې په لومړي، دوييم او دريیم بلاک کې سره يو ځای وو، د احتياط د رعايت په پار مو د نورو په محضر کې له يو بل سره خبرې نــهٔ کولې. سلطان مې له پخوا وختونو پــېـژاندهٔ.

دوه زړور ورونه ئــې د ساما سربښندونکي غړي ول. پلار ئــې د روسانو په لاس ووژل سو او ورونه ئــې عطا مـحمد او خير مـحمد دواړه زما ګران ياران ول چې خپل مجنون سرونه ئــې د افغانستان د آزادی، عزت او پرمختګ په لاره کې له لاسه ورکړل. د خيرجان او عطا جان د سياسي او انقلابي شخصيتونو پــېـژندنه ددې ليکنې له حوصلې وتلې خبره ده. د مقاومت او مبارزې ددغو بچيانو ياد دې تل ژوندی وي! د سلطان په چلند کې بدلون هک پک کړم. له هغه څخه مې هيله

وکړه چې : «د برخلیک تر ټاکل کېدلو پورې دې احتیاط له لاسه مــهٔ ورکوه.» ناصر په قاطعیت وویل : «زه نور له داسې محافظه کارۍ څخه تر دوه وو سوړمو رسیدلی یم. له بلې خوا روښانه نـهٔ ده چې زما عاقبت به څه وي. فکر کوم چې دوی خپل دښمنان ښــهٔ پیژندلي دي او زموږ پر وړاندې همامغه یوه لاره لري بس، او دا لاره زموږ ټولو له منځه وړل او پوپنا کول دي.»

زما د زنداني یارانو وړاندیز هم همداسې وو چې له هغوی سره د ډیرو اړیکو له ساتلو ځان لیرې وساتم. خو ما په ځواب کې ویل : «که دغو کارونو کومه ګټه ونــهٔ کړه بیا نو کومې خاورې په سر باد کړم؟ هغه وخت هم ستاسو له لیدلو پاتې کیږم او هم له ژونده. له دې کبله ستاسو د دیدن ډالی له هغـهٔ نا ویلي ناليدلي پور څخه ښه ده چې د غرغڅې پر ښاخ باندې تړل سوی وي.»

د تازه راوړل شویو زندانیانو په منځ کې استاد ډاکټر محمد یونس اکبري هم وو. استاد اکبري زموږ د هېـواد پیژندل سوی علمي څیره او لوی عالم وو چې د هستوي فزیک په څانګه کې ئـې دکتورا اخیستې وه. نوموړی ئـې د سازمان رهایي افغانستان په اړه زندان ته اچولی وو. کله مې چې استاد ولید ناروغه او ستړی ښکاریدهٔ. په څرګنده ښکارېدل چې د تحقیق د مهال د فشار په لړ کې ئـې غوښې ډېرې ټکېدلي وې. دی به یوازې یوهٔ ګوښې ګوټ کې کښېناستـهٔ او چا ورسره اړیکه نــهٔ نیوله. لیدلو ته ئـې ورغلم او ځان مې ورویپـژاندهٔ. هغـهٔ د ځینو دلایلو له کبله له ډیرو خبرو کولو بخښنه وغوښته. ورته مې وویل چې هر ډول چې ستاسو زړهٔ وي. له دې سره سره استاد اکبري د خپل نیول کېدلو په هکله خبرې وکړې او په لنډ ډول ئـې د خپل زړهٔ یو شمیر خبرې وکړې او د زړهٔ خوالـهٔ ئـې راسره وکړل. کله چې ما ورتـه د رهایي د سازمان د دوه وو تنو مهمو غړو د حبس د ټاکل کیدلو په هکله خبر ورکړ ډېر خوښ سو او وئـې ویل : «اوس چې دوی نـهٔ دي اعدام سوي او له اعدامه بچ سوي دي نو که زه اوس وهم وژل سم کوم باک نــهٔ لري.»

یوه ورځ د دالان وضع عادي نــهٔ وه او د زندان د ژوند عادي شرایط سکته سوي ول. دالان ته د سرتیرو او افسرانو تګ راتګ په خپله د کومې بدشګونې پیښې د پیښیدا بد مرغه خبر وو. کله چې د نومونو لوستنګ پیل سو، د محمد یونس اکبري نوم ئـې هم ولوست. دی خوشحاله وو چې حبس ئـې ټاکل سوی دی. د خدای په امانی پر مهال ئـې وویل : «هیله مند یم چې ته هم ډېر ژر موږ ته را سې.» هغـهٔ ګومان نــهٔ کاوهٔ چې کار به ئـې اعدام ته ورسیږي. په یو شمیر خبرو ئـې زړهٔ تړلی وو چې د روس او د هغوی د ګوډاګیانو له پالیسیو سره په افغانستان کې سره جوړ نــهٔ راتلل لکه له زندانه ددهٔ د خوشې کیدلو په هکله ددهٔ د شاګردانو غوښتني، یا ددهٔ د بخښني په هکله د نړۍ د فزیکدانانو د ټولني رسمي غوښتنه. په دغې لنډې مودې کې چې له استاد اکبري سره وم دی مې مهذب، آرامه، خاکساره او ګوښې ګوټ خوښوونکی وموند. د کابل پوهنتون استاد محمد یونس اکبري ئـې له کوټې وایست او پولیګون ته ئـې بوت. د هېـواد ددغـهٔ عالم او مبارز روح دې تل ښاده وي!

د «راوړل» «راوړلو» د لړۍ په ترڅ کې ئـې څو تنه ځوانان زموږ کوټه ته راننه ایستل. د کوټې باشي د هر یوهٔ ځای وټاکـهٔ. تر دې دمه لا «میلمانـهٔ» پر خپلو ځایونو ناست نــهٔ ول چې زندانیان ورپورې راټول سول. هر څوک په دې لټه کې وو چې خپلې پوښتني ته ځواب ومومي. دغو خوارو زندانیانو چې ددښمن په لس هاوو د توطئـې او نیرنګ لومې ئـې لیدلي

وې او ان تر دې چې دېرېو ئـې د صدارت د کوټه قلفیو د جاسوسانو نیښونه لیدلي ول او ټپي ول نور ئـې په آسانی خولـهٔ نـهٔ خلاصوله. د بیلګي په توګه چې که پوښتلي دې وای چې : «دباندې څه خبرې وې؟» لنډ په لنډه به ئـې ځواب درکړ چې :« ګرانه وروره ! خیر او خیریت وو.»

هماغسې چې سابقه لرونکو زندانیانو د تازه راغلو زندانیانو پـېـژندګلوئ ته لیوالتیا لرله، نوې «میلمانـهٔ» هم په کنجکاوئ او پوښتنو ګړوپړنو د سابقه زندانیانو د هویت او ځانګړتیاوو په لټه کې ول. زما پام د نویو راغلیو زندانیانو په منځ کې یوهٔ ځوان ته واوښت چې خوشحاله او ښایسته څیره او دنګه ونه ئـې درلوده او په ډېرې لیوالتیا ئـې موږ ته سترګې نیولي وې. ناصر ټینګار کاوهٔ چې دا ځوان ئـې کوم ځل دباندې لیدلی دی. په ډېر لنډ وخت کې دغـهٔ ځوان نور طاقت ونـهٔ کړ او زموږ خوا ته راغی، موږ ته ئـې لاس راکړ او د کښـېـناستلو اجازه ئـې وغوښتله. خپل ځان ئـې داسې راوپـېـژاندهٔ : «ستاسو زلمی یا ګلاب». دا انجنیر زلمی وو چې ما په غیاب کې د ګلاب په نامـهٔ پـېـژاندهٔ او د ساما یو ګران غړی وو، خو د ژوندون لوبې ته ګوره چې په داسې ځای کې ئـې له یو بل سره مخامخ کړي وو! که څه هم د زندان په چاپیریال کې کومه خوښي له اره نـهٔ سته، خو لاس تړلی انسان هم کله ناکله کولی سي له خوښیو څخه یو ډول نسبي خوند واخلي. ولو دا چې د زندان په قفس کې هم وي – موږ ته د ګران او له شـفـقـتـه ډک ملګري د یوې شیبې دیدن د ډیلي د اورنګزیب د تخت تر څنګ تر ډېرې وهلو خوږ وو.

موږ درې تنه په یوهٔ ځنځیر تړلي همفکره او همرزمه د یو بل تر څنګ ناست وو او د خلکو خبره چې دَم مو غنمیت شمارهٔ. د یو شمیر اړینو مسایلو او قضایاو په هکله مو خپل نظرات تبادله کول او کله نا کله به مو د تفنن او سرګرمی له مخې یو غزل یا بیت لیکـهٔ. هغه لږ شمیر پیسې چې کورنیو رالیږلي هغه به مو یو ځای خرڅولې. په منظم ډول مو سپورت کاوهٔ تر دې چې زموږ سپورت نورو ته سرمشق ګرځیدلی وو.



اروا ښاد انجنیر زلمی



اروا ښاد سلطان

ګلاب قصه کوله چې څنګه د ساما مشرتابـهٔ ورته د سازمان حوزو ته د یو شمیر لاسوندونو د لیږدولو وړاندیز وکړ او دهٔ په څومره سرښندنې دا له خطره ډک مأموریت په داوطلبانه ډول تر سره کړ.

کله نا کله به ئـي ويل چي :«دښمن ما وژني.» کله به چي ما دا جمله ددهٔ له خولي واورېدله فکر به مي کاوهٔ چي په زهرو لړی خنجر مي په ځيگر ننوځي. ددهٔ ځوانی ته مي کتل، ددهٔ سترگو ته مي کتل چي د ميني او محبت څپو په کي غړاندې وهلي. ددهٔ ادب او اخلاق به مي د انصاف او سنجوني په تله کي کښـېښودل، ددهٔ هېـوادپالنه، سادگي او د ايمان ځلا ئـي، ددهٔ مظلوميت، ددهٔ سواد او پوهي.... ته به مي کتل او ما ورته يوازې يو ځواب درلود : «مينان هيڅکله له مرگه نــهٔ ډارېږي.» گلاب به کړس وخندل، لاس به ئـي غاړې ته راواچاوهٔ، مخ به ئـي راته ښکل کړ او بيا به ئـي وويل : «انډيواله! زما مرگ درې عيبه لري : لومړی دا چي زړهٔ مي پر تاسو سوځي ځکه چي يوازې پاتي کـېږئ او په مرگ مي غمجن کـېږئ. دويم دا چي ستاسو له ديدن او خبرو بې برخي کېږم. دريم دا چي بيا به د پرگنو ددښمنانو پر وړاندې د مبارزې چانس ونـهٔ لرم.» يوه ورځ ئــي راته وويل : « يوه خبره درته وکړم نــهٔ خفه کــېږې؟» ورته مي وويل : «له همغو خبرو پرته، بل هر څه چي وايې ووايه.» وئـي ويل : «داسي د شعر يو بيت را ته غوره کړه چي زما له حال سره مناسب وي.» ددهٔ امر مي پر ځای کړ. زندانيانو به وړوکي ډبرې سولولي، کټ مټ لکه خپله زندان چي کانو او پولادو ئـي ددوی روح په بيرحمی سولوله. ددغو ښويو شويو ډبرو پر مخونو به دوی د ستني پر څوکي د «مور»، «الله» کلمات او يا د خپلو بچيانو نومونه کيندل. همدا شان د مخ د هيندارې تر شا به ئـي د کوم شعر يو بيت د ستني په څوکي وکيندهٔ. زلمي د خپلي د مخ د هيندارې تر شا د خپلو زامنو عکسونه ايښي ول. موږ وحيد ته ورغلو، وحيد مو د معلم وحيد په نامـهٔ پـېژاندهٔ چي د کابل د پغمان له ولسوالی څخه وو او د گران شهيد وحيد خاطره به مي تر ابده د زړهٔ پر لوحي پاتي وي. وحيد د خطاطی او رسامی په هنر کي لوړ لاس او مهارت درلود. د جيوه لرونکي هيندارې د پاڼي پر مخ به ئـي د شهادت کلمه او يا هم ځيني شعري ابيات خطاطي کول او جيوه به ئـي د ستني په څوکي پاکوله.

استاد وحيد د گلاب د هيندارې په يوهٔ گوټ کي زما د سپارښتني پر بنسټ – د حافظ د شعر دا بيت وليکــهٔ :

گرچو فرهادم به تلخی جان برآيد حيف نيست

بس حکايت های شيرين باز می ماند زِ مــــن

د انجنير زلمي «گلاب» مينه تر دې کچي وه چي زما سر به ئـي پر خپل زنگانـهٔ کښـېښود د ميني لاس به ئـي زما پر سر او مخ کش کړ. يوه ورځ ئـي په ډېرې ناکراری غږ کړ چي : «آه انډيواله! ستا په غوړه چيني «شقيقي» کي مي سپين ويښته وليدهٔ.» او بيا ئـي وويل : «پروا نــهٔ لري، دا ويښتـهٔ دي په نامردی نــهٔ دی سپين کړی.»

انجنير زلمی ئـي قوماندانی ته وغوښت. کله چي بيرته راوگرځـېد وئـي ويل : «فورمه مي ډکه کړه.» پوهـېدم چي دا ډکه کړې فورمه، يوه ځانگړې فورمه ده چي په اعدام محکومو زندانيانو باندې ئـي ډکوله او پوهـېدم چي له گلاب سره وروستی ورځي تيروم. کورنی ئـي ورته يوه ډبرينه پياله راوړې وه. دا پياله ئـي راته د يادگار په توگه راکړه. هماغه هينداره او د زامنو عکسونه ئـي هم راته راکړل چي د امکان په صورت کي ئـي کورته وليږم. په سرهٔ رنگ د تسبيحو يوه کړئ ئـي هم راته ونيوله خو يو ناڅاپه پښيمانه سو او وئـي ويل : «نه، دا تسبيح زما د يوهٔ گران ملگري د لاس نښه ده، نه غواړم چي دا تسبيح مي د مرگ تر شيبي پورې له لاسه ليرې اوسي.»

د مرگ قاصد د مرگ لیست په لاس کوټې ته راغی. د نومونو په منځ کې زما ددغـهٔ یوازینې گران یار نوم ئـې هم ولوست. کله ئـې چې له کوټې دباندې ایستـهٔ راته مخامخ ودرېد او په همغو خوږو الفاظو ئـې وویل : «اندېوال جانه! وروستی دیدن دی، د وروستي ځل لپاره راته ښـهٔ وگوره». خوږه موسکا چې یوازې د دهٔ پر شونډو ښکلې ښکارېدله وغوړېدله او بیا ئـې وویل : «گوره که نـهٔ، دا دی نـهٔ یم ډار سوی، همداسې نـهٔ ده؟» زما له مخه لا دوه دقیقې نـهٔ وو لیرې سوی چې بیا کوټې ته راغی. ددروازې تر څنگ د خاد صاحب منصبت ورته انتظار ایست. په بیړه ئـې تسبیح په لاس راکړې او نور ئـې هیڅ ونـهٔ ویل. بې اختیاره مې ورپسې منډه کړه. دروازه ئـې قفل کړې وه او د پولادې میلونو له منځه بې وزرونو او ټپې مارغهٔ د تیریدلو اجازه نـهٔ درلوده. دا زما څوم ځل وو چې پر خپلې بیچارگۍ مې اوښکې توی کړې....

گلاب دداسې سفر پر لارې گام کښېښود چې د بیرته راتگ تصور ئـې ناشونی وو. هماغسې چې دهٔ په خپله ویل، د حضور تشې ئـې زما غمځپلی زړگی یو ځل بیا د سرو وینو په ډنډ کې ډوب کړ. ددهٔ د مرگ داغ به زما په زړهٔ کې، سپیڅلې مینه به ئـې زما په روح کې او د «آشنایيې ښکلی وږم» به ئـې د ژوندانـهٔ له لوټ شوي بڼ څخه د «تازه گلابو د عطرو» په شان تر گوره پورې راسره وي.

اروابښاد ایوب نیزک د سامایي بې مرگو شهیدانو ددرنښت په ویاړ شعر ویلی او د «یادوارهٔ خون» تر سرلیک لاندې شعر کې ئـې د شهید گلاب او اروابښاد ناصر درنښت په لاندې ډول کړی دی :

به نـامِ واژهٔ پـــویـــش بـــخوان تـرانـــه بـــخوان
ســـرودِ سـرخِ شـــهـیـدانِ جـاودانـه بـــخـــوان
بـــه هـــر کجا کـــه بـــه خـون خفتگانِ میهـــن را
ز شـــورِ عشـــقِ وطـن هـســت آشیانـــه بخـــوان
بخوان چکامـــهٔ «عـشق و نـبردِ » «رسـتاخـــیز»
ز عـــرشِ خـــطـــهٔ تـاریخ تـــا فـســـانه بـخـــوان
بـه آنـــکه بـهـــرِ رهـــایی بـنـــای رزم نـــهـــاد
ز اوج هـــمت و با عـــزمِ رستـــمانه بـــــــخـوان
بـه پـــای «لالـــهٔ خونیـــن » به لالـه زارِ چـمـن
کـنـــارِ خـونِ «عـزیـزان» کــه شد روانه بخوان
شراب «جرئت» و «میرویس» در شمیمِ «گلاب»
«شـــریـــف» گـونه بیـــاشام و «پرُدلانه » بخوان
ز نـــــورِ بـــــزم فـــروزنـــدگـــانِ « آذر » دل
بـــرای «ســـرمد» و «پـــویای » این زمانه بخوان
ز خـــونِ عـــهـــد وضو کن به مـــعبـدِ گـــلخـون
نـــمـــازِ قـبلـــهٔ «قـدوس » مـــخلصـانه بـــخوان

چــو ره فـــروز شـــد از پرتـــوِ حــماســهٔ او
نویــدِ فــتــح «اســـد» را دلاورانـــه بـخوان
به مـــوج خـــون چو شنا کرد قـــهرمان «ماما»
پیـــــامِ ســـرخِ نبـــردش بـــه هر ترانه بخوان
به او کـــه داد صـــمیـــمانه نـــقش «بهرنگی»
به تیـــره روزی دوران مـــدبـــرانه بـــخوان
به زیرِ چکمهٔ خــصمت به بانــگِ صبح «ظفر»
«خروش» «واجد» و «طغیان» «آصفانه»بخوان
به یـــاد وار «حـــکیم» و «محمد» و «داود»
به رهسپاری «مــختار» «ســرورانه» بخوان
فســـانه ها ز «حبیب» و «کـــریم» پـــایا شد
ازین فســـانه به هــرصبح و هـــرشبانه بخوان
به زنــــــدگانی «جاوید» جان «عطا» سازیم
ســــرودِ هستی ما تا بـــه بیـــــــکرانه بخوان
«حـــفیـــظ» سنگر رزمت چو «پهلوان» بـاشد
به «کامـــرانی» خـــود شاد و فاتحـــانه بخوان
کنون کـــه تازه «گلابی» به خـــون شناور شد
ز قـــطره قطرهٔ خون عشق «ناصرانه» بخوان
ســـرودِ رزمِ شـــهیـــدانِ پـــاکِ «سامایی»
ز جـــــان و دل بـــسرای و سخنورانه بـخوان
ز «خونِ لاله» به گـــلزار شـــور و هلهله کن
به شـــوقِ رویش فـــردای هـــر جوانه بخوان
بـــه آنکه «زنـــدگی دیگرست اعـــــدامش»
بـــنام نـــامی فـــــرمـــانده زمانه بـــخوان
بـــه او که بـــود بـــهیـــن ناخـدای کشتی ما
به ســـوی ساحـــلِ آزاد مـــــاهرانه بخوان
بـــه او کـــه روحِ ســـتبرش به پایمردی ها
فـــرازِ قلـــهٔ بابا گـــرفــت لانــه بخوان
به او که نـــیست کنون بهـــرِ رهـــنمونی ما
ز عمـــق درد چنـــینی تو غـــمگنانه بخوان
ازین کـــرانـــهٔ خـــون تا فــرازِ دوران ها

د کوټې باشي مو قسيم نومېدهٔ. قسيم يو هَدِوَر، لومړين صفته او پوچ اندی «هرزه» سړی وو. ويل ئـې چې د کوهدامن په ګلدرې کې زېږېدلی دی. زندانيانو به ويل چې نوموړی د خاد د پينځم رياست له رئـيس کريم بها سره خپلوي يا آشنايي لري. له دې چې ملا ئـې ښه توده غيږ وه نو ددهٔ کوټه د لوطيانو او جاسوسانو قرارګاه ګرځـېدلې وه. دوه درې تنو د واړهٔ عمر هلکانو به شپه او ورځ ددهٔ په کوټې کې ډېره اچولې وه. زندانيان ددې حالت له ليدلو څخه سخت خبنمـېدلي ول او هيڅ شی ئـې له لاسه پوره نــهٔ ول.

زموږ تر څنګ د کابل له شيوه کيو څخه دوه تنه ورونه ول. مشر ورور ئـې جمعه ګل نومــېـدهٔ. نوموړی يو ښايسته او په هېوونو غښتلی ځوان وو. جمعه ګل ادعا کوله چې دی ئـې ددهٔ د وادهٔ په شپې نيولی دی. زندان ته د خپل نيول کيدلو او اچول کيدلو قصه به ئـې په سوز شرحه کوله. دهٔ به ويل : «زما پر لاس ئـې نوي نکروزي ايښي ول چې يو ناڅاپه د وادهٔ محفل مو کلابند سو. زما لاسونه ئـې زما شا ته وتړل او زندان ته ئـې واچولم. د تحقيق په بهير کې ئـې وغولولم.» نوموړي د خپل عمر د خامئ له کبله نا حقه پر خپل ځان تورونه لګولي ول. «محکمې په اعدام محکوم کړی يم. ډارېږم چې په ټوکو ټوکو کې اعدام نــهٔ سم.»

په خواشينئ چې دهٔ باندې تر سره سوې ټوکه رښتيا سوه او جمعه ګل هماغه نامراده «شاه» ئـې اعدام کړ. روح دې ښاده وي!

له موږ سره د کندهار د ارغنداب د ولسوالئ سيد اسحق مشهور په لالا ملنګ هم زنداني وو. نوموړی د کندهار له نامتو قوماندانانو څخه وو. تر هغـهٔ ځای چې د زندان په شناخت پورې اړه نيسي نوموړی يو بې تعصبه، شوخ طبع، قاطع او تيز هوښه انسان وو. له دې چې د قرآن کريم تلاوت ئـې په ښکلي غږ کاوهٔ نو زندانيانو به ورته د «قاري صاحب» خطاب کاوهٔ او زندانيانو به پينځه وخته لمونځ ورپسې کاوهٔ. دهٔ په خپله راته وويل چې د عالي دارالمعلمنيو فارغ دی. له ما، سلطان او زلمي سره ئـې دوستانه اړيکي لرل. کله نا کله به زموږ څنګ ته راغی او د بيلابيلو مسايلو په باب به ئـې خبرې کولې. د جهاد د دوران په زړهٔ پورې داستانونه به ئـې ويل. که څه هم د کوټې باشي ورته زښت ډېر اخطارونه ورکړل چې له موږ سره ناسته ولاړه ونــهٔ کړي خو دهٔ د باشي ټولې خبرې بابيزه وګڼلې او له موږ سره اړيکه پريک نــهٔ کړه. څو وخته وروسته بلې کوټې ته وليږدول سوم او سيد اسحق هم راسره وو. يوه ورځ ئـې د دويم بلاک قوماندانی ته بوت. له بيرته راتګ وروسته ئـې راته وويل : «ما له کوم روسي اسير سره تبادله کوي.» په رښتيا هم چې دی ئـې تبادله کړ او آزاد سو. نوموړی له زندانه له خوشي کيدلو وروسته د پاکستان په کويټې کې ترور سو. روح دې ښاده وي!

په همدې کوټې کې د فارياب له ولايته احمد شاه سره آشنا سوم. دی ئـې د ساما په تور زنداني کړی وو. نوموړی په وينه تود، شوخ طبع، د استعداد خاوند او په ساما پاک مين ځوان وو.

زمونږ د کوټې يو بل زنداني حضرت شاه کندهاری وو. دهٔ په خپله ويل چې د کابل په ښار کې د خاد د يوهٔ رياست کارمند وو. سپين پوستکی، ډنگر ځوان وو او شنې سترگې ئـې وې. د سواد خاوند او په مسايلو پوه وو. ښه انگليسي پوهېدهٔ. دا چې له زندانه دباندې ئـې کوم مردار او خيرن کارونه کړي ول يا نـهٔ ول کړي، هغه بيله خبره ده، خو په کوټې کې ئـې ددنه څوک نـهٔ ځورول. دی د نورو خاديستانو په شان نـهٔ وو چې د خلکو خبرې ټولې کړي او ځان د زندان د ادارې په چوپړ کې واچوي. ډېر خپل ځای به ناست وو او د چا په کار کې ئـې لاسوهنه نـهٔ کوله. کله نا کله به موږ ته راغی او خبرې به ئـې کولې. يوه ورځ ئـې د خپلو خبرو په لړ کې وويل چې :«روسي سلاکاران موږ ته په ټرټلې ژبې وايي چې "تاسو په انقلاب ايمان نـهٔ لرئ ځکه يوازې د ټکنالوژۍ پر مټ د دښمنانو پر ضد جنگيږئ، حال دا چې دښمن د خپل اعتقاد په زور جنگيږي." تر هغـهٔ ځايه چې ماته مالومه ده د روسانو خبره سمه ده. »

* * *

ورځې شپې يو په بل پسې تيرېدلې. که مې سلطان تر څنگ نـهٔ وای نو د انجنير زلمي د شهادت د لړمون سوځوونکي درد زغمل ما له وسعې پورته خبره وه. زما تر څنگ د ناصر حضور زما د روحيې په ټينگوالي کې د زړهٔ د يوې ټينگې ستنې په شان ونډه درلوده.

سلطان يو مهربانـه او له انرژۍ او ايمانه ډک ځوان وو چې ملگري ورباندې زښت ډېر گران ول. دی په کلکانو کې زېږېدلی وو له دې کبله زندانيانو په تيروتنې نوموړی د کلکاني مجيد آغا د خوريي په نامـهٔ پېـژاندهٔ. دغه ډول تعلق ددې لامل کېدهٔ چې له څو تنو ځان – پلورل شويو مذهبي اورپکو پرته د کوټې په اکثريتو زندانيانو باندې د سترگو د تور په شان گران وي. ددې ترڅنگ په خپله د سلطان اخلاق دومره لوړ ول چې د ټولو په زړونو کې ئـې ځای نيولی وو. ما په مستقيمې تجربې دا خبره احساس کړې چې هر هغه څوک چې د پرگنو د شريفو آرمانونو ، آزادۍ او د هېـواد د خپلواکۍ ددفاع په لاره کې په صداقت راپورته سي، زموږ پر حقپالو او حق پيژندونکو پرگنو باندې د خپلو بچيانو په شان گران وي.

له نورو زندانيانو سره زموږ اړيکې ډېـر تاودهٔ او له اخلاص او زړهٔ سواندۍ ډک ول. (له پنجشيره) حاجي عظمت الله او حاجي ميرحسن، (له هزاره ميشتو سيمو) ملک حسين، (له پنجشيره) حاجي داد خدا، (له ننگرهار يا لغمانه) ډگروال چې په خواشينۍ نوم ئـې زما له ياده وتلی دی، (د پغمان له تشيع وگړو څخه) انجنير علي احمد، (له کندهاره) حاجي عبدالحی داوي، (کوچی) کاکا طاووس او په لسهاوو نور شريف انسانان چې له موږ سره ئـې له درناوي ډک اړيکې درلودل او له هر يوهٔ څخه ئـې نـهٔ هېـرېـدونکي خاطرات لرم.

حاجي ميرحسن د بيدل، حافظ، مولوي او فردوسي اشعارو ته ليوالتيا لرله. هغـهٔ او نورو ته مې د حافظ او د فردوسي د شاهنامې اشعار لوستل. ددوستانو د روحيې د پياوړتيا او د کوټې د زندانيانو د تسل په پار به مې داسې ابيات غوره کړل چې ددوی له وضعې او حال سره به ئـې سمون خوړ. د بيلگې په توگه :

چنين است رسم سرای درشت گهی پشت زين وگهی زين به پشت

يا

گرت بهره نوش است بی نيش نيست دلی نيست کز نيش او ريش نيست

او یا د حافظ دا ښکلی غزل :

یوسف گمگشته باز آید به کنعان غم مخور

کلبهٔ احزان شود روزی گلستان غم مخور

د زندان په ډېرو بدو ورځو کې د حافظ شیرازي دیوان زما د غمځپلي زړګي تسل وو. د کوټې ډېري زندانیان به راته راغلل چې د دیوان له مخې ئـې فال وګورم. د زندان د زړهٔ تنګوالي د ورک کولو لپاره دا یوه په زړهٔ پورې سرګرمي وه.

ډګروال مي په یاد راځي چې شپږ کاله ئـې د انجنیرئ په څانګه کې په شوروي کې تحصیل کړی وو او بیا د غزني په فرقې کې د فرقې د انجنیری آمر وو. نوموړی شریف انسان وو چې له کوم اسلامي تنظیم سره د اړیکو د لرلو په تور زنداني شوی وو. هر سهار به له لمانځـهٔ وروسته بیدهٔ کیدهٔ. کله به چې له خوب پاڅید نو د نسوارو ډبلی به ئـې له جیبه را وایست او خپل مخ به ئـې د وړوکي ډبلي په هینداره کې ولید. بیا به ئـې خپله زړه رنګ بایللی قره قلي خولی پر خپل سر سمه کړه. هغو زندانیانو به چې زما د چپرکټ تر څنګ ئـې ځای وو ویل چې : «ډګروال صاحب بیا خوب لیدلی دی.» ډګروال به د یوهٔ پوځي په شان راته مخامخ ودرېد او ویل به ئـې «خوب مي لیدلی دی.» ورته به مي وویل : «خدای دې ښـهٔ کړي.» ډګروال به په خپلي ځانګړې ادا ویل چې : «لومړی خوب :....» لومړی خوب به مي چې ورته تعبیر کړ بیا به د دویم شمیر خوب وار راغی او په دې ډول به ئـې د خوب لیدلو شمیر تر څلور او پینځو واوښت. په ټوکو به مي ورته ویل چې :« ډګروال صاحب، دا خوب نـهٔ دی، دا کوم سریال دی؟» لنډه دا چې ددهٔ د خوب تعبیرونه به مي چې ورته وکړل نو په مخ کې به ئـې د خوښیو بریښنا وځلېدله. یوه ورځ سهار مهال وو او ډګروال یوازې یو خوب لیدلی وو. دهٔ راته وویل چې : «خوب مي لیدلی چې ډېر تږی یم او کوم څوک مي په لاس کې یو ګیلاس شربت راکوي. ډېر خوندور شربت وي او دا شربت تر وروستي څاڅکي پورې څښم.»... په ټوکو مي ورته وویل چې : «ددې خوب تعبیر خو روښانه او څرګند دی.» پوښتنه ئـې وکړه چې : «څه ده؟» ورته مي کړل چې :« خدایتعالی تا ته د شهادت شربت په نصیب کړی دی.» موږ ټولو وخندل. قصه رالنډوم. په همدې ورځ ئـې ډګروال په همدغـهٔ تعبیر زموږ له کوټې دباندې وایست او زما دا ټوکه راته زما د زړګي داغ وګرځـېدله. څرګنده وه چې دهٔ ته ئـې په ربښتیا د شهادت شربت ورکړ او دهٔ وڅښـهٔ. روح دې ښاده وي!

سپک او ناځوانه دښمن ددغـهٔ چاپیریال زغم هم ونـهٔ سو کولای. د کوټې د زندانیانو تر منځ اعتماد او دوه اړخیزه مینه د اغزیو په شان وه چې د بې حیا خادیستانو په سترګو کې ورننول. د زندان د استخباراتو شعبې خپلو آبرو بایللو جاسوسانو ته دنده ورکړه چې زموږ پر ټپونو باندې مالګه ودوړوي. د کاپیسا له ولایته عبدالحی، د ګلبهار له سیمي کارګر او د هېـواد له وزبیک میشتو سیمو جمعه زموږ د کوټې تر ټولو بدنام او په شریرو جاسوسانو کې تر ټولو شریر جاسوسان ول. هیڅ داسي اونی به نـهٔ وه چې د دویم بلاک د خاد شبعه دې ما او سلطان ونـهٔ غواړي، او وهل او ټکول او سپکې سپورې او تهدید مو په نصیب نـهٔ سي. ویل کیدل چې ګڼې موږ په زندان کې دننه جلب او جذب کوو.....

د دویم بلاک د خاد شعبې په دې ځور او اذیت بیا هم قناعت ونـهٔ کړ. یوه ورځ، د دویم بلاک د خاد د شعبې آمر چې لطیف نومـېدهٔ ناڅاپه زموږ کوټې ته راغی. باشي ته ئـې دستور ورکړ چې زما او د سلطان ځای دې د خلکو له منځه بیل کړي.

لطیف موږ ته د کوټې په یوه ګوټ کې ځای وټاکـه. د زندان خادیستانو او جاسوسانو له هر لوري کلابند کړي وو. بې حیا جاسوسانو زموږ ټول حرکات تر څار لاندې نیولي ول. هر کله به چې د جاسوس سترګې راباندې نیغې شوې ګومان مې کاوه چې یوې تیرهٔ څوکې برچه مې زړهٔ راته ټوټه ټوټه کوي. نه، دا مې په خطا وویله، د برچې کلمه د مطلب حق نــهٔ شي اداء کولی. ما هیڅ داسې کرکجنه کلمه ونــهٔ موندله چې د جاسوسانو د موذیانه کتنو ته سم مفهوم ورسوي.

لطیف یو پوک او بې سواده ځوانکی وو چې یوازې له اکټ او د خلکو په اصطلاح شأن او فرت پرته ئـې بل څه نــهٔ وو زده. په علني او روښانه ټکیو ئـې د کوټې زندانیانو ته وویل : «هیڅ څوک حق نـهٔ چې له دغو دوه وو تنو کسانو سره اړیکه ولري، پرته له هغې دې له ځانه ګیله وکړه له ما نــهٔ.» د کوټې بندیانو به له موږ سره په پټه د سر په ښورولو او یا د سترګو په ښورولو خبرې کولې. په حقیقت کې ئـې موږ ته د زندان دننه بل زندان جوړ کړی وو. ما به ویل : «نور خلک کوټه قلفي کېږي خو موږ بستره قلفي شوي یو.»

د زنداني خادیستانو په منځ کې یو ئــې د شهید نادر علي «پویا» مستنطق وو چې تخلص ئـې اشرفي وو. ددغـهٔ ناښاغلي د پوهې کچه او ورسره ادعاګانې ئـې چې د پویا د استنطاق په باب ئـې کړې وې له اره له پویا سره سمون نـهٔ خوري. په هغې نـهٔ هېرېدونکې ورځ چې کابل د اور په لمبو کې سوځېد او ما ددغـهٔ ګران یار دوسیه په خپلو ټکان خوړونکو زنګنونو ایښې وه، ددې مستنطق د نوم په لیدلو مې له ستوني یوه غلې چیغه وختله چې هې خدایه! دا څه سوي دي او دا څه ورځ راغلې چې د اتلانو برخلیک د څومره ناکسو خلکو لاس ته ورغلی وو؟ د زماني جفا ته ګوره چې ګیدړ له زمري څخه استنطاق کاوهٔ! یوه ورځ ماسپښین مهال وو چې د زندانیانو یوه ډله ئـې زموږ کوټې ته راوسته. ددوی د ناستې پاڅې ښې ددې ګواهي ورکوله چې ټول ئـې د لیک لوست او د تربیت خاوندان دي. ددوی په منځ کې زما ګران دوست استاد محمد هاشم نورزاده هم وو. په ډېر لنډ وخت کې ګنګوسه سوه چې دوی د ساما غړي دي. ددوی په لیدلو مې زړهٔ کې وسوسه پیدا سوه. زموږ د سازمان ټپي ځان د نورو ټېپونو د اخیستلو توان نــهٔ درلود. د زړهٔ سودا او ناخوالي مې له سلطان سره یاده کړه. څو وخته مخکې یوهٔ زنداني راته د ساما د یوې ډلې د نیول کیدلو خبره کړې وه. نوموړي د انجنیر سیدکبیر نوم په درناوي سره یاداوهٔ او د هغه له لیاقت او وړتیا څخه ئـې تعریفونه کول.

ددغو یارانو په منځ کې درې تنه هر یو نعمت الله حباب، انجنیر سیدکبیر او رحیم اعدام سول. په افسوس چې ددوی دیدن مې ځکه په نصیب نـهٔ سو چې دوی ئـې زموږ کوټې ته نـهٔ ول راوستي. «د کابل د پولتیخنیک استاد» استاد شریف، استاد هاشم نور زاده، ډاکټر شاه محمود، استاد خوشحال او دوه تنه سامایي مبارزې میرمنې په حبس محکول شول. «د زنداني میرمنو بلاک جلا وو.»

***

د انجنیر زلمي تسبیح او د زامنو عکسونه مې له ځان سره ساتلي ول. دا ما ته تر ټولو ستر امانت او سپارښتنه وه. د ۱۳۶۴ل کال د منې پیل وو. زه او اروابناد سلطان د چپرکټ پر مخ ناست وو. د نویو زندانیانو ډله ئـې کوټې ته دننه راوستله. موږ حق نـهٔ درلود چې له نویو راغلو سره سترې مه سې وکړو. پر موږ دغه محدودیت د زندان د استخباراتو شعبې وضع کړی وو. د کوټې باشي د «میلمنو» ځایونه وټاکل. څو تنو ته ئـې موږ ته مخامخ ځای ورکړ. ټول مې له نظره تیر کړل. ناڅاپه مې

سترګې په آقا جان کوهستاني ولګيدلې. نوموړی چې د خپلې سيمې يو نامتو روڼ اندی وو ما له کلونو کلونو وړاندې پېژاندهٔ. خپله ځواني ئـې د خپل هېـواد د پرمختګ او د ولس د آزادی د آرمان په لاره کې خاورې کړې وه. کله چې د «خلق او پرچم» د باندې له پلوه د نيول نيولو او زندان ته د اچولو اندوخر پيل شو نوموړي مخفي ژوند غوره کړ. هغه د غوايي د مياشتې د کودتايي ذليل رژيم، د نيواکګرو روسانو پر وړاندې ودرېد. کوم هغه کړاوونه او کومې ستونزې نـهٔ وې چې دهٔ په دې لاره کې ونــهٔ زغملې. نيول کېـدل ئـې ماته زښت ډېر ګران ول ان تر دې چې ماته ئـې ټکان راکړ. کټ مټ لکه دا چې زما د هيلو يوه برخه ئـې پوپنا کړې وي. په رګونو کې مې وينه وچه سوې وه. په زړهٔ کې مې وويل خدايه دا څه مصيبت دی! دا هم يوه بله قرباني. کوهستاني زښت ډېر ډنګر شوی وو. څو ځله ئـې راته وکتل خو وئـې نـهٔ پيژندلم. ما ورته اشاره وکړه. وئـې کتل خو په ځای ئـې رانــهٔ وړم. بيا مې ورته د موسکا په ترڅ کې اشاره وکړه. کله ئـې چې وپـېـژندلم هک پک پاتې سو. په چورتونو کې ډوب سو. سترګې ئـې پر يوهٔ ټکي نيغې کړې. پته نــهٔ وه چې افکارو ئـې په کوم دریاب کې لنګر واچاوهٔ. اړينه مې وبلله چې ورسره اړيکه ونيسم. د کوټې يوه برخه ئـې د لمانځـهٔ د اداء کولو لپاره ځانګړې کړې وه. د لمونځ کوونکو په کتار کې مې ځای ونيوهٔ. کوهستاني راغی او زما تر څنګ کښېـناست. ورځخه مې ددهٔ ددوسيې په باب پوښتنه وکړه، وئـې ويل : «اختصاصي انقلابي محکمې په اتلسو کالو بند محکوم کړی يم.» بيا مې په رګونو کې وينه وځغليدله. نوموړی له اعدامه بچ سوی وو.

هر هغه څوک چې نوی د څرخي پلـهٔ زندان ته راوړل کـېـدهٔ يو شمير شيانو لکه پيسو، بورې، چای، جامو ..... ته اړتيا درلوده. يو څه بوره او چای او نور مې په يوې پلاستيکي کڅوړې کې واچول او د کتافاتو د صندوق تر څنګ مې کښېـښودل او آقا جان ته مې وويل چې پورته ئـې کړي.

زموږ په کوټه کې يو شريف ځوان وو چې لنډه او سور بخونه ږيره ئـې درلوده او د کابل د شيوه کيو يا چهاردهي اوسيدونکی وو. نوم ئـې زما له ياده وتلی دی. نـهٔ پوهېږم څنګه پوه سوی وو چې کوهستاني زما ملګری دی او زه ورسره د خبرو تږی يم. مخکې له دې چې د جماعت لمونځ پيل سي دغـه ښکلي ځوان به زما تر څنګ کښېـناست. کله به چې کوهستاني راتـهٔ نو هغـهٔ ته به ئـې په خپل څنګ کې ځای ورکړ او کوهستاني به زما او ددغـهٔ ځوان ترمنځ کښېـناست. ما به آرامی او احتياط له خپل ملګري سره خبرې کولې.

زه پوهېـدم چې کوهستاني د محبوسينو بلاک ته لېـږدول کـېږي. تر دهٔ بل ډاډمن څوک مې نـهٔ سو موندلای چې د زلمي امانت ور وسپارم. له نيکه مرغه دغـهٔ ګران يار د زلمي له کورنۍ سره پـېـژندګلوي درلوده. د زلمي تسبيح، د زامنو عکسونه او هينداره مې ورسپارله. نوموړي خپل مسؤوليت تر سره کړ او دا امانت ئـې څښتن ته ور وسپارهٔ. عمر دې اوږد وي!

وايي چې هر څه ځانته حد او اندازه لري. فشار او عذاب نور له حده واوښت. سلطان په وينه تود ورزشکار وو. د عبدالحی، جمعه او نورو له رزيلانه اعمالو په تنګ راغلی وو. په ځلونو ځلونو به ئـې ويل : «داسې ژوندون په ژوند کولو نـهٔ ارزي. اجازه راکړه چې ددوی حق په لاس ورکړم.» زه ددهٔ د فزيکي ټکر منع کـېدلم او سپارښتنه مې ورته کوله چې ځان له دغو

دجالانو سره مـهٔ برابروه. په ياد مي دي چي يوه ورځ ماسپښين مهال وو. زه او سلطان دواړه د چپرکټ په لانديني پوړ کي ناست وو. سلطان ډېر په قهر وو. ما ورته ويل چي حوصله وکړي ځکه د کوټي د ټولو کسانو د بې ځايه کولو دستور ورکړل سوی دی. زه او سلطان ئـي بلي کوټي ته بوتلو. له نيکه مرغه دا دري تنه جاسوسان نور زموږ په کوټي نـهٔ ول.

گشايد بند چون دشوار گردد بخندد صبح چون شب تار گردد

خو د خاد د شعبي کارمند لطيف زموږ له سره لاس نــهٔ اخيست. تــهٔ به وايي چي ددهٔ يوازيني مأموريت زموږ ځور او اذيت وو. يوه شپه لطيف زموږ کوټي ته راغی. د کوټي گرد چاپيره وگرځـېد او ټول زندانيان ئـي له نظره تير کړل. بيا ودرېد او وئـي ويل : «وه خلکو! پام مو اوسه چي معلم نسيم ډېر خطرناک سړی دی. دهٔ ددي هېـواد په سلهاوو بچيان بې لاري کړي دي. له هغـهٔ اړيکه مــهٔ نيسئ چي تاسو هم له لاري باسي. دا کار تاسو ته ضرر رسوي...»

د کوټي زندانيان ددغو اوتو بوتو په مانا پوهېدل. ما ليدل چي زما په پرتلي دوی د لطيف پر شطحياتو باندي خپه دي. يو شمير زندانيانو د سترگو او سر په اشارو وپوهولم چي دا خبري د هوا تر باد لا سپکي دي.

د ۱۳۶۴ل کال منی وو، هوا سړه سوي وه. په کوټه کي د تودولو وسايل نـهٔ ول. موږ مجبور وو چي د خپل بدن په طبيعي تودوخي د کوټي د سړي هوا پر وړاندي مقاومت وکړو. د زندان اداري يوازي يوه خيرنه، زړه او له حشرو ډکه کمپله موږ ته راکړي وه. کله به مو چي دا کمپله پر ځان راکاږله نو بد بوی به ئـي پورته سو او وړی به ئـي د اغزيو په شان ځورولو. سلطان وويل : «زما کمپله ډېره زړه او خيري خيري ده. نـهٔ پوهېږم څنگه کولای سم هغه پوښ کړم.» ورته مي وويل : «زه خو درته ژوندی يم، لاس مي له تار او ستني سره آشنا دی.» کمپله مي ورته پوښ کړه. څو ورځي لا نــهٔ وي تيري سوي چي سلطان ئـي د «مرگ د فورمي» د ډکولو لپاره د زندان قومندانی ته وغوښت. پينځه کاله ئـي په ناټاکل شوي برخليک کي تير کړي ول او د بې سرنوشتی د وخت دومره اوږدېدل ددهٔ د ژوندي پاتي کيدلو لپاره يوه وړوکي هيله وه. يوه ورځ چي په کوټه کي دننه گرځـېدلو سلطان وويل : «گومان کوم نور مي کار خلاص دی.» سر مي وځرخيد. ستونی مي ډک سو. سلطان تل راباندي پام کاوهٔ او ټوله پاملرنه ئـي دا وه چي نا آرامه نــهٔ سم. ځان مي کنترول کړ او ورته مي وويل : «تــهٔ يو سامايي مبارز ئـي. يوهٔ سامايي ته نــهٔ ښايي چي له خپله مرگه وځورېږي.» ناصر خپل دروند لاس زما پر اوږه کښېښود. په سترگو کي ئـي د جرئـت، ايمان او ټينگوالي سيند څپي خپرولي. وئـي ويل : «انديواله! تــهٔ خو ما پېـژني، آيا تــهٔ باور کوي چي زه دي له مرگه وډار سم؟»

د کاظم په نامـهٔ يو زنداني وو. د بلخ له ولايته وو. هغـه گنډونکی وو او د دويم بلاک په خياط خاني کي ئـي کار کاوهٔ. گنډونکو د نورو زندانيانو په پرتلي ډېره آزادي درلوده. زه او نور زندانيان پيتاوي ته دباندي وتلو. د لومړي پوړ په دالان کي له کاظم سره مخامخ سوم. راته نيږدي راغی او په کراری ئـي وويل : «پرون شپه ئـي په تلويزيون کي د سلطان نوم واخيست.» غوښتل مي نوري خبري هم ورڅخه واورم خو ژر راڅخه ليري سو. زړهٔ مي بده گواهي ورکړه. د فورمو ډکول، د تلويزيون له تبليغاتو سره په يوهٔ وخت کي تر سره سوي ول. په دي هکله مي سلطان ته څه ونــهٔ ويل.

د فورمو له ډکولو وروسته لس ورځې نور هم د یو بل تر څنګ وو. ددغو ورځو په اوږدو کې مې د ورزش حوصله نــهٔ درلودله، خو سلطان له ورزش څخه لاس نــهٔ اخیست. دباندې ته زموږ د وتلو وخت وو. سلطان خپلې ورزشي جامې واغوستلې. له ځانښت مخکې مهال وو. سلطان د والیبال په ډله کې ودرېد. زه له ملک حسین سره ګرځـېدلم. طاهر سرباز «د دویم بلاک د قوماندان محمد دُرُود اوښي» د مکتوب له مخې د سلطان نوم ولوست. سلطان لاړ چې خپل سپورټي جمپر چې د محبس د انګړ پر دیوال ئـې بند کړی وو واخلي. زما خوا ته ئـې رامنډه کړه او خدای په اماني مې ورسره وکړه. نور کسان هم راوړاندې سول خو طاهر منع کړل او وئـې ویل : « د څه شي لپاره خدای په اماني کوئ، ژر بیرته راځي.» دا ژر بیرته راتګ ته لا تر اوسه سترګې په لاره یم. کله چې له کوټې دباندې وتلو موږ د پیټاوي د نیولو تر پای پورې خپلې کوټې او ځایونو ته د بیرته تګ اجازه نــهٔ درلودله. ښایي دیرش دقیقې نورې به پاتې وې خو زه پوهیږم چې دا دیرش دقیقې د څو پیړیو په سختۍ تیرې سوې. تر ټولو مخکې زه کوټې ته ننوتلم. په کوټه کې څوک نــهٔ ول. زما د چپرکټ پر مخ هماغه پوښ لرونکي کمپله او د چای ترموز ایښودل سوي ول. څه مې کولای سوای وکړم؟ زه دداسي یوهٔ برخلیک په منګولو کې را ایسار وم چې خونړي لیوه زما د زړهٔ غوښې راڅخه ټوټه ټوټه خوړلې او ما ورته په هردم شهیدۍ کتل!

له ما سره په دې لوییې کوټه کې ټول دوستان د سلطان په ویر کې ډوب سول. نور ددویم بلاک ۲۴۷ کوټې څخه د سلطان مستانه غږ او خندواې نــهٔ راتلې. نمي سوای کولای د خپلو اوښکو د توپان مخه ونیسم. زموږ کوټې دوې دروازې درلودلې، یوه ئـې تړلې وه. یوهٔ وړوکي دالان، دا تړلې دروازه له کوټې سره نښلوله. په کوټه کې تر ټولو ګوښې ګوټ ځای همدا وو. د حاجي عبدالحی داوي چپرکټ په همدې ځای کې وو. دا ګوښې ګوټ مې د ژړا لپاره تر ټولو مناسب ځای وموند.

# تـــهٔ خو مات نـــهٔ سوې، خو زه به دې اوس پاش پاش کړم

سرتيري د دويم بلاک د خاد يا استخباراتو دفتر ته بوتلم. کله چې دفتر ته ننوتلم، د شعبې امر له ځايه پورته سو او مخامخ راته ودرېد. له قهرېدلي څيرې څخه ئې پوهـېدم چې نرم چلند راسره نـهٔ کـېږي. پرته له کومې مقدمې او پوښتنې ئـې وويل : « تـهٔ د تفريح پر مهال له دباندې ډېرې راوړې او په تشنابونو کې ئـې اچوې.» دا تهمت راته کټ مټ د «اختصاصي انقلابي محکمې» د قاضي د حکم په شان وو چې په آرامى به ئـې د زنداني د ابلاغ د پارچې پر مخ وليکل : «تـــهٔ ..... د ........ زوی د ترسره کړي جرم په پار دې د ...... مادې، ........ بند....... فقرې.... پر بنسټ په اشد مجازات يعنی اعدام محکوم ئـې.»

د زندان د خاد د آمر تهمت هک پک کړم. نـهٔ پوهـېدم په کومې ژبې ددغو ناروا او بې بنسټونو تورونو پر ضد دفاع وکړم. بله چاره مې نـــهٔ وه مگر دا چې چوپه خولـهٔ ودرېږم او د آمر څيرو څيرو سترگو ته په خړو خړو سترگو وگورم. ددې چوپتيا په متن کې د قهر او غضب او چيغو يوهٔ سيند څپې وهلې، خو په هغـهٔ مقام کې چې عدالت او انصاف ئـې ژوندی په گور ننه ايستلی وي فرياد او اعتراض به کوم درد دوا کړي؟ ښايي آمر له ما څخه ددې هيله درلوده چې ورته عذر و زاری او يا توبه او استغفار وکړم، او يا ئـې هم غوښتل چې په نا کړې نا وړې گناه باندې بايد اعتراف وکړم. په زړهٔ کې مې وويل شيخ فريده چوپه خولـهٔ ښه ده. ومې ليدل چې مير غضب نور هم په قهر او تيز سو او په تولې سپين سترگى ئـې چې لرله هره هغه سپکه سپوره چې ددهٔ په خولـــهٔ راتله او زده ئـې وه له خولې ئـې باد کړل. ماته نور دومره ناشايسته او رکيک الفاظ نور د زغملو نـــهٔ ول او زما د صبر کاسه ئـې رانسکوره کړه. بې اختياره مې خولـهٔ خلاصه سوه او په بې پروايىي مې ورڅخه وپوښتل : «تا ښوونځی لوستی دی؟» آمر چې گومان ئـې کاوهٔ ما ورباندې مسخري کړې دي لکه خښميدلی ژوی را پاڅـېد او ډېرې کلکې څپيړې ئـې پر مخ راکړې. ما له ځايه شور ونـــهٔ خوړ او په سړې سينې مې خپله پوښتنه تکرار کړه. په دې باندې ددهٔ غښم او دعتاب اور لا ډېر سو. د غاړې رگونه ئـې وپړسـېدل، دومره وپړسـېدل ته به وايې چې چا پمپ کړي وي. غږ ئـې پورته او پسې پورته او عتاب ئـې لا ډېر سو. د آسمان په شان ئـې غرمبارې وهلې. نيږدې وو چې ژوندی مې له ستوني تير کړي. له خولې ئـې د څو ښکنځلو او سپکو سپورو کتار راووت. بيا ئـې له جيبه خپل د لاس دستمال راوايست او پر خپلو شونډو ئـې وموښـهٔ. فکر ئـې کاوهٔ چې که د ډېر قهر له لاسه خپله په لاړو ځگنه خولـهٔ پاکه کړي نو ددهٔ د ښکنځلو او سپکو سپورو خوسا او گنده بوی به هم پاک سي. بيا ئـې ځان لږ څه راټول کړ او په ځانگړو اکټونو او ادا گانو ئـې وويل :« که تـهٔ لوده نـــهٔ اوسې، آيا له درس او تعليم پرته زه کولای سم دا مسؤوليت وړاندې يوسم؟» ورته مې وويل :« ډېر ښـهٔ. آيا داسې کله پيښ سوي دي چې کوم ښوونکي درته ويلي وي چې په هغـهٔ سوري کې چې څوک خپل حاجت رفع کوي کانې او ډبرې واچوه؟» جلاد لا تر دې دمه مطلب ته نـــهٔ وو رسـېدلی. ددهٔ د خرفهمه کولو لپاره مې ادامه ورکړه : «گوره! زه يو معلم يم او څه نا څه سواد هم لرم.» بله جمله مې لا خولې ته نـــهٔ وه راوړې چې د خبرو په منځ کې راننوت او په تکبر ئـې وويل : «بس که نور! تـهٔ ما ته خبرې مه راښيه.» وينم چې کوچني فرعون د بل هر مستبد په شان عادت لري چې په خپله ووايي او نور له خبرو محروم کړي، ځکه نو له دعوا تير سوم. آمر خپل سرتيري ته دستور ورکړ چې ما ....

شميرې کوټې ته بوزي. له دفتره مې لا پښه دباندې نــهٔ وه ایښې چې ځان ئــې رانيږدې کړ، له سره تر پایه ئــې راته وکتل او په ګواښ ئــې راته وویل : « معلم نسیمه! تــهٔ خو مات نــهٔ سوې، خو زه به دې اوس پاش پاش کړم.»

سرتيرې تر نوې کوټې پورې بدرګه کړم. د کوټې چاپيريال د زندانيانو چيغو او شورماشور په سر سره اخيستی وو. کله چې موږ ننوتلو يو ناڅاپه ټول چوپ سول او سترګې ئــې پر موږ نيغې کړې. هيڅ څوک مې ښــهٔ راغلاست او ستړې مه سی ته رانغلل. دننه په زړهٔ کې مې د نوميدئ يو ډول احساس راپورته سو. د کوټې باشي په بې اعتنايي زما د نوم او ځانګړتياوو پوښتنه وکړه او په ليست کې ئــې وليکل. د کوټې په يوهٔ ډېر ليرې او تيارهٔ ګوښې ګوټ کې ئــې يو چپرکټ راته تش کړ او راته ئــې وويل : «دغه دې ځايګی دی. کرار دې پر ځايګي کښــېنه او له چا سره به راکړه ورکړه نــهٔ کوې.»

زما چپرکټ د کوټې په ليرې ګوټ کې وو. داسې ګوښې ګوټ چې چا ورباندې تګ راتګ نــهٔ کاوهٔ. د خوب بستر ته مې ډېره لږه رڼا راتله. پورتنيو چپرکټونو د رڼا د رسيدلو مخه نيولې وه. يو ځل بيا په کوټه کې شور ما شور پيل سو، دا هغه څه دي چې تل د زندان په لويو قفسونو کې وي. په خوړين غمځپلي زړهٔ په چپرک کې کښــېناستم. د خاد د جهمني سازمان د نيرنګونو او چلوټو په هکله مې فکر کاوهٔ چې په څومره غير انساني او غير اخلاقي چلونو خپل په لاس او پښو تړلي مخالفان درې وړې کوي. د اختصاصي انقلابي څارنوال ببولالي مې په ياد راغلې چې زموږ د محکمې په ترڅ کې ئــې ويلي ول : «موږ تاسو د سياسي زنداني په توګه نــهٔ پيژنو.» هماغه مهال سامايي زندانيانو د اعتراض په ژبې ورته وويل : «که داسې وي، نو ولې د تحقيق په ترڅ کې مو له موږ سياسي پوښتنې کولې؟»

خاد د يوهٔ زنداني مقام د راټيټولو لپاره د هغــهٔ له سياسي شخصيت څخه انکار کاوهٔ او هغــه به ئــې د جنايي اعمالو په ارتکاب تورناوهٔ. د «تشنابونو د بندولو» تور هم له همدغو مسخره پاليسيو څخه سرچينه اخيستله چې ګڼې د هېـواد او ولس د خپلواکۍ لپاره مې مبارزه نــهٔ ده کړې بلکه د زنداني کېـدلو علت مې د ترکاڼ رنده او د بزاز ټوکر وو! په دې خبره ټول زندانيان پوهېـدل چې درې يا څلورو تشنابونو د سلهاوو زندانيانو د استفادې ګنجايش نــهٔ درلود په ځانګړې توګه کله چې تشنابونه د اوبو د زيرمې او د فلش سيستم ونــهٔ لري. د اوبو فشار دومره کم سيکه او ضعيف وو چې د بلاک دويمو او دريمو پوړونو ته نــهٔ رسېـدلې. زنداني مجبور وو چې په يوې ګډوې «آفتابې» هم خپل د تشناب ستونزه حل کړي او هم په هماغه ګډوي اودس وکړي. په همداسې يوهٔ اسفناک حالت کې به ډيرې وختونه تشنابونه بند سول او رسوايي به ئــې رامنځته کړه. د تشناب د بنديدلو ستونزه تر هر چا دمخه په خپله د زنداني غاړې ته لويده. هيڅ داسې زنداني به نــهٔ وي چې په خپلې سينې کې دې د تشنابونو د ستونزې په باب له درده ډک داستانونه ونــهٔ لري. د څرخي پلــهٔ په زندان کې دننه د تشناب عذاب د خاد د مستنطيقنو د شکنجو له عذابه کوم کمی نــهٔ درلود. ددې ادعا د اثبات لپاره د ښاغلي شفيع او ښاغلي ډاکټر حبيب انصاري د زندان د خاطراتو د کتاب له مخې څو جملې دلته د «مشت نمونــهٔ خروار» په توګه رانقلوم چې «تا سيه روی شود هر که در او غش باشد» :( د هرو ۲۰۰ تر ۲۵۰ تنو لپاره يوازې يو تشناب دی- د ځان پريوللو، کاليو پريوللو او لوښو پريوللو او.. لپاره دوني وړوکی دی چې يو تن په کې په آسانی نــهٔ ځايېږي. تر ټولو بدتره ئــې لا دا چې په دويمو او دريمو پوړونو کې د ورځې له پلوه نــهٔ يوازې د ځان او کاليو پريوللو لپاره اوبــهٔ نــهٔ سته، بلکه له هغو څلورو يا پينځو سطلونو اوبو څخه پرته چې د شپې له پلوه ئــې زيرمه کوو د څښلو لپاره هم اوبــهٔ نــهٔ سته... تاسو پوهيږئ چې د حاجت رفع کول يوه بنسټيزه ستونزه

کېږي؟ د بلاک د هر پوړ د نیم دالان لپاره (دویم بلاک کې) چې په کې څه د پاسه زر تنه زندانیان ژوند کوي نیږدې څلور یا شپږ تشنابه د حاجت د رفع کولو لپاره ځانگړي شوي دي.... یعنې په همدې شمیر اسیران چې د غیر صحي خوراک له کبله همیشگي اسهال لري هر اسیر په هرو څلور ویشتو ساعتونو کې یوازې پینځـهٔ دقیقې د حاجت د رفع کولو امتیاز لري او همدا پینځـهٔ دقیقې هم په داسې حالت کې وربانديې قطع کوي چې گڼې په دې پلمې چې ژر سئ هیـئـت راغلی دی او بندیان په خپلو منځو کې د وخت پر سر له یوبل سره لاس او گریوان وي. اوس نو واه د هغـهٔ زنداني پر حال چې اسهال وي او د کوټې یوهٔ گوټ ته ځي او خپل حاجت په پلاستیکي کڅوړې کې رفع کوي. دلته ده چې ټوله کوټه د گند او غایطه موادو بوی نیسي او د انساني کرامت اعاده خبره خو......! د هماغې ورځې په ماښام وعده عملي سوه! د بیلگې په توگه که مخکې د حاجت د رفع کولو لپاره شپږ تشنابونه ول نو د هماغې ورځې په ماښام به ئـې دوه تشنابونه وتړل او د حاجت د رفع کولو لپاره به څلور تشابه پاتې سول! دغو وحشیانو دا سروې کوله چې کومې ستونزې نورې ستة چې موږ چې پر موږ ئـې زیاتې کړې[74] او لا مو وځوروي.

موږ چې په دریيم پوړ کې محبوس وو یوازې دوه تشنابونه ول چې د حاجت د رفع کولو، ځان پریوللو، اوداسـهٔ او ښځلو لپاره ورځخه گټه پورته کـېـدله. تل او هر وخت به له شپېتو تر اویاوو تنو زندانیانو په کتارونو کې انتظار ایست، خپلې پښې به ئـې پر خپلو پښو موښلې، نسونه به ئـې ټینگ نیولي ول، ځینو خو به تاب نــهٔ راوړ، نیږدې وه چې مثانې به ئـې د ادرارو له شدته وچوي. په داسې حالت کې به بندي مجبور سو چې په پلاستیکي کڅوړې کې ضرورت رفع کړي او له ادرارو ډکې کڅوړې له کړکیو لاندې وغورځوي[75].)

زما د چپرکټ تر څنگ یو سپین روبی وو چې تل به د قرآن په تلاوت بوخت وو. تر سترگو لاندې ئـې راته وکتل او بیا ئـې خپل کار ته دوام ورکړ. سپین روبي د قرآن تلاوت خلاص کړ او ه لاسونه ئـې ددعا لپاره آسمان ته لپه کړل. د دعا له پای وروسته ئـې مخ راته راواړاوهٔ او په مینې ئـې لاس راکړ. د ماجرا د بهیر پوښتنه ئـې وکړه او په زړورتیا ئـې وویل : «زویه صبر وکړه، خدای به ورته انشاء الله جزا ورکړي.» ددې جملې په اوریدلو مې زړه یو څه تسل سو. په دې مې باور پیدا سو چې ظالمانه عمل لړ پلویان لري. دغـهٔ دراندهٔ سپین ږیري له خپل چپرکټ لاندې یو شنېـدلی کاغذي کارتن راکش کړ او د هغـهٔ له منځه ئـې د چای ترموز دباندې راوایست. د چای گیلاس ئـې په لاس کې راکړ او د بخښنې په ژبې ئـې وویل : «وبخښه چې چای ډېر تود نــهٔ دی او شیریني هم نــهٔ لرم.» دا مهربانه سړی لومړنی څوک وو چې په داسې یوهٔ موقعیت کې ئـې پر ما احسان وکړ. زما او د سپین روبي اړیکې لا نیږدې سول. نوموړی د زندان د ناوړه شرایطو او د زړښت له کبله ناروغه او ناتوانه سوی وو. خپله اخلاقي دنده مې وبلله چې مرسته ورسره وکړم. ددهٔ قروانه به مې راوړله. ددهٔ کاسه او گیلاس به مې پریمنیتـهٔ او دا ډول نور خدمات به مې ورته کول. دهٔ ویل چې د کعبې شریفې زیارت ته تللی دی او د شمالي د کوهدامن له سیمې څخه دی. حاجي مهربانه، بې ډاره، زړور، د ښـهٔ چلند خاوند او خدای دوسته سړی وو. په ځلونو ځلونو ئـې دا خبره تکراروله چې : « له خدایه شکرگذاره دی چې په دې زړښت کې د هېـواد او خپل ایمان په پار د کافرانو بندي خانې ته لویدلی یم. هر څوک چې دلته یوه شپه تیره کړي رب العزت ئـې ټولې گناهانې وربخښي.»

---

[74] - پنجال های خونین «خونړۍ خېږې» - لیکوال – شفیع – ۹ – ۱۰ او ۱۱ پاڼې
[75] - پایداري در شکنج – لیکوال ډاکټر حبیب انصاري ۴۶ پاڼه

د پرله پسي شکنجو له کبله مي د شپي له پلوه خوب نـهٔ درلود له دې کبله د سهار لمونځ مي نـهٔ سوای کولای. زما دا لټې د حاجي صاحب نـهٔ خوښېدله او ویل به ئـي :« معلم جانه! بل عیب نـهٔ لري، یوازې د سهار لمونځ قضا کوې.»

زما له چپرکټه لږ څه لیرې یو بل سړی بیدهٔ کـېدهٔ. ویل ئـي چي لوړې زده کړې لري او له هېـواده دباندې ئـي ژوند کاوهٔ. کله چي افغانستان ته دننه سو ونیول سو او برخلیک ئـي تر زندانه راورسېد. غنم رنګي څیره او نرۍ او ډنګره ونه ئـي درلوده. وسواسي او ناکراره ښکارېد. عجیب او غریب رفتار ئـي درلود کټ مټ یوهٔ مالیخولیایي ته ورته وو. بې ربطه او ګډې وډې خبرې او اپلاتې ئـي له خولې راوتلې. قرآن به ئـي په لاس کي نیولی وو او د ګرځـېدو پر مهال به ئـي لوست. ډېرې وختونه به ئـي په نا پريوللو لاسونو قرآن لوست. ددهٔ د ګوتو د ډېر تماس له کبله – د پاڼي د اړولو پر مهال – د قرآن کریم د پاڼو لاندیني برخي شنېـدلې وې. دهٔ په خپله راته وویل : «د قرآن ددغـهٔ آیت د آسرارو په باب څېړنه کوم.» هغه آیت چي ددهٔ منظور نظر وو د نور د سورې پینځـهٔ دیرشم آیت وو.

له زندانیانو سره مي اړیکي تر څو ورځو پورې محدودې وې خو کرار کرار عادي کېدلې. ددویم بلاک لوی قفسونه چي زندانیانو به پنجرې بللې د ارهټ د سلواغي په شان تشـېدل او ډکـېدل. نفر یوسه نفر راوړه. له تازه راغلو زندانیانو څخه چي دې کوټې کي راسره یو ځای سول معلم وحید پغماني او حاجي عظمت الله پنجشیری وو. د هغوی په لیدلو مي په کړس او خوښی وخندل او دواړه مي په غیږ کي ټینګ ونیول. له دغو دوه وو تنو شریفو انسانانو سره مي مخکي په بلې پنجرې کي آشنایي درلوده.

کرار کرار د کوټي له یو شمیر زندانیانو سره بلد کـېدلم. له دوی سره اړیکي وکولای سول تر یوې کچي له زړهٔ تنګوالي څخه مي وژغوري. په دې باب د حافظ شیرازي دیوان مهمه ونډه لوبوله. دداسي یوهٔ کتاب لرل – هغه هم په زندان کي – د اکسیر بڼه درلوده. د کوټي زندانیانو ته به مي د حافظ غزلونه لوستل او ددوی د غوښتني پربنسټ به مي ورته فال هم نیوهٔ. دین محـمـد یو جګ، توربخون ځوان به خپلو اوږدو وېښتانو او بډ وهلو پایڅو زما د چپرکټ تر څنګ ودرېد. لاسونه به ئـي په ملا راتاو کړل او د ځان شخي به ئـي ایستله. دی به مي وپوښتت : «دین محـمـد جانه! کوم امر یا فرمایش لرې؟» ځواب به ئـي راکړ : «باداره، زړهٔ چاودلو ته نیږدې سوی دی، که زحمت نـهٔ کـېږي د حافظ څو غزلې خو راته ووایه؟» د چپرکټ په یوهٔ ګوټ کي به کرار کښـېناست. دوه درې غزله به مي ورته ولوستل. په رضائـیتمند غږ به ئـي وویل :« معلم جانه! خدای خو دې عمر له برکته ډک که. والله چي دغو شعرونو خو مي د زړهٔ سودا وایستله.»

د کابل له کمریو اتلس کلن روح الله یو ساده او په زړهٔ پاک ځوان وو. ویل ئـي چي زموږ نیکونه کشمیري دي. ملک حسین یو شتمن سړی وو چي له حرکت اسلامي سره د همکارې او غړیتوب په تور زنداني سوی وو او ډېر ښـهٔ خصایل ئـي درلودل چي زموږ ددوستی د ټینګښت لامل ګرځـېدل. درواغ او غوړه مالي ئـي نـهٔ خوښـېدله او له سخاوت ډک لاس ئـي درلود. بې وزلو زندانیانو سره ئـي پټه مرسته کوله. په یاد مي راځي چي له خپلو پیسو ئـي بوټان وکښل او د .... بابا په پیسو ئـي کړل او پر ځای ئـي د همدغـهٔ سپین ږیري «په مراد خانیو کي جوړ» رابرې بوټان په خپلو پیسو کړل. ما ته راغی او په خوښی ئـي وویل : «له کالـهٔ خبر راغلی چي هزاره سپین ږیري زما د ژغورني لپاره سلطانعلي کشتمند ته ورغلي دي. ښایي

خلاص سم، که خلاص نـهٔ سم نو ښايي له اعدامه خو به بچ سم.» په خواشينی چې دی بچ نـهٔ سو او اعدام ئـې کړ. نورو کسانو چې راسره سلام عليک درلود دغه کسان ول : له پنجشيره قاضي مولوي زاده، له پنجشيره تاج محمد او دولت مير، له کندهاره حاجي عبدالحی داوي. د کابل پوهنتون دوه تنه استادان عثمان روستار تره کي، او محمد حسن کاکړ هم را سره تر يوې مودې پورې په دې کوټه کې ول. له دوی سره مې آشنايي له هغې ورځې پيل سوه چې يوه ورځ استاد روستار تره کي په تشناب کې خپل سر پريمينځـهٔ. ما د اوبو ګډوه راواخيسته او پر سر مې ورته اوبه واچولې.

همدا شان درې تنه ځوانان چې افغان سيکان ول او د يوهٔ نوم ئـې مَـنـوُر سينګ وو هم زموږ په کوټې زندانيان ول. ويل ئـې چې د کابل په کارتـهٔ پروان کې ئـې استوګنه درلوده او کسب و کار ئـې د سړک پر مخ د کباب خرڅول وو. ددوی له سر او وضعې ښکارېدل چې له بې وزلو کورنيو څخه دي. څو تنو اوربکو زندانيانو ورسره سپک چلند پيل کړ. ويل به ئـې چې دوی نجس دي او شتون ئـې په کوټه کې ګناه لري. د اوربکو هڅه دا وه چې دا تنکي ځوانان د تشنابونو تر څنګ وليږدوي. د خپل دغـهٔ کرغيرن او بيلتونپاله چلند لپاره ئـې لمونځ پلمه کاوهٔ. له دې سره سره دوی د لمانځـهٔ پر مهال د کوټې يوهٔ ګوښې ګوټ ته به لاړل. د جامو بدلول او د ځان پريولل ورته له ستونزو ډک وو. دا تنکي ځوانان به د مجبوريت له مخې د شپې تر ناوختو پورې سترګه په لار پاتې کېدل چې نور بنديان بيدهٔ سي او دوی سرونه او ځانونه پريمينځي. ما ته ددوی نيږدې والی سبب سو چې بيلتونپاله او اوربکی چلند ورسره لږ سي. ددوی دوه تنه لا تر دې دمه ځوانان سوي نـهٔ ول په اصطلاح تحت سن ول او بل ئـې د مراهق په سن «بلوغ ته نيږدې» وو. دوی مذهبي تعصب نـهٔ پېـژاندهٔ او له مسلمانانو سره ئـې چلند له ګذشت او درناوي ډک وو. درې واړو سره کورنی اړيکي لرل. مَنوُر سينګ سيګريټ څکول چې په دوی کې مشر وو. ما له سيګريټ څکولو څخه منع کړ. زما نصيحت ته ئـې غوږ ونيو او سيګريټ ئـې خوشې کړل. نوموړی له دې بابته خوښ وو او ويل به ئـې تر څو چې ژوند دی دا احسان به مې له ياده ونــهٔ باسي. د زندان ادارې ددوی کورنی ته اجازه ورکړې وه چې په اونی کې يو ځل ورته له کوره ډوډۍ راوړي. دوی د خپلو ديني باورونو له کبله د زندان يو شمير خواړهٔ نــهٔ خوړل. له ما ئـې وغوښتل چې ډوډۍ ورسره وخورم. يوه ورځ ماښام ورسره پر دسترخوان کښـېـناستم او ډوډۍ مې وخوړله. له خوشحالی په جامو کې نــهٔ ځاييدل. دوی زموږ په کوټه کې تر ډېره پاتې نــهٔ سول. د حبس موده ئـې ټاکل سوې وه. تعامل داسې وو چې يوازې بې سرنوشته زندانيانو په دويم بلاک کې د پاتې کيدلو حق درلود. د هغو کسانو چې برخليک او حبس ئـې ټاکل سوی وو دريم بلاک ته ليږدول کـېـدل. ددوی وار هم ورسيد او دريم بلاک ته وليږدول سول. له کوټې څخه د وتلو پر مهال په دوی کې تر ټولو وړوکي هلک «نوم ئـې زما له ياده وتلی دی» سرتيري ته وويل : «ګرانه سرتيريه! يوه هيله لرم.» سرتيري ورتـه وويل: «ووايه». وئـې ويل : «اجازه راکړه چې موږ له خپل استاد سره خدای په اماني وکړو.» سرتيري ورته وويل : «استاد مو څوک دی؟» په ځواب کې ئـې وويل : «نسيم.» سرتيري ورته اجازه ورکړه او ټول مې په غيږ کې ونيول او خدای په اماني مې ورسره وکړه. عمر دې اوږد وي!

د عبدالحق په نامـهٔ يو نولس کلن ځوان وو، دی د سالنګ له اړوندو سيمو څخه وو. نوموړي د شعر لوستلو ښـهٔ شوق او استعداد درلود. دهٔ خپله ويل چې ددوی په سيمه کې خلک شهنامه لولي له همدې کبله ده چې له شعر سره مينه لري. نوموړی د سالنګ له سيمې څخه د اسلامي جمعيت په اړيکي نيول سوی وو او سخت ټينګ تورونه ورباندې لګېدلي ول. محکمې ته بيول سوی وو او د خپل برخليک د ټاکل کېدو لپاره سترګه په لاره وو. يوه ورځ راته راغی وئـې ويل : «بيګاه شپه مې

خوب لیدلی چې له یوې لارې تیرېږم. د لارې پر سر مې درې غوایان ولاړ دي. زه ئــې له څنګه تیر سوم. یو ناڅاپه منځني غوایي په خپل ښکر ووهلم او لیرې ئــې وغورځولم.» ما ورسره ټوکه وکړه. دا ځل مې هم په ټوکو ددهٔ خوب داسې تعبیر کړ چې : «درې غوایان د اختصاصي انقلابي محکمې قاضیان دي. منځنی قاضي ددیوان رئـیس دی او په ښکر وهل هم د اشدو مجازاتو سزا ده.» اتفاقاً څو ورځې وروسته ئــې دی او د زندانیانو یوه ډله پولیګون ته د اعدام لپاره بوتله. د هغـهٔ ځوانیمرګ ځوان مرګ ډېر ناکراره کړم او د خوب له داسې تعبیر څخه سخت پښیمانه وم. دا دویم ځل وو چې د یوهٔ بل زنداني خوب مې په ټوکو ورته اعدام تعبیراوهٔ او هغه خوارځواکی ځوانیمرګ اعدامیدهٔ. ددې تصادف او له خپل دې «تور ژبي توب» څخه مې ډېر زیات رواني او وجداني عذاب ایستــهٔ.

معلم وحید، ملک حسین، دین محـمد او نور ددغـهٔ وحشیانه «کشتار» د قربانیانو له ډلې څخه ول. کله چې معلم وحید له ما بیل سو په نرمی ئــې لاس راته وښوراوهٔ. ددهٔ د لاس ظریفانه خوځښت او مظلومه څیره به هیڅکله له یاده ونــهٔ باسم. یاد دې تل ژوندی وي!

که مې حافظه نـهٔ وي تیر وتلي – د کوټې باشي مو مبارک شاه «یا محبوب شاه» نومېـدهٔ. ددغـهٔ سپک سپیرهٔ جاسوس ډېرې وختونه به له تنکیو هلکانو څخه په کرغیړنـې ناوړه جنسي استفادې تیریدل. په هر لوی قفس کې ئــې څه دباندې دوه سوه زندانیان اچول. تشنابونو ته د ننوتنګ د دروازې ترڅنګ «له دغو تشنابونو څخه د حاجت د رفع کولو لپاره استفاده نـهٔ کـېـده» یوه وړوکې کوټه جوړه سوې وه. د پنجرې باشي او ورور ئــې د امتیاز د عنوان په توګې په دې کوټه کې ځان ته د استوګنې ځای غوره کړی وو. د باشي کوټې ته د څو تنو لوڅو بربنډ صورتو هلکانو تګ راتګ ددې لامل سو چې زندانیان دې پایلې ته ورسېـږي چې دغه دواړه ورونه د زندان ادارې ته له خپل اعتبار «!» څخه په ګټه اخیستنې له دغو هلکانو څخه کرغیړنه استفاده کوي. باشي به د پنجرې مسایلو ته چنداني پاملرنه نــهٔ کوله ځکه چې شپه او ورځ ئــې په عیاشیو کې تـېـرېدله. د ورځې یو یا دوه ځله به په اسویلي ډکه خولـهٔ د پنجرې ګرد چاپیره تاو سو او زندانیان به ئــې له نظره تیر کړل. زندانیانو اجازه نـهٔ درلوه چې د کوټې د باشي د دروازې له مخې تیر شي. د باشي د کوټې د تګ راتګ لاره ئــې په دې پلمې بنده کړې وه چې ګنې «دالان وچ سي». له دې کبله د باشي کوټې ته ننوتل ددهٔ له عملي او فعلي پرته ناشوني ول. اصلاً شرافتمندو او درندو زندانیانو د باشي کوټې ته تګ راتګ او ورسره هر ډول راکړه ورکړه شرم ګڼـهٔ او ځانونه ئــې ورڅخه لیرې ساتل.

زمونږ په کوټه کې یو څوک وو چې ځان ئــې انجنیر بالـهٔ. ددهٔ اوږدو بریتونو ددهٔ له قد او قوارې سره هیڅ تناسب نــهٔ درلود. مغرور، خانتما او بې باکه وو او ځان ئــې عقل عالم بالــهٔ. د نورو درناوي ورته د توت په اندازې ارزښت نــهٔ درلود. هر چیرته به چې کومه مسئـله وه دهٔ به ځان ور ورساوهٔ کټ مټ لکه د شړومبو مچ وو. د پنجرې بندیانو ددهٔ لچر او سپک حرکات نــهٔ خوښول او ځانونه به ئــې ورڅخه لیرې ساتل. ویل کـېـدل چې نوموړی دولت ته د تسلیم شویو بانډونو له ډلې څخه دی. ما هم ورڅخه ځان لیرې ساتـهٔ او دوستانو ته مې ویلي ول چې دا سړی په پوست پاک نــهٔ دی. دهٔ ته نیږدې کـېـدل کټ مټ لکه دا چې د کوم ناروغه سړي تر بړستنې لاندې پښې غځولي وي. د چپرکټونو «د منځنی برخې » په وروستنې کتار کې د شیراجان او میرعلم ځای وو. دا دواړه د شمالي د قره باغ اوسېـدونکي ول. ما له دوی سره له عادي سلام و

علیک پرته کومه راکړه ورکړه نــهٔ درلوده. دغو ځوانانو د خلکو خبره جنګ په پیسو اخیست او له وهلو ټکولو او کوټه قلفیو څخه ئـي کوم ډار او بیره هم نــهٔ درلودله. یوه ورځ دا انجنیر راته راغی او له اجازې پرته زما د چپرکټ په یوهٔ ګوټ کې راته مخامخ کښېناست. له ځمکې او آسمانه ئـي خبرې ګز او پل کړې. په یاد مې نـهٔ دي چې کوم بحث ئـي راپیل کړی وو او په ګستاخۍ ئـي په خبرو کې راباندې ودانګل. ما ورته وویل : «انجنیر صاحبه! ځار دې سم، زه د تا ویلي ما ویلي حوصله نـهٔ لرم. زما له سره لاس واخله.» انجنیر له ځایه په قهر پورته سو او په قهرژلي ژبې ئـي راته وویل : «زه ستا په شان سلهاوو کسانو ته درس ورکوم. تا له ځانه څلورم آسمان جوړ کړی دی.....» له ځایه پورته سوم او ورته مې وویل :« نور زغم راته پاتې نــهٔ دی. هله ژر سه زما له چپرکټه کښته سه او بیا دې خواته را نــهٔ سې!» فکر مې کاوهٔ چې سړی به په خپله مخه لاړ سي او خبره به خلاصه سي، خو دهٔ په ټول شدت په خپل لاس زه په سینه کې ووهلم. نیږدې وو چې خپله موازنه له لاسه ورکړم او پر ځمکه ولویږم. په دې اثنا کې میرعلم او شیراجان دواړو له چپرکټه ټوپ وواهــهٔ او د زمریو په شان ئـي ور ودانګل. ومې لیدل چې خبره رسوایي ته ورسېدله، دا هغـه څه ول چې هیڅکله ما نــهٔ غوښتل. شیرا جان او میرعلم مې په سختۍ د انجنیر له سینې را خلاص کړل. شیرا جان لږ لیرې ودرېد خو د میر علم زړهٔ لا سوړ نــهٔ وو. په میرعلم باندې په قهر سوم چې ولې دې غم جوړ کړ؟ میرعلم په خښمیدلي غږ وویل : «او هووو! دا زه درته مُلې ښکارم چې د یوې پیسې سړی راسي او تا بې آبه کړي او زه به ورته ګورم؟»

د انجنیر تندی د سوک د لګیدلو له کبله ویني سوی وو. ویني ئـي پر سر او مخ او چارخانه کرتۍ را رواني وې. د کوټې زندانیانو دا حالت ولید او ورڅخه ئـي غوښتنه وکړه چې خپل سر او مخ دې پریمینځي خو دهٔ دا کار ونـهٔ کړ او وئـي ویل : « دا ویني زما سند دي.» د انجنیر شور ما شور زیات سو. پهره داره پنجرې ته ننوت او پوښتنه ئـي وکړه چې څه سوي دي. پهره دار موړ ټول دباندې وایستلو او د زندان د خاد دفتر ته ئـي خبر ورکړ. د خاد افسر چې منهاج نومېدهٔ راغی او موږ ئـي په دالان کې جزایي ودرولو. شیرا جان او میرعلم د خاد افسر ته وویل : «موږ دواړو انجنیر وهلی دی. هره جزا چې راکوې رائـي کړه خو معلم نسیم کومه ګناه نــهٔ لري.»

کلونه وروسته د ۱۳۷۱ل کال دوبی وو چې د کابل - پروان له لارې تېرېدلم. په هغـهٔ موټر کې چې زه سپورم وم د شمالي د قره باغ ولسوالی ته ورسېد. وسلوالو کسانو د سړک د غاړې پاټک اچولی وو. زموږ موټر ئـي ودراوهٔ. وسلوال کسان موټر ته نیږدې سول چې موټر تلاشي کړي. میرعلم مې ولید چې د موټر څنګ ته کلاشنیکوف په لاس ولاړ دی. نرۍ ږیره ئـي پر باړخوګانو ښتې وه. د سرویښتان ئـي تر اوږو رسېدل. ویروونکې څیره ئـي درلوده. دا د کریم مشهور په کریم قره باغ «د ګلبدین د ګوند د یو قوماندان» یوه پوسته وه. له تاسو ئـي څه پټه کړم، ویره مې په ځان کې خپره سوه. له ځان سره مې وویل سیاست مور او پلار نــهٔ لري. له بلې خوا د زندان چاپیریال د دباندې له چاپیریال سره توپیر لري. داسې نــهٔ سي چې میرعلم کوم خطرناک اقدام ونــهٔ کړي. کله چې د میرعلم سترګې راباندې ولګېدلي وئـي پیژندم. کوښښ مې وکړ چې پر ځان مسلط سم. له موټره کوز سوم. د میرعلم څیرې بدلون وکړ. په کړس کړس خندا ئـي په غیږ کې ونیولم او زما مخ ئـي په دوستۍ ښکل کړ. په آمرانه غږ ئـي وویل : «دا موټر مــهٔ تلاشي کوئ!» وسله والو ددهٔ امر ومانــهٔ. د زندان یادونه مو وکړل، د هغه له بدیو او ښیګڼو. د انجنیر په وینو لژنده غوړه چینه «شقیقه» مو یاده کړه او ومو خندل. زمان موږ ته د ډیرو پوښتنو او خندیدلو وخت نــهٔ راکاوهٔ. رخصت مې وغوښت او خپل سفر ته مې دوام ورکړ.

د يادې شوې پيښې دوام : نيږدې دوه ساعته په دالان کې جزايي ودرېدلو. دا ځل مو طالع درلودې. زندانبان يوازې په دالان کې د درېدلو او بلې کوټې ته د تبديلی په جزا بسنه وکړه او وهل ټکول او سپکې سپورې ئې ونــهٔ ويلې. زه ئې مخامخ پنجرې «۲۴۴ کوټې» ته او دوه تنه نور ئې کوټه قلفيو ته وليږدول. په نوې کوټه کې خالي بستر نــهٔ وو، ټول ځايونه ډک ول. وويل شول چې پر دوه وو چپرکټونو دې درې تنه بيدهٔ سي. پر دوه وو چپرکټونو بيدهٔ کيدل «هغه هم په پاسني چپرکټ کې» ګران وو ځکه يو خو ځای تنګ وو بل له پاسه د لاندې رالويدلو ګواښ ورسره ملګرى وو.

«ومو ويل چې هره کوټه ۱۵ په ۱۵ مترو کې وه او دومره ځای کې کيدای سي اويا تنه ګذاره وکړې خو دوی تر دوه سوه او پينځوس تنه بنديان اچوي او هغه هم داسې چې په هره ناليچه «توشکې» درې تر څلورو تنو پورې ژوند کوو. هر وخت ورباندې کښېـنو او ډوډۍ خورو او هم بيديږو. سره له دې چې له يو بل سره اوږه په اوږه يو خو له يو بل سره د خبرو کولو حق نــهٔ لرو. دا ځکه چې موږ «ضد انقلاب» يو..... خو له دومره وحشت سره سره چې په زندان کې حاکم دی موږ دغه ناممکنه اصل نه رعايت کوو او له همدې کبله په پرله پسې ډول وهل ټکول خورو، کوټه قلفي کيږو او تغيير او تبديل کېږو[76].»

څو تنه هراتي ځوانان چې د اخګر د سازمان غړيتوب ئې درلود له موږ سره زندانيان ول. دوی د لوړو زده کړو خاوندان، نيک چلنده او ټوکيان ول چې د زندان تنګ او زړه تنګوونکی چاپيريال ئې په خپلو ټوکو ټکالو او له خندا ډکو خبرو ماتاوهٔ. دوه تنه ئې د طب ډاکټران ول چې د کوټې دننه زندانيانو سره ئې په خپلو طبي مشورو مرسته کوله. بل ئې انجنير وو چې بـُولغـَيـَن ئې تخلص وو. ددهٔ سازماني ملګرو په ټوکو د «ب» توری په فتحې او د «غ» توری په کسرې تلفظ کاوهٔ.

د کوټې د اخګريانو په منځ کې ارواښاد انجنير نجيب الله سروري او معلم سعدالدين هم ول. دا دوه تنه په هغې شپږ کسيزې ډلې پورې تړلي ول چې ويل کــېـدل د اخګر د سازمان د مشرتابـهٔ غړي دي. خليل، قدوس، فدا او سلام هم د اخګر د سازمان د غړو په نامـهٔ قلمداد سوي ول. زه د اخګر د سازمان د مشرتابـهٔ له شړو واړو غړو سره په يوه کوټه کې وم. د قدوس، سلام، خليل او انجنير نجيب له مهربانيو تل منندوی يم[77].

زموږ کوټه له يوې نامتجانسي ګډولې څخه جوړه وه. بيلابيل اشخاص او کسان په بيلابيلو فکرونو او چارچلندونو تر يو چت لاندې راټول کړل سوي ول. له دې سره سره د کوټې چاپيريال ژوندی او له خوښيو ډک وو. د کوټې په منځنۍ برخه کې هاشم بيدهٔ کــېـدهٔ. ټولو به ورته د هاشم په نامـهٔ خطاب کاوهٔ. که چا د هاشم له نامـهٔ سره د «نر/ مرد» کلمه نـهٔ يادوله نو دهٔ به په اعتراض ورته ويل چې «نر هاشم ووايه!» نر هاشم عجيب خوی او طبيعت درلود. هر سهار له خوبه ناوخته پورته کـېـدهٔ، د خپل خوب پر تخت به په تروهٔ مخ کښـېـناست او له چا سره به ئې خبرې نــهٔ کولې. څو دقيقې وروسته به له چپرکټه راکوز سو، خپله کمپله به ئې تر ځان تاو کړه او په خښمـېـدلې څيرې به د پنجرې ګرد چاپيره وګرځـېـد. يوهٔ به ويل : (هاشم، ځان «سُر» کوي.) بل به په ټوکو ويل : «هاشم لکه ډيزلي موټر دی، ژر نـهٔ چالانيږي.» داسې ښکارېـدل چې ټول

---

[76] - پنجال های خونين «خونړۍ خيړې» - ليکوال - شفيع – ۱۲ پاڼه
[77] - ډېر پخوا مې يوهٔ دوست ته چې د اخګر د سازمان فعال او نامتو غړی وو ليک ليکلی وو او ددغـهٔ سازمان د اصلي نامـهٔ په هکله مې ورڅخه مالومات غوښتي ول. دغـهٔ ګران دوست په ځواب کې وليکل : «اخګر» د «سازمان مبارزه برای آزادي طبقـهٔ کارګر» د مرکزي ارګان نوم وو.

د هاشم «سُر کېدلو» ته سترګه په لاره ول. ددهٔ حرکات د زندانیانو تر منځ د تبصرو او ټوکو لامل ګرځېدل. په حقیقت کې هاشم د مجلس نُـقـُـل وو. ورپسې به په خپل چپرکټ کښېناست او یوازې به ئـې پلترۍ ووهلې او د سهار چای «چای او د سیلو یو ټوټه توره ډوډۍ» به ئـې وخښـهٔ. د سهار له چایه وروسته به په خوی سو. ورپسې لومړۍ اړیکه به ئـې له حشمت سره وه. حشمت په ونه دنګ، ښکلی ځوان وو او د کابل وو. کله چې په لاره به روان وو نو په لنګر به ګرځېدهٔ او خپل زور به ئـې د پښو په ګوتو اچاوهٔ. له دې ئـې انکار نـهٔ کاوهٔ چې له زندانه دباندې د خاد کارمند وو. کله به چې له چا سره ئـې خبرې کولې نو په ځلونو ځلونو به ئـې د «اینه / دادی» کلمه په کار وړله. نوموړي پر هاشم د «اینه» نوم ایښی وو. هاشم او حشمت به خپلې خبرې په سلام علیک او سهار په خیر نـهٔ پیلولې بلکه سلام او سهار په خیري ئـې «جیته پَرُو» وو. د «جیته پرو» په مانا یوازې هاشم او حشمت پوهېدل او بس. له همدې اسېته ئـې ویلې دي چې د کارغې په ژبې کارغـهٔ پوهېږي.
دوی به په همدې ډول له رموزه ډکې خبرې کولې او بیا به ئـې په کړس کړس وخندل. کله نا کله به ددوی د ټوکو ټکالو بزم پراخ سو او نورو کسانو به هم په کې برخه واخیستله. ددوی ټوکو ټکالو د زندان کرخته چاپېریال بدلاوهٔ او تنوع به ئـې رامنځته کوله. موږ به ویل چې که نر هاشم او ملګري ئـې په کوټه کې نـهٔ وي د کوټې کرختې او یو ډول والی به د ټولو زړونه ووهي.


یوه ورځ د زندان ادارې خبر ورکړ چې د کارتوتیک دفتر راغلی دی چې د زندانیانو شهرت په فورمه کې ثبت کړي. دا لومړی ځل وو چې ما دا کلمه اورېدله. زندانیان ئـې له کوټې دباندې وایستل. د کارتوتیک د دفتر کارمندانو په دالان کې ځای نیولی وو. په فورمه کې د زنداني د شهرت تر څنګ د هغـهٔ د مور او میرمنې نوم هم لیکل کېدهٔ. زندانیانو دا عمل یو ډول بې آبرويي ګڼله. یو شمیر خو د خپلو میندو او میرمنو نومونه ونـهٔ ویل او ډېریو په فورمه کې د «مستوره» (په پرده کې) کلمه درج کړله. زموږ په پنجرې کې څو تنه کندهاري حاجي صاحبان هم بندیان ول. هغوی نـهٔ یوازې د خپلو میندو او میرمنو نومونه په خولـهٔ رانـهٔ وړل بلکه د کارتوتیک له کارمندانو سره ئـې دعوا پیل کړه. په دغو حاجي صاحبانو کې یو تن چې تر نور مشر وو د کارتوتیک کارمندانو ته وویل: «تـهٔ خبر ئـې په کندهار د ښځو د نامـهٔ په خاطر څومره کسان وژل سوي دي؟» منظور ئـې د غوايي له کودتا وروسته د سواد د زده کړې کورسونه او د ښځو د نومونو د ثبت خبره وه.

څو ورځې تیرې سوې چې ددویم بلاک قوماندان مـحـمـد درود پنجرې ته ننوت. د کوټې څلورو خواوو ته ئـې ښـهٔ وکتل. فرمان ئـې ورکړ چې چپرکټونه دې منظم وي او هم دې د کوټې پاکي په پام کې ونیول سي. ورپسې ئـې خیرنې او ټوټې ټوټې کمپلې له کوټې ټولې کړلې او پر ځای ئـې نوې او پاکې کمپلې او روی جایګانې راوړلې. رنګه تلویزیون هم نصب سو. د زندانبان چلند هم بدل سو. زما لومړنی حدس دا وو چې کوم څوک له دباندې راځي او له زندانه لیدنه کوي. په سبا ئـې د خاد د دفتر یو کارمند راغی. زه او انجنیر نجیب ئـې له کوټې وایستلو او نیغ په نیغه ئـې کوټه قلفیو ته بوتلو. د انجنیر نجیب په زړهٔ کې وسواس ځای نیولی وو خو ما ورته تسل ورکړ. د پنجرې میلونه او دروازې ئـې په پریړو برستنو پوښلي ول. د کوټې دننه هوا د تنفس وړ نـهٔ وه. کله به چې بریښنا لاړه کوټه د ګور په شان تیارهٔ کېدله. ددباندې وتنګ اجازه مو نـهٔ درلودله. څو دقیقې وروسته د څنګ له کوټې څخه د انجنیر نجیب غږ پورته سو چې په چیغو چیغو ئـې ویل: «زه د زړهٔ ناروغي لرم. دلته اکسیجن لږ دی. زه مرم.»

زه د تجربې له مخې پوهېدم چې دا شرایط تر ډېر مهاله دوام نـهٔ کوي. يو دوه ځله نور هم د ځرخي پلــهٔ له زندانه د باندنيو ژورناليستانو د ليدني پر مهال ئـې زه کوټه قلفيو ته بيولی وم. د زندان اداري ويره درلوده چې که زه له کوم ژورناليست سره مخامخ سم ښايي افشاګري وکړم. له همدې کبله ول چې هغه زندانيان ئـې چې ورڅخه د افشاګری خطر متصور وو د ژورناليستانو د هيئـت له نظره پټول. ما او انجنير نجيب څو ورځې په تيارو کوټو کې تيرې کړې او بيرته هماغې پخوانۍ پنجرې ته راوستل سوو.

همدلته غواړم يادونه وکړم چې د باندنيو ژورناليستانو تر څنګ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کميسيون ځانګړي راپورټر پروفيسر فليکيس ارماکورا او د سرهٔ صليب د نړۍ والي کميټې استازو څو ځله د ځرخي پـلـهٔ له زندانه ليدنه وکړه[78]. د زندان اداري ما ته اجازه رانــهٔ کړه چې له دوی سره مخامخ سم. د ۱۹۹۱ز کال په پيل کې ول چې د سرهٔ صليب د نړۍ والي کميټې استازی په دې بريالی سو چې راسره وګوري او د خلق د ډيموکراتيک ګوند ددولت د پخواني سياسي زنداني په توګه زما شهرت په خپل دفتر کې ثبت کړي.

په دې کوټه کې تر ډېرې مودې پاتې نــهٔ سوم. د لومړي پوړ پنجرې ته وليږدول سوم. ددغو تبديليو دليل دا وو چې له زندانيانو سره اُنس ونــهٔ نيسم. د زندان د خاد دفتر له حماقته ډکې ادعاوې کولې چې ګنې زه په زندان کې «جلب و جذب» کوم او سياسي فعاليت لرم، حال دا چې هغوی پوهېدل چې دا ددوی خپل له وهمه ډک تورونه ول. په بنسټيز ډول خبره دا وه




[78] ـ له ځرخي پـلـهٔ څخه د باندنيو ژورناليستانو، فيليکس ارماکورا او د سرهٔ صليب د نړۍ کميټې د استازو ليدنه ددې لامل سوه چې د زندان او زنداني وضع تر يوې کچې سمون ومومي. د سرهٔ صليب نړۍ والي کميټې دوه ځله په زندانيانو باندې وچه ميوه، جامې، صابون، پټو او کمپلې وويشلې.

چې خاد له روڼ اندو او د مفکورې د خاوندانو له زندانیانو سره د عادي زندانیانو له اړیکي نیولو څخه تل ویره درلوده او که کله لیدل کېدل چې کوم روڼ اندي ته نور خلک درناوی کوي نو د هغهٔ نوم به ئې «جلب و جذب» کښېښود.

اصلي موخه د زنداني له وجود څخه د انسانیت د جوهر له منځه وړل او د هغهٔ د خپلواکه روحیې ماتول ول. د خلق ډیموکراتیک گوند دښمني له انسان او انسانیت سره وه. زنداني دې له زنداني سره ناسته ولاړه نهٔ کوي، دوست دې نهٔ سي، همدردي دې ونهٔ کړي، ودې نهٔ خاندي، ودې نهٔ ژاړي، د زړه خوالهٔ دې ونهٔ کړي، کتاب دې نهٔ لولي، موسیقي دې نهٔ اوري. جسم دې په بند کې، تفکر ئې په اسارت کې اسیر وي لنډه دا چې باید یوه ډبره سي، زړهٔ دې د کاڼي سي، دیو او دَد دې سي. د «خلق او پرچم» رژیم له هماغو لومړیو څخه په خلکو ډېره ونهٔ لگوله بلکه په برچې، زور، وژنو، او د «ستر شمالي گاونډي» په ټانک او توکل ئې ډېره ولگوله او هغه ئې خپل رسمي سیاست او همیشگي شعار وگرځاوهٔ. توتالیتر رژیمونه قاعدتاً له خلکو ویره لري. هغه چې آزاده او خپلواکه او مغرور دی دوی ته له ټیټیدلو یا ماتیدلو پرته بل انتخاب نهٔ لري. د زندان د استخباراتو د آمر دا اخطار له پرته دې بله کومه معنی لري؟ چې راته ویل ئې :« تهٔ خو مات نهٔ سوې، خو زه به دې اوس پاش پاش کړم.»

زندانبان «حق» درلود چې زنداني ته سپکې سپورې ووایي، وئې وهي، له کوټې څخه بلې کوټې ته ئې ولېږدوي، په تشناب یا هواکش کې ئې واچوي، انفرادي کوټې کې ئې واچوي، له دباندې تگ «لمر یا پیتاوي» څخه ئې بې برخې کړي، پایوازي ئې قطع کړي، د سر ویښتان او ږیره ئې ورته وچه وخریيي او په لس هاوو نور زشت او غیر انساني اعمال ورسره ترسره کړي. دا دومره جفا چې د زنداني په حق کې تر سره کیدله دا ددوی حق وو خو زنداني حق نهٔ درلود چې له کافه تر لامه پورې څه ووایي او دا ځکه چې د زندان د عدالت تلې یوه پله درلوده. هر څه د زندانبان په گټه او د زنداني په تاوان ول. زندانبان هم قانون جوړوونکی وو او د قانون پلي کوونکی، هم ئې گز کاوهٔ هم ئې اندازه نیوله، هم ئې پریکوله او هم ئې گنډل. هیڅ ډول مقرره نهٔ وه چې په هغې کې دې د زنداني حقوق او آزادئ تسجیل سوې وي. د زندان مقررات لکه سرزورې اوبهٔ وې چې پورته رواني وې. زنداني یوازې کولای سوای دا ټولې جفاگانې وزغمي خو د پایوازی قطع کول ئې ورته دوې ضربې درلودې. د زنداني کورنی د زندان د دروازې تر شا راتله او ورته ئې ویل چې «نهٔ سته». د «نهٔ سته» د کلمې په اوریدلو د زنداني پایواز په زړ ځله وژل کېدهٔ، او دا ډېر لوی جنایت وو، یو نابخښونکی جنایت.

د لومړي پوړ په پنجره کې یوازې له عبدالکبار سره مې آشنایي درلوده. عبدالکبار یو ساده او صادق ځوان وو، نوموړی د پروان ولایت د تتمدرې له اړوندو سیمو څخه وو. له هغهٔ سره زما ناسته پاڅه د تنظیمونو د یو شمیر کسانو رخه سخه او حسادت راوپاراوهٔ. که څه هم په ظاهر کې ئې کوم مخالفت نهٔ ښود خو په پټه ئې هغه منع کاوهٔ چې له ما سره نیږدې نهٔ سي. عبدالکبار به ویل : «فلاني سړي راته وویل چې له معلم نسیم څخه ځان لیرې ساته چې بې لارې کېږې.» نوموړی کاکه ډولی ځوان وو او ویل ئې چې که سل ټوټې هم سم تا به خوشي نهٔ کړم. نصیر یو بل ځوان وو چې د گلبدین د گوند په ارتباط زنداني سوی وو. نوموړي له زنداني کیدلو مخکې د کابل په پوهنتون کې درس لوستهٔ. جمال ناصر یو زغمناکه او نیک خصلته ځوان وو. دهٔ په خپله ویل چې : «له زنداني کیدلو مخکې د اردو د قطعاتو یو افسر وو. له روسانو او د روسانو له گوډاگي دولت سره زما مخالف باعث سو چې زندان مې ځای سي.»

زما ډيري تماسونه له جمال ناصر، نصير، کبار او دوه درې تنو نورو سره ول چې نومونه ئـې زما له ياده وتلي دي. سيد آغا او ورور ئـې له ما سره په دې کوټه کې ول. خلکو دغه دواړه ورونه د «سنګلاخو د سيدانو» په نامـهٔ پيژندل. يوه ورځ له دغو دواړو ورونه څخه يو تن ئـې ناروغ سو او د کوټې د غولي پر مخ ئـې کانګې وکړې. زندانيانو وخندل او هر چا خپل مخ واړاوهٔ. ما دا وضع ونـهٔ شو زغملای او مرستې ته مې ورودانګل او د کوټې غولی مې پاک کړ. له دې وروسته دغه دواړه ورونه راسره دوستان سول. معلم مبين د هرات د شينډنډ يو بل زنداني وو راسره. هغـهٔ ډېرې لږ خبرې کولې. ګوټ ناستی او شريف انسان وو.

زندان داسي يو ځای دی چې له انسان څخه د انتخاب حق اخلي. تـهٔ نـهٔ سي کولای په خپلې رضا او خوښې د خپلې کوټې ملګری او همبنده زنداني غوره کړې. هر څه چې راغلل درباندې راځي. ان ستا نـهٔ پخلا کېدونکي ميرځمن سره مجبوره دې چې ټول د يو بل تر څنګ کښيني او يو ځای سره ساه وباسي. بيلابيل انسانان په بيلابيلو افکارو، تربيتونو او اخلاقياتو تر يوهٔ چت لاندې راټوليږي. دا هغه جبر دی چې له منلو او ورسره جوړ راتللو پرته بله هيڅ د حل لاره نـهٔ لرې. د مولوي بلخي په وينا :

در قفس افتند زاغ و جُغد و باز          جُفت شد در حبس پاک و بی نماز

د کوټې په يوهٔ ګوټ کې دولت ته د تسليم شويو يوه څلور کسيزه ډله ناسته وه. له دوی سره دوه تنه خاديستان هم همکاسه سول. خلک ددوی له شور ماشوره تر پوزې رسيدلي ول. دوی نـهٔ شپه پـېـژندله نـهٔ ورځ. سرټکونو او شکايتونو هم کوم ځای نـــهٔ نيوهٔ. په همداسي حالت کې زندانبان يو ځواب درلود : «دا بندي خانه ده، د شاه قـُل کافي خو نـــهٔ ده.» تلويزيون د پنجشبې ماښامي فولکوريکه موسيقي خپروله. دغو شپږو واړو به ځانونه په ټلويزيون پورې لکه سريښ ونښلول چې د محلي سندرو له اوريدنګه خوندونه واخلي. کله نا کله داسي هم پـيـښـېـدل چې د فورلکوريکو سندرو د خپريدنګ پر مهال به بريښنا لاړه. افسوس د بيچاره برقي په ځان! د برقي ښځې، مور و خور او د دسترخوان ګرد چاپيره کسانو ته به ئـې په درځنونو سپکې سپورې ورولېږلې.

د خلق دډيموکراتيک ګوند د واکمنی پر مهال د څرخي پلـهٔ زندان زموږ په هېـوادوالو تر ستوني ډک وو. له هيڅ قوم، ټبر او مليت څخه به نـهٔ ول چې ورڅخه په سلهاوو تنه زنداني شوي نـــهٔ وي. ددې ګوند د واکمنی په لومړيو کلونو کې د سياسي زندانيانو «په يو څه پوه او آګاه کسان» شمير د پام وړ وو. کرار کرار ددوی شمير لږ سو. ډيري کسان هماغه عادي او بې سواده کسان ول چې زندانونو ته اچول کېدل. دا ځکه چې دښمن لا وختي د سياسي زندانيانو سرونه پريک کړي ول او يو شمير نورو هم تـېـښـتـه کړې وه. داسي کسان ئـې د سياسي فعاليتونو او د سياسي زنداني په تور زندان ته راوړل چې اصلاً د سياست په ټکي خبر نـــهٔ ول. پر دې سربيره، يو شمير خاديستان، افسران او دولتي سرتيري به هم د څرخي پـلـهٔ زندان ته لوېدل. ددوی په منځ کې د قتل، وسلوالو غلاوو او شوکو او د نورو جنايي جرايمو دوسيې هم راتللې. ددغو جرايمو عاملين اکثراً هغه لومپنان ول چې د خاد له دستګاه سره ئـې همکاري درلودله. په ياد مې راځي چې ددوی له منځه له يوهٔ تن څخه مې پوښتنه وکړه : «په کوم تنظيم پورې اړه لرې؟» زما په ځواب کې ئـې وويل : «زه په تنظيم منظيم پوره اړه نـــهٔ لرم. د خاد همکار وم. د پخته فروشي «مالوچ پلورنځي» په سيمه کې د يوې هټۍ د غلا په موضوع کې نيول سوی يم.» دغـهٔ ځوان

چې قره قلي خولۍ ئې پر سر ايښودله په لوړ غږ ئې چيغې وهلې چې : «زما فقره سرقت ده، زما ئې له سياسي زندان سره څه غرض؟» ددوی په باور هر زشت او شنيع عمل دوی ته په زړ ها وو ځله د سياست تر ډګره له شرافته ډک وو!

د کوټې د زندانيانو په منځ کې - مولوي شاه - چې ويل کېدل پاکستانی دی هم وو. دی عجيب سړی وو، خپل د سرويښتان او بږيره ئې نـهٔ لنډوله او خپلې حفظ الصحي ته ئې پام نـهٔ کاوهٔ، ځان ئې نـهٔ پريمينځـهٔ، لمونځ ئې نـهٔ کاوهٔ او د ملنګانو ادا ګانې ئې کولې. د ورځې له پلوه به بيدهٔ وو او د شپې له پلوه به ئې په لوړ غږ ذکر کاوهٔ. ددهٔ «ذکر جهر» زموږ له سترګو خوب تښتاوهٔ. ددهٔ د غلې کولو لپاره د زندانيانو هڅې بې ګټې وختلې. نـهٔ ئې د چا عذر ته غوږ نيوهٔ او نـهٔ ئې د چا اخطار او تهديد جدي نيوهٔ. پر دهٔ باندې فشار راوړل داسې ول لکه چې پر اورباندې پټرول وشيندې. په نيمه شپه کې به ئې ښـهٔ د زړهٔ له اخلاصه چيغې وهلې. «ذکر ربی جل الله، نور محـمـد صلی الله، لااله الاالله.» کله مې چې له دهٔ څخه پوښتنه کوله چې «مولوي شاه! ولې لمونځ نـهٔ کوې؟» دهٔ به تل يو ځواب راکاوهٔ. «حاجت نيشته.» بيا به مې پوښتنه وکړه چې «ولې حاجت نشته؟» ځواب به ئې راکړ چې : «دوی خور او مور نـهٔ پـېـژني.»

يوه ورځ ئې څو تنه زندانيان زموږ کوټې ته راوستل. ددوی له منځـهٔ يوهٔ ئې زما د چپرکټ تر څنګ ځای ونيو. دهٔ ويل چې سوداګر دی او د کابل د قلعـهٔ فتح الله په سيمه کې دفتر «تجارتخانه» لري. ځان ئې راسره نيږدې کړ. له خپلو باندنيو سفرونو څخه ئې يادونه وکړه، د غيرت، همت او ميړنتوب او همداسې نورې خبرې. څو ورځې وروسته د څارنوال الزام ليک ورته راغی او دهٔ ته ئې ورکړ. محکمې ته د حضور د چمتووالي لپاره سترګې په لاره وو. له تګ مخکې راته راغی او وئـې ويل : «دا پټو د نښې په توګه درسره وساته.» ما ئې وړانديز رد نـهٔ کړ. زوړ پټو وو. يوه ورځ ماسپښين مهال حاجي سوداګر له څو تنو زندانيانو سره ناست وو او د خپلې دوسيې په هکله ئې قصې کولې. هغوی ته ئې ويل : «زه د خاد مشران پـېـژنم. هغوی ما خلاصوي.» ددهٔ د خبرو تر دې برخې پورې مې کولای سوای ځيګر تر غاښ لاندې ونيسم او څه ونـهٔ وايم دا ځکه چې يو شمير خاديستان له ما سره په کوټه کې زندانيان ول. خو ددهٔ رزالت له دغو خبرو لا پورته وو. حاجي سوداګر په ځانګړي خوږوالي قصه کوله چې : « سوداګريزه راکړه ورکړه د خاد تر نظر لاندې تيرېږي. موږ مجبوره يو چې ورسره اړيکې ولرو. سوداګري ځانته طريقه لري. ددې لپاره چې کار مې مخکې لاړ سي. د مقاماتو نو «ناف» غوړوم، مـېـلمستياوې، شرابونه او کبابونه ورکوم او ان که اړتيا پيښه سي نو بدلمني «فاحشې» ور وړاندې کوم.» باور مې نـهٔ راتـهٔ چې يو څوک دې د ګټو په پار تر دې کچې ټيټ او سپک سي. ځان مې ملامتاوهٔ چې ولې مې دغـهٔ خيرن او مردار ته لاس ورکړ او ددهٔ پټو مې قبول کړ. ډېر ژر له ځنډ پرته مې پټو راپورته کړ او په قهر او خښم مې ورته پر مخ وويشت.

هوا کرار کرار سړه کـېـدله. د سړو موسم د زنداني رنځ او عذاب دوه ځله زياتاوهٔ. زنداني مجبور وو چې د خپل بدن په تودوخې خپل بستر تود کړي، په ځانګړې توګه په لومړي پوړ کې چې تر نورو پورتنيو پوړونو ډېر سوړ وو. د ژمي په موسم کې به د بتخاکو د دښتو زښت ډېر سارهٔ باد د زنداني په متروکو وهل سوی جسم لوټاوهٔ. ما دومره د ژمي له بدن سوځوونکي يخنۍ څخه وحشت درلود چې د ګور له عذابه نـهٔ ډارېـدم. که دا خبره تاسو ډوزه «اغراق» ګڼۍ نو د ژمي د سړښت سوځښت له زندان ليدلي او له هغـهٔ لا مخکې د زنداني له پايوازه وپوښتئ .

ددويم بلاک قوماندان به کله نا کله زندانيان شاقه کارونه ته بيول. ډېريو زندانيانو د بلاک د قوماندان دې غوښتنې ته ځکه مثبت ځواب وايـهٔ چې «زنداني له ديوالونو بې زاره دی» او غواړي – ان که د لنډ مهال لپاره هم وي – د قفس له څلورو ديوالونو دباندې ووځي. يوهٔ ورځ ئـې زموږ له کوټې څخه څو تنه کار ته بوتلل. ددوی په منځ کې عبدالکبار هم لاړ. د بيرته راتگ پر مهال ئـې له ځان سره يوه خيرنه برستن هم راوړه. کبار دا برستن ما ته راکړه. کله چې شپه سوه برستن مو تشناب ته يوړه، تر اوبو او تر لغتو لاندې مو ونيوله. لمر ته د وتلو يا پيتاوي ته د تللو پر مهال مو دباندې وايستله او په يوهٔ گوښې گوټ کې مو واچوله. دوه ورځې وروسته زه او کبار لاړو چې برستن راوړو. لمر لا نـهٔ وو لوېدلی. هوا کراره او نرمه وه. د زندان پلن ديوالونه او دنگ برجونه په مرگوني چوپتيا کې درېدلي ول. پهره دار ودريد او موږ وړاندې لاړو. د زندان له پاسه مرغان په بيړه تيرېدل. دديوال له هغې بلې غاړې د خرهٔ د عـرعـر غږ مو غوږ ته راغی. عبدالکبار چې يو کليوال ساده ځوان وو په خپل مظلومانه لحن وويل : «جان جان! په قرآن کې راغلي چې بې شکه په غږونو کې تر ټولو بد غږ د خرونو دی. د زندانيانو د زړونو تنگوالي ته گوره چې دا (تر ټولو بد غږ) لکه روح بخښونکي موسيقي د زنداني په رگونو کې ځغلي او خوشحالي ورته زيږوي!»

برستنه مې د رنگارنگ ټوکرانو په ټوټو پوښ کړه. د کوټې بنديانو راته تار او ستنـه راوړه او مرسته ئـې راسره وکړه. خوښ وم چې ژمی به مې ښـهٔ تود تير کړم. ماښام لا نـهٔ وو سوی چې سرتيری کوټې ته دننه راغی. زما نوم ئـې ولوست او دستور ئـې راکړ چې خپل کالي راټول کړم. د ماښام په داسې شيبې کې د زنداني ايستل «په ځانگړې توگه داسې زنداني چې محکوم په مرگ وي» هرو مرو د سړي په ذهن کې بدمرغـهٔ حس پاروي. د کوټې بندي دوستان له دې پيښې سخت غمجن سول. څو ورځې مخکې نصير د کوټې له يوهٔ بل بندي سره د کومې وړوکي مسـئـلې پر سر دعوا وکړه چې په پای کې دواړه سره خوابدي ول. ما په پام کې درلودل چې دوی دواړه سره پخلا کړم. نصير د هغـهٔ ځوان لاس ونيوهٔ او در دروازې خولې ته راغی وئـې ويل : «تا هيله درلوده چې موږ سره پخلا کړې، موږ هم ستا هيله پوره کوو.» دوی دواړو يو بل سره په غيږ کې ونيول او يو بل ئـې سره ښکل کړل.

کله چې له کوټې دباندې ووتلم پهره دار د برستنې د وړلو اجازه رانـهٔ کړه. هر څومره مې چې دليلونه ورسره وويل گټه ئـې ونـهٔ کړه. دا هاغه برستن وه چې ان يوه شپه مې ورلاندې تيره نـهٔ کړه. ښايي د لوستونکي له سترگو دا يوه وړوکې بې ارزښته هيله وي، خو زه به هيڅکله دا هيره نـهٔ کړم.

کله چې محافظ سرتيري د پوړيو «زينو» پر لور وخوځـېـد زړهٔ مې لږ څه آرام سو او له ځان سره مې وويل : بيا هم تبديلي! زه ئـې د دويم پوړ يوې بلې پنجرې ته بوتلم. زندانيان د جماعت د لمانځـهٔ په کتارونو کې درېدلي ول. د زندانيانو د شمير ډيروالی، د ځای تنگوالی، د پنجرې دننه تفت ـ جنه هوا او د تش بستر نشتوالي تل ناتار جوړاوهٔ. له نيکه مرغه د پنجرې/ کوټې يو شمير بنديان مې پېـژندل. ټول زما ليدلو ته راغلل او راته ئـې ښـهٔ راغلاست وويل. يوهٔ زړهٔ سواندي ځوان په ډېر ټينگار خپل د خوب بستر را ته خالي کړ او په خپله د غولي پر مخ بيدهٔ سو. دوه درې ورځې وروسته ئـې څو تنه محکمې ته بوتلل او زه د بسترې څښتن سوم.

هغه کسان مي چي نـهٔ دي هير سوي يو ئـي حمدالله د مولوي تره خیل زوی وو چي د حزب اسلامي غړیتوب ئـي درلود. که څه هم خلکو ورپسي لمونځ کاوهٔ خو ډیریو د حمدالله کړهٔ وړهٔ او اخلاق نـهٔ خوښول. دویم تن حیدر نومیدهٔ او ویل کیدل چي د حزب اسلامي کوم سرګروپ دی. له بغلان «یا کندز څخه» پهلوان عیسی چي له ارواښاد عبدالمجید کلکاني سره ئـي د آشنایيی ادعا کوله، نوموړی هډور سړی وو، چهار خانه دستمال به ئـي پر خپل سر تاواواهٔ او د کاکه ګانو په ډول به پر لاره روان وو. ماما عبدالودود او خوریونه ئـي «د یوهٔ نوم ئـي بهأالدین وو» چي د بګرام د هوايي ډګر په شاو خوا کي ئـي ژوند کاوهٔ هم په دې پنجرې کي ول. عتیق بیقرار چي مجید آغا ئـي په درناوي یاداوهٔ او ورور ئـي نجیب، پلار ئـي علاقه دار صاحب او د ترهٔ زوی ئـي فضل «د سردار زوی چي په سردارِ مهتاب قلعه مشهور وو» هم په دې کوټه کي ول. کور ئـي د کابل د مهتاب قلعي د قطعي د دروازې مخامخ وو. علاقه دار صاحب دروند او د وقار څښتن سړی وو، مجید آغا ئـي یاداوهٔ او د ځان او هغـهٔ تر منځ ئـي ددوستۍ قصي کولې. نوموړي قصه کوله چي «ما د کابل په ولایت کي دنده درلوده. د مجید آغا له اطلاع پرته دفتر ته ننوتلم. د هغـهٔ په لیدلو مي رنګ تک سپین واوښت. نوموړي مخفي ژوند درلود. ډاریـدم چي څوک ئـي ونــهٔ پیژني. ډېر آرامه او پر ځان ډاډمن وو. راته ئـي وویل : «یو دوست مي دی دوسیه لري. ستاسو مرستي ته اړتیا لري. زه په خپله راغلم چي تاسو ووینم او هم د دوسیي په هکله درسره سلا مشوره وکړم.» لازمه مي ونـهٔ ګڼله چي ډېر په دفتر کي پاتي سي. د ولایت له انګړه دباندې ځایه پورې مي بدرګه کړ.»

علاقه دار او دوه تنه وریرونه ئـي د جمعیت اسلامي په ارتباط زنداني سوي ول. یو تن خطاط هم ورسره همدوسیه وو چي نوم ئـي زما له یاده وتلی دی. څو ورځي وروسته استاد معراج الدین «د ساما غړی» او استاد قدوس «د اخګر د سازمان غړی» هم له موږ سره یو ځای سول. شکرالله مشهور په قوماندان شـُکي د کوهدامن د کلکانو اوسیـدونکی د ګلبدین د ګوند غړی ئـي زموږ کوټي ته راوستل. نوموړي د مولوي تره خیل له زوی سره ناسته ولاړه درلوده. لیدل کیدل چي دوی له یو بل سره له پخوا پیژندګلوي لري. د کوټي یو بل تن بندي سید ابراهیم د ترکمن له درې څخه وو چي د قرآن قاري وو. د کوټي له زندانیانو سره ئـي له مهربانۍ ډک چلند درلود. له ځان سره مي وویل چي ولې د دغـهٔ سړي له مالوماتو ګټه وانخلم. وړاندیز مي ورته وکړ چي له محضر څخه ئـي د قرآن تجوید زده کړم. زما وړاندیز ئـي په ورین تندي ومانـهٔ. د تجوید تیوري ئـي په وړوکي پنسل د کارتن او سیګریټو د کاغذونو پر مخونو راته لیکله او له یاده کوله مي. ورپسي د قرائـت وار راغی. قرائـت مي کاوهٔ او قاري صاحب راته لارښوونه کوله. ما د قاري سید ابراهیم له محضر څخه د قرآن تجوید زده کړ. که ژوندی وي عمر دې اوږد او که مړ وي جنت دې ځای وي!

لوی قفسونه کټ مټ لکه د بنجاره د هټۍ په شان دي. بیلابیل انسانان په بیلابیلو افکارو، عاداتو، سلیقو او ان متضادو هغو د یوبل تر څنګ ژوند کوي. په دې منځ کي د ځینو عادات او رفتار خاص او نمونه وي. یو له دغو نمونه کرکترونو څخه د غلام په نامـهٔ یو څوک وو چي د کاپیسا ولایت د تګاب له اړوندو سیمو څخه وو. له چا سره ئـي خبرې نــهٔ کولې، کله به چي سرتیري د پایوازی په ورځ ددهٔ نوم ولوست، دی به غلی ناست وو ځواب ئـي نــهٔ ورکاوهٔ. زندانیانو به ددهٔ جامي له سرتیري څخه واخیستي. ځان ئـي نــهٔ پریمینځـهٔ، خپلي جامي ئـي نــهٔ بدلولې له هغې ورځي ما چي دی لیدلی وو بیا د لیدلو تر وروستۍ ورځي پورې هماغه یوه جوړه جامي ئـي په ځان کي وې. لاس به ئـي له لستوني دباندې راوایستـهٔ، اوږه به ئـي پورته کړه او تنه به ئـي یوې خواته کږه کړه. خپله کینه پښه به ئـي شله نیوله او په خپلي ښۍ پښي پسي به ئـي ښښوله. د

ټولې پنجرې ګرد چاپېره به ورو ورو روان وو او تر ژبې لاندې به ئې کوم شی زمزمه کول. کله به چې زما د چپرکټ له څنګه تېرېدۀ نیغ به ئې راته وکتل او خپل تندی به ئې تریو کړ. له دویمې او درېمې دَروې وروسته به زما د چپرکټ تر څنګ ودرېد او کرار به ئې راڅخه وپوښتل : «دا تا څومره وخت تیر کړی دی؟» ورته به مې وویل: «اووۀ کاله». غلام به څه ونـۀ ویل او بیا به په میکز میکز وخوځېد. هر دور به ئې چې بشپړ کړ بیا به ئې هماغه پوښتنه تکراروله او هماغه یو ځواب به ئې اورېدۀ.

د زندانیانو یوه بله ډله ئې زموږ کوټې ته راوړه. ټول مې له نظره تېر کړل. ددوی په منځ کې انعام الدین چې د خپلوۍ پیوند مې ورسره درلود هم په کتار کې درېدلی وو. نیږدې ورغلم. په تعجب ئې راته وکتل او وئې پوښتلم : «څه وکړو؟» موخه ئې دا وه چې سلام علیکي له یو بل سره وکړو یا د احتیاط له کبله وتلې خبره ده. دی مې په غیږ کې ونیوۀ او له ځان سره مې بوت. ددۀ حضور راته دا امکان برابر کړ چې د خپلې کورنۍ او خپلوانو د سلامتې احوال ورڅخه واخلم. انعام الدین له کورنیو څخه زیات مالومات نـۀ درلودل. ددۀ د دوسیې په هکله مې ورڅخه پوښتنه وکړه. ټول داستان ئې راته ووایـۀ. ورته مې وویل : «کومه خبره نـۀ ده آزادیږې.» دۀ تشویش درلود چې ګڼې اعدام به سي. ورته مې وویل چې «که همدا دې اتهام وي نـۀ یوازې دا چې نـۀ اعدامیږې بلکه آزادیږې.» که ګورم چې د خاد مستنطقینو د تحقیق پر مهال سخت ویرولی وو. پر دۀ باندې ډېر فشار او له اعدامه ویرول ددۀ رواني حالت له پریښانۍ سره مخامخ کړی وو. دۀ ته مې تسل ورکړ. خو زما تسل چندانې اغیز ونـۀ کړ. وئې ویل : «یو څه پیسې لرم، دا پیسې درسره وساته.» ورته مې وویل : «ولې ئې تـۀ په خپله نـۀ ساتې؟» ویل ئې چې : «ښایي وبه وژل سم.» ورته مې کړل چې «اصلاً د اعدام په هکله فکر هم مـۀ کوه. خپلې پیسې دې له ځان سره وساته.» شپه تیره سوه. سبا چې د سهار لمونځ ولوستل سو، انعام الدین راته راغی او یوه وړوکې بغچه ئې راته راکړه. په بغچه کې دننه د پینځوسو او سلو افغانیو څو بنډله ئې تاو کړي ول. ورته مې وویل : «په زندان کې دننه خو دومره پیسو ته اجازه نـۀ ورکوي، خبره څه ده؟» د پیسو د سرګذشت داستان ئې راته ووایـۀ. د پیسو د ساتلو لپاره مې مناسب ځای نـۀ درلود. هغه مې په یوۀ کاغذې کارتن کې ځای پر ځای کړې او تر چپرکټ لاندې مې کښېښودلې. په لنډ وخت کې د انعام الدین برخلیک وټاکل سو او په لنډ مهالي حبس محکوم سو. یوه اونۍ وروسته ئې کورنۍ د ملاقاتۍ لپاره راغله. پیسې مې ورته ور وسپارلې چې خپلې کورنۍ ته ئې وسپاري. انعام الدین ډېر ژر له زندانه خلاص سو خو د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د شکنجو او اعدام خپسکۍ «کابوس» خوشې نـۀ کړ. په جوړ او سالمه ځان زنداني سو خو خوار او زار او ناروغه له زندانه ووت. ددۀ د کورنۍ د یوۀ غړي په وینا، نوموړي له زندانه له خوشې کېدلو وروسته خپل رواني تعادل له لاسه ورکړی وو. د شپې له پلوه خپسکې، ناروغي او روحي نا آرامۍ هغه ډالۍ وه چې نوموړي د څرخي پلـۀ له زندانه له ځان سره دباندې یووړه.

زموږ د لمر نیولو یا پیټاوي وار وو. په انګړې دننه ګرځـېدلو. سرتیري زما نوم ولوست. زندانیان راغلل او خدای په اماني ئې راسره وکړه. کله چې په اعدام محکوم د یوۀ زنداني نوم اخیستل کېدۀ نو زندانیان به راتلل او خدای په اماني به ئې ورسره کوله. د هغـۀ چا چې نوم اخیستل کېږي د هغـۀ د روحي حالت توضیح ته اړتیا نـۀ لري. شک نـۀ سته چې داسې سړي ته ددۀ د لاسونو د تړل کېدلو منظره، خندق، د اعدام ډلګۍ، پولیګون او په وینو کې د تپیدلو منظره په نظر ورځي. دالان ته ننوتلم. د خاد د دفتر کارمند غفور ولاړ وو. زه ئې کوټې ته بوتلم. فکر مې کاوۀ خبره مې نوره خلاصه ده. د

دروازې مخې ته ئـې ودرولم. له سره تر پايه ئـې و پلټلم. بيا ئـې پوښتنه وکړه : «چېرکټ دې کوم دی؟» د لاس په اشاره مې چېرکټ وروښود. دی په خپله لاړ نالیچه، او کمپله او د چېرکټ تختې ئـې ښې په ځير وپلټلې. بيا ئـې وويل : «د کالیو بکس دې راوښيه.» ورته مې وويل : «بکس نـهٔ لرم.» وئـې پوښتلم : «کالي دې چېرې پردې؟» ورته مې وويل : «ددغـهٔ کارتن په منځ کې.» زما جامې او پاتې نور مختصر شيان مې چې درلودل ټول ئـې د غولي پر مخ وغورځول او دانه دانه ئـې له نظره تیر کړل. زړهٔ مې ورته تنگ سو. ورته مې وويل : «څه شی لټوې چې زه ئـې دروښييم.» وئـې ويل : «زه د زندان مأمورېم. دا حق لرم چې د يوهٔ زنداني کالي ولټوم.» ورته مې وويل : «سمه ده خو په دې کار سره دې څه شي پيدا کړل.» وئـې ويل : «راپور لرم چې تـهٔ پنسل قلم لرې.» منظور ئـې هماغه پنسل وو چې د قرآن د تجويد درسونه مې ورباندې يادداشت کول. د پنسل د قلم دا ټوټه د لاس د گوتو د دوه وو بندونو په اوږد والي اوږد وو. دا دومره ونيسه او هله کش او فش ټول د يوهٔ څلور سانتي متري قلم د «مصادرې» لپاره! زه له هغو بې خبرانو نـهٔ وم چې د حافظ ديوان او پنسل د خپلو کاليو په منځ کې کښېږدم. پوهيدم چې په مجردې چې تلاشي وسي هم د حافظ کتاب لوټيږي او هم زه جزايي کيږم. د خاد کارمند وويل : «کالي دې د غولي له مخې ټول کړه.» ورته مې وويل : « چا چې تيت کړي هغه دې ټول کړي.» غفور په قهر ژلي ژبې وويل : «ډېر تيز روان يې. ما چې وويل ټول ئـې کړه نو ټول ټول ئـې کړه.» موږ دواړه د تيتو شويو کاليو پر سر ولاړ وو. دښمنی دوام درلود. غفور خپلي شا و خوا ته وکتل په ملا کړوپ سو او زما يو شی ئـې د ځمکې له مخې پورته او دننه په کارتن کې ئـې واچاوهٔ. وئـې ويل : «نور ئـې تـهٔ ټول کړه.» له کوټې دباندې ووت او ما خپل کالي ټول کړل.

دا لومړی ځل نـهٔ وو چې زما کالي ئـې لټول. د زندان اداري بشپړ اختيار درلود چې کوټې تلاشي کړي. افسران او سرتيري به يو ناڅاپه کوټې ته دننه راغلل او زندانيان به ئـې له کوټې دباندې وايستل. د زندانيانو پر وړاندې د «عملياتي ډلې» چلند ډېر زشت او غير انساني وو. د زنداني جامې او شيان به ئـې دانه په دانه ولټول. له تار او ستنې نيولې تر ناخن گير، قلم، کاغذ، پنسل، کتاب، وړوکي بياتې، د مخ هينداره، له درو سوو افغانيو پورته پيسې، د شطرنج دانې چې معمولاً زندانيانو د ډوډۍ له مغز څخه جوړولې، مجلې...... ټول به ئـې مصادره کول. د تلاشۍ پر مهال که کوم گران بيه شی به ئـې لاس ته ورتـهٔ نو خپلو جيبونو ته به ئــې اچول.

اووهٔ کاله مې کيدل چې د زندان د ميلونو تر شا ناست وم. اووهٔ کاله بې سرنوشته، اووهٔ کاله د زندانبان ځور، د جلاد تر تيغ لاندې اووهٔ کاله انتظار، اووهٔ کاله د کورنۍ له تودې غيږې او دوستانو ليرې والی. تر دې مودې پورې مې خپله مور، ميرمن او بچيان يوازې او يوازې په خوب کې ليدلي ول. د بل هر زنداني په شان به مې د کورنۍ د غړو د ديدن خيالات د خپل ذهن په ديگي کې پخول. په کومه ژبه درته ووايم چې د بنديانو د ملاقاتيو په ورځو به پر ما څه تيريدل؟

***

يوه ورځ ئـې ددويم بلاک قوماندانۍ ته وغوښتلم. د قوماندانۍ افسر يوسف يوازې ناست وو. نوموړي له زندانيانو سره سختي نـهٔ کوله او د زندان د کارمندانو په منځ کې دی تر نورو ښـهٔ وو. ما د هيڅ زنداني پر وړاندې ددهٔ کوم خښمناکه چلند نـهٔ وو ليدلی. په آرام لحن ئـې راته وويل : «که د يوهٔ ښـهٔ خبر زيری درکړم څه شيريني به راکړې؟» په منظور ئـې پوه نـهٔ سوم. پوښتنه مې ورڅخه وکړه : «لومړی راته ووايه چې څه خبره ده؟» وئـې ويل : «راتلونکې اونۍ کې ملاقاتي لرې.» باور مې

نــهٔ کیدهٔ. ومي ویل : «اصله خبره راته وکړه.» وئــي ویل : «جدي درته وایم. کورنی دې د ملاقاتی امر اخیستی دی.» ومي ویل : «مکتوب راوښیه.» د میز جعبه ئــي خلاصه کړه او مکتوب ئــي راوایست. د مکتوب هاغه ځای ئــي راوښود چې د ملاقاتی امر پرې لیکل سوی وو. ومي ویل : «که ژوند وو، هر څه دې چې وغوښتل شیریني به ئــي درکړم.» ما ته داسي پیښه راپیښیدله چې حقیقت کیدل ئــي ما ناشوني ګڼل. بیرته پنجرې ته راغلم. زنداني دوستانو راڅخه پوښتنه وکړ. ورته مي وویل : « د قومانداني د وعدې پر بنسټ راتلونکي اونی ملاقاتي لرم.» زندانیانو د سترګو روښانیدل راکړل او خوشحالي ئــي وکړه. خو ما پر دغو وعدو چنداني اعتماد نــهٔ درلود. د زندان د خاد آمریت د قوماندانی په پرتلې ډېر صلاحیت درلود. ډیري وختونه ول چې د زندان خاد، د قوماندانی دساتیر او پریکړې تر پښو لاندې کولې. له همدې کبله د قوماندانی او د اطلاعاتو د شعبې تر منځ یو ډول اختلاف لیدل کیدهٔ. له ځان سره مي وویل چې د اطلاعاتو شعبه به ددې کار مخه ونیسي. راتلونکي ورځې مي د ویرې او هیلې تر منځ په سختی تیرې کړې. ثانیه په ثانیه مي شمیرله. وخت په ډېر سوکه توب تیریدهٔ او هره ثانیه راته یو کال شوی وو. وروستنی شپه هغه شپه وه چې د یلدا په سلهاوو شپې به ئــي په دوړه هم ونــهٔ رسیږي. خوب مي له سترګو تښتیدلی وو. کرۍ شپه مي بانــهٔ پر بڼو کښېـنـښودل. هیله او ویره دواړه له یو بل سره لاس او ګریوان ول. ماشوم زړګي مي یوه شیبه کرار نــهٔ درلود. له ځان سره مي ویل ښایي د مور سترګي مي له لید څخه پاتي شوې وې. میرمن به مي په څه وضعې کي وي. زامن به مي وپیژنم؟... لنډه دا چې د ملاقاتی ورځ راورسیده. زنداني دوستانو چمتووالی نیوهٔ. چا راته د چای ترموز راوړ، چا د شیرینی پاکټ، چا راته څو روپی راکړې چې خپلو بچیانو ته ئــي ورکړم. حیدر راته نیږدې راغی او یو لوی روی پاک ئــي د پاکټ له منځه راوایست او په لاس کي ئــي راکړ. ددهٔ دا خبره مي هیڅکله نــهٔ هیریږي چې وئــي ویل : «استاد جانه! دغه ځان پاوونکي تیوَل ئــي ما ته له کالــهٔ راالیږلی دی. وګوره چې له پاکټه لا دباندې نــهٔ دی ایستل سوی. همدغه ګک شی واخله او زما له طرفه ئــي خپلو بچیانو ته ورکړه.»

بد حال مي درلود؛ له یوې خوا هیله او انتظار، له بلې خوا اضطراب او بې قراري. د «کیږي» او «نــهٔ کیږي» تر منځ مي لاس او پښې اچولې. دواړه سترګي مي دروازې ته نیولې وې. هوښ او غوږ مي د دروازې د غږ پرانیستلو ته نیولي ول. په پای کي دروازه پرانیستل سوه. سرتیري زما نوم ولوست. په بیړه مي ورمنډه کړه. وئــي ویل : «راځه چې ملاقاتي لرې.» زړهٔ په شدت درَزیدهٔ. لاس او پښې مي ورک کړي ول. له پوړیو کښته لاړم. د لومړي پوړ په دالان کي محمد درود د دویم بلاک قوماندان ولاړ وو. له ما سره ئــي خبرې ونــهٔ کړې. سرتیري ته ئــي دستور ورکړ. سرتیري راته اشارت وکړ چې ورپسي ورسم. د وتنګ د دروازې څنګ ته ودریدم. آسمان تک شین وو او لمر په ټول سخاوت پلوشې خپرولې. د ملاقاتي ځای د راهرونو او چمن تر منځ په چمن کي په پام کي نیول شوی وو. زندانیان له خپلو کورنیو سره په خبرو بوخت ول. سترګو مي هرې خوا ته لاره لټوله او خپل د زړهٔ ټوټې مي لټولې. ومي لیدل چې څو تنه په چیغو چیغو زما خواته په منډو منډو راروان دي. میرمن مي، مور مي او د کورنۍ پاتي غړي مي. یوازې ورور مي الحاج ډګروال سرورشاه «د محمد شاه فرهود پلار» ځای پر ځای دربدلی وو. د هغــهٔ زړهٔ هم تاب رانــهٔ وړ او رامنډه ئــي کړه. هغه مهربانه او زړهٔ سواندی انسان وو. مورې دواړه نــهٔ پوهېدلو چې دا مو وروستی دیدن دی. په بل ملاقات کي مي خپل د دهٔ او د بل ورور د دواړو د شهادتونو خبر واورید. ارواحې دې ښادې وئ! ټول راپورې نښتي ول. چا ژړل او چا مي په شکرونو شکرونو سر او مخ ښکلول. ما خپل ځان د عاطفې په ګڼه ګونه کي ورک کړی وو. نــهٔ مي خبره په خولــهٔ راتله او نــهٔ مي سترګو کي اوښکه.

سرتیری زموږ تر څنګ ولاړ وو. سرتیری مجبور سو چي ووایي : «ژر سئ وخت مو تیریږي. خپل ټاکلي ځای ته لاړ سئ.» ټول د قوماندانی له پلوه ټاکل سوي ځای ته لاړو. د زندان د مقرراتو او دود پر بنسټ سرتیری زموږ تر څنګ کښېناست چي زموږ خبري واوري. مور مي، خویندو مي، میرمن مي، ورور مي او نورو زما د روغتیا پوښتنه وکړه. ژبه مي بنده سوې وه. نـهٔ پوهېدم څه ووایم او خبره له کومه ځایه پیل کړم. ومي ویل : «څو شیبي صبر وکړئ چي حال مي لږ سم سي.» خپل زامن مي ونـهٔ پېژندل. اووهٔ کاله بیلتون او لیري والی خو لنډ وخت نـهٔ دی. زما د کورنی د ټولو غړو رنګونه ژیړ او خوار و زار په نظر راتلل. ددوی له روزګاره خو مي اصلاً پوښتنه ونــهٔ کړه چي څه ورباندې تیریږي. ځکه د پوښتني ځای نور نــهٔ وو پاتي، او پوهېدم چي په کومو مصیبتونو لاس او ګریوان دي.

زه له داسي یوهٔ واقعیت سره مخامخ سوی وم چي یوازي زما په خوب او خیال کي ئـي ځای درلود. د کورنی د غړو د هر یوهٔ پر سر او مخونو مي لاس تیراوهٔ چي حقیقي وجود ئـي لمس کړم. مورکۍ مي په سلګیو سلګیو ژړل او لپه لپه اوښکي ئـي تویولي. هر څومره مي چي نازوله ګټه ئـي نــهٔ کوله. له خپل ستوني څخه غړوپ کړی بغض ئـي چاودلی وو. هغې غوښتل د خپلو غمونو دروند بار له سترګو د مرغلرو په وَرَولو پر ځمکه کښېـږدي.داسي سلګی ئـي وهلې چي د نورو پایوازانو پام ئـي ځانته راواړاوهٔ. د ټولو سترګي دې ته پاتي وې. هغو زندانیانو چي زه ئـي پېژندلم زما له غمونو ډک داستان ئـي خپلو کورنیو ته شرحه کړ. هغوی چي موږ ته نیږدې ناست ول د صدق او سپیڅلتیا له مخې ئـي ما ته او کورنی ته مي د سترګو روښانیدل ورکړل. د ځان او خپلي کورنی لپاره ددغو درندو کورنیو د ترحم، شفقت او ملاتړ حس به هیڅکله هیر نــهٔ کړم. کله مي چي له خپلي میرمني څخه پوښتنه وکړه چي څنګه ئـي زما د ملاقاتی امر واخیست، سترګي ئـي له اوښکو ډکي سوې، شونډې ئـي په ریږدیدو سوې. ددې حالت په خپله ګواهي ورکوله چي له اوو غرونو تیره سوې ده. له خپلي پوښتني پښیمانه سوم. ومي ویل : «هرو مرو دې ډېره سختي لیدلې ده؟» سوړ اسویلی ئـي وایست او وئـي ویل : «هیڅ پوښتنه مه کوه، د خدایتعالی یو قیامت مي ولید. په کومي دروازې چي نـهٔ وه، نـهٔ یم تللې، کوم دفتر ته به نـهٔ وه چي عریضه مي نـهٔ ده وړاندې کړې. هر چیرته چي تللم یوازي یوه خبره ئـي راته کوله. (خورکۍ ځه ورځه په خپل کار پسي دې لاړه سه، میړهٔ دې اعدام سوی دی، تـهٔ لا تر اوسه ځوانه ئـې، لاړه سه یو بل میړهٔ وکړه.» کله مي چي دا خبري اورېدلې نـېږدې وو زړهٔ مي وچوي. حیرانه پاتي وم چي دا څه مصیبت دی. ناهیلي کیدم او په ژړا او لمدو سترګو به بیرته کورته راغلم. تر یوې مودې به مي صبر وکړ، بیا به له خپلوانو کوم یو راغی ویل به ئـي : (ولي غلي ناسته ئـې؟ لاړه سه یوه عریضه ورکړه). چا به ویل جنرال ګل آغا ته عریضه وکړه، چا به ویل یعقوبي ټولو ته امر ورکوي، لاړه سه یوه عریضه ورکړه. انجنیر لعل آغا ته ورغلم[79] او ورته مي وویل چي د یعقوبي په نامــهٔ یوه عریضه راته ولیکه. هغـهٔ عریضه ولیکله او تر دروازې ئـي بوتلم خو خپله نیږدې لاړ نـهٔ سو. ټولو خلکو خپلي عریضي یوهٔ تن ته چي دننه په غرفې کي ناست وو ورکولي. ما هم خپله عریضه هماغـهٔ سړي ته ورکړه. ما ته ئـي وویل دوه ورځي وروسته راسه. دوه ورځي چي تیري سوې، لاړم او له هماغي غرفي څخه مي عریضه واخیستله. تر عریضي لاندې یعقوبي د ملاقاتی امر ورکړی وو. عریضه مي بلي شعبي ته یوړه. نـهٔ پوهیږم چي محکمه وه یا څارنوالي یا کوم بل ځای. د میز تر شا یو ځوان ناست وو. عریضه مي ولوستله او بل دفتر ته لاړ. کله چي بیرته راغی وئـي ویل : «میړهٔ دې اعدام سوی دی، خاوري ئـي باد وړي

---

[79] - منظور زما ورارهٔ حبیب جان، د محمد شاه فرهود ورور دی. هغـهٔ ته به ئـي په کالــهٔ کي لعل آغا ویل.

دي، تـهٔ بې ځایه زحمت باسې. که زما خبره منې ځان مـهٔ لالهاندوه.» کله مې چې دا ځواب واورېد ژړا واخیستم. په ځان کې مې اور بل سو. ورته مې وویل که مړه هم سم خپله خبره کوم. په قهر او شور ماشور مې وویل : «تاسو شرم نـهٔ لرئ، نـهٔ حیا لرئ او نـهٔ ناموس. خاوند مې ژوندی دی خو تاسو وایئ چې اعدام سوی دی. زه د پایوازی په ورځو ورته کالي وروړم او خیرن کالي ئـې اخلم. ځوان چورتي سو او وئـې ویل : «خورې! که ستا خبره رښتیا وي نو تـهٔ په نړی کې تر ټولو نیکمرغه ښځه ئـې.» هماغه وو چې د عریضې کار ئـې خلاص کړ.»

د وخت او زمان تیرېدل کله سوکه وي کله چټک. دا ځل په چټکی تیر سو. هر زنداني ته د ملاقات یو ساعت وخت په پام کې نیول سوی وو. خولـې مو لا خلاصه کړې نـهٔ وې چې دا یو ساعت تیر سو. ویل کیدونکې خبرې ناویلې پاتې سوې، د زړهٔ غوټې هماغسې تړلې او پوښتـنـې بې ځوابه. د اوو کالو د بیلتانـهٔ قصه ډېره اوږده قصه ده چې په شپیتو دقیقو کې نـهٔ خلاصیږي. (شب را چه گنه حدیث ما بود دراز – د شپې گناه نـهٔ ده، زموږ خبرې اوږدې دي.)

سرتیري د وخت د جیرې د پای خبر ورکړ. په بیړه مې له ټولو سره خدای په امانې وکړه. کورنی ته مې وویل چې لومړی دې دوی د ملاقاتې له سیمې څخه لاړ سي. مورکی مې دا خبره ونـهٔ منله او وئـې ویل : « نـه زویه، لومړی ته لاړ سه موږ یو. کله چې په لاره ځې غواړم د شا تخته دې وگورم.» د بلاک دروازې ته نیږدې مې سر تاو کړ. د کورنی غړي مې ولاړ ول او په هردم شهیدی ئـې راته کتل. کله چې کوټې ته ننوتلم اکثریت زندانیان د کوټې د دروازې مخ ته راغلل او سترگې روښانیدل ئـې راکړل او مخ مې راته ښکل کړ. د زندانیانو له مخونو د خوښی بریښنا راوتله. ټول راته خوشحاله ول او زما په خوښی کې شریک ول. دا د میلونو تر شا د یوهٔ انسان مینه ده چې خپل بل همبند ته ئـې ښیي. هماغسې چې خوښی د انسانانو تر منځ نیږدې والی رامنځته کوي گډ غمونه هم ددوستی او پیوستون لامل گرځي.

۱۳۷۳ل کال وو چې د مزار شریف په ښار کې حضرت علي بن ابي طالب ته د منسوبې جادې له څنگه یریدلم. ددویم بلاک د قومندانی افسر یوسف مې ولید چې پر بایسکل سپور زما له څنگه تیریږي. غږ مې ورباندې وکړ. له بایسکله کوز سو. په آسانی ئـې وپیژندلم. یو بل مو سره په غیږ کې ونیول او روغبړ مو وکړ. ورته مې وویل : «هغه وعده مې چې درسره کړې وه هغه لا تر اوسه پر خپل ځای ده، ووایه څه شي شیریني غواړې؟» وئـې خنل او وئـې ویل : «همدا چې تا آزاد وینم دا په خپله شیریني ده.»

# د لومړي ټوک پای

نسیم رهرو

د ۲۰۱۴ ز کال د اکتوبر لومړی/د ۱۳۹۳ل کال د تلې نهمه

# ضمیمه

## له باندنیو هېـوادونو سره د ساما د اړیکو د اثبات په خاطر
## «اختصاصي انقلابي محکمې» وړاندې شوی سند

بسم الله الرحمن الرحیم

### په ډیلي کې د ناپېیلو هېـوادونو کنفرانس ته
### د سازمان آزادیبخش مردم افغانستان سرخلاصی لیک

تاسو پتمن ورونه چې د میلونونو انسانانو د برخلیک مسؤولیت پر غاړه لرئ، مخکې له دې چې د یوه اسیر او یرغمل شوي ملت پیام ته پاملرنه وکړئ، له لیرې لارې خو د نیږدې زړونو، او د وینو او اور له منځه زمونږ تاوده سلامونه ومنئ.

د ناپېیلو هېـوادونو د غورځنګ د بنسټ ایښودلو له غونډې دا دی د پیړۍ یوه ربع تیرېږي. بشري وجدان ته د ټکان په ورکولو د هغو انسانو چیغې او نعرې لا تر اوسه د تأریخ په غوږونو کې انګازې خپروي چې د ملي آزادۍ او د نړۍ وال عدالت د پلي کولو د دفاع لپاره راپورته شول. ددغـهٔ غورځنګ د دندو په هکله لا تر اوسه بیلابیل توجیهات شته. پیاوړي او مکار دښمنان په بیلابیلو او متضادو بڼو – کله په ټګمار ملاتړ او کله د کره تګلوري په تحریف او ددغـهٔ ستر نړۍ وال غورځنګ له پریکړو څخه د ځان په لیرې ساتلو چې په حقیقت کې د زبرځواکونو له مستقیمې اغیزو څخه د فارغو هېـوادونو د بنسټیزو ارمانونو او ستونزو څرګندویه دي – کولای شي د غورځنګ خپلواکه او رغنده ونده، درې وړې کړي.

د پوخوالي په لاره کې ددغـهٔ په حقه غورځنګ تنوع، د آزمایښت له بټۍ څخه راوتلی دی چې د ورځې په تیرېدلو د غورځنګ د لیکو پراخیدل او ورته د نویو غړیو راتګ ئـې یو څرګند ثبوت دی. خو له دې سره سره د غورځنګ پرمختګپاله او عادلانه طرحې د زبرځواکونو له خوا له داسې دښمنانه او درې وړې کوونکو فشارونو سره مخامخ شوې چې د افغانستان پر سپیڅلې ټاټوبې باندې د وینې څښونکې روس د امپریالیسم په غلچکې تیري - او د څه دباندې سلو زرو سرو لښکرو په مټ ددې هـېـواد په نیواک سره د دې غورځنګ د تر ټولو پخواني بنسټ ایښودونکې او د ناپېیلتوب د غورځنګ د یوهٔ دوام ورکوونکې مستقل شتون د نابودۍ د کندې ژۍ ته نیږدې شوی او ددې وضعې په دوام سره د ناپېیلتوب د نړۍ وال غورځنګ وجودي علت پر پوښتنې لاندې راغلی دی.

د ناپېیلو هېـوادونو ښاغلو استازو!

نـېـږدې درې کاله وړاندې د روس نړۍ خوره زبر ځواک، وروسته له دې چې د سیالي او پراختیا غوښتونکې بنسټ ئـې له منځنې ختیځ څخه خلیج ته راکاږل کـېـږي په سیمه کې د خپل پراختیاپال - امپریالیستي سیاست پر بنسټ او هم له خپلې نړۍ

والي ستراتیژۍ سره په سمون کې د یوهٔ سیاسي - پوځي جاهلانه قمار په وهلو – زموږ ګران هېواد په خپلو لښکرو ونیو. لومړی ئـي د خپلو پوځي سلاکارانو او بومي تالي څټو په مرستي د ۱۳۵۷ل د غوايي د میاشتي «چې د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل له میاشتي سمون خوري» د فاشیستي کودتا په طرحي او تطبیق سره – عمدتاً د خلق ډیموکراتیک ګوند او په سر کې ئـي تره کي – ببرک – امین – زموږ هېواد د میلیونونو انسانانو- کارګر، بزګرو، ورهڼګرو «پیشه ورو»، سوداګرو، روحانیونو، زړو، ځوانانو، ماشومانو او ټولو آزادي غوښتونکو او عدالت پالو په مقتل تبدیل کړ؛ او هغه مهال چې د ملي مقاومت او ټولنیز عدالت توپاني څپو ددغهٔ ګوډاګي او فاشیستي منحوس رژیم هستي او شتون د دړې وړې کیدلو د کندې ژۍ ته نـېږدې کړی وو – د خلق ډیموکراتیک ګوند سردمدار او روسي باداران ئـي، له حاکمي دیکتاتورۍ، د ملت له خونړي سرکوب او د ترهۍ او اختناق د چاپیریال له پراخولو څخه په ګټه اخیستني د ګواښ او چاره موندني په لټه کې شول او – «ددوستۍ، همکارۍ او ښـهٔ ګاونډیتوب» تش په نامـهٔ له شرمه ډک غیر قانوني تړون (۱۹۷۸ز دډسمبر پینځمه – مسکو) ئـي په مزدور رژیم و تاپـهٔ ترڅو دا بې اعتباره وثیقه زموږ پر هېواد، سیمي او نړۍ کې د خپل پراختیا غوښتونکي ماجراجویي لپاره د خپل پوځي تیري پلمه وګرځوي.

د تره کي - امین په مشرۍ د روسي ګوډاګیانو منشعبه واکمني د ملت تر نابودوونکو ضرباتو لاندې د زوال کندې ته نـېږدې کېږي، د بیګناه خلکو قاتلان چې د انحصار په نشو کې ډوب ول یو بل سره خوري او څیري، او په دې ماجرا کي تره کي وژل کېږي او امین واک ته رسـېږي. د پوځي – سیاسي کانګستریزم مخ په ودې زیاتوالی د ملي آزادۍ او د ټولنیز عدالت د محتومي بریا زیری ګرځي. روسان ژر اقدام کوي – د «پرچم» د خائـیني څانګي مشر ببرک د توپونو په میلونو کښـېنوي او له سل زرو سرتیرو سره چې په عصري وسلو او تجهیزاتو سمبال دي له مسکوهٔ ئـي د افغانستان پر لور راخوځوي.

ویني څښونکی امین د «امریکا د امپریالیسم د استازي» په نامـهٔ وژني او د «انقلاب» او «ولس» د ژغورني په رکلام ببرک دغه په لاس روزل سوې نانځکه د ماکیاولي سیاست د پلي کولو په موخي د تاشکند له لارې رالیږي او د ملت د سرکوبۍ پر مسند ئـي نصبوي.

هره ورځ د روس د تیریګر امپریالیسم پر وړاندې غبرګون په نړې والي کچې، د افغانستان د ملت د عمومي پاڅون، ددولتونو د اعتراضاتو، نړۍ والو مؤسساتو، د ملي آزادۍ بخښونکو غورځنګونو او د نړۍ والو حق پلویو شخصیتونو له لارې منعکس کېږي.

روسان په لومړیو کې د ببرک د ګوډاګي دولت او ورپسې په مستقیم ډول مدعي مدعي کېږي چې ګڼې دا تش په نامـهٔ «د شوروي محدود پوځي قطعات» د ۱۹۷۸ز کال د مسکو د تړون او د افغانستان د قانوني (؟) دولت په بلنه په افغانستان کې پلي شول، او د بومي دولت هغه پوځي ضعف چې ګڼې د امین د بې پروایي او لاقیدۍ په پایله کې رامنځته شوی وو جبران کړي او د همدې دندې له ترسره کولو وروسته به د افغانستان خاوره پرېږدي. خو اوس چې دادی له یوهٔ کاله څخه ډېره موده تیریږي د مکار روس د امپریالیسم په سیاست کې هیڅ ډول بدلون نـهٔ دی رامنځته شوی ترڅو له افغانستان څخه خپل کثیف ځواکونه وباسي او د افغانستان د تخلیې په ګټې کوم ګام اوچت کړي. د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي د میاشتي «د ۱۹۷۹ز کال د

ډسمبر» له کودتا وروسته د هرې ورځې په تیریدلو سره د روسانو د تش په نامـهٔ «محدودو قطعاتو» شمیر چې په لومړیو کې څه دباندې سل زره سرتیري په عصري ترین وژونکي هوايي تخنیک، موتوریزه او کماوند سمبال ول ډېرېږي. دوی د ډله ییزو وژنو، کیمیاوي وسلو، اور غورځونکو بمونو، ویرونکو وسلو او نورو سره – دغه آزادي پاله ملت په کتلوي ډول پوپنا کوي او تر دې دمه کورونه، څاروي او کروندې ئـې له خاورو سره یو برابر کړي دي.

روسانو په دې هم بسنه نـهٔ ده کړې، دوی د اذهانو د اغفال او د خپلو کړو وړو د توجیه لپاره چې د نړۍ والو موازینو او د انساني ارزښتونو پر ضد دي د خپل تیري د اصل په پټولو، له ځانه جوړ کړي موهوم دلایل د خپل مساعد غبرګون مخ - شرط وګرځول او د شطحیاتو په ویلو او زموږ د ملي آزادي بخښونکي جهاد پر اصالت د ناروا تورونو په لګولو د «شوراګانو» په جرګې زموږ د آزاد هېـواد د انحلال او د شلمې پیړۍ د لومړنـی ښکیلاک ماتونکي ملت په ټاټوبي کې د خپلو سرتیرو د ابدي ساتلو خوب ویني.

## ګرانو دوستانو!

له یوې خوا د تیري په دفع کې زموږ د مجاهدینو بې حده بوختوالی، زموږ د هېـواد جیوپولیتیکي موقعیت او د افغانستان په قضیې کې د ډله ییزو نړې والو رسنیو د څښتنانو حسابي احتیاط او ورسره ددوی د عاجلو ګټو محدودیت، او له بله لوري د شوروي د لښکري برید تر څنګ د شوروي او ورپورې تړلو تالي څټو له پلوه د اوضاع د حقایقو معکوس منعکسول او پرله پسې زهر شیندنه ټولو سره لاس یو کړی او داسې د توضیح وړ تشه ئـې رامنځته کړې چې د افغانستان مسایل یا د لویدیځ – ختیځ د ساړه جنګ په تنګه کړۍ کې او یا د تاس د آژانس د تحمیقوونـکي کړکۍ له منظره ارزول کـېږي. هغه څه چې دلته ورک دي د یوهٔ ملت رښتونی غږ دی چې په بې سارې سرښندنې د آزادي بخښونـکي جګړې دروند پیټی پر اوږو لیږدوي.

د شوروي د خائـنانه تیري پروړاندې د افغانستان د ملت دا ادعا لیک له داسې ټکیو ډک دی چې د یوهٔ ملت عادلانه دفاع د ناپیلو هېـوادونو تر ټولو حیاتي معضله او په نړۍ والو حقوقو کې تر ټولو شریف ترینه حق یعنی د ملي استقلال او واکمني بیرته ترلاسه کول بیانوي. زموږ د ملت داعیې - زموږ د ملي آزادي بخښونکي جهاد په غلط شمیرلو کې - د شوروي د امپریالیستي مقاماتو د پرېړ حجاب تورونه څیرلي دي او د «بې شائـبه مرستو» او د هغـوی «ددوستۍ او همکارۍ د تړونونو» ماهیت او هم ئـې د شوروي د غلچکو تیوریو عواقب بربنډ کړي دي.

# روسانو په کوم حق پر افغانستان پوځـي تیری وکړ؟

روسان د ۱۹۷۸ز کال د مسکو تړون د خپل تیري لپاره بنسټ ګڼي. آیا د همدغـهٔ تړون څلورمه ماده چې «په پوځې ډګر کې د همکارۍ وده» او «د مناسبو تدابیرو نیول» دي په خپله د یوهٔ پوځي تړون پر لاسلیکولو دلالت نـهٔ کوي؟ آیا د یوهٔ پوځي تړون لاسلیکول د ملي حاکمیت نـهٔ بیلیدونکی عنصر نـهٔ دی؟ په دې حال او اوضاع کې چې دا تړون د افغانستان د ملت په نامـهٔ لاسلیک سو، آیا په افغانستان کې داسې کوم ارګان شتون درلود چې د ملي حاکمیت د تمثیل د ټولو شرایطو واجد وي او قانوناً داسې حق ورتـه ورکړل شوی وي؟ آیا لږ تر لږه اساسي قانون چې د افغانستان ددولت او اتباعو متقابل حقوق او

مکلفیتونو تنظیم کړي نافذ وو که نه، که نافذ وو کوم قانون دی؟ آیا همدا نن همداسي کوم مسؤول ارګان او نافذ قانون په افغانستان کې شته؟

نور محمد تره کي تش په نامـهٔ د افغانستان د خلکو او ملت په نامـهٔ له روسانو سره د ډسمبر له شرمه ډک تړون لاسليک کړ. دا تړون په داسي وخت کي له روسانو سره لاسليک سو چي د افغانستان ملت نوموړی د افغانستان د ولس استازی او ممثل نـــهٔ ګانـهٔ او ددهٔ او ددهٔ د ډلو ټپلو پر ضد ئـي عمومي وسله وال پاڅون کړی وو، له دې کبله داسي يو تړون چي د جبر او اکراه په حالت کي لاسليک شوی وو له حقوقي نظر هيڅ ډول قانوني وجهه نـهٔ لري. ځکه نو د افغانستان ملت حق لري چي د نړئ والو حقوقو د ټولو منل شويو موازينو پر بنسټ دا تړون غير قانوني وګڼي او دا پر خپل ملي حاکميت باندي د بربنډ تيري په ګڼلو سره هغه په رسميت نـــهٔ پيژني.

# کوم مقام روسانو ته بلنه ورکړې چي افغانستان ته لښکرې راولېږي؟

روسانو د افغانستان د ولس پروړاندي د امين د  بې ساري وينې توېوني او سفاکۍ په بدل کي د نور محمد تره کي د مقام له تصدي وروسته، امين د «مرکزي کميټي د عمومي منشي»، د «انقلابي شورا د رئـيس» او «صدراعظم» په عناوينو نازاوهٔ، دلته که امين د شوروي سرو لښکرو ته بلنه ورکړي وي نو روسانو څنګه د امين د واکمنی او ژوند پر مهال ببرک د «مرکزي کميټي د عمومي منشي»، «د انقلابي شورى د رئـيس» او «صدر اعظم» په هماغو عنوانونو د مسکو له راډيو څخه معرفي کوي؟ د مرغومي د مياشتي «د ۱۹۷۹ ډسمبر» له لښکري تيري وروسته د روسانو پام دغي تشي ته اوړي او د يوې معجولي د اختراع په لټه کي کېږي او وايي چي دغه لښکری تيری د «انقلابي شوری د يو شمير غړو» او د «مرکزي کميټي د ځينو غړو» په بلنه ترسره شوی دی (؟) که داسي وي نو بيا هم تش په نامـهٔ د انقلابي شوری مصوبات د انقلابي شوری د رئـيس «امين» له توشيح پرته شوي او له بل لوري ددهٔ تش په نامـهٔ دولت سره د ولس مخالفت ټول ښيي چي دا هيڅ ډول مشروعيت او قانونيت نـــهٔ لري. له دې به تير شو چي ان که هغه ئـي توشيح کړی هم وای ددهٔ توشيح باالذات کان من لم يکن «بې اغيزې » ده ځکه د عاليه حاکميت په جوړلو کي د ولس ارادي نـهٔ ده کارول شوې. له دې ښکاري چي بلنه ورکوونکي مقام له اصله شتون نـــهٔ درلود ځکه نو روسانو پر افغانستان د تيري او ددې هېـواد په نيواک سره نـــهٔ يوازې د بين الدول قوانين بلکه تر ټولو ابتدايي حقوق او اساسي حقوق نـهٔ دي رعايت کړي او حتی لږ تر لږه ئـي د ډيپلوماسی چلند هم په پام کي نـهٔ دی نيولی او په دولتونو کي د مريي توب پر اړيکو ئـي صحه ايښي ده. دلته د حفيظ الله امين نوم د استدلال پر سبيل وو پرته له هغې د افغانستان د خلکو پر وړاندي د امين جنايات له شک پرته چي نوموړی د ببرک جرمي شريک جوړوي.

# روسانو د کوم دليل له مخي پر افغانستان لښکري تيری وکړ؟

روسان مدعي دي چي د امريکا – چين – پاکستان مثلث پر افغانستان د تيري تکل درلود. آيا دا يو منځتشی امپرياليستي دليل نــهٔ دی؟ آيا روسان په افغانستان کي لوړ ترينه پوځي، سياسي او اقتصادي قدرت نــهٔ رامنځته کاوهٔ؟ آيا امپرياليستانو د نړۍ په ويش کي افغانستان د de facto په بڼي د شوروي د نفوذ سيمه نــهٔ ګڼله؟

که د نړۍ سياست د علمي قانونمنديو پر بنسټ وڅيړو د شوروي دا ادعا له منځتشو، غير منطقي او امپرياليستي تبليغاتو پرته بل څه نــهٔ شي کــېدای. له همدومره درواغجنو تبليغاتو سره سره آيا روسان او لاسوپوځو ئــي تر نن پورې په دې برېالي شوي چي يو امريکايي، چينايي يا پاکستاني سرتيری ونيسي؟ پر افغانستان داسي عجيبه تيری شوی دی چي پيښيدل ئــي نــهٔ له معقولاتو سره سمون خوري او نــهٔ د ځمکي پر مخ ئــي آثار ليدل کــېږي. که فرضاً همداسي يو تيری پر افغانستان شوی وای، کومو کسانو د افغانستان له ملي حاکميت څخه ددفاع حق درلود؟ د افغانستان ملت يا روسانو؟ څرګنده ده چي دا د افغانستان د ملت دنده وه چي له خپل ملي حاکميت او ځمکنی بشپړتيا څخه دفاع وکړي، هماغسي چي همدا اوس د ملي حاکميت له حق څخه دفاع ده چي د افغانستان د روسي تيريګرو پوز په خاورو موښي.

روسانو چي د نــهٔ جبيره کيدونکو جناياتو د توجيه د استدلال پښه ئــي ګوډه ده فوراً د «سرحدي مصـئـونيت» او «محدود ملي حاکميت» په نامـهٔ د «بريژنيف» امپرياليستي ډُګمونو «دکتورينو» ته لاس واچاوهٔ او زموږ د آزادۍ بخښونکي ملي جهاد اصالت ته ئــي په زرهاوو نومونو سپکاوی وکړ او په دې ئــي ځان ګڼي برحقه ښودلی دی.

د کريملين تيوري جوړونکي او ددوي بومي لنډغر «اوباشان» زموږ ملي غورځنګ له نړۍ وال «انتي کميونيزيم» او «انټي سويټيزم» بهيرونو څخه ملهم او منبعث ګڼي او د همدغو «بهيرونو» د مخنيوي او د خپلو کړښو د خوندي ساتلو په پلمو نــهٔ يوازې زموږ ملي حاکميت محدودوي بلکه هغـهٔ ئــي په بشپړ ډول سلب کړی دی.

آيا د افغانستان ملت چي د خپل تأريخ په ډېرو سختو پړاونو کي د ټولنيزو سيستيمونو او ددولت شکل ـ د ملتونو پريکنده او نامحدود حق ګڼي، زموږ پر هېـواد باندې د شوروي د غلچکي تيري په لړ کي چي حاصل او پايله ئــي زموږ پرګنو ته له ملي اسارت، د وګړو عام وژنه او زموږ ملي او مذهبي مقدساتو ته له هتاکی پرته بل څه نـهٔ ده، حق نـهٔ لري چي د خپلی ملي آزادی، ټولنيزې سلامتی او خپلي فرهنګي ودې او پرمختيا د اعادې په لاره کي د شوروي لښکرې له خپلی خاورې وشړي؟

که د شوروي امپرياليستان له خپل ټول وژونکي زبر ځواک جنګي توان سره مجاز وي چي د خپلو اقمارو لښکري د افغان آزادي غوښتونکو د تس نس کولو لپاره استخدام کړي، آيا د افغانستان ملت حق نـهٔ لري چي د يوهٔ ګډ تمدن مرستي چي له نـهٔ خلل منونکو فرهنګي او ديني رشتو څخه ترکيب شوي او په باالفعله امپرياليستي او مشابه تيري ګوابنل کــېږي خپله تأريخي او سياسي تکيه ګاه وګرځوي؟

روسان بايد په دې پوه سي چي په افغانستان، سيمي او نړۍ کي دا انقلابي غبرګونونه ددوی د امپرياليستي او پراختيا غوښتني د سياست محصول دي. هيڅ لښکري تيري، هيڅ ډول پلمي، هيڅ ډول شطحياتو او هيڅ دول «دکتورينو» د يوې

ښيکلاکګرې امپراتورئ د قطعي او پرېکنده اضمحلال مخه نـهٔ ده نيولې او هغه اور ئـې چې د نورو لپاره بل کړی دی دوی به په خپله په کې وسوځي.

# ګرانو دوستان!

د هاوانا غونډه په ځانګړي اتموسفير او پر نړئ والي اوضاع باندې حاکم د وريځو ډک چاپيريال کې تر سره شوه. په دې موده کې په نړئ والي اوضاع کې مهم پرمختګونه په ځانګړې توګه د افغانستان موضوع رامنځته شول. د سرو لښکرو په واسطه د افغانستان پوځي نيواک او ددوی په لاس زمونږ د ملت بيرحمانه وژنه، د امين – تره کي په دورې کې د څه دباندې يو سلو شلو زرو سياسي زندانيانو ورک کېدل او د کارمل پر مهال د زندانونو غمجن حالت چې له پيله تر نن پورې د کريملين په دستور ترسره شوي دي- بشري وجدان اغيزمن کړی او ددغو بې سارو تأريخي جناياتو پر ضد د اعتراضاتو څپو د نړئ فضا ډکه کړې ده. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلي او د اسلامي هېـوادونو پرله پسې غونډو پر افغانستان باندې د روسانو تيرى په څرګند صراحت او پرېکندو ټکيو تقبيح کړ او له افغانستانه د مهاجمو ځواکونو د فوري خروج او د افغانستان ملت د ملي حاکميت او ټولنيز سيستم د بيرته سپارلو غوښتونکي شول. افغان خپلواکي غوښتونکي همدا اوس د هېـواد څه دباندې نوي په سلو کې خاوره په خپله ولکه کې لري او د خپل ګران هېـواد د عام و تام استقلال د استرداد لپاره په مېـړانه جنګېـږي.

پروسږ کال روسانو د افغان آزادئ غوښتونکو او د نړئ والي کړکچيني اوضاع تر ځپونکو ضرباتو لاندې په بيلابيلو مقاطعو کې له هيڅ ډول محيلانه سياسي او ډيپلوماتيکو اکټونو څخه سپما ونـهٔ کړه. کله - د امريکا له متحده ايالاتو سره د اروپايي هېـوادونو د اختلافاتو د کړکی پرانيستل کېـدل په خپله ګټه مومي – کله له افغانستانه د خپلو ځواکونو د يوې برخې د ايستلو مانور تر سره کوي او کله هم چې په هندوستان کې د ناپييلو هېـوادونو د کنفرانس د دايريدلو بوی ئـې دماغ ته ورځي او د افغانستان د مسئـلې په باب د کنفرانس د پرېکړو او هيبت له ويرې په ځان ريږدي نو بريژينيف هندوستان ته سفر کوي او ببرک ميرمن ګاندهي ته پيام ليږي او په پيام کې د ملګرو ملتونو تر څار لاندې له ايران او پاکستان سره د خبرو لپاره خپل چمتووالی څرګندوي تر څو په خپلو مانورونو عامه اذهان اغفال کړي او په خپلو حلزوني حرکاتو سره د ملګروملتونو د عمومي اسامبلي له مصوباتو څخه په څرګنده سرغړونه او هغه محدود کړي او په خاصو شرايطو کې ئـې ځانته مؤجه کړي.

د ناپييلو هېـوادونو ښاغلو استازو!

په هندوستان کې د ناپييلو هېـوادونو وروستئ غونډه – په داسي يوهٔ هېـواد کې جوړېـږي چې ټينګ تأريخي اړيکي دواړه ملتونه له يو بل سره پيوندوي. زمونږ ملتونه د ښکيلاک ضد ګډه او دوه اړخيزه همکاري ښـه په ياد لري. د هندوستان اکثريت وګړي، د هند سياسي سازمانونه او مذهبي مؤسسات ځانونه په مشابهو خطراتو کې احساسوي او زمونږ د ملت له داعيي څخه دفاع کوي. همدا اوس څه دباندې سل زره بې کوره جګړه ځپلي افغانان په هندوستان کې ژوند کوي. هندوستان د ناپييلتوب د

غورځنګ یو له بنسټ ایښودونکو او د اوسني غونډې کوربه دی. خو له دې سره سره د هند موجوده دولت د افغانستان د مسئلي له راپیداکولو وروسته تر نن پورې مکرر نوسانات له ځانه ښودلي او له ډېر لږ صراحت څخه برخمن دی. دا خبره زموږ د ملت د ژور خپګان لامل ګرځېدلي ده. موږ هیله مند یم چې میرمن ګاندي د پخوانیو تیرو ښو او نیکو اړیکو تر رڼا لاندې او د ناپییلتوب د غورځنګ د اوسنیو خطیرو دندو په پام کې نیولو سره د افغان آزادي غوښتونکو له مواضعو څخه مثبت تفاهم ولري او د افغانستان د مسئلي په اړوند پر واقعیت ولاړه عادلانه موضع ونیسي.

ښاغلو دوستانو!

هر خپلواک دولت د خپلو وګړو او ټاکل شوي قلمرو تر څنګ باید د خپلو کورنیو چارو او هم په نړۍ والو اړیکو کې د عالي حاکمیت حق د بل دولت له تهدید، دیکټې او موافقې پرته تنظیم کړي خو په خواشینۍ چې د روسي مشاورینو په لاس د غوایي د میاشتې د اوومې « اپریل ۱۹۷۸ز» په کودتا سره د افغانستان د عالي حاکمیت حق ټکنی شو. د افغانستان د عالي حاکمیت پر حق همدغهٔ تیري ددولت دویم رکن یعنی د افغانستان د وګړو جمعیت په ګڼو فاشیستي او وحشیانه بنو قلع و قمع کړ. د افغانستان د وګړو نیږدې دوه میلیونه جمعیت باندنیو هېوادونو ته لالهانده او کډوال شو. د مرغومي د شپږمې «دسمبر ۱۹۷۹ز» نیټې په له شرمه ډکه پیښه کې د افغانستان قلمرو یعنی ددولت دریم بنسټیز رکن تر پښو لاندې سو او د سرو لښکرو تر نیواک لاندې راغی او له هغې مودې تر نن پورې د افغانستان لوی او واړهٔ کلي او ښارونه سره له خلکو او ګڼو پرګنو سره ئـې په سرهٔ اور او سرو وینو کې لمبېږي.

له دې کبله د یوهٔ دولت د دریو بنسټیزو ارکانو په مصدومولو سره اوس نو په افغانستان کې په حقوقي مفهوم کوم دولت نـهٔ شته او د افغانستان د کشالې د حل لپاره هر ډول خبرې اترې د ګوندونو او سیاسي سازمانونو د استازو له ګډون پرته چې د افغانستان د خلکو د رښتوني ارادې تمثیل وکړي له بنسټه غیر قانوني او د افغانستان د خلکو په حضور کې به په بشپړ ډول مردوده وي.

سازمان آزادیبخش مردم افغانستان په باندني سیاست کې د ملي مستقلې پالیسی پیروي کوي، موږ د خپل هېواد په دودیز ناپیلي سیاسي ډېره لګوو او په مثبت او فعال لوري کې ددغـهٔ سیاست ودې ته ژمن یو، موږ د میلیونونو افغانانو له رښتونو نیتونو په الهام، له افغانستانه دننه، له تاودهٔ او د ملي آزادۍ بخښونکي جهاد په سرو وینو رنګ مورچلونو څخه – د افغانستان د ملت د زړهٔ له کومي تودې هیلې په ډیلي کې د ناپییلو هېوادونو د غونډې بریالیتوب ته درلیږلو- موږ هیله مند یو چې د ناپییلو هېوادونو تاسو رسمي استازي په افغانستان کې د شوروي د پوځي اشغال او تیري پر وړاندې د پریکنده دریځ په نیولو سره زموږ ملت سره د خپل ملي آزادۍ بخښونکي جهاد د بریا تر وروستۍ شیبې پورې مرسته وکړئ.

ژوندی دې وي د ناپییلتوب غورځنګ!
مړ دې د روس نړۍ خوره امپریالیسم!
ژوندی او خپلواک دې افغانستان!

سازمان آزادیبخش مردم افغانستان

کابل افغانستان

۱۳۵۹ سلواغه – ۱۹۸۱ فبروري